مختصر

پښتو شرح د

عمدة الأحكام

من كلام خير الأنام

مؤلف :

فضيلة الشيخ أبو ادريس أمين الله حفظه الله تعالى

ناشر :

مكتبة منهاج السنة

بسم الله الرحمن الرحيم

مختصر
پښتو شرحه د
عمدة الأحكام
من كلام خير الأنام

مؤلف:
فضيلة الشيخ أبو ادريس أمين الله حفظه الله تعالى

ناشر:
مكتبة منهاج السنة

مكتبة منهاج السنة
@Mbmenhajsa92
کانال مکتبة منهاج السنة

مقدمة الشارح

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيْمِ

إِنَّ الْحَمْدَ للهِ ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ ، وَنَسْتَغفِرُهُ ، وَنَعوذُ باللهِ مِنْ شُرُوْرِ أَنْفُسِنَا ، وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَآ إِلهَ إِلَّا اللهُ وَحْدهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

﴿يَآأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ وَلَا تَمُوْتُنَّ اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ﴾[1]

﴿يَآأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّ خَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيْرًا وَّ نِسَآءً ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْ تَسَآءَلُوْنَ بِهٖ وَالْاَرْحَامَ ۗ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا﴾[2]

﴿يَآأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَقُوْلُوْا قَوْلًا سَدِيْدًا ۙ يُّصْلِحْ لَكُمْ اَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ ۗ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيْمًا﴾[3]

أَمَّا بَعْدُ : فَإِنَّ خَيْرَ الْحَدِيثِ كِتَابُ اللهِ، وَخَيْرَ الْهَدْيِ هَدْيُ مُحَمَّدٍ ﷺ ، وَشَرَّ الأُمُورِ مُحْدَثَاتُهَا، وَكُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ، وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلاَلَةٌ، وَكُلَّ ضَلاَلَةٍ فِي النَّارِ.

د الله سبحانه وتعالیٰ د نعمتونو نه په دې امت باندې يو لوي نعمت دا دے چې کامل او پوره دين ئې ورته رالیږلے دے او دا هغه دين دے چې الله سبحانه وتعالیٰ د دوئ دپاره غوره کړے دے او الله سبحانه وتعالیٰ رسول الله ﷺ هغه وخت وفات کړو کله چې ئې خپل امت په داسې دين پرېښودلو چې هغه صفا ستره دين دے او شپه د هغه دين پشان د ورځ ده د دې دين نه به هغه څوك ككيږي كوم چې د هلاکت په کندوکې هلاك کيږي.

(1) [آل عمران: 102]

(2) [النساء: 1]

(3) [الأحزاب: 70-72]

نبي ﷺ داسې خير نه دے پرېښودے چې هغه جنت ته نزدې کونکے وي مگر هغه ئې دې امت ته بيان کړے دے او کوم شے چې جهنم ته نزدې کونکے وي نو هغه ئې هم خپل امت ته بيان کړے دے هيڅ يو شر نشته مگر خپل امت ئې ترينه ويرولے دے.

نو امت له پکار دي چې د دغه نبي ﷺ هره خبره اومني او د هغه په نقش قدم روان شي او د هغه چې کوم سنت دي نو هغه ښه په خوشحالئ سره اومني او عمل پرې کوي ځکه ډېر داسې سنت دي چې ډېر خلق د هغې نه ناخبره دي او پرېښودلي ئې دي او يا د جهالت د وجې نه په هغه چا غُصه کوي او گمراه ورته وائي چې هغوئ په هغه پرېښودلے شوو سنتو باندې عمل کوي.

رسول الله ﷺ زمونږ دپاره يوه ښکلې نمونه ده لکه الله سبحانه وتعالى فرمائي: ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ﴾ (1)

ترجمه: يقينا شته دے ستاسو دپاره په(تابعدارئ د)رسول لله ﷺ کې نمونه ښائسته.

رسول الله ﷺ چې مونږ ته په څه امر کوي نو مونږ به ئې منو او د څه نه مو چې منع کوي نو د هغې نه به منع کېږو دا خبره مونږ ته په قرآن کريم کې الله سبحانه وتعالى کړېده فرمائي: ﴿وَمَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا﴾ (2)

ترجمه: کوم څه چې تاسو ته دې رسول ﷺ درکړي دي هغه واخلئ او د کوم څه نه چې ئې تاسو منع کړي ئې نو د هغې نه منع شئ.

نو د دينه روستو مونږ لره هيڅ قسم اختيار پاتې نه شو چې کنې مونږ به په دين کې د ځان نه زيادت او يا کموالے کوو لکه الله سبحانه وتعالى فرمائي: ﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ اِذَا قَضَى اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗٓ اَمْرًا اَنْ

(1) [الأحزاب 21]

(2) (سورة الحشر، الآية: ٧).

﴿يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُّبِينًا﴾ (1)

ترجمه: او نه دي جائز د مؤمن سړي او مؤمني زنانه دپاره کله چې فېصله کړېده الله سبحانه وتعالىٰ او د هغه رسول ﷺ د يو څيز دا (ورله جائز نه دي) چې وي دې دوئ لره خوښه خپله په کار د دوئ کې او چا چې خلاف اوکړو د حکم د الله تعالىٰ او د هغه د رسول نه نو يقينا هغه ګمراه شو په ګمراهئ ښکاره سره.

نو څوك چې د الله سبحانه وتعالىٰ د رسول د سنتو خلاف کوي نو د هغه د عذاب وعده الله سبحانه وتعالىٰ په قرآن کريم کې کړي ده فرمائي: ﴿فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾ (2)

ترجمه: پس اودې يرېږي هغه کسان چې د رسول الله ﷺ د امر (سنتو) نه خلاف کوي د دېنه (دې ويرېږي) چې دوئ ته به فتنه (دنيوي عذاب) اورسيږي او يابه دردناك عذاب (په اخرت کې) ورته اورسيږي.

نو د دې وجې نه د رسول الله ﷺ د سنتو لحاظ ساتل پکار دي او د خلاف نه ئې ځان ساتل ضروري دي ځکه که څوك ترينه اعراض کوي نو هغه د رسول الله ﷺ د امت نه اوځي لکه رسول الله ﷺ فرمائي: «مَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي» (3)

ترجمه: چا چې زما د سنتو نه اعراض اوکړو نو هغه زمانه نه دے.

نو که سړے بيا هرڅومره اعمال کوي نو هغه ټول باطل دي لکه أحمد بن أبي الحواري رحمه الله فرمائي: «مَنْ عَمِلَ عَمَلًا بِلَا اتِّبَاعِ سُنَّةٍ فَبَاطِلٌ عَمَلُهُ» (4)

(1) (سورة الأحزاب، الآية: ٣٦)

(2) [النور: 63]

(3) صحيح البخاري، كتاب النكاح، باب الترغيب في النكاح 7/2.

(4) الاعتصام للشاطبي (المتوفى: 790هـ)

ترجمه: چاچې بغير د اتباع د سنتو نه عمل اوکړو نو عمل ئې باطل دے.

امام بخاري رحمه الله فرمائي: «أَفْضَلُ الْمُسْلِمِيْنَ رَجُلٌ أَحْيَى سُنَّةً مِنْ سُنَنِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ قَدْ أُمِيتَتْ»(1)

ترجمه: غوره سړے هغه دے چې د رسول الله ﷺ د سنتو نه يو سنت راژوندے کړي داسې سنت چې مړ شوے وي.

بيا امام بخاري رحمه الله په داسې سنتو باندې عمل کونکو ته وائي چې تاسو ته خو به اهل بدع ډيرې خبرې کوي او قسما قسم نومونه به درباندې ږدي خو، فَاصْبِرُوْا يَا أَصْحَابَ السُّنَنِ (رَحِمَكُمُ اللهُ)، فَإِنَّكُمْ أَقَلُّ النَّاسِ (2)

ترجمه: صبر کوئ اے (د رسول الله ﷺ) په سنتو عمل کونکو الله تعالیٰ دې په تاسو رحم اوکړي پس يقينا چې تاسو د نورو خلقو نه (کوم چې په سنتو عمل نه کوي) کم يئ.

داهل السنة (اهل حديثو) مخ ته کتل هم عبادت دے

ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي: النَّظَرُ إِلَى الرَّجُلِ مِنْ أَهْلِ السُّنَّةِ يَدْعُو إِلَى السُّنَّةِ وَيَنْهَى عَنِ الْبِدْعَةِ، عِبَادَةٌ(3).

ترجمه: کوم اهل السنة (اهل حديث) چې سنت طريقو ته دعوت ورکوي او د بدعاتو نه منع کوي نو د هغه مخ ته کتل عبادت دے.

أيوب السختياني رحمه الله د دوئ په باره کې فرمائي: إِنِّي أُخْبَرُ بِمَوْتِ الرَّجُلِ مِنْ أَهْلِ السُّنَّةِ وَكَأَنِّي أَفْقِدُ بَعْضَ أَعْضَائِي.(4)

---

(1) نصائح منهجية لطالب علم السنة النبوية لحاتم بن عارف العوني ١٨

(2) نصائح ١٨

(3) أصول اعتقاد أهل السنة (1/ 60 - 61/ 11) والإبانة (1/2/343/ 214) وانظر تلبيس إبليس (ص16).

(4) رواها اللالكائي في شرح أصول اعتقاد أهل السنة".

ترجمه: د یو اهل سنة (اهل حدیث) په مرګ چې خبر راکړے شي نو داسې شي لکه خپل یو اندام چې ورك كړم.

إمام شافعي رحمه الله فرمائي : إِذَا رَأَيْتُ رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِ الْحَدِيثِ فَكَأَنِّي رَأَيْتُ رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ ﷺ.[1]

ترجمه: كله چې زه یو سړے د اهل حدیثو نه أووینم داسې ده ګویا کې چې ما د سول الله ﷺ د صحابونه یو کس اولیدلو.

بل روایت کې ترینه داسې نقل دي ګویا کې ما رسول الله ﷺ ژوندے اولیدلو.

دا فضیلت ولې دوئ ته حاصل دے ؟ دا ځکه چې دوئ د خپل محبوب په سنتو عمل کوي او هغې (سنتو) ته دعوت ورکوي.

نو د دې وجې نه مونږ د الله تعالیٰ په توفیق سره د نبي ﷺ د احادیثو په شرح باندې شروع اوکړه ان شاء الله مونږ به حتی الوسع کوشش کوو چې د هر حدیث ښه وضاحت اوکړو الله تعالیٰ دې اوکړي چې په دې کتاب سره ټولو مسلمانانو ته نفع ورکړي.

❊ ❊ ❊

(1) شرف أصحاب الحديث (46). ذم الكلام وأهله ٣/١ 125\

مقدمة المؤلف

قَالَ الشيخُ الحافظُ ، تقيُّ الدين : أبو محمد عبدُ الغنيِّ بنُ عبدِ الواحد بنِ علي بن سرور المقدسي[1].

الحمدُ لله الملكِ الجبّار ، الواحدِ القهّار ، وأشهدُ أن لا إله إلا الله وحدَهُ لا شريكَ له ، ربُّ السماوات والأرضِ وما بينهما ، العزيزُ الغفّارُ ، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله المصطفى المختار صلى الله عليه وعلى آله وصحبه الأخيار .

ترجمه: ټول صفتونه د الوهيت خاص الله تعالىٰ لره دي چې باد شاه دے زورور ذات دے يو ذات دے غالبه ذات دے زه ګواهي کوم چې نشته لائق د بندګۍ سيوا د يو الله تعالىٰ نه يو دے شريک ورلره نشته رب دے د اسمانونو او ځمکې او څه چې د دې دواړو په مينځ کې دي زورور دے او ډير ښښنه کونکے دے او درود د الله تعالىٰ دې وي په نبي ﷺ چې غوره کړے شوے دے او د الله تعالىٰ خوښ دے او په آل د هغه او په ټولو غوره ملګرو د هغه باندې دې درود وي .

أما بعدُ : فإنّ بعضَ إخواني سألني اختصارَ جُملةٍ في أحاديث الأحكام مما اتفق عليه الإمامانِ : أبو عبد الله؛ محمد بنُ إسماعيل بن إبراهيم البُخاريُّ، ومُسلم بنُ الحجّاج ، فأجبتُهُ إلى سؤاله؛ رجاءَ المنفعةِ به.

ترجمه: روسته د حمد او درود نه پس يقيناً بعض ورونو زما نه سوال اوکړو د اختصار د څه احاديثو د احکامو په باره کې هغه احاديث چې د هغې په صحت باندې دوه امامانو اتفاق کړے وي چې يو ابو عبد الله محمد بن اسماعيل البخاري رحمه الله دے او بل امام مسلم بن حجاج رحمه الله دے نو ما د هغوي سوال ته (عملي) جواب ورکړو اميد د نفع ساتم د هغې په باره کې .

***

(1) هذه الافتتاحية ليست من كلام المؤلف وإنما هي من كلام ناسخ الكتاب، وكثيراً ما يورد النساخ كلاماً مثل هذا في افتتاحيات الكتب التي توافروا على نسخها، فيحسبه البعض من كلام المؤلف، وهو أبعد ما يكون عن ذلك، فلا ينعت أحد من أهل العلم والفضل نفسه بألقاب التفخيم والتقدير .

كتاب الطهارة

كتاب ثابت دے په بيان د طهارت (پاكوالي) كې.

په اعمالوكې د نيت مرتبه او منزله

1 ـ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ﷺ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يقول : «إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ» وَفِي رِوَايَةٍ : بِالنِّيَّةِ»[1] وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى ، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللهِ وَرَسُولِهِ ، فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللهِ وَرَسُولِهِ ، وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا أَوِ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا ، فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ»[2] .

ترجمه: د امير المؤمنين عمر بن الخَطّاب ﷺ نه روايت دے فرمائي: ما د نبي ﷺ نه اوريدلي دي هغه فرمائيل: يقيناً دار مدار د اعمالو په نيتونو سره دے يقيناً د هر سړي دپاره هغه څه دي چې نيت ئې ورله كړے وي پس د چا هجرت چې د الله تعالىٰ او د هغه د رسول ﷺ دپاره شو نو هجرت د هغه الله تعالىٰ او رسول د هغه ته قبول شو او د چا هجرت چې د دنيا دپاره شو چې دنيا حاصله كړي او د ښځې دپاره شو چې نكاح ورسره اوكړي نو هجرت د هغه هغه څه طرفته شو چې هغې ته ئې هجرت كړے وي.

بغير داوس نه مونځ نه قبليږي

2 ـ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «لا يَقْبَلُ اللهُ صَلاةَ أَحَدِكُمْ إِذَا أَحْدَثَ حَتَّى يَتَوَضَّأَ»[3] .

---

(1) في نسخة الزهيري: «إنما الأعمال بالنية» وفي رواية: بالنيات: قدم كلمة النية على النيات.

(2) رواه البخاري، كتاب بدء الوحي، باب كيف كان بدء الوحي، برقم 1، وأوله: «إنما الأعمال بالنيات» ورقم 54، وأوله: «الأعمال بالنية، ولكل امرئ ما نوى...»، ورقم 2529، وأوله: «الأعمال بالنية، ولامرئ ما نوى...» ورقم 3898، ورقم 5070، وأوله: «العمل بالنية...» ورقم 6689، وأوله: «إنما الأعمال بالنية...» ورقم 6953، وأوله: «يا أيها الناس، إنما الأعمال بالنية...» ومسلم، كتاب الإمارة، باب قول النبي ﷺ: «إنما الأعمال بالنية...» برقم 1907.

(3) رواه البخاري، كتاب الحيل، باب في الصلاة، برقم 6954، واللفظ له، مسلم، كتاب الطهارة، باب وجوب الطهارة للصلاة، برقم

ترجمه: د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دے فرمائي : نبي ﷺ فرمائيلي دي : الله تعالىٰ نه قبلوي مونځ د يو كس ستاسو كله چې دا بې اودسه وي تردې چې اودس اوكړي.

❊ ❊ ❊

په اودس كې كوتاهي نه كول

3 ـ عَنْ عبد اللهِ بن عَمْرِو بْنِ العَاصِ ، وَأَبِيْ هُرَيْرَةَ ، وَعَائِشَةَ قَالَوا : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «وَيْلٌ لِلأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ»[1] .

ترجمه: عبد الله بن عمرو ، ابو هريره او عائشه رضي الله عَنْهم فرمائي : رسول الله ﷺ فرمائيلي دي : هلاكت دے هغه پوندو (والاڼ) دپاره (چې په اودس كې اوچې پاتې شي) د اور نه.

مفهوم د حديث

نبي ﷺ په دې حديث كې ويره بيان كړې ده هغه چا ته چې په اودس كې سستي كوي او تيزي ئې وركړې ده په اهتمام د پوره كولو د اودس چې اودس به ښه مكمل كوئ غالباً پوندو ته اوبه نه رسيږي اوچې پاتې شي نو په دې وجه په مونځ او اودس كې خلل راشي نو نبي ﷺ خبر وركړو چې څوك د اودس پوره اهتمام نه كوي نو د هغې دپاره به عذاب وي.

❊ ❊ ❊

د پوزې سوڼ كول واجب دي

4 ـ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ : «إِذَا تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ فَلْيَجْعَلْ فِي أَنْفِهِ مَاءً[2] ، ثُمَّ

.225

(1) رواه البخاري، كتاب العلم، باب من رفع صوته بالعلم، برقم 60، بلفظ: «ويل للأعقاب من النار» مرتين أو ثلاثاً. ومسلم، كتاب الطهارة، باب وجوب غسل الرجلين بكمالهما، برقم 241، ولفظه: «ويل للأعقاب من النار: أسبغوا الوضوء» وأما حديث أبي هريرة رضي الله عنه، فرواه البخاري، برقم 165، ومسلم، برقم 242، وفي رواية لمسلم، 9-(242) : «ويل للعراقيب من النار» وأما حديث عائشة ل، فرواه مسلم، برقم 240.

(2) (ماء) : ليست في نسخة الزهيري.

لِيَنْتَثِرْ، وَمَنِ اسْتَجْمَرَ فَلْيُوتِرْ، وَإِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ فَلْيَغْسِلْ يَدَيْهِ قَبْلَ أَنْ يُدْخِلَهُمَا فِي الإِنَاءِ ثَلاثاً، فَإِنَّ أَحَدَكُمْ لا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ؟»[1].

ترجمه: د ابو هريره ﷺ نه نقل دي چې يقيناً نبي ﷺ فرمائيلي: كله چې يو كس ستاسو نه اودس كوي نو په خپله پوزه كې دې اوبه واچوي او بيا دې ترينه سوڼ كړي او څوك چې استنجاء كوي په كاڼو نو تاق (كاڼي) دې استعمال كړي او كله چې يو كس ستاسو د خوب نه راويښ شي نو لاسونه دې درې ځله وينځي مخكې د داخلولو د لاسونو خپلو نه په لوښي كې (ځكه) چې يو كس ستاسو نه نه پوهيږي چې چرته د ده لاس شپه تيره كړې ده.

وَفِي لَفْظٍ لِمُسْلِمٍ: «فَلْيَسْتَنْشِقْ بِمَنْخَرَيْهِ مِنَ الْمَاءِ»[2].

ترجمه: په روايت د مسلم كې دي: پوزې ته دې اوبه واچوي او د پوزې چوك ته دې ورسوي.

وَفِي لَفْظٍ: «مَنْ تَوَضَّأَ فَلْيَسْتَنْشِقْ»[3].

ترجمه: بل روايت كې دي: څوك چې اودس كوي نو پوزې ته دې اوبه واچوي.

مفهوم د حديث

په دې حديث كې درې قسمه طهارت (پاكوالے) ذكر شوے دے،

❋❋❋

---

(1) رواه البخاري، كتاب الوضوء، باب الاستجمار وتراً، برقم 162، واللفظ له ومسلم، كتاب الطهارة، باب الإيتار في الاستنثار، والاستجمار، برقم 20-(237)، وباب كراهة غمس المتوضئ وغيره يده المشكوك في نجاستها في الإناء قبل غسلها ثلاثاً، برقم 278.

(2) رواه مسلم (237)، كتاب: الطهارة، باب: الإيتار في الاستنثار والاستجمار. ورواه البخاري معلقا بصيغة الجزم، إلا أنه قال: «بمنخره».

(3) رواه البخاري (159)، كتاب: الوضوء، باب: الاستنثار في الوضوء، ومسلم (237)، كتاب: الطهارة، باب: الإيتار في الاستنثار والاستجمار، والنسائي (88)، كتاب: الطهارة، باب: الأمر بالاستنثار، وابن ماجه (409)، كتاب: الطهارة، باب: المبالغة في الاستنشاق والاستنثار.

په ولاړو اوبو کې اودس کول منع دي

5ـ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: «لا يَبُولَنَّ أَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ الَّذِي لا يَجْرِي، ثُمَّ يَغْتَسِلُ فِيهِ» [1] وَلِمُسْلِمٍ: «لا يَغْتَسِلُ أَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ وَهُوَ جُنُبٌ» [2].

ترجمه: د ابو هريره رضي الله تعالىٰ عَنْه نه روايت دے بيشكه نبي ﷺ فرمائيلي دي: په ولاړو اوبو کې دې يو کس ستاسو نه متيازې نه کوي هغه اوبه چې هغه جاري نه وي چې بيا په کې لا غسل هم کوي. په روايت د مسلم کې دي: په ولاړو اوبو کې دې يو کس ستاسو نه غسل نه کوي په داسې حال کې چې هغه جنب وي.

مفهوم الحديث

په دې حديث کې اسباب د ضرر نبي ﷺ بيان کړي دي او د هغې نه ئې کلکه منع فرمائيلې ده ځکه چې په ولاړو اوبو کې متيازې کول پدې سره نورو مسلمانانو ته ضرر رسيږي ځکه هغوي به دا اوبه استعمالوي نو د دې کس د وجې نه به بيا دا اوبه هغوي نه استعمالوي او ضرر ورکول مسلمان ته حرام دي نبي ﷺ فرمائي: «لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ» [3] ځان ته هم ضرر ورکول حرام دي او بل مسلمان ته هم.

***

سپي چې کوم لوښي وڅټي د هغې د پاکولو طريقه

٦ـ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ: أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: «إِذَا شَرِبَ الْكَلْبُ فِي إِنَاءِ أَحَدِكُمْ فَلْيَغْسِلْهُ سَبْعاً» [4] **وَلِمُسْلِمٍ: «أُولاهُنَّ بِالتُّرَابِ»** [1].

---

(1) رواه البخاري، كتاب الوضوء، باب البول في الماء الدائم، برقم 239، ومسلم، كتاب الطهارة، باب النهي عن البول في الماء الراكد، 282.

(2) رواه مسلم، كتاب الطهارة، باب النهي عن الاغتسال في الماء الراكد، برقم 283.

(3) رواه ابن ماجه 2340

(4) رواه البخاري، كتاب الوضوء، باب إذا شرب الكلب في إناء أحدكم فليغسله سبعاً، برقم 172، ومسلم، كتاب الطهارة، باب حكم ولوغ الكلب، برقم 279.

ترجمه: د ابو هريره ﷺ نه روايت دے چې يقيناً نبي ﷺ فرمائيلي دي كله چې سپے په لوښي د يو كس ستاسو كې څښكل اوكړي نو هغه (لوخے) دې اووه (۷) ځله وينځي، د مسلم په روايت كې دي اول ځل دې په خاورو وينځي.

7 - وَلَهُ فِي حَدِيثِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ: أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: «إِذَا وَلَغَ الْكَلْبُ فِي الإِنَاءِ فَاغْسِلُوْهُ سَبْعاً، وَعَفِّرُوْهُ الثَّامِنَةَ بِالتُّرَابِ»(2).

ترجمه: په حديث د عبد الله بن مغفل ﷺ كې دي چې نبي ﷺ فرمائيلي دي: كله چې سپے په لوښي كې څټل اوكړي (يعنى لوښے اوڅټي) نو هغه (لوخے) اووه (۷) ځله (په اوبو) وينځئ او اتم ځل ئې په خاورو سره وينځئ.

مفهوم د حديث

هميشه دپاره شريعت مطهره په پاكئ باندې امر كوي او امر كوي په اجتناب باندې د هغه اسبابو نه چې انسان ته ضرر رسوي يو د هغه امورو نه چې شرعې پرې امر كړے دے هغه دا دے چې كله سپے يو لوښے وڅټي نو هغه اته ځله وينځلے شي اول ځل به په خاورو، سره ځكه چې د سپي په لاړو كې داسې جراثيم دي چې هغه بغير د خاورو نه نه پاكيږي او انسان ته ضرر رسوي.

د اودس طريقه

8 - عَنْ حُمْرَانَ مَوْلَى عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ: «أَنَّهُ رَأَى عُثْمَانَ ﷺ دَعَا بِوَضُوءٍ، فَأَفْرَغَ عَلَى يَدَيْهِ مِنْ إِنَائِهِ، فَغَسَلَهُمَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، ثُمَّ أَدْخَلَ يَمِينَهُ فِي الْوَضُوءِ، ثُمَّ تَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ وَاسْتَنْثَرَ، ثُمَّ غَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثاً، وَيَدَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ ثَلَاثًا، ثُمَّ مَسَحَ بِرَأْسِهِ، ثُمَّ غَسَلَ كِلْتَا رِجْلَيْهِ ثَلَاثًا، ثُمَّ قَالَ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ تَوَضَّأَ(3) نَحْوَ وُضُوئِي هَذَا، وَقَالَ: «مَنْ تَوَضَّأَ نَحْوَ وُضُوئِي هَذَا، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ، لا يُحَدِّثُ فِيهِمَا نَفْسَهُ غَفَرَ اللهُ لَهُ

---

(1) رواه مسلم، كتاب الطهارة باب حكم ولوغ الكلب برقم 279.

(2) رواه مسلم كتاب الطهارة باب حكم ولوغ الكلب برقم 280.

(3) في نسخة الزهيري: «يتوضأ» وهذا لفظ البخاري برقم 164.

[1] مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ»[2] .

ترجمه: حمران چې دا مولی د عثمان ﷺ دے ده عثمان رضي الله وليدو چې هغه د اودس اوبه راوغوښتلې نو (اول ئې) په لاسونو باندې د لوښي نه راواړولې درې ځله ئې پرې لاسونه وينځل بيا ئې ښي لاس په هغه لوښي کې داخل کړو (اوبه ئې ترينه راواخستلې) خولې او پوزې ته ئې اوبه واچولې او پوزه ئې سونړ کړه بيا ئې مخ درې ځله وينځه او لاسونه ئې تر څنګلو پورې وينځل بيا ئې مسح په سر باندې اوکړه بيا ئې دواړه ښپې درې ځله وينځلې بيا ئې اوفرمائيل : ما نبي ﷺ ليدلے وو چې هغه هم زما د اودس پشان اودس کړے وو او اوئې فرمائيل : چا چې زما د اودس پشان اودس اوکړو او بيا ئې دوه رکعته مونځ اوکړو او په دې کې ئې د خپل ځان سره خبرې اونه کړې نو مخکني ټول ګناهونه به ورته الله تعالیٰ معاف کړي.

مفهوم د حديث

د نبي ﷺ صحابه رضي الله عَنْهم په تعليم د علم شرعي باندې ډير حرص ناك وو د دې دپاره چې د سنتو نشر او اشاعت اوکړي او د اُمت دپاره خيرخواه شي او تعليم عملي په ذهن کې ښه واقع کيږي نو په دې وجه عثمان ﷺ عملاً تعليم د نبي ﷺ د اودس ورکړو او شروع ئې د لاسونو نه اوکړه ځکه چې دا آله د وينځلو ده بيا ئې خولې او پوزې ته اوبه واچولې دې دپاره چې د دوي پاکوالے راشي او همدغه شان اودس ئې اوکړو او بيا ئې پرې دليل هم پيش کړو ځکه چې د صحابو عادت دا وو چې په هره مسئله به ئې دليل پيش کولو نو نبي ﷺ هم داسې وئيلي وو چې چا زما د اودس پشان اودس اوکړو او بيا ئې ښه په توجه سره دوه رکعته اوکړه نو ده ته به ټول ګناهونه معاف شي.

❋ ❋ ❋

(1) في نسخة الزهيري: «غُفِرَ لهُ» وهذا لفظ مسلم، برقم 226

(2) رواه البخاري، كتاب الوضوء، باب المضمضة في الوضوء، برقم 164، ومسلم، كتاب الطهارة، باب صفة الوضوء وكماله، برقم 226.

د لوښي نه اودس کول او طريقه د اودس

9ـ عَنْ عَمرِو بْنِ يَحْيَ المَازِنِيْ عَنْ أبيه قَالَ: «شَهِدْتُ عَمْرَو بْنَ أَبِي الحَسَنِ[1] سَأَلَ عَبْدَ اللهِ بْنَ زَيْدٍ عَنْ وُضُوءِ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ؟ فَدَعَا بِتَوْرٍ مِنْ مَاءٍ، فَتَوَضَّأَ لَهُمْ وُضُوءَ رَسُولِ اللهِ[2] ﷺ فَأَكْفَأَ عَلَى يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرِ، فَغَسَلَ يَدَيْهِ ثَلَاثاً، ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَيهِ[3]، فِي التَّوْرِ، فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ وَاسْتَنْثَرَ ثَلَاثاً بِثَلَاثِ غَرْفَاتٍ، ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَيْهِ فِي التَّوْرِ[4] فَغَسَلَ وَجْهَهُ ثَلَاثاً، ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَهُ[5]، فَغَسَلَهُمَا مَرَّتَيْنِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ ثُمَّ أَدْخَلَ يَدَيهِ[6]، فَمَسَحَ بهما[7] رَأْسَهُ، فَأَقْبَلَ بِهِمَا وَادبرَ مَرَّةً وَاحِدَةً، ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ»[8].

ترجمه: د عمرو بن يحيى المازني نه نقل دي هغه د خپل پلار نه نقل کوي پلار ئي فرمائي: زه د عمرو بن حسن ﷺ خواته حاضر شوم هغه د عبد الله بن زيد ﷺ نه تپوس کړے وو د نبي ﷺ د اودس په باره کښې نو عبد الله ﷺ د اوبو لوښے راوغوښتلو او دوي ته ئې اودس اوکړو د نبي ﷺ د اودس پشان نو (اول ئې په) لاسونو باندې د هغه لوښي نه اوبه راواړولې، درې ځله ئې لاسونه وينځل بيا ئې لاس په لوښي کښې داخل کړل خولې او پوزې ته ئې اوبه واچولې او پوزه ئې سونړ کړه او دا کار ئې درې ځله اوکړو په درې چونګو (موټو) سره (يعنې خولې او پوزې ته اوبه واچولې او پوزه ئې سونړ کړه) بيا ئې لاس په لوښي کښې داخل کړو نو درې ځله ئې مخ وينځلو بيا ئې لاس په لوښي کښې داخل کړو لاسونه ئې تر څنګلو پورې درې ځله وينځل بيا ئې لاسونه (لوخي کښې) داخل کړه په سر باندې ئې مسح اوکړه (طريقه ئې دا وه

(1) في نسخة الزهيري: «أبي حسن» وهذا لفظ البخاري، برقم 186.

(2) في نسخة الزهيري: «النبي ﷺ».

(3) في نسخة الزهيري: «يده».

(4) «التور» ليست في نسخة الزهيري.

(5) في نسخة الزهيري: «يديه».

(6) في نسخة الزهيري: «يده».

(7) «بهما»: ليست في نسخة الزهيري.

(8) رواه البخاري، كتاب الوضوء، باب مسح الرأس كله، برقم 185، ومسلم، كتاب الطهارة، باب في وضوء النبي ﷺ برقم 235.

چې) لاسونه ئې د مخې نه شاته بوتله او بيا ئې واپس خپل ځائې ته راوستل او دا کار ئې يوځل اوکړو بيا ئې پښې وينځلې.

وَفِي رِوَايَةٍ : «بَدَأَ بِمُقَدَّمِ رَأْسِهِ ، حَتَّى ذَهَبَ بِهِمَا إِلَى قَفَاهُ ، ثُمَّ رَدَّهُمَا حَتَّى رَجَعَ إِلَى الْمَكَانِ الَّذِي بَدَأَ مِنْهُ»[1].

ترجمه: په بل روايت کې دي: شروع ئې اوکړه د اول طرف د سر نه تردې چې څټ ته ئې لاسونه ورسول بيا ئې واپس کړل تردې چې خپل ځائې ته ئې راورسَول د کوم ځائې نه چې ئې شروع کړې وه.

وَفِي رِوَايَةٍ : «أَتَانَا رَسُولُ اللهِ ﷺ فَأَخْرَجْنَا لَهُ مَاءً فِي تَوْرٍ مِنْ صُفْرٍ»[2].

ترجمه: په بل روايت کې دي: مونږ ته نبي ﷺ راغے مونږ ورته اوبه په يو لوښي کې راويستلې چې هغه د زيړو لوښے وو.

قَالَ: رحمه الله: التَّوْرُ إِنَاءٌ يُشْبِهُ الطَّسْتِ: تَوْر: (دا يو لوښے دے چې) د خانك سره مشابه دے.

مفهوم د حديث

په دې حديث کې د نبي ﷺ د اودس کيفيت بيان شوے دے او د سلفو حرص په اتباع د نبي ﷺ باندې چې دوي به د هغه د عمل د کيفيت تپوس کولو.

په اودس او نورو او پاکيزه کارونو کې شروع کول د ښي طرف نه

١٠ ـ عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ : «كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يُعْجِبُهُ التَّيَمُّنُ فِي تَنَعُّلِهِ ، وَتَرَجُّلِهِ ، وَطُهُورِهِ، وَفِي شَأْنِهِ كُلِّهِ»[3].

ترجمه: د عائشه رضي الله عنها نه روايت دے دا فرمائي: نبي ﷺ به د ښي طرف نه شروع کول

(1) رواه البخاري، كتاب الوضوء، باب مسح الرأس كله برقم 185، ومسلم، كتاب الطهارة، باب في وضوء النبي ﷺ برقم 235.
(2) البخاري، كتاب الوضوء، باب الغسل والوضوء في المخضب والقدح والخشب والحجارة برقم 197 بلفظ: (أتى رسولُ الله...).
(3) رواه البخاري، كتاب الوضوء، باب التيمن في الوضوء والغسل، برقم 168، ومسلم، كتاب الطهارة، باب التيمن في الطهور وغيره، 268.

خوښول په پېزار (اچولو) کې او په سر ږمنزولو کې او په اودس کولو کې او په ټولو (د شرافت والا) کارونو کې.

مفهوم الحديث

د ښي طرف نه شروع کولو کې برکت دے نو د دې وجې نه نبي ﷺ ته هم خوښ عمل وو او عائشه رضي الله عنها ترينه امت ته رانقل کړے دے چې نبي ﷺ به کله جامې اچولې يا به ئې ويښتان ږمنځول او يا به ئې اودس کولو يا خوب ، خوراك ، څكاك او داسې نور هغه کارونه چې د شرافت سره تعلق لري نو د ښي طرف نه به ئې پرې شروع کوله او هغه اشياء چې د نجاست سره تعلق لري نو په هغې باندې په ګس لاس سره شروع کول **مثلاً**: استنجاء کول ځکه خو نبي ﷺ د استنجاء کولو نه په ښي لاس سره منع کړې ده او همدغه شان د ذَکَر (اندام مخصوصه) مسح کولو نه ځکه چې ښي لاس د پاکو شيانو دپاره دے او ګس لاس د نجاست وغيره لرې کولو دپاره دے خو بعض داسې کارونه وي چې په هغې کې دواړه لاسونو ته ضرورت وي نو هغه به بيا په دواړو لاسونو سره کولے شي

❊❊❊

د اودس فضيلت او ثواب

١١ - عَنْ نُعَيْمٍ الْمُجْمِرِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنَّهُ قَالَ: «إِنَّ أُمَّتِي يُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ غُرّاً مُحَجَّلِينَ مِنْ آثَارِ الْوُضُوءِ، فَمَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يُطِيلَ غُرَّتَهُ فَلْيَفْعَلْ»[1].

ترجمه: نعيم المجمر رحمه الله د ابو هريره ﷺ نه روايت کوي او هغه د نبي ﷺ نه روايت کوي چې يقيناً نبي ﷺ فرمائيلي دي: يقيناً زما اُمت به د قيامت په ورځ رابللے شي د سپينو تندو او ښپو والا به وي د اودس د اثارو د وجې نه نو که څوك طاقت لري ستاسو نه د سپين والي د اوږد کولو خپلو نو دا کار دې اوکړي.

(1) رواه البخاري، كتاب الوضوء، باب فضل الوضوء والغرُّ المُحجَّلون من آثار الوضوء، برقم 136، واللفظ له ورواه مسلم، كتاب الطهارة باب استحباب إطالة الغرة والتحجيل في الوضوء، برقم 246.

وَفِي لَفْظِ لِمُسْلِمٍ[1]: «رَأَيْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ يَتَوَضَّأُ، فَغَسَلَ وَجْهَهُ وَيَدَيْهِ حَتَّى كَادَ يَبْلُغُ الْمَنْكِبَيْنِ، ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ حَتَّى رَفَعَ إِلَى السَّاقَيْنِ، ثُمَّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ: «إِنَّ أُمَّتِي يُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنْ أَثَرِ الْوُضُوءِ»، فَمَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمْ أَنْ يُطِيلَ غُرَّتَهُ وَتَحْجِيلَهُ[2] فَلْيَفْعَلْ»[3].

ترجمه: په بل روایت کې دي (نعیم فرمائي:) ما ابو هریره رضي الله عنه ولیدلو اودس ئې کولو مخ ئې وینځلو او لاسونه هم تردې چې اوکو پورې ئې (اوبه) نږدې کړې بیا ئې ښپې وینځلې تردې چې پونډو ته ئې (اوبه) ورسولې بیا (ابو هریره رضي الله عَنْه) اوفرمائیل: ما د نبي ﷺ نه اوریدلي دي هغه فرمائیلي دي: یقیناً زما أمت به د قیامت په ورځ رابللې شي د سپینو تندو او ښپو والا به وي د اودس د آثارو د وجې نه نو که څوك طاقت لري د خپل سپینوالي (د مخ او ښپو) د اوږد کولو نو دا کار دې اوکړي.

12- وَفِي لَفْظٍ لِمُسْلِمٍ: سَمِعْتُ خَلِيلِي ﷺ يَقُولُ: «تَبْلُغُ الْحِلْيَةُ مِنَ الْمُؤْمِنِ حَيْثُ يَبْلُغُ الْوُضُوءُ»[4].

ترجمه: په روایت د مسلم کې دي (ابو هریره رضي الله عنه فرمائي:) ما د خپل دوست نه اوریدلي دي هغه فرمائیل: د مؤمن ښائست به رسیږي تر هغه ځائي پورې کوم ځائې ته چې د اودس اوبه رسیږي.

مفهوم حديث

نبي ﷺ خپل أمت ته په یوه علامه سره زیرے ورکړے دے چې هغه دې أمت سره خاصه ده د قیامت په ورځ کله چې د ټولو أمتونو مخامخ به دوي ته اواز کیږي او د دوي مخونه او لاسونه او ښپې به منور وي د اودس د اثارو د وجې نه خو د دې سره شرط دا دے چې نیت به په کې خالص وي او د الله تعالیٰ رضا حاصلول به په کې مقصود وي.

***

(1) كلمة: «لمسلم» ليست في نسخة الزهيري

(2) كلمة: «تحجيله» ليست في نسخة الزهيري.

(3) مسلم، كتاب الطهارة، باب استحباب إطالة الغرة والتحجيل في الوضوء، برقم 246.

(4) رواه مسلم، كتاب الطهارة، باب تبلغ الحلية حيث يبلغ الوضوء، برقم 250.

بَاب دخول الخلاء والاستطَابة[1]

باب دے په بيان د داخليدلو کې بيت الخلاء ته او استنجاء کول.

بيت الخلاء ته د داخليدلو دعا

١٣ ـ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ إِذَا دَخَلَ الْخَلَاءَ قَالَ: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ»[2]. [3]

ترجمه: د انس ﷺ نه روايت دے چې بيشکه نبي ﷺ به چې کله بيت الخلاء ته داخليدو نو دا دعاء به ئې وئيله: اے الله تعالیٰ يقيناً زه پناه نيسم په تا پورې د نرو شيطانانو او د ښځو شيطانانو نه.

❊ ❊ ❊

د اودس ماتي په وخت کې قبلې ته نه مخ کول او نه شاه کول

١٤ ـ عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الأَنصارِيِّ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «إِذَا أَتَيْتُمُ الْغَائِطَ، فَلا تَسْتَقْبِلُوا الْقِبْلَةَ بِغَائِطٍ وَلا بَوْلٍ، وَلا تَسْتَدْبِرُوهَا، وَلَكِنْ شَرِّقُوا أَوْ غَرِّبُوا». قَالَ أَبو أَيُّوبَ: «فَقَدِمْنَا الشَّامَ، فَوَجَدْنَا مَرَاحِيضَ قَدْ بُنِيَتْ نَحْوَ الْكَعْبَةِ، فَنَنْحَرِفُ عَنْهَا، وَنَسْتَغْفِرُ اللهَ ﷻ»[4]. [5]

ترجمه: د ابو ايوب ﷺ نه روايت دے فرمائي: نبي ﷺ فرمائيلي دي: کله چې تاسو د قضاء حاجت اراده اوکړئ نو قبلې ته مه مخ کوئ د غټ اودس ماتي په وخت کې هم او د ورو کي اودس ماتي په وخت کې

(1) في نسخة الزهيري: «باب الاستطابة».

(2) في نسخة الزهيري: «الخبث: بضم الخاء والباء: جمع خبيث، والخبائث: جمع خبيثة: استعاذ من ذكران الشيطان وإناثهم».

(3) في نسخة الزهيري: «الخبث: بضم الخاء والباء: جمع خبيث، والخبائث: جمع خبيثة: استعاذ من ذكران الشيطان وإناثهم».

(4) رواه البخاري، كتاب الصلاة، باب قبلة أهل المدينة، وأهل الشام، والمشرق، برقم 394، ومسلم، كتاب الطهارة، باب الاستطابة 264.

(5) في نسخة الزهيري زيادة: «قال المصنف: الغائط: الموضع المطمئن من الأرض، كانوا ينتابونه للحاجة، فكنوا به عن نفس الحدث، كراهة لذكره بخاص اسمه، والمراحيض: جمع مرحاض، وهو المغتسل، وهو أيضاً كناية عن موضع التخلي».

هم او مه قبلې ته شاه کوئ لیکن مشرق ته مخ کوئ یا مغرب ته ابو ایوب ﷺ فرمائي: مونږ شام ته لاړو نو هلته مو بيتهـ رومونه اومندل چې د کعبې په طرف جوړ شوي وو نو (د قضاء حاجت په وخت کې به) مونږ د کعبې نه اوړیدلو او د الله تعالیٰ نه به مو بښنه طلب کوله.

مفهوم د حدیث

په دې حدیث کې نبي ﷺ د اودس ماتي يو ادب بيان کړے دے هغه دا دے چې کله تاسو اودس ماتوئ نو قبلې ته مه مخ کوئ او مه شاه کوئ ځکه چې دا د مسلمانانو قبله ده د دې عزت پکار دے.

❋❋❋

په ابادئ کې قبلې ته شاه کول جائز دي

15 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ بْنِ الخَطَّابِ ﷺ قَالَ: «رَقِيْتُ يَوْماً عَلَى بَيْتِ حَفْصَةَ، فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَقْضِي حَاجَتَهُ مُسْتَقْبِلَ الشَّامِ، مُسْتَدْبِرَ الْكَعْبَةِ» [1] وفي رواية: **«مُسْتَقْبِلًا بَيْتَ الْمَقْدِسِ»** [2].

ترجمه: د عبد الله بن عمر ﷺ نه روايت دے فرمائي: زه يو ورځ د حفصه رضي الله عنها د کوټې چت ته وختلم ما نبي ﷺ وليدلو چې قضاء حاجت ئې کولو شام طرف ته مخ کونکے وو او کعبې طرف ته شاه کونکے وو، په بل روايت کې دي مخ ئې بيت المقدس طرف ته کړځولے وو.

مفهوم الحديث

د ابن عمر ﷺ د حديث نه معلومه شوه چې په ابادئ کې د قضاء حاجت په وخت که چا قبلې طرف ته شاه کړه نو څه حرج (ګناه) پرې نشته.

❋❋❋

(1) رواه البخاري، كتاب الوضوء، باب التبرز في البيوت، برقم 148، ومسلم، كتاب الطهارة، باب الاستطابة، برقم 266، وعندهما: «القبلة» بدل «الكعبة»، واللفظ لفظ الترمذي، حديث رقم 11.

(2) أخرجه البخاري (145، 147، 148، 2935) ومسلم (266).

د مشر خدمت کول او استنجاء په اوبو کول

16 ـ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ أَنَّهُ [1] قَالَ: «كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَدْخُلُ الْخَلَاءَ، فَأَحْمِلُ أَنَا وَغُلَامٌ نَحْوِي مَعِي [2] إِدَاوَةً مِنْ مَاءٍ وَعَنَزَةً، فَيَسْتَنْجِيْ بِالْمَاءِ» [3].

ترجمه: د انس ﷺ نه روایت دے دا فرمائي: نبي ﷺ به بیت الخلاء ته داخلیدلو او ما او یو غلام به چې زما پشان وو یو لوښے د اوبو او امساء بار کړه (یعنی نبي ﷺ له مو وروړله) او نبي ﷺ به په اوبو استنجاء اوکړه.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا خبره فهم شوه چې د مشر خدمت کول جائز دي او په اوبو باندې استنجاء کول هم جائز ده.

❊ ❊ ❊

د بولو په وخت کې ذکر (عورت) په ښي لاس نیول منع دي

17 ـ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ الْحَارِثِ بْنِ رِبْعِيٍّ الْأَنْصَارِيِّ [4] ﷺ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: «لَا يُمْسِكَنَّ أَحَدُكُمْ ذَكَرَهُ بِيَمِينِهِ وَهُوَ يَبُولُ، وَلَا يَتَمَسَّحْ مِنَ الْخَلَاءِ بِيَمِينِهِ، وَلَا يَتَنَفَّسْ فِي الْإِنَاءِ» [5].

ترجمه: د ابو قتاده ﷺ نه نقل دي: چې بیشکه نبي ﷺ فرمائیلي دي نه دې نیسي یو کس ستاسو نه خپل ذکر (عورت) په داسې حال کې چې (تشې) متیازې کوي او استنجاء دې په ښي لاس سره نه

(1) «أنه»: ليست في نسخة الزهيري.

(2) «معي»: ليست في نسخة الزهيري.

(3) رواه البخاري، كتاب الوضوء، باب حمل العنزة مع الماء في الاستنجاء، برقم 152، ومسلم، كتاب الطهارة، باب الاستنجاء بالماء من التبرز، برقم 271.

(4) «الأنصاري»: ليست في نسخة الزهيري.

(5) رواه البخاري، كتاب الوضوء، باب لا يمسك ذكره بيمينه برقم 154، ومسلم، كتاب الطهارة، باب النهي عن الاستنجاء باليمين، برقم 267، واللفظ له.

کوي او په لوښي کې دي پوکے هم نه کوي.

مفهوم د حديث

دا حديث په ډيرو نصيحتي جملو او ښکلو فوائدو باندې مشتمل دے چې په هغې سره د انسان تهذيب راځي او د اضرارو او امراضو نه پرې خلاصيږي.

❋❋❋

د بولو نه ځان نه ساتل سبب د عذاب قبر دے

18- عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا قَالَ: مَرَّ النَّبِيُّ ﷺ بِقَبْرَيْنِ فَقَالَ: «إِنَّهُمَا لَيُعَذَّبَانِ، وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ: أَمَّا أَحَدُهُمَا: فَكَانَ لا يَسْتَتِرُ مِنَ الْبَوْلِ، وَأَمَّا الآخَرُ: فَكَانَ يَمْشِي بِالنَّمِيمَةِ فَأَخَذَ جَرِيدَةً رَطْبَةً، فَشَقَّهَا نِصْفَيْنِ، فَغَرَزَ فِي كُلِّ قَبْرٍ وَاحِدَةً، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، لِمَ فَعَلْتَ هَذَا؟ قَالَ: لَعَلَّهُ يُخَفَّفُ عَنْهُمَا مَا لَمْ يَيْبَسَا»[1].

ترجمه: ابن عباس ﷺ فرمائي: نبي ﷺ (يو وخت کې) په دوه قبرونو باندې تيريدلو اوئې فرمائيل: يقيناً دې دوارو له عذاب ورکړے کيږي، او دا عذاب ورله په يو لوي کار نه ورکړے کيږي هر چې دا يو کس وو نو ده به د متيازو نه ځان نه ساتلو او هر چې دا بل کس دے نو ده به تګ کولو په چغلۍ سره نو (نبي ﷺ) يوه لمده څانګه راواخستله هغه ئې په مينځ نيمه کړه په دواړو قبرونو ئې يوه يوه ناله کړه نو (صحابو نبي ﷺ ته) اوفرمائيل: اے د الله تعالىٰ رسوله دا کار دې ولې اوکړو؟ (نبي ﷺ ورته) اوفرمائيل: شايد چې د دوي نه عذاب سپك کړے شي تر څو چې دا څانګه نه وي وچه شوې.

مفهوم د حديث

نبي ﷺ ته به د معجزې په طور سره کله خارق العادات کارونه الله تعالىٰ ښودل نو يو وخت په مقبره باندې تيريدلو الله تعالىٰ ورته دا اوښودل چې دوه مړو له الله تعالىٰ عذاب ورکولو او نبي ﷺ خپلو

(1) رواه البخاري، كتاب الوضوء، باب من الكبائر أن لا يستتر من بوله، برقم 216، واللفظ له برقم 218، ومسلم، كتاب الطهارة، باب الدليل على نجاسة البول، ووجوب الاستبراء منه، برقم 292.

ملګرو ته د دې خبر ورکړو دې دپاره چې خپل اُمت د دې کارونو نه اویروي ځکه چې دې قبرونو والاؤ له چې الله تعالیٰ عذاب ورکولو نو دا په دې وجه چې دوي د دوه کارونو نه ځانونه نه ساتل یو تشوو متیازو نه او بل د چغلۍ نه.

***

بَابُ السِّوَاكِ

اَلسِّوَاكُ : په کسرې (زير) د سين سره د هغه لرګي نوم دے چې هغه په خوله کې د مسواك په طور سره استعمالولے شي او د مسواك مرلو ته هم سواك وائي :

مسواك په هر اودس کې وهل سنت دي

19 ـ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ عَنَ النَّبِيِّ [1] ﷺ قَالَ : «لَوْلا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي لأَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ عَنْدَ كُلِّ صَلاةٍ» [2] .

ترجمه: د ابو هريره ﷺ نه روايت دے دا د نبي ﷺ نه روايت کوي (نبي عليه السلام) فرمائي : که ما مشقت او تکليف په خپل امت باندې نه ګڼلے نو ما به ورته په مسواك وهلو باندې امر کړے وے هر اودس سره په وخت د هر مانځه کې.

مفهوم د حديث

مونځ ډير مهم عبادت دے ځکه چې دا د الله تعالیٰ او د بنده په مينځ کې يوه ذريعه د اتصال ده نو د دې وجې نه الله تعالیٰ په بنده ګانو باندې اودس فرض کړے دے او د اودس د تکميل دپاره ئې مسواك مشروع کړے دے ځکه چې په دې سره ښه پاکي حاصليږي نو د دې وجې نه نبي ﷺ خپل أمت ته ترغيب ورکړے دے چې مسواك استعمالوئ دې دپاره چې أمت ته نفع حاصل شي.

***

(1) في نسخة الزهيري: «أن رسول الله ﷺ».

(2) رواه البخاري، كتاب الجمعة، باب السواك يوم الجمعة، برقم 887، وفي كتاب التمني، باب ما يجوز من اللو، برقم 7240، ومسلم، كتاب الطهارة، باب السواك، برقم 252، واللفظ له، وفي رواية: «لولا أن أشق على المؤمنين».

د خوب نه د راويښيدلو په وخت کې مسواک وهل

20 ـ عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ ﷺ قَالَ : «كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ يَشُوصُ فَاهُ بِالسِّوَاكِ»[1][2].

ترجمه: د حذيفه ﷺ نه روايت دے دا فرمائي : نبي ﷺ به چې کله د شپې راپاڅيدلو نو خپله خوله به ئي په مسواك سره سولوله (يعنى مسواك به ئي وهلو).

مفهوم د حديث

د نبي ﷺ د مسواك او نظافت سره ډيره مينه وه او بد بوئي به ئي نه خوښوله نو د دې وجې نه مسواک به ئي ډير استعمالولو د دې دپاره چې خوله ئي ښه صفا شي او غاښونه ئي پاك شي ځکه چې په خوب سره خوله بدبويه کيږي نو نظافت ته احتياج راځي نو ځکه حذيفه ﷺ وائي : چې نبي ﷺ به کله تهجدو ته راپاڅيدلو نو مسواك به ئي استعمالولو دې دپاره چې نظافت هم راشي او خوشبوئي هم پيداء کړي او مونځ ئي ښه په اکمله طريقه سره اداء شي.

***

د مسواک وهل په هر وخت کې او د بل چا مسواک وهل

21 ـ عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها ، قَالَتْ : «دَخَلَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ[3] ﷺ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ وَأَنَا مُسْنِدَتُهُ إِلَى صَدْرِي ، وَمَعَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ سِوَاكٌ رَطْبٌ يَسْتَنُّ بِهِ ، فَأَبَدَّهُ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بَصَرَهُ ، فَأَخَذْتُ السِّوَاكَ فَقَضَمْتُهُ ، وَطَيَّبْتُهُ ، ثُمَّ دَفَعْتُهُ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَاسْتَنَّ بِهِ ، فَمَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ اسْتَنَّ

---

(1) رواه البخاري، كتاب الوضوء، باب السواك برقم 245، واللفظ له، وكتاب الجمعة، باب السواك يوم الجمعة، برقم 889، ومسلم، كتاب الطهارة، باب السواك برقم 47-(255).

(2) في نسخة الزهيري: «يشوص: معناه يغسل، يقال: شاصه، يشوصه، وماصه، يموصه: إذا غسله».

(3) «الصديق» ليست في نسخة الزهيري.

اسْتِنَانًا قَطُّ[1] أَحْسَنَ مِنْهُ، فَمَا عَدَا أَنْ فَرَغَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ رَفَعَ يَدَهُ ـ أَوْ إِصْبَعَهُ ـ ثُمَّ قَالَ: فِي الرَّفِيقِ الأَعْلَى ـ ثَلاثًا ـ ثُمَّ قَضَى، وَكَانَتْ تَقُولُ: مَاتَ بَيْنَ حَاقِنَتِي وَذَاقِنَتِي»[2].

ترجمه: د عائشه رضي الله عنها نه نقل دي دا فرمائي: عبد الرحمن بن ابي بکر ﵁ د نبي ﷺ خواته راغلے او (نبي ﷺ) ما خپلې سينې ته تکے کړے وو او د عبد الرحمن ﵁ سره (په لاس کې) شين (تازه) مسواك وو په غاښونو ئې وهلو نو نبي ﷺ ورته نظر اوږد کړو، ما مسواك (ترينه) راواخستلو او په غاښونو مې وژولو (چې نرم شي) او نرم مې کړو بيا مې نبي ﷺ ته ورکړو هغه په غاښونو اووهلو ما نبي ﷺ چرته نه وو ليدلے چې داسې (ښائسته) مسواك ئې وهلے وو ډير ښائسته د دې (ځل) وهلو نه تجاوز ئې ونه کړو (د مسواک وهلو نه) تردې چې فارغه شو نبي ﷺ (بيا ئې) لاس پورته کړو يا ئې ګوته اوچته کړه بيا ئې اوفرمائيل: (زه غواړم هغه) دوستي اوچته دا خبره ئې درې ځله اوکړه بيا پرې فيصله د وفات وشوه (د دې نه ورستو به) عائشه رضي الله عنها فرمائيل: چې نبي ﷺ زما د مرئ د هډوکي او د زنې تر مينځ وفات شوے دے.

وفي لفظ: «فَرَأَيْتُهُ يَنْظُرُ إِلَيْهِ، وَعَرَفْتُ: أَنَّهُ يُحِبُّ السِّوَاكَ فَقُلْتُ: آخُذُهُ لَكَ؟ فَأَشَارَ بِرَأْسِهِ: أَنْ نَعَمْ»[3] هَذَا[4] لَفْظُ الْبُخَارِيِّ وَلِمُسْلِمٍ نَحْوُهُ.[5].

ترجمه: (عائشه رضي الله عنها فرمائي:) ما نبي ﷺ ته وکتل چې هغه (عبد الرحمن رضي الله عَنْه) ته کتل او ما (ترينه) دا معلومه کړه چې دا مسواك (وهل) خوښوي نو ما (نبي ﷺ) ته اووئيل: آيا

---

(1) «قط»: ليست في نسخة الزهيري، وهي عند البخاري، برقم 4438.

(2) رواه البخاري، كتاب الجمعة، باب من تسوك بسواك غيره برقم 890، وفي المغازي، باب مرض النبي ﷺ ووفاته 4438، واللفظ له.

(3) رواه البخاري، كتاب المغازي، باب مرض النبي ﷺ ووفاته برقم 4449.

(4) «هذا»: ليست في نسخة الزهيري.

(5) لم أجده في صحيح مسلم في النسخ التي بين أيدينا.

زه (د عبد الرحمن) نه مسواك ستا دپاره راواخلم نو نبي ﷺ په سر سره اشاره اوکړه چې آؤ ! دا لفظ د بخاري دے او د مسلم لفظ هم دغه شان دے.

مفهوم د حديث

عائشه رضي الله عنها د نبي ﷺ مينه محبت د مسواك سره بيانوي او د نبي ﷺ د وفات حال بيانوي چې زما په غيږه کې وفات شوے دے او دا نمبر د عائشه رضي الله عنها وو

***

د مسواك د وهلو ځائي

22ـ عَنْ أَبِي مُوسَى ﷺ قَالَ: «أَتَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ وَهُوَ يَسْتَاكُ بِسِوَاكٍ رَطْبٍ[1]، قَالَ: وَطَرَفُ السِّوَاكِ عَلَى لِسَانِهِ، وَهُوَ[2] يَقُولُ: أُعْ، أُعْ، وَالسِّوَاكُ فِي فِيهِ، كَأَنَّهُ يَتَهَوَّعُ»[3].

ترجمه: د ابو موسى الاشعري ﷺ نه نقل دي دا فرمائي: زه (د) نبي ﷺ (خواته) ته راغلم هغه تازه مسواك وهلو دا (ابو موسى رضي الله عَنْه) فرمائي: طرف د مسواك د هغه په ژبه باندې وو اُع اُع ئې (پرې) کول او مسواك ئې په خوله کې وو کويه کې اولتيځ کوي.

مفهوم د حديث

په دې حديث کې د مسواك د استعمال طريقه ښودل شوي ده ابو موسى الاشعري ﷺ د نبي ﷺ دا عمل رانقل کړے دے چې هغه به تازه مسواك وهلو ځکه چې په دې سره صفائي ښه راځي او په مسواك وهلو کې مبالغه کول پکار ده هغه دا چې د ژبې آخر طرف ته اورسولے شي.

***

(1) «رطب» ليست في نسخة الزهيري.

(2) «وهو» ليست في نسخة الزهيري.

(3) رواه البخاري، كتاب الوضوء، باب السواك، برقم 244، واللفظ له، ومسلم، كتاب الطهارة، باب السواك، برقم 254.

بَابُ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ

باب دے په بیان د مسح کې په موزو باندې.

په موزو باندې مسح کول

23 - عَنْ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ ﷺ قَالَ: كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فِي سَفَرٍ، فَأَهْوَيْتُ لأَنْزِعَ خُفَّيْهِ، فَقَالَ: «دَعْهُمَا، فَإِنِّي أَدْخَلْتُهُمَا طَاهِرَتَيْنِ، فَمَسَحَ عَلَيْهِمَا»[1].

ترجمه: مغیره بن شعبه ﷺ فرمائي: زه د نبي ﷺ سره په یو سفر کې ووم (هغه اودس کولو چې د ښپو وینځلو ته نزدې شو) نو ما قصد اوکړو چې موزې ترینه اوباسم نبي ﷺ راته اوفرمائیل: پرېږده یقیناً ما دا ښپې په دې کې پاکې داخلې کړې دي (یعنې ما چې ښپو ته موزې اچولې نو زما ښپې پاکې وې) په هغه موزو باندې ئې مسح اوکړه.

مفهوم د حدیث

په دې حدیث کې د مسح علی الخفین حکم بیان شو او په موزو باندې مسح کول ثابت شو چې دا د نبي ﷺ سنت عمل دے او په تواتر سره ترینه نقل دے.

***

په موزو باندې مسح کول

24 - عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ ﷺ قَالَ: «كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فَبَالَ، وَتَوَضَّأَ[2]، وَمَسَحَ عَلَى خُفَّيْهِ» (مختصراً[3])[4].

(1) رواه البخاري، كتاب الوضوء، باب إذا أدخل رجليه وهما طاهرتان، برقم 206، واللفظ له، ومسلم، كتاب الطهارة، باب المسح على الخفين، برقم 79- (274).

(2) في نسخة الزهيري: «فتوضأ».

(3) في نسخة الزهيري: «مختصرٌ».

(4) رواه البخاري، ومسلم، كتاب الطهارة، باب المسح على الخفين، برقم 273.

ترجمه: حذيفه ﷺ نه نقل دي فرمائي: زه د نبي ﷺ سره په يو سفر کې ووم نو هغه تش اودس ماتے اوکړو (بيا ئې) اودس اوکړو او په موزو باندې ئې مسح اوکړه.

مكمل حديث

حذيفه ﷺ فرمائي: زه د نبي ﷺ سره ووم نو هغه ډيران د يو قوم ته لاړو په ولاړه ئې متيازې اوکړې نو زه ترينه جدا شوم هغه راته اووئيل: رانزدې شه نو زه ورته ورنزدې شوم تردې چې د هغه شاته شوم (د متيازو نه چې کله فارغه شو نو بيا ئې) اودس اوکړو اومسح ئې په موزو باندې اوکړه.[1]

مفهوم د حديث

مسح کول په موزو باندې جائز ده برابره خبره که د وړوکي اودس ماتي نه اودس وي او که د غټ اودس ماتي نه اودس وي.

❋ ❋ ❋

(1) قال الحافظ عبد الحق: لم يذكر البخاري المسح في حديث حنيفة. "الجمع بين الصحيحين" للحافظ عبد الحق (1/ 216). قال الزركشي في "النكت على العمدة" (ص: 38): وعلى هنا فلا يحسن من المصنف عدُّ هذا الحديث في هنا الباب من المتفق عليه.

بَابٌ فِي الْمَذْيِ وَغَيْرِه

المذيُ: دا هغه اوبو ته وائي: چې د شهوت په وخت کې د بدنه نه وځي بغیر د توپ وهلو نه او د دې د وتلو نه بعد انسان څه ناراستي هم نه محسوسوي، دا د نارینه او زنانه دواړو نه وځي اګر که د زنانه نه کم وځي.

حكم د مذي

25 - عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ ﷺ كُنْتُ رَجُلاً مَذَّاءً، فَاسْتَحْيَيْتُ أَنْ أَسْأَلَ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ لِمَكَانِ ابْنَتِهِ مِنِّي[1]، فَأَمَرْتُ الْمِقْدَادَ بْنَ الأَسْوَدِ[2] فَسَأَلَهُ، فَقَالَ: «يَغْسِلُ ذَكَرَهُ، وَيَتَوَضَّأُ»[3]. وَلِلْبُخَارِيِّ: «اغْسِلْ ذَكَرَكَ، وَتَوَضَّأْ»[4].[5] وَلِمُسْلِمٍ: «تَوَضَّأْ، وَانْضَحْ فَرْجَكَ»[6]

ترجمه: د علي ﷺ نه روايت دے فرمائي: زه يو سړے ووم چې ډير مذي به راته تلل نو ما حياء کوله چې د نبي ﷺ نه تپوس اوکړم (حياء مې څکه کوله) د وجې د کيدلو د لور د هغه نه زما (په نکاح) سره نو ما مقداد ﷺ ته حکم اوکړو چې د نبي ﷺ نه تپوس اوکړي (هغه د نبي ﷺ نه تپوس اوکړو) نبي ﷺ ورته اوونيل: خپل اندام مخصوصه دې وينځي او اودس دې کوي.

***

(1) «مني»: ليست في نسخة الزهيري.

(2) «ابن الأسود»: ليست في نسخة الزهيري.

(3) رواه البخاري، كتاب الغسل، باب غسل المذي والوضوء منه، برقم 269، وتقدم عنده برقم 132، 178، ومسلم، كتاب الحيض، باب المذي، برقم 303، واللفظ له.

(4) في نسخة الزهيري: «اغسل ذكرك وتوضأ»، ولفظ المتن للبخاري، برقم 269.

(5) رواه البخاري، (226)، كتاب: الغسل، باب: غسل المذي والوضوء منه، لكن بلفظ: «توضأ واغسل ذكرك».

(6) رواه مسلم (303)، كتاب: الحيض، باب: المذي، والنسائي (438)، كتاب: الغسل والتيمم، باب: الوضوء من المذي، وقد رواه البخاري (132)، كتاب: العلم، باب: من استحياء فأمر غيره بالسؤال، و (176)، كتاب: الوضوء، باب: من لم ير الوضوء إلا من المخرجين، ومسلم (303)، (1/ 247)، كتاب: الحيض، باب: المذي.

يقين په شك نه زائله كيږي

26ـ عَنْ عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَاصِمٍ الْمَازِنِيِّ، قَالَ: «شُكِيَ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ الرَّجُلُ الَّذي[1] يُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ يَجِدُ الشَّيْءَ فِي الصَّلاةِ، فَقَالَ: لا يَنْصَرِفُ حَتَّى يَسْمَعَ صَوْتاً، أَوْ يَجِدَ رِيحاً»[2].

ترجمه: عباد بن تميم د عبد الله بن زيد بن عاصم ﷺ نه روايت نقل كوي چې نبي ﷺ ته شكايت اوكړے شو (شكايت كونكے عبد الله بن زيد وو) د يو كس په باره كې چې ده ته په خيل كې راشي چې ده څه شے محسوس كړو په مانځه كې (نو دا به څه كوي) نبي ﷺ ورته اوفرمائيل: دا به نه واپس كيږي د مانځه نه تردې چې څه اواز واوري او يا څه (بوئې د) هواء محسوس كړي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې كله يو انسان په مانځه ولاړ وي او د مانځه په مينځ كې ورته شك راشي چې كنې زما نه څه خارج شو نو آيا دا به څه كوي؟ نبي ﷺ د دې جواب اوكړو چې دا به هغه وخته پورې نه وځي د مسجد او مونځ نه تر څو چې د ده يقين نوي راغلے او يقين په دې طريقې سره راځي چې انسان بوئې محسوس كړي دا ځكه چې كله كله شيطان په مقعد د انسان كې پوكے اوكړي نو د انسان دا گمان شي چې زما نه څه هواء خارجه شوه نو نبي ﷺ وائي چې په گمان او شك باندې يقين مه زائله كوه.

***

كوم ماشوم هلك چې روټۍ نه وي خوړلي د هغه متيازې پاكې دي

27ـ عَنْ أُمِّ قَيْسٍ بِنْتِ مِحْصَنٍ الأَسَدِيَّةِ: «أَنَّهَا أَتَتْ بِابْنٍ لَهَا صَغِيرٍ، لَمْ يَأْكُلِ الطَّعَامَ إِلَى رَسُولِ اللهِ

---

(1) «الذي»: ليست في نسخة الزهيري، وهي عند البخاري، برقم 137 كما في المتن.

(2) رواه البخاري، كتاب الوضوء، باب بول الصبيان، برقم 223، وفي لفظ له برقم 5693: «دخلت على النبي ﷺ، بابن لي لم يأكل الطعام، فبال عليه، فدعا بماء، فرشّ عليه»، ومسلم، كتاب الطهارة، باب حكم بول الطفل الرضيع وكيفية غسله، برقم 287.

ﷺ فَأَجْلَسَهُ[1] فِي حِجْرِهِ، فَبَالَ عَلَى ثَوْبِهِ، فَدَعَا بِمَاءٍ فَنَضَحَهُ عَلَى ثَوْبِهِ[2]، وَلَمْ يَغْسِلْهُ»[3].

ترجمه: ام قيس رضي الله عنها خپل ماشوم بچے چې طعام ئې لا نه وو خوړلے راوستو نبي ﷺ ته نبي ﷺ په خپله غيږه کې کينولو هغه ماشوم د نبي ﷺ په کپړو متيازې اوکړې (نبي ﷺ) اوبه راواغوښتلې او په خپلو کپړو باندې چړکاؤ کړې او وې نه وينځلې.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله معلومه شوه چې يو ماشوم سينه روي او خوراک څکاک ئې لا نه وي کړے، نو د هغه متيازې پاکې دې چړکاؤ ورله کافي کيږي.

***

د بولو نه د ځمکې د پاکولو طريقه

28 ـ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ قَالَ: «جَاءَ أَعْرَابِيٌّ، فَبَالَ فِي طَائِفَةِ الْمَسْجِدِ، فَزَجَرَهُ النَّاسُ، فَنَهَاهُمُ النَّبِيُّ ﷺ، فَلَمَّا قَضَى بَوْلَهُ أَمَرَ النَّبِيُّ ﷺ بِذَنُوبٍ مِنْ مَاءٍ، فَأُهْرِيقَ عَلَيْهِ»[4].

ترجمه: د انس بن مالك ﷺ نه روايت دے فرمائي: يو اعرابي راغے په يو طرف د مسجد کې ئې متيازې اوکړې خلقو ورټلو (هغه خلق) نبي ﷺ (د رټلو نه) منع کړه هر کله چې اعرابي متيازې پوره کړې نبي ﷺ امر اوکړو په يوې بوقې د اوبو سره (چې دا راوړئ او په دې متيازو ئې واړوئ نو هغه راوړے شوه) او په هغه متيازو واړولے شوه.

---

(1) في نسخة الزهيري: «رسول الله ﷺ».

(2) «على ثوبه»: ليست في نسخة الزهيري.

(3) رواه البخاري، كتاب الوضوء، باب بول الصبيان، برقم 223، وفي لفظ له برقم 5693: «دخلت على النبي ﷺ بابن لي لم يأكل الطعام، فبال عليه، فدعا بماء، فرش عليه»، ومسلم، كتاب الطهارة، باب حكم بول الطفل الرضيع وكيفية غسله، برقم 287.

(4) رواه البخاري، كتاب الوضوء، باب ترك النبيّ ﷺ والناس الأعرابي حتى فرغ من بوله في المسجد، برقم 219، وباب صب الماء على البول في المسجد، برقم 221، ورقم 6025، ومسلم، كتاب الطهارة، باب وجوب غسل البول وغيره من النجاسات إذا حصلت في المسجد، وأن الأرض تطهر بالماء من غير حاجة إلى حفرها، برقم 284، و285.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې كله يو كس په مسجد کې متيازې اوكړي نو د هغې د پاکوالي طريقه دا ده چې په هغې باندې اوبه واړولے شي او دا حكم عام دے هرې ځمکې ته شامل دے.

❊❊❊

د فطرت خصلتونه

30 ـ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : سَمِعْتُ النَّبِيَ ﷺ يَقُولُ : «الْفِطْرَةُ خَمْسٌ : الْخِتَانُ ، وَالاسْتِحْدَادُ ، وَقَصُّ الشَّارِبِ، وَتَقْلِيمُ الأَظْفَارِ، وَنَتْفُ الإِبِطِ»(1).

ترجمه: د ابو هريره ﷺ نه روايت دے دا فرمائي : ما د نبي ﷺ نه اوريدلي دي : هغه فرمائيل : فطرت (هغه اشياء چې د فطرت د انسان سره موافق دي) پنځه دي ، ختنه (ماشومان سنت) كول ، (اوسپنه (بليډ وغيره) استعمالول (د زيرناف ويښتانو دپاره) ، بريتان خريل ، نوکان کټ كول ، د تخركونو ويښتان لرې كول.

مفهوم د حديث

د دې نه معلومه شوه چې مذكوره خصلتونه د دين اسلام او د فطرت سره موافق دي.

❊❊❊

(1) رواه البخاري، كتاب اللباس، باب قص الشارب برقم 5889، وباب تقليم الأظفار برقم 5891، ومسلم، كتاب الطهارة، باب خصال الفطرة برقم 257.

بَابُ الغُسْلِ مِنَ الْجَنَابَةِ

باب دے په بیان د غسلو د جنابت کې.

***

د جنب او د هغې سره د کیناستلو حکم

31 ـ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ «أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ لَقِيَهُ فِي بعْضِ طُرُقِ المدينَةِ وهو جُنُبٌ، قَالَ: فَانْخَنَسْتُ مِنْهُ، فَذَهَبْتُ فَاغْتَسَلْتُ ثُمَّ جِئْتُ، فقالَ: «أَيْنَ كُنْتَ يا أَبا هُرَيْرَةَ؟» قالَ: كُنْتُ جُنُباً. فَكَرِهْتُ أَنْ أُجالِسَكَ وأنا على غَيْرِ طَهارَةٍ، فَقَالَ: «سُبْحانَ اللهِ! إنَّ الْمُسْلِمَ وفي رواية: **الْمُؤْمِنَ لا يَنْجُسُ»[1][2].**

ترجمه: د ابو هريره ﷺ نه روايت دے چې بيشکه نبي ﷺ د ده سره په بعض لارو د مدينه کې مخامخ شو په داسې حال کې چې (ابو هريره رضي الله عَنْه) جنب وو (ابو هريره رضي الله عَنْه) فرمائي: زه ترينه (يعنې د نبي ﷺ نه) پټ روسته شوم لاړم غسل مې اوکړه بيا واپس راغلم (نبي ﷺ) راته اوفرمائيل: چيرته (تلے) وې يا ابا هريره؟ (ابو هريره ﷺ ورته) اوفرمائيل: زه جنبووم ما دا بده اوګڼله چې تاسو سره کينم په داسې حال کې چې زه پاک نه يم (يعنې جنب يم) نبي ﷺ اوفرمائيل: سبحان الله (يا ابا هريره) يقيناً مؤمن (دا خو) نجس نه وي.

مفهوم د حديث

مؤمن بنده پاک دے اګر که جنب شي خو ليکن غسل کول پرې واجب دي او دا يو امر تعبدي دے.

***

(1) في نسخة الزهيري: «إن المؤمن لا ينجس» ولم يذكر رواية: «إن المسلم لا ينجس».

(2) رواه البخاري، كتاب الغسل، باب عرق الجنب وأن المسلم لا ينجس، برقم 283 بلفظ: «إن المسلم لا ينجس» وأما لفظ: «إن المؤمن لا ينجس» فهي رقم 285، ومسلم، كتاب الطهارة، باب الدليل على أن المسلم لا ينجس، برقم 371.

د جنابت د غسلو طريقه

32 ـ عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ : «كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ ، غَسَلَ يَدَيْهِ ، ثُمَّ[1] تَوَضَّأَ وُضُوءَهُ لِلصَّلَاةِ ، ثُمَّ يغْتَسِلُ[2] ، ثُمَّ يُخَلِّلُ بِيَدَيْهِ[3] شَعْرَهُ ، حَتَّى إِذَا ظَنَّ أَنَّهُ قَدْ أَرْوَى بَشَرَتَهُ ، أَفَاضَ الْمَاءَ عَلَيْهِ[4] ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ، ثُمَّ غَسَلَ سَائِرَ جَسَدِهِ»[5] .

33 ـ وَكَانَتْ تَقُولُ[6] : «كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَرَسُوْلُ اللهِ ﷺ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ ، نَغْتَرِفُ مِنْهُ جَمِيعاً»[7] .

ترجمه: د عائشه رضي الله عنها نه روايت دے دا فرمائي : نبي ﷺ چې به کله غسل د جنابت کول (اول به ئې) لاسونه وينځل بيا به ئې اودس اوکړو (داسې اودس لکه) د مونځ دپاره ئې چې يو کس کوي بيا به ئې په لاسونو باندې د سر ويښتان خلال کړه تردې چې ګمان به ئې راغے چې پوستکې ته ئې اوبه ورسولې (بيا به ئې په سر) اوبه راواړولې درې ځله بيا به ئې تول بدن وينځلو عائشه رضي الله عنها فرمائي : ما او نبي ﷺ به د يو لوښي نه غسل کول او په يو ځائي به مو اوبه په لپوکې راخستلې .

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې کله يو کس د جنابت غسل کوي ، نو اول به اودس اوکړي او بيا به مذکوره طريقې سره غسل اوکړي .

(1) في نسخة الزهيري: «و» بدلاً من: ثم

(2) في نسخة الزهيري: «اغتسل».

(3) في نسخة الزهيري: «بيده».

(4) في نسخة الزهيري: «أفاض عليه الماء».

(5) رواه البخاري، كتاب الغسل، باب تخليل الشعر، حتى إذا ظن أنه قد أروى بشرته أفاض عليه، برقم 272، ومسلم، كتاب الحيض، باب صفة غسل الجنابة، برقم 316.

(6) في نسخة الزهيري: «وقالت».

(7) رواه البخاري، كتاب الغسل، باب تخليل الشعر، حتى إذا ظن أنه قد أروى بشرته أفاض عليه، برقم 273، ومسلم، كتاب الحيض، باب القدر المستحب من الماء في غسل الجنابة، وغسل الرجل والمرأة في إناء واحد في حالة واحدة، وغسل أحدهما بفضل الآخر، برقم 321.

***

د جنابت د غُسلو طریقه

34 ـ عَنْ مَيْمُونَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ زَوْجِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَتْ: «وَضَعْتُ لِرَسُولِ اللهِ[1] ﷺ وَضُوءَ الْجَنَابَةِ، فَأَكْفَأَ بِيَمِينِهِ عَلَى يَسَارِهِ مَرَّتَيْنِ، أَوْ ثَلاثاً، ثُمَّ غَسَلَ فَرْجَهُ، ثُمَّ ضَرَبَ يَدَهُ بِالأَرْضِ، أَوِ الْحَائِطِ، ـ مَرَّتَيْنِ، أَوْ ثَلاثاً ـ ثُمَّ تَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ، وَغَسَلَ وَجْهَهُ وَذِرَاعَيْهِ، ثُمَّ أَفَاضَ عَلَى رَأْسِهِ الْمَاءَ، ثُمَّ غَسَلَ سائر[2] جَسَدِهُ، ثُمَّ تَنَحَّى، فَغَسَلَ رِجْلَيْهِ، قالَت[3]: فَأَتَيْتُهُ بِخِرْقَةٍ فَلَمْ يُرِدْهَا، فَجَعَلَ يَنْفُضُ الْمَاءَ بِيَدَيهِ[4]»[5].

ترجمه: د میمونه رضي الله عنها نه (چې دا د نبي ﷺ بي بي ده) روایت دے دا فرمائي: ما نبي ﷺ دپاره د جنابت (د غسلو) اوبه واچولې (د غسل کولو دپاره اول ئې) په نبي لاس سره په کس لاس باندې اوبه دوه یا درې کرته واچولې بیا ئې عورت ووینځلو او بیا ئې لاس په ځمکه یا په دیوال دوه یا درې ځله راښکلو بیا ئې خولې او پوزې ته اوبه واچولې او (بیا ئې) مخ ووینځلو او (بیا ئې) (لاسونه تر) څنګلو (پورې) ووینځل بیا ئې په سر باندې اوبه راواچولې او بیا ئې په ټول بدن باندې اوبه راواچولې بیا د هغه ځائې نه اخوا شو نبي ئې ووینځلې (میمونه رضي الله عنها فرمائي: کله چې ئې غسل ختم کړه) نو ما ورته تَولیه ورکړه نو هغه مراد نه کړه (یعنې د اخستو اراده ئې ونه کړه) نو نبي ﷺ شروع شو اوبه ئې په خپل لاس سره څنډلې.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم شوه چې د غسلو نه مخکې استنجاء کول، او بیا په دیوال یا خاورو

---

(1) في نسخة الزهيري: «وضع رسول الله ﷺ».

(2) «سائر»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في صحيح مسلم، برقم 37- (317).

(3) «قالت»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في البخاري، برقم 274.

(4) في نسخة الزهيري: «بيده» وكذلك في لفظ البخاري، برقم 274.

(5) رواه البخاري، كتاب الغسل، باب من توضأ في الجنابة ثم غسل سائر جسده، برقم 274، واللفظ له، ومسلم، كتاب الحيض، باب صفة غسل الجنابة، وعنده في آخره: «ثم أتيته بالمنديل فرده» برقم 317.

پسې لاس راښکل، او يا اودس کول، او ښې د غسلو نه روسته وينځل، او توليه استعمالول هم جائز دي او نه استعمالول هم.

***

دجنبدخوبکولوحکم

35ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ: أَنَّ عُمَرَ بْنَ الخَطَّابِ ﷺ قَالَ: «يَا رَسُولَ اللهِ، أَيَرْقُدُ أَحَدُنَا وَهُوَ جُنُبٌ؟ قَالَ: «نَعَمْ، إِذَا تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ فَلْيَرْقُدْ وهو جنب[1]»[2].

ترجمه: د عبد الله بن عمر ﷺ نه روايت دے چې يقيناً عمر ﷺ (نبي ﷺ ته) اوفرمائيل: يارسول الله آيا يو کس زمونږ نه وده کيدلے شي په حالت د جنابت کې؟ نبي ﷺ ورته اوفرمائيل: هَو! کله چې يو کس ستاسو نه اودس اوکړي نو بيا دې اوده شي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې جنب بنده دپاره بغير د غسلو نه اوده کيدل جائز دي، اودس کول مستحب دے.

***

په زنانه باندې هم احتلام راځي

ترجمه: ابو قتاده ﷺ فرمائي: چې نبي ﷺ فرمائيلي دي: کله چې يو کس ستاسو نه مسجد ته داخل شي نو نه دې کيني ترڅو چې دوه رکعاته مونځ اوکړي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې کله يو کس مسجد ته داخل شي نو تحية المسجد دې اوکړي.

***

په مونځ کې عاجزي سره اودريدل

117 ـ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، قَالَ: «كُنَّا نَتَكَلَّمُ فِي الصَّلاةِ، يُكَلِّمُ الرَّجُلُ منا[2] صَاحِبَهُ، وَهُوَ إِلَى جَنْبِهِ فِي الصَّلاةِ، حَتَّى نَزَلَتْ ﴿حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلاةِ الْوُسْطَى[3] وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ﴾[4]، فَأُمِرْنَا بِالسُّكُوتِ

---

(1) رواه البخاري، كتاب الصلاة، باب إذا دخل أحدكم المسجد فليركع ركعتين، برقم 444، وفي أبواب التهجد، باب ما جاء في التطوع مثنى مثنى، واللفظ له، برقم 1163، ومسلم، كتاب صلاة المسافرين وقصرها، باب استحباب تحية المسجد بركعتين، وكراهة الجلوس قبل صلاتهما وأنها مشروعة في جميع الأوقات، برقم 714.

(2) «منا»: ليست في نسخة الزهيري.

(3) «حافظوا على الصلوات والصلاة الوسطى»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في البخاري، برقم 4534.

(4) سورة البقرة الآية: 238.

وَنُهِينَا عَنِ الْكَلَامِ». [1].

ترجمه: زید بن ارقم ﷺ فرمائي: مونږ به (په ابتدا د اسلام کې) په مونځ کې خبرې کولې يو سړي به د خپل ملګري سره په مونځ کې خبرې کولې او هغه به ئي يو اړخ ته وو ترڅو چې دا آيت کريمه نازل شو الله تعالیٰ فرمائي: تاسو ودريږئ الله تعالیٰ ته عاجزي کونکي، نو مونږ ته امر په چپوالي وشو او د خبرو نه منع کړے شو.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا خبره فهم شوه چې په مونځ کې په سکون او سکوت سره اودريدل فرض دي.

***

په اوړې کې د ماسپخين مونځ مؤخر کول

118 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ [2] أنه قَالَ: «إِذَا اشْتَدَّ الْحَرُّ فَأَبْرِدُوا عَنْ الصَّلاةِ، فَإِنَّ شِدَّةَ الْحَرِّ مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ». [3].

ترجمه: د عبد الله بن عمر او ابو هريره رضي الله عَنْهما نه نقل دي دوي د نبي ﷺ نه نقل کوي نبي ﷺ فرمائي: کله چې ګرمي سخته شي نو تاسو يخوالے کوئ د مونځ نه (يعني مونځ په يخوالي کې کوئ چې نمر کله خپل ګرمائش کم کړي) ځکه چې سختوالے د ګرمئ دا د جهنم د پوکو نه

---

(1) رواه البخاري، كتاب العمل في الصلاة، باب ما ينهى من الكلام في الصلاة، برقم 1200، وكتاب التفسير، باب وقوموا لله قانتين، برقم 4534، وجملة: «ونهينا عن الكلام» ليست في البخاري، وإنما هي لمسلم فقط، ومسلم، كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب تحريم الكلام في الصلاة، ونسخ ما كان من إباحته، برقم 35- (538).

(2) في نسخة الزهيري: «عن النبي ﷺ».

(3) رواه البخاري، كتاب مواقيت الصلاة، باب الإبراد بالظهر في شدة الحر، برقم 533، واللفظ له و536، ومسلم، كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب استحباب الإبراد بالظهر في شدة الحر لمن يمضي إلى جماعة، ويناله الحر في طريقه، برقم 615.

دے.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم کيږي چې په اوورې کې د ماسپخين مونځ کې تاخير کول تردې چې ګرمائش کم شي.

✻✻✻

هيرشوے مونځ چې کله ياد شي په هغه وخت کې کول

119ـ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ[1] : «مَنْ نَسِيَ صَلاةً فَلْيُصَلِّهَا إِذَا ذَكَرَهَا، لا كَفَّارَةَ لَهَا إِلاَّ ذٰلِكَ، وتَلاَ قوله تعالى[2] : ﴿أَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي﴾[3] »[4].

وَلِمُسْلِمٍ : «مَنْ نَسِيَ صَلاةً، أَوْ نَامَ عَنْهَا، فَكَفَّارَتُهَا أَنْ يُصَلِّيَهَا إِذَا ذَكَرَهَا»[5].

ترجمه: د انس ﷺ نه نقل دي دا نقل کوي د نبي ﷺ نه نبي ﷺ فرمائي: هغه څوک چې مونځ ئې هير کړو نو مونځ دې اوکړي کله چې ئې رایاد کړه د دې (مونځ) دپاره بله کفاره نشته سيوا د دغه (کولو) نه. په روايت د مسلم کې دي نبي ﷺ فرمائي: هغه څوک چې مونځ ئې هير کړو او يا ترينه اوده پاتې شو نو کفاره د دغه مونځ هغه دا ده چې همدغه مونځ اوکړي کله چې ئې رایاد کړي.

مفهوم د حديث

---

(1) في نسخة الزهيري: «عن أنس بن مالك ﷺ عن النبي ﷺ قال».

(2) «وتلا قوله تعالى»: ليست في نسخة الزهيري.

(3) سورة طه، الآية: 14.

(4) رواه البخاري، كتاب مواقيت الصلاة، باب من نسي صلاة فليصلها إذا ذكرها، ولا يعيد إلا تلك الصلاة، برقم 597، ومسلم، كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب قضاء الصلاة الفائتة، واستحباب تعجيل قضائها، واللفظ له، برقم 684.

(5) رواه مسلم، كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب قضاء الصلاة الفائتة، واستحباب تعجيل قضائها، برقم 315-(684).

د دې حدیث نه دا خبره فهم کیږي چې کله یو کس د مونځ نه اوده پاتې شو او یا ترینه هېر شو نو کله چې ورته راياد شي په هغه وخت کې دې اوکړي.

❊❊❊

د يو وخت مونځ په جمع سره دوه ځله کول

120 ـ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ : «أَنَّ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ ﷺ كَانَ يُصَلِّي مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ العِشَاءَ[1] الآخِرَةِ، ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى قَوْمِهِ، فَيُصَلِّي بِهِمْ تِلْكَ الصَّلاةَ».[2]

ترجمه: د جابر ﷺ نه نقل دي چې بیشکه معاذ ﷺ به د نبي ﷺ سره د ماسختون مونځ اوکړو او بیا به واپس شو خپل قوم ته نو هغوي له به ئې دغه مونځ اوکړو.

مفهوم د حديث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم کیږي چې کله یو کس جمع سره مونځ اوکړي او بیا دغه مونځ بل چا له په جمع سره کوي نو دا جائز دي.

❊❊❊

په ګرمئ کې په لستوڼي یا لمن وغیره باندې سجده لګول جائز دي

121 ـ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ قَالَ : «كُنَّا نُصَلِّي مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فِي شِدَّةِ الْحَرِّ، فَإِذَا لَمْ يَسْتَطِعْ أَحَدُنَا أَنْ يُمَكِّنَ جَبْهَتَهُ مِنَ[3] الأَرْضِ، بَسَطَ ثَوْبَهُ، فَسَجَدَ عَلَيْهِ».[4]

---

(1) في نسخة الزهيري : «عشاء الآخرة»، وهي في مسلم، برقم 180- (465).

(2) رواه البخاري، كتاب الأدب، باب من لم يرَ إكفار من قال ذلك متأولاً أو جاهلاً، برقم 6106، ومختصراً في كتاب الأذان، باب إذا طول الإمام، وكان للرجل حاجة فخرج فصلى، برقم 700، ومسلم، كتاب الصلاة، باب القراءة في العشاء، برقم 80- (465)، واللفظ له.

(3) في نسخة الزهيري : «في الأرض»، و«من الأرض» في البخاري، برقم 1208، ومسلم، برقم 620.

(4) رواه البخاري، كتاب العمل في الصلاة، باب إذا بسط الثوب في الصلاة للسجود، برقم 1208، ومسلم، كتاب المساجد، باب استحباب تقديم الظهر في أول الوقت، برقم 620، واللفظ له.

ترجمه: انس ﷺ نه نقل دي فرمائي : مونږ د نبي ﷺ سره مونځ کوو په سخته ګرمۍ کې نو کله چې به طاقت يو کس زمونږ نه لرلو د دې چې خپل تندے په ځمکه ولګوي (نو) (د) خپلې جامې (يو طرف) به ئې خور کړو (او) په هغې باندې به ئې سجده ولګوله.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم کيږي چې کله سخته ګرمي وي نو سجده کې د تندي لږول په کپړه خپله باندې جائز دي.

❋❋❋

په مونځ کې داوګوپټول

122 ـ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ[1] : «لا يُصَلِّيَ أَحَدُكُمْ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ ، لَيْسَ عَلَى عَاتِقِهِ مِنْهُ شَيْءٌ». [2] .

ترجمه: ابو هريره ﷺ فرمائي : چې نبي ﷺ فرمائيلي دي : مونځ دې نه کوي يو کس ستاسو نه په يوه جامه کې چې په اوګو باندې د هغې نه څه نه وي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې په مونځ کې د اوګو پټول لازم دي.

❋❋❋

(1) في نسخة الزهيري : «قال : قال النبي ﷺ».

(2) رواه البخاري، كتاب الصلاة، باب إذا صلى في الثوب الواحد فليجعل على عاتقيه، برقم 359، بلفظ: «ليس على عاتقيه منه شيء»، ومسلم، كتاب الصلاة، باب الصلاة في ثوب واحد، وصفة لبسه، برقم 516 بلفظ: «عاتقيه»، وأما لفظ: «عاتقه» فرواه الشافعي في مسنده، ص 23، وأحمد، 16/ 51، برقم 9980، والنسائي، كتاب القبلة، صلاة الرجل في الثوب الواحد ليس على عاتقه منه شيء، برقم 769، وصحح إسناده محققو مسند أحمد، والألباني في إرواء الغليل، 1/ 304.

پیاز او ګنده او بدبویه اشیاء په وخت د مونځ کې خوړل نه دي پکار

123 ـ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ[1] : «مَنْ أَكَلَ ثُوماً أَوْ بَصَلاً ، فَلْيَعْتَزِلْنَا ـ أَوْ[2] لِيَعْتَزِلْ مَسْجِدَنَا ـ وَلْيَقْعُدْ فِي بَيْتِهِ» ، وَأُتِيَ بِقِدْرٍ فِيهِ خَضِرَاتٌ مِن بُقُولٍ ، فَوَجَدَ لَهَا رِيحاً . فَسَأَلَ عَنْهَا[3]؟ فَأُخْبِرَ بِمَا فِيهَا مِنَ الْبُقُولِ ، فَقَالَ : «قَرِّبُوهَا» ــ إِلَى بَعْضِ أَصْحَابِهِ كان معه[4] ــ فَلَمَّا رَآهُ كَرِهَ أَكْلَهَا ، قَالَ : «كُلْ ، فَإِنِّي أُنَاجِي مَن لا تُنَاجِي». [5]

ترجمه: جابر ﷺ د نبي ﷺ نه نقل کوي نبي ﷺ فرمائي : چا چې اوګه اوخوړه او یا ئې پیاز اوخوړل نو زمونږ نه دې ډډه اوکړي (یعني زمونږ خواله دې نه راځي) او زمونږ د مسجد نه دې هم ډډه اوکړي او په خپل کور کې دې کیني (نو نبي ﷺ ته) کټوئ راوړے شوه چې په هغې کې څه شینکي وو د ترکارئ (یعني څه ساګ وغیره په کې وو) نو د هغې نه ئې څه بوئي محسوس کړو نو تپوس ئې اوکړو (چې دا څه دي په دې کټوئ کې) نو هغه ته خبر ورکړے شو په هغه شینکو سره چې په هغه کټوئ کې وو نو نبي ﷺ صحابو ته اووئیل : نزدې کړئ دې لره بعض ملګروته نو هر کله چې هغه کس ولیدل چې نبي ﷺ د هغه شیانو خوراک بد وګڼلو نو هغه کس هم بد وګڼلو نبي ﷺ ورته اوفرمائیل : خوره (څکه زه) خو مناجات کوم د داسې چا سره چې تاسو ورسره مناجات نه کوئ.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم شوه چې چا بدبویه شے اوخوړلو **مثلاً**: اوګه ، پیاز ، ګندنه وغیره نو

(1) في نسخة الزهيري : «أنه قال» : .

(2) في نسخة الزهيري : «وليعتزل مسجدنا» بواو، بدون الألف، ولفظ المتن في مسلم، برقم 73- (564).

(3) «عنها» : ليست في نسخة الزهيري.

(4) «كان معه» : ليست في نسخة الزهيري، وهي في البخاري، برقم 855.

(5) رواه البخاري، كتاب الأذان، باب ما جاء في الثوم النيئ والبصل والكراث، برقم، 855، ومسلم، كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب نهي من أكل ثوماً وبصلاً أو كراثاً أو نحوها، برقم 73- (564).

مسجد ته دې نه ځي ځکه چې ملائک ترینه هم تنګ وي او خلق ترینه هم تنګیږي.

چاچې پیاز اوکه اوخوړله مسجدته دې نه ځي

124 ـ عَنْ جَابِرٍ ، عَنْ النَّبِيِّ ﷺ [1] قَالَ : «مَنْ أَكَلَ الْبَصَلَ أو الثُّومَ أو الْكُرَّاثَ [2] ، فَلا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا ، فَإِنَّ الْمَلائِكَةَ تَتَأَذَّى مِمَّا يَتَأَذَّى مِنْهُ بنو آدمَ» [3] .

ترجمه: د جابر ﷺ نه نقل دي چې بیشکه نبي ﷺ فرمائي: چا چې پیاز، اوکه او ګندنه اوخوړه نو زمونږ مسجد ته دې نه رانزدې کیږي ځکه چې ملائک تکلیف محسوسوي د هغه څه نه د کوم نه ئې چې انسان محسوسوي.

مفهوم د حدیث

په دې حدیث کې هم د پیازو، اوګې او ګندنې خوړلو نه منع راغلې ده خو چې کله مسجد ته یو کس ځي او حکمت په کې دا ښودلے شوے دے چې ملائک ترینه په تکلیف کې کیږي.

＊＊＊

(1) في نسخة الزهيري: «عن جابر أن النبي ﷺ».

(2) في نسخة الزهيري: «من أكل البصل، والثوم، والكراث» وهي رواية لمسلم، برقم 74-(564).

(3) رواه مسلم، كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب نهي من أكل ثوماً وبصلاً أو كراثاً أو نحوها، برقم 74-(564)، ورواه البخاري، كتاب الأذان، باب ما جاء في الثوم النيء والبصل والكراث، برقم 854، وباب ما يكره من الثوم والبقول، برقم 5452، بنحوه دون ذكر الملائكة.

بَابُ التَّشَهُّدِ

باب دے په بیان د تشهد کې.

❊ ❊ ❊

په مونځ کې تشهد وئیل

125 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ ﷺ قَالَ: «عَلَّمَنِي رَسُوْلُ اللهِ ﷺ التَّشَهُّدَ ـ كَفِّي بَيْنَ كَفَّيْهِ ـ كَمَا يُعَلِّمُنِي السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآنِ: التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ، وَالصَّلَوَاتُ، وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ أَنْ لا إِلَهَ إِلاَّ اللهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ»(1).

ترجمه: د عبد الله بن مسعود ﷺ نه روایت دے دا فرمائي: ما ته نبي ﷺ تشهد اوښودلو او زما لاس د هغه د دوه لاسونو په مینځ کې وو (داسې ئې راته اوښودلو) لکه څرنګه چې به ئې ما ته د قرآن کریم یو سورت ښودلو. ټول تعریفونه او بدني عبادتونه (لمونځونه وغیره) او مالي عبادتونه (یعني زکوة وغیره) خاص الله تعالیٰ دپاره دي اے نبي ﷺ په تا دې سلام وي او د الله تعالیٰ رحمتونه او برکتونه دې وي سلامونه دې وي په مونږ او د الله تعالیٰ په ټولو نیکانو بندګانو زه ګواهي کوم چې نشته دے لائق د بندګئ سیوا د الله تعالیٰ نه او زه ګواهي کوم چې محمد ﷺ د الله تعالیٰ بنده او رسول دے.

126 - وَفِي لَفْظٍ: «إِذَا قَعَدَ أَحَدُكُمْ لِلصَّلاةِ(2)، فَلْيَقُلْ: التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ ـ وَذَكَرَهُ، وَفِيهِ ـ: فَإِنَّكُمْ إِذَا فَعَلْتُمْ ذَلِكَ، فَقَدْ سَلَّمْتُمْ عَلَى كُلِّ عَبْدٍ(3) صَالِحٍ فِي السَّمَاءِ وَالأَرْضِ».(4)

---

(1) رواه البخاري، كتاب الاستئذان، باب الأخذ باليدين، برقم 6265، واللفظ له، وكتاب الأذان، باب التشهد في الآخرة، برقم 831، ومسلم، كتاب الصلاة، باب التشهد في الصلاة، برقم 402.

(2) في نسخة الزهيري: «في الصلاة» وهي في البخاري، برقم 6328.

(3) في نسخة الزهيري: «عبد لله صالح».

(4) رواه البخاري (1144)، كتاب: العمل في الصلاة، باب: من سمّى قوماً أو سلم في الصلاة على غيره مواجهة وهو لا يعلم.

ترجمه: کله چې يو کس ستاسو نه په مونځ کې کيني نو داسې دې اووائي : "التَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ".. همدا حديث کې ذکر کړو، کله چې تاسو دا کار اوکړو نو په تحقيق سره تاسو سلام واچولو په هر نيک بنده باندې په اسمان او ځمکه کې.

وَفِيهِ، فَلْيَتَخَيَّرْ مِنَ الْمَسْأَلَةِ مَا شَاءَ». [1]

ترجمه: د دې حديث (په آخر) کې داسې دي غوره دې کړي د سوال کولو نه هغه څه چې دا ئې غواړي.

يعنې مونځ کونکے دې په آخر د تشهد کې دعاء کانې اوغواړي چې څومره ئې خوښې وي او کومه ئې خوښه وي)

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم کيږي چې تشهد وئيل په مونځ کې لازم دي ځکه نبي ﷺ ابن مسعود ﷺ ته ښودلے دے.

***

درودونيل

127ـ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى قَالَ : «لَقِيَنِي كَعْبُ بْنُ عُجْرَةَ، فَقَالَ : أَلَا أُهْدِي لَكَ هَدِيَّةً؟ إِنَّ النَّبِيَّ خَرَجَ عَلَيْنَا، فَقُلْنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ قَدْ عَلِمْنَا كَيْفَ نُسَلِّمُ عَلَيْكَ، فَكَيْفَ نُصَلِّي عَلَيْكَ؟ فَقَالَ : قُولُوا : « اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ [2] عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وعلى آل إبراهيم، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ،

---

(1) تقدم تخريجه عند البخاري (5969)، ومسلم (402/ 55)، واللفظ له، إلا أن عنده : "ثم يتخير" بدل : "فليتخير". والحديث رواه أيضًا :

البخاري (797)، كتاب : صفة الصلاة، باب : التشهد في الآخرة، و (800)، باب : ما يتخير من الدعاء بعد التشهد وليس بواجبه، و (5876)، كتاب : الاستئذان، باب : السلام اسم من أسماء الله تعالى، و (6946)، كتاب : التوحيد، باب : قول الله تعالى : {السَّلَامُ الْمُؤْمِنُ} [الحشر : 23]، ومسلم (402/ 56، 57، 58)، كتاب : الصلاة، باب : التشهد في الصلاة.

(2) في نسخة الزهيري : «... كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ» ولم يذكر الصلاة على إبراهيم.

وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى[1] إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ».[2].

ترجمه: د عبد الرحمن بن ابي ليلى رحمه الله نه نقل دي فرمائي: زما سره كعب بن عجره ﷺ ميلاؤ وو او راته ئې اوفرمائيل: ايا زه تا ته يوه (غوره) تحفه نه هديه كوم؟ (ما ويل ولې نه هغه بيا دا حديث بيان كړو) يقيناً نبي ﷺ مونږ ته راوتلو نو مونږ ورته اوويئيل: اے د الله تعالیٰ رسوله په تحقيق سره مونږ خو دا ياد كړي چې سلام په تا باندې به څنګه اچوؤ (خو ليكن) درود درباندې څنګه وايو؟ نبي ﷺ اوفرمائيل: تاسو داسې وائي: اے الله په محمد او په آل د محمد ﷺ باندې رحمت نازل كړه لكه څرنګه چې تا په ابراهيم او په ال د ابراهيم ﷺ باندې رحمت نازل كړے وو يقينا ته ستائيلے شوے ئې او شرافت والائې.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم كيږي چې په مونځ كې په نبي ﷺ باندې درود وئيل: لازم دي او د هغې الفاظ په دې حديث كې بيان شول.

***

په آخر د مونځ كې دا دعا وئيل

128 ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَدْعُو فِي صلاته[3]: اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ عَذَابِ النَّارِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ».[4].

---

(1) في نسخة الزهيري: «... كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ» ولم يذكر: كما باركت على إبراهيم، وهو لفظ البخاري في كتاب الدعوات، باب الصلاة على النبي ﷺ برقم 3657.

(2) رواه البخاري، كتاب الأنبياء، بابه برقم 3370، واللفظ له وفي كتاب الدعوات، باب الصلاة على النبي ﷺ برقم 6357، ومسلم، كتاب الصلاة، باب الصلاة على النبي بعد التشهد، برقم 406.

(3) «في صلاته»: ليست في نسخة الزهيري.

(4) رواه البخاري، كتاب الجنائز، باب ما جاء في عذاب القبر، برقم 1377، ومسلم بنحوه، كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب ما يستعاذ منه في الصلاة، برقم 131- (588).

ترجمه: د ابو هريره ﷺ نه نقل دي دا فرمائي : چې نبي ﷺ به په خپل مونځ کې دا دعاء فرمائيله : اے الله زه پناه نيسم په تاپورې د عذاب د قبر نه او د عذاب د اوور نه او د فتنې د ژوند او مرګ نه او د فتنې د مسح شوي دجال نه.

وفي لفظ لمسلم: «إِذَا تَشَهَّدَ أَحَدُكُمْ فَلْيَسْتَعِذْ بِاللهِ مِنْ أَرْبَعٍ ، يَقُولُ : اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ. ثم ذَكَرَ نَحْوَهُ».[1]

ترجمه: په روايت د مسلم کې دي کله چې يو کس ستاسو نه تشهد اووائي (نو بيا دې) پناه طلب کړي په الله تعالىٰ پورې د عذاب د جهنم نه، بيا ئې نور حديث د مخکې حديث پشان ذکر کړے دے.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا خبره فهم شوه چې د تشهد نه پس دا دعاء وئيل پکار ده اللَّهُمَّ إِني أَعوذُ بِكَ من عذابِ جَهَنَّمَ ، ومن عذابِ القَبْرِ ، ومن فِتْنَةِ المحيَا والمماتِ ، ومن شَرِّ فِتنَةِ المسيحِ الدَّجَّالِ»[2]

ترجمه: اے الله زه پناه نيسم په تا پورې د جهنم د عذاب نه او د قبر د عذاب نه او د فتنې د ژوند او مرګ نه او د شر د فتنې د مسح شوي دجال نه.

***

په اخر د مونځ کې دا دعا وئيل

129 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ ﷺ : أَنَّهُ قَالَ لِرَسُولِ اللهِ ﷺ : «عَلِّمْنِي دُعَاءً أَدْعُو بِهِ فِي صَلاتِي. قَالَ : قُلْ : اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْماً كَثِيراً ، وَلا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ

(1) رواه مسلم، كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب ما يستعاذ منه في الصلاة، برقم 128 - (588)، ولفظه: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «إِذَا تَشَهَّدَ أَحَدُكُمْ فَلْيَسْتَعِذْ بِاللهِ مِنْ أَرْبَعٍ يَقُولُ: اللهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ، وَمِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ».

(2) مسلم، بيهقي ٢/١٥٤

أَنْتَ، فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عَنْدِكَ، وَارْحَمْنِي إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ»[1].

ترجمه: عبد الله به عمر ﷺ د ابو بکر ﷺ نقل کوي چې ابو بکر ﷺ نبي ﷺ ته اوفرمائي: ما ته داسې دعاء اوښايه چې زه يې په لمانځه کې دعاء غواړم نبي ﷺ ورته اوفرمائيل: دا دعاء وايه. اے الله ما په خپل نفس ډېر ظلم کړے دے او ګناهونه نه بخي مګر ته نو ما ته داسې ښنه اوکړه کومه چې ستا د طرف نه وي او رحم په ما باندې اوکړه يقينا ته بخونکے او رحم کونکے ئې.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د مونځ په آخر کې د سلام نه مخکې دا مذکوره دعا وئيل سنت عمل دے.

په رکوع او سجده کې دعا

130 ـ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: «مَا صَلَّى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ صلاةً ـ بَعْدَ أَنْ نَزَلَتْ عَلَيْهِ ﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ﴾[2] ـ إِلاَّ يَقُولُ فِيهَا: سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي»[3].

ترجمه: د عائشه رضي الله عنها نه نقل دي دا فرمائي: نبي ﷺ نه دے کړے هيڅ يو مونځ روسته د نازليدلو د سورت نصر نه په هغه باندې مګر هغه به (د) هغه مونځ (په رکوع او سجدو) کې داسې وئيل: پاکي ده اے الله تا لره سره د حمد ستانه اے الله ما ته ښنه اوکړه.

وَفِي لَفْظٍ: «كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُكْثِرُ أَنْ يَقُولَ فِي رُكُوعِهِ وَسُجُودِهِ: سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ،

---

(1) رواه البخاري، كتاب الأذان، باب الدعاء قبل السلام، برقم 834، ومسلم، كتاب الذكر والدعاء، باب استحباب خفض الصوت بالذكر، برقم 2705، وفي لفظ مسلم: «اللهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْمًا كَثِيرًا – وَقَالَ قُتَيْبَةُ: كَثِيرًا –...» وفي لفظ البخاري، برقم 817، ومسلم، برقم 217– (484) في آخره: «يتأول القرآن» وفي لفظ لمسلم، برقم 52– (705): «عَلِّمْنِي يَا رَسُولَ الله دُعَاءً أَدْعُو بِهِ فِي صَلاَتِي، وَفِي بَيْتِي».

(2) سورة النصر، الآية: 1.

(3) رواه البخاري، كتاب الأذان، باب الدعاء في الركوع، برقم 794، وباب التسبيح والدعاء في السجود، برقم 817، ومسلم، كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب ما يستعاذ منه في الصلاة، برقم 484.

اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي"[1].

ترجمه: په بل روایت کې دي چې نبي ﷺ به په رکوع او سجدو خپلو کې دا ذکر ډیر کولو "سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه معلومیږي چې په رکوع او سجده کې دا مذکوره دعا ویل پکار وي.

***

(1) رواه البخاري، كتاب الأذان، باب التسبيح والدعاء في السجود، برقم 817، وكتاب التفسير، سورة النصر، برقم 4968، واللفظ له هنا مع زيادة في آخره: "يتأول القرآن"، ومسلم، كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب ما يستعاذ منه في الصلاة، برقم 217- (484)، وفي لفظ البخاري، برقم 817، ومسلم، برقم 217- (484) في آخره يتأول القرآن.

بَابُ الْوِتْرِ

يو ركعت وتر كول

131 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: «سَأَلَ رَجُلٌ النَّبِيَّ ﷺ ـ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ ـ مَا تَرَى فِي صَلَاةِ اللَّيْلِ؟ قَالَ: مَثْنَى، مَثْنَى، فَإِذَا خَشِيَ أَحَدُكُمْ[1] الصُّبْحَ: صَلَّى وَاحِدَةً، فَأَوْتَرَتْ لَهُ مَا صَلَّى، وَأَنَّهُ كَانَ يَقُولُ: اجْعَلُوا آخِرَ صَلَاتِكُمْ بِاللَّيْلِ وِتْراً». [2]

ترجمه: د عبد الله بن عمر ﷺ نه نقل دي دا فرمائي: يو كس د نبي ﷺ نه تپوس اوكړو او نبي ﷺ په منبر باندې (ناست) وو (هغه كس ورته اوفرمائيل:) ستا د شپې د مونځ په باره كې څه خيال دے (دا ته څو ركعته مناسب ګڼې) نو نبي ﷺ ورته اووئيل: دوه دوه ركعته او كله چې د صبا د راښتلو نه ويرېږي نو بيا دې يو ركعت وتر اوكړي نو (دا يو ركعت به ورله) مخكې ټول مونځ وتر اوګرځوي او نبي ﷺ به داسې وئيل: تاسو اخرنے مونځ خپل وتر وګرځوئ.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه د شپې د مونځ طريقه فهم شوه او د وترو كيفيت او عدد ترينه معلوم شو.

❊❊❊

وتر د شپې په هره حصه كې كيږي

132 ـ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: «مِنْ كُلِّ اللَّيْلِ قد أَوْتَرَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ، مِنْ أَوَّلِ اللَّيْلِ، وَأَوْسَطِهِ، وَآخِرِهِ. فَانْتَهَى وِتْرُهُ إِلَى السَّحَرِ». [3]

(1) «أحدكم»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في مسلم، برقم 749.

(2) رواه البخاري، في كتاب الصلاة، باب الحلق والجلوس في المسجد، برقم 472، وكتاب الوتر، باب ما جاء في الوتر، برقم 990، وباب ليجعل آخر صلاته وتراً، برقم 998، ومسلم، كتاب صلاة المسافرين وقصرها، برقم 749، و751.

(3) صحيح البخاري، كتاب الوتر، باب ساعات الوتر، برقم 996، ومسلم، كتاب صلاة المسافرين وقصرها، برقم 137 (745)، واللفظ له

ترجمه: عائشه رضي الله عنها فرمائي : هره شپه نبي ﷺ وتر کړي دي په اول د شپه کې هم په مينځ د شپه کې هم او په آخر د شپه کې هم نبي ﷺ به تر سحره پورې خپل وتر رَسَوَل.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم کيږي چې وتر د شپې په هره حصه کې کولے شې تر د صبا راښتلو پورې.

❋❋❋

پنځه رکعته وتر

133 ـ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : «كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُصَلِّ مِنَ اللَّيْلِ ثَلاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً ، يُوتِرُ مِنْ ذٰلِكَ بِخَمْسٍ ، لايَجْلِسُ فِي شَيْءٍ إلاَّ فِي آخِرِهَا»[1].

ترجمه: د عائشه رضي الله عنها نه نقل دي دا فرمائي : چې نبي ﷺ به د شپې دريالس ۱۳ رکعته مونځ کولو او وتر به ئې ترينه پنځه رکعته کول او د دې (وترو) په مينځ کې به نه کيناستلو مګر په آخر رکعت به کيناستلو.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې نبي ﷺ د شپې ديارلس رکعته مونځ کړے دے او په دې کې ئې پنځه وتر کړي دي په يوه قعده سره.

❋❋❋

(1) رواه مسلم، كتاب صلاة المسافرين وقصرها، باب صلاة الليل وعدد ركعات النبي ﷺ في الليل، وأن الوتر ركعة، وأن الركعة صلاة صحيحة، رقم 737، ولم أجده في البخاري.

بَابُ الذِّكْرِ عَقِيبَ الصَّلَاةِ

باب دے په بیان د ذکر کې روسته د مونځ نه.

د مونځ نه پس الله اکبر وئیل

134 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ، «أَنَّ رَفْعَ الصَّوْتِ بِالذِّكْرِ ـ حِينَ يَنْصَرِفُ النَّاسُ مِنَ الْمَكْتُوبَةِ ـ كَانَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ ﷺ».

قَالَ ابن عباس: «كُنْتُ أَعْلَمُ إِذَا انْصَرَفُوا بِذٰلِكَ، إِذَا سَمِعْتُهُ ﷺ».[1]

ترجمه: د عبد الله بن عباس رضي الله عنه نه نقل دي چې يقيناً په ذکر باندې اواز اوچتول په وخت د راواپس کیدلو د خلقوکې د فرض مونځ نه دا په زمانه د نبي ﷺ کې وو.

ابن عباس رضي الله عنه فرمائي: زه ډیر عالم یم په دې باندې چې کله به خلق راواپس شو (او) ما به ترینه دا ذکر واوریدلو.

وفي لفظ: «مَا كُنَّا نَعْرِفُ انْقِضَاءَ صَلَاةِ رَسُولِ اللهِ ﷺ إِلا بِالتَّكْبِيرِ».[2]

ترجمه: په بل روایت کې دي (ابن عباس رضي الله عنه فرمائي:) مونږ به نه پیژندل پوره والے د مونځ د نبي ﷺ مګر په الله اکبر سره.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم شوه چې د سلام ګرځولو نه پس ذکر کول سنت عمل دے.

***

(1) رواه البخاري، كتاب الأذان، باب الذكر بعد الصلاة برقم 841، ومسلم، كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب الذكر بعد الصلاة بلفظه برقم 122-(583).

(2) رواه البخاري، كتاب الأذان، باب الذكر بعد الصلاة برقم 842، ومسلم، كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب الذكر بعد الصلاة بلفظه برقم 121-(583).

دا ذکر هم کول پکار دي

135 ـ عَنْ وَرَّادٍ مولى المغيرة بن شُعبة قَالَ: أَمْلَى عَلَيَّ الْمُغِيرَةُ بنُ شُعْبَةَ في كِتَابٍ إِلَى مُعَاوِيَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَقُولُ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلاةٍ مَكْتُوبَةٍ: «لا إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٍ، اللَّهُمَّ لا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ» ثُمَّ وَفَدْتُ بَعْدُ عَلَى مُعَاوِيَةَ، فَسَمِعْتُهُ يَأْمُرُ النَّاسَ بِذٰلِكَ. [1]

ترجمه: وراد د مغیره ﷺ نقل کوي فرمائي: ما ته املاء کړه(یعنی ولیکلو) مغیره بن شعبه ﷺ په یو خط کې معاویه ﷺ ته (په هغه خط کې ئي داسې لیکلي وو) چې یقیناً نبي ﷺ به د هر فرض مونځ نه روسته دا ذکر کولو، نشته لائق د بندګۍ سیوا د یو الله تعالیٰ نه یواځې دے هغه د هغه سره شریک نشته د هغه دپاره بادشاهي ده او د هغه دپاره حمد دے او هغه په هر څه قادر دے اے الله نشته دے منع کونکے د هغه څه دپاره چې ته ئې ورکوې او نشته ورکونکے د هغه څه چې ته ئې منع کوې او نفع نشي ورکولے خاوند د بخت ته بخت د هغه [2] (و راد رحمه الله فرمائي:) بیا د دې نه روسته زمانه کې زه په وفد کې لاړم د هغه ﷺ خواته نو د هغه نه ما واوریدل چې خلقو ته به ئې د دې کلماتو په ویلو سره امر کولو.

وفي لفظ: «**كَانَ**[3] **يَنْهَى عَنْ قِيلَ وَقَالَ، وَإِضَاعَةِ الْمَالِ، وَكَثْرَةِ السُّؤَالِ، وَكَانَ يَنْهَى عَنْ عُقُوقِ الأُمَّهَاتِ، وَوَأْدِ الْبَنَاتِ، وَمَنْعٍ وَهَاتِ**». [4]

---

(1) رواه البخاري، كتاب الأذان، باب الذكر بعد الصلاة، برقم 844، ومسلم، باب الذكر بعد الصلاة، برقم 593.

(2) دویمه معنی نفع نشي ورکولے خاوند د مالدارۍ ته مالداري د هغه.

دریمه معنی: نفع نشي ورکولے خاوند د نیکه ته نیکه د هغه.

(3) في نسخة الزهيري: «وكان» بزيادة الواو.

(4) رواه البخاري، كتاب الاستقراض، باب ما ينهى عن إضاعة المال، برقم 2408، وفي كتاب الرقاق، باب ما يكره من قيل وقال، برقم 6473، ولفظه: «إِنِّي سَمِعْتُهُ يَقُولُ عِنْدَ انْصِرَافِهِ مِنَ الصَّلاَةِ: «لاَ إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ» ثَلاَثَ مَرَّاتٍ» وفي كتاب الاعتصام، باب ما يكره من كثرة السؤال، برقم 7292، ومسلم، كتاب الأقضية، باب النهي عن كثرة

ترجمه: په بل لفظ سره دا حديث داسې نقل دے (مغيره ﷺ فرمائي : چې نبي ﷺ به) منع كوله د تاويلو ماويلو نه (يعنى داسې ويلے شوي دي او فلانے داسې وائي) او (نبي ﷺ منع كړې ده) د ضائع كولو د مال نه او د ډيرو (بې فائدو) تپوسونو نه او نبي ﷺ به منع كوله د مياندو د نافرمانۍ نه او د (ژوندو) لونړو خښولو نه او د (مالونه پيسې وغيره) منع كول (د خرچ كولونه) او د راوړه راوړه نه (يعنى چې خپله څه نه الله تعالىٰ د رضا دپاره نه وركوي او بل ته وائي چې ماله راوړه خرچه راباندې اوكړه).

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا خبره فهم كيږي چې د فرض مونځ نه پس مذكوره دعا وئيل :

***

۳۳ كرته دا ذكر كول

136 ـ عَنْ سُمَيٍّ مَوْلَى أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الحَارِثِ ابْنِ هِشَامٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ السَّمَّانِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ، «أَنَّ فُقَرَاءَ الْمُهاجرينَ أَتَوْا رَسُوْلَ اللهِ ﷺ، فَقَالَوا : يَا رَسُولَ اللهِ[1]، ذَهَبَ[2] أَهْلُ الدُّثُورِ بِالدَّرَجَاتِ الْعُلَا، وَالنَّعِيمِ الْمُقِيمِ، فقَالَ : «وَمَا ذَاكَ» قَالَوا : يُصَلُّونَ كَمَا نُصَلِّي، وَيَصُومُونَ كَمَا نَصُومُ، وَيَتَصَدَّقُونَ وَلا نَتَصَدَّقُ، وَيُعْتِقُونَ وَلا نُعْتِقُ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «أَفَلا أُعَلِّمُكُمْ شَيْئًا تُدْرِكُونَ بِهِ مَنْ سَبَقَكُمْ، وَتَسْبِقُونَ مَنْ بَعْدَكُمْ، وَلا يَكُونُ أَحَدٌ أَفْضَلَ مِنْكُمْ، إلاَّ مَنْ صَنَعَ مِثْلَ مَا صَنَعْتُمْ؟» قَالَوا : بَلَى، يَا رَسُولَ اللهِ، قَالَ : «تُسَبِّحُونَ وَتُكَبِّرُونَ وَتَحْمَدُونَ دُبُرَ كُلِّ صَلاةٍ ثَلاثاً وَثَلاثِينَ مَرَّةً». قَالَ أَبو صَالح : فَرَجَعَ فُقَرَاءُ الْمُهَاجِرِينَ، فَقَالَوا : سَمِعَ إِخْوَانُنَا أَهْلُ الأَمْوَالِ بِمَا فَعَلْنَا، فَفَعَلُوا مِثْلَهُ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «ذٰلِكَ فَضْلُ اللهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ».

ترجمه: سميّ چې دا مولى (ازاد شده غلام) د ابو بكر بن عبد الرحمن بن الحارث بن هشام دے دا

المسائل من غير حاجة، برقم 12 بعد الحديث رقم 1715.

(1) «يا رسول الله»: ليست في نسخة الزهيري.

(2) في نسخة الزهيري : «قد ذهب».

روایت کوي د ابو صالح السمان نه او ابو صالح روایت کوي د ابو هریره ﷺ نه (ابو هریره ﷺ فرمائي :) یقیناً (څه) فقراء د مهاجرینو نبي ﷺ ته راغلل ورته ئې اوفرمائیل : اے د الله تعالیٰ رسوله د مالونو والاؤ اوچتې درجې یوړې او همیشه نعمتونه نبي ﷺ ورته اووئیل : دا څنګه ؟ هغوي اوفرمائیل : دوي (مالداره خلق) مونځونه کوي (داسې مونځونه) لکه مونږ چې ئې کوو او روژې نیسي داسې روژې لکه مونږ چې ئې نیسو (خو لیکن په یو څو شیانو کې زمونږ نه دوئ غوره دي هغه دا چې دوئ) صدقې ورکوي او مونږ صدقې نه ورکوو هغوي مریان ازادوي او مونږ مریان نه ازادوو نو نبي ﷺ و رته اووئیل : ایا زه تاسو ته ښودنه نه کوم په یو (داسې غوره) شي چې د هغې په وجه به تاسو رالاندې کوئ هغه څوک چې هغوي ستاسو نه مخکې شوي دي (په اعمالو او ثوابونو کې) او تاسو به (د هغې په وجه) مخکې کیږئ د هغه چا نه چې هغوي ستاسو نه روسته دي (په اعمالو او ثوابونو کې) او هیڅ یو کس به غوره نه وي ستاسو نه (کله چې تاسو دا اعمال کول) مګر هغه کس (به غوره وي ستاسو په شان) چې هغه ستاسو د اعمالو پشان اعمال اوکړل ؟ نو هغه فقراؤ اووئیل : ولې نه اے د الله تعالیٰ رسوله (راوښایه) نبي ﷺ ورته اوویل تاسو تسبیح (سبحان الله) وائي او الله اکبر وائي او الحمد لله وائي روسته د هر (فرض) مونځ نه دري دیرش دري دیرش ۳۳ ځله.

ابو صالح رحمه الله وائي : (څه وخت هغه فقراء بیا خبر شو چې دا اعمال خو مالداره خلق هم کوي نو بیا) هغه فقراء واپس شو نبي ﷺ ته ورته ئې اوفرمائیل : اے د الله تعالیٰ رسوله واوریدل زمونږ هغه ورونو کوم چې مالداره دي (د) هغه کارونو (فضیلت) کوم چې مونږ کوو نو هغوي هم د هغه کارونو پشان شروع کړل نو نبي ﷺ ورته اوفرمائیل : دا خو د الله تعالیٰ فضل دے ورکوي ئې چا ته چې اوغواړي.

قَالَ سُمَيٌّ : فَحَدَّثْتُ بَعْضَ أَهْلِي هَذَا الحَدِيثِ ، فَقَالُوا : وَهِمْتَ ، إِنَّمَا قَالَ لَكَ : «تُسبحُ اللهَ ثلاثاً وثلاثين ، وتحمدُ اللهَ ثلاثاً وثلاثين ، وتكبر اللهَ ثلاثاً وثلاثين» ، فَرَجَعْتُ إِلَى أَبِي صَالِحٍ ، فَقُلْتُ لَهُ ذِلَكَ،

فَقَالَ: اللهُ أَكْبَرُ، وَسُبْحَانَ اللهِ، والحَمْدُ للهِ، حَتَى تَبْلُغَ مِنْ جَمِيعِهِنَّ ثَلاثًا وَثَلَاثِينَ.[1]

ترجمه: سميّ رحمه الله فرمائي: دا حديث ما خپل بعض اهل (يعنى خپلوان) ته بيان کړو نو هغه اوفرمائيل: تا وهم کړے دے داسې ئې ويلي دي: ته سبحان الله وايه ۳۳ ځله او الله اکبر وايه ۳۳ ځله او الحمد لله وايه ۳۳ ځله (سميّ وائي:) زه بيا ابو صالح ته واپس شوم هغه ته مې دا خبره ذکر کړه نو هغه اووئيل: الله اکبر، سبحان الله، او الحمد لله تردې چې تول ئې ۳۳ ځله ته ورسول.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا خبره فهم شوه چې د هر فرض مونځ نه روستو مذکوره اذکار وئيل سنت عمل دے.

***

په مونځ کې کلداره کپړه اچول پکار نه وي

137 ـ عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها: «أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ صَلَّى فِي خَمِيصَةٍ لَهَا أَعْلامٌ، فَنَظَرَ إِلَى أَعْلامِهَا نَظْرَةً فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ: «اذْهَبُوا بِخَمِيصَتِي هَذِهِ إِلَى أَبِي جَهْمٍ، وَائْتُونِي بِأَنْبِجَانِيَّةِ أَبِي جَهْمٍ. فَإِنَّهَا أَلْهَتْنِي آنِفًا عَنْ صَلاتِي»[2].

قَالَ المُصَنِّفُ: الخَمِيصَةُ: كِسَاءٌ مُرَبَّعٌ لَهُ أَعْلَامٌ، وَالأَنْبِجَانِيَّةُ: كِسَاءٌ غَلِيظٌ.

ترجمه: د عائشه رضي الله عنها نه نقل دي چې بيشکه نبي ﷺ په يوه کمبله کې مونځ اوکړو چې هغه باندې نښې وې نو هغه نښو ته نبي ﷺ وکتل يوځل نو هر کله چې راواپس شو وې فرمائيل: دا

---

(1) رواه البخاري بنحوه، كتاب الأذان، باب الذكر بعد الصلاة، برقم 843، ومسلم بلفظه، كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب استحباب الذكر بعد الصلاة وبيان صفته، برقم 595.

(2) رواه البخاري، كتاب الصلاة، باب إذا صلى في ثوب له أعلام، ونظر إلى علمها، برقم 373، واللفظ له، ومسلم بنحوه، كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب كراهة الصلاة في ثوب له أعلام، برقم 556.

کمبل یوسئ ابو جهم ته او انبجانیه کمبل ترینه راوړئ ځکه چې زه دې لږ مخکې غافله کړم د مونځ خپل نه مصنف رحمه الله فرمائي : خمیصه څلور قونجه شړئ وي چې په هغې باندې نښې هم وي او انبجانیه دا سخته شړئ ده.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا خبره فهم کیږي چې په مونځ کې داسې شے استعمالول نه دي پکار چې هغه بنده د خشوع نه مشغول کړي ،کله چې د مونځ نه بنده فارغه شي نو د ذکر او د مونځ په مینځ کې څه لږې خبرې کولے شي.

❋ ❋ ❋

بَابُ الْجَمْعِ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ فِي السَّفَرِ

د جمع بين الصلاتين په لغت او اصطلاح کې پېژندل.

***

جمع بين الصلاتين په سفر کې

138 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ رضي اللهِ عَنْهما قَالَ: «كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَجْمَعُ فِي السَّفَرِ بَيْنَ صَلاةِ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ، إِذَا كَانَ عَلَى ظَهْرِ سَيْرٍ، وَيَجْمَعُ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ»[1].

ترجمه: د عبد الله بن عباس رضي الله عنه نه نقل دي دا فرمائي: چې نبي ﷺ به د ماسپخين او مازديګر مونځونو په مينځ کې جمع کوله (يعنې يو ځائې کول به ئې) کله چې به په سفر وو او د ماښام او ماسخوتن مونځونو په مينځ کې به ئې جمع والے کوو.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې په سفر کې دوه مونځونه يو ځائې کول سنت عمل دے.

***

(1) رواه البخاري، أبواب تقصير الصلاة، باب الجمع في السفر بين المغرب والعشاء، برقم 1107، ولم أجده عند مسلم عن ابن عباس به وعند البخاري، برقم 1111، ومسلم، برقم 704، عن أنس رضي الله عنه قال: «كان النَّبِيُّ ﷺ إِذَا ارْتَحَلَ قَبْلَ أَنْ تَزِيغَ الشَّمْسُ، أَخَّرَ الظُّهْرَ إِلَى وَقْتِ الْعَصْرِ، ثُمَّ يَجْمَعُ بَيْنَهُمَا، وَإِذَا زَاغَتِ صَلَّى الظُّهْرَ، ثُمَّ رَكِبَ».

بَابُ قَصْرِ الصَّلَاةِ فِي السَّفَرِ

قصر دیته وائي: چې مونځ کونکے د څلورو رکعاتو په ځائي دوه رکعاته اوکړي او دا د ماسپخین، مازدیګر، او ماسخوتن په مونځونو کې کیږي.

په سفر کې قصر کول

139 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: «صَحِبْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ، فَكَانَ لا يَزِيدُ فِي السَّفَرِ عَلَى رَكْعَتَيْنِ، وَأَبَا بَكْرٍ، وَعُمَرَ، وَعُثْمَانَ كَذٰلِكَ».[1]

ترجمه: عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه نقل دي دا فرمائي: زه د نبي ﷺ سره ملګرے ووم نو هغه په سفر کې په دوه رکعتونو باندې زیادت نه کولو او د ابو بکر، عمر او عثمان رضي الله عَنْهم هم دغه شان طریقه وه.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم کیږي چې په سفر کې قصر کول سنت عمل دے.

* * *

(1) رواه البخاري، أبواب تقصير الصلاة، من لم يتطوع في السفر دبر الصلاة وقبلها، برقم 1102، ورواه مسلم، كتاب صلاة المسافرين، باب صلاة المسافرين وقصرها، برقم 689 بنحوه.

بابُ الجُمُعة

منبر جوړول

140 ـ عَنْ[1] سهل بن سعد الساعدي ﷺ، أَنَّ رِجالاً[2] تماروا في مِنْبَرِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ، مِنْ أَيِّ عُودٍ هُوَ؟ فقالَ سهل : مِنْ طَرْفَاءِ الْغَابَةِ، وَقَدْ[3] رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَامَ عَلَيْهِ، فَكَبَّرَ، وَكَبَّرَ النَّاسُ وَرَاءَهُ، وَهُوَ عَلَى الـمِنْبَرِ، ثُمَّ رَكَعَ[4]، فَنَزَلَ الْقَهْقَرَى، حَتَّى سَجَدَ فِي أَصْلِ الْمِنْبَرِ، ثُمَّ عَادَ حَتَّى فَرَغَ مِنْ آخِرِ صَلاَتِهِ، ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ، فقَالَ : «يَا[5] أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّمَا صَنَعْتُ هذَا لِتَأْتَمُّوا بِي، وَلِتَعَلَّمُوا صلاتي».

ترجمه: د سهل بن سعد الساعدي ﷺ نه نقل دي چې يقيناً څه کسان وو هغوي د نبي ﷺ د منبر په باره کې ئې بحث شروع کړو چې دا د څه شي د لرګي نه جوړ دے؟ نو سهل ﷺ اوفرمائيل : چې دا د طرفاء ونې نه جوړ دے چې هغه په غابه ځنګل کې ده (او د غز سره مشابهت لري خو ليکن غز ونه ترينه لړه شان لويه وي) او په تحقيق سره ما نبي ﷺ ليدلے وو چې هغه په هغه منبر باندې ودريدلو او الله اکبر ئې اوکړو او خلقو ترينه روسته هم الله اکبر اوکړو او نبي ﷺ په منبر باندې وو بيا ئې رکوع اوکړه (کله چې سجدې ته تللو) نو په شاه باندې واپس د منبر نه راکوز شو ترديې چې سجده ئې د منبر په ويخ کې اوکړه بيا (چې کله اودريدلو نو) واپس خپل ځائې ته لاړو ترديې چې د مونځ نه فارغه شو بيا خلقو ته ئې مخ راوګرځولو ورته ئې اوفرمائيل : اے خلقو يقيناً ما دا کار اوکړو (يعنې په منبر مې تاسو لره مونځ اوکړو) دا د دې دپاره چې تاسو په ما پسې اقتداء اوکړئ او زما دا مونځ ياد کړئ.

---

(1) في نسخة الزهيري جعل حديث سهل هذا آخر حديث في الباب.

(2) في نسخة الزهيري : «أن نفراً».

(3) في نسخة الزهيري : «ولقد».

(4) في نسخة الزهيري : «ثم رفع» بدل ركع.

(5) «يا» : ليست في نسخة الزهيري، وهي في مسلم، برقم 544.

وَفِي لَفْظٍ: فَصَلَّى[1] وَهُوَ[2] عَلَيْهَا، ثُمَّ كَبَّرَ عَلَيْهَا، ثُمَّ رَكَعَ وَهُوَ عَلَيْهَا، ثُمَّ نَزَلَ القَهْقَرَى.[3].

ترجمه: دا حديث په بل لفظ سره داسې نقل دے چې نبي ﷺ مونځ اوکړو او هغه په منبر باندې وو بيا ئې الله اکبر اوکړو په هغه منبر باندې او بيا ئې رکوع اوکړه او هغه منبر باندې وو بيا په شاه ترينه راکوز شو.

مفهوم د حديث

په دې حديث کې د نبي ﷺ د مونځ طريقه بيان شوه او کله کله د يو معلم دپاره داسې تعليم ورکول خلقو ته جائز دے.

❊ ❊ ❊

د جمعې په ورځ غسل کول

141 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رضي الله عَنْهما: أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: «مَنْ جَاءَ مِنْكُمُ الْجُمُعَةَ فَلْيَغْتَسِلْ»[4].

ترجمه: د ؓ نه نقل دي چې بيشکه نبي ﷺ فرمائيلي دي: څوک چې ستاسو نه جمعې (مانځه) ته راځي نو هغه دې غسل اوکړي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم کيږي چې د جمعې مونځ ته غسل کول سنت عمل دے.

❊ ❊ ❊

---

(1) في نسخة الزهيري: «صلى» بدون الفاء.

(2) «وهو»: ليس في نسخة الزهيري.

(3) رواه البخاري، كتاب الجمعة، باب الخطبة على المنبر، برقم 917، وذكره البخاري مفرقاً، برقم 377، و448، و917، و2094، و2569، ومسلم، كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب جواز الخطوة والخطوتين في الصلاة، برقم 544.

(4) رواه البخاري، كتاب الجمعة، باب هل على من لم يشهد الجمعة غسل، برقم 894، ومسلم، كتاب الجمعة، برقم 844.

خطبې دوران کې تحية المسجد کول

142 ـ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ : «جَاءَ رَجُلٌ وَالنَّبِيُّ ﷺ يَخْطُبُ النَّاسَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ ، فَقَالَ : «صَلَّيْتَ يَا فُلَانُ؟» قَالَ : لا ، قَالَ : «قُمْ فَارْكَعْ رَكْعَتَيْنِ»[1] . وفي رِوَايَةٍ : **«فَصَلِّ رَكْعَتَيْنِ»**.[2]

ترجمه: د جابر ﷺ نه نقل دي دا فرمائي : يو کس راغے او نبي ﷺ خلقو ته د جمعه خطبه کوله نو هغه کس ته ئي اوفرمائيل : اے فلانيه (تحية المسجد) مونځ دې کړے دے هغه اووئيل: نۀ ! نبي ﷺ ورته اووئيل : پاځه دوه رکعته اوکره. په بل روايت کې دي دوه رکعته مونځ اوکړه.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم کيږي چې کله يو کس د جمعې په ورځ مسجد ته راشي او امام خطبې ته ولاړ وي نو دا کس به دوه رکعته تحية المسجد کوي.

***

د جمعې خطبه په ولاړه کول

143 ـ عَنْ ابْنِ عُمَرَ رضي اللهِ عَنْهما ، قَالَ : «كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ[3] يَخْطُبُ خُطْبَتَيْنِ ، وَهُوَ قَائِمٌ ، يَفْصِلُ بَيْنَهُمَا بِجُلُوسٍ».[4]

---

(1) رواه البخاري، كتاب الجمعة، باب إذا رأى الإمام رجلاً جاء وهو يخطب، برقم 930، ومسلم، كتاب الجمعة، باب التحية والإمام يخطب، برقم 55- (875).

(2) رواه البخاري، كتاب الجمعة، باب من جاء والإمام يخطب، برقم 931، ومسلم، كتاب الجمعة، باب التحية والإمام يخطب، برقم 55- (875).

(3) في نسخة الزهيري : «كان النبي ﷺ».

(4) رواه البخاري، كتاب الجمعة، باب الخطبة قائماً، برقم 920، بلفظ: «كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَخْطُبُ قَائِمًا، ثُمَّ يَقْعُدُ، ثُمَّ يَقُومُ كَمَا تَفْعَلُونَ الآنَ»، ولفظ مسلم نحوه. وباب القعدة بين الخطبتين يوم الجمعة، برقم 928، ومسلم، كتاب الجمعة، باب ذكر الخطبتين قبل الصلاة وما فيهما من الجلسة، برقم 861، ولمسلم لفظ: «كَانَتْ لِلنَّبِيِّ ﷺ خُطْبَتَانِ يَجْلِسُ بَيْنَهُمَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ، وَيُذَكِّرُ النَّاسَ» خطبتان يجلس بينهما يقرأ القرآن، ويذكر الناس» وفي لفظ لمسلم، برقم 35- (861) : «كَانَ يَخْطُبُ قَائِمًا، ثُمَّ يَجْلِسُ، ثُمَّ يَقُومُ فَيَخْطُبُ قَائِمًا، فَمَنْ نَبَّأَكَ أَنَّهُ كَانَ

ترجمه: د ابن عمر ﷺ نه نقل دي دا فرمائي: چې نبي ﷺ به دوه خطبې کولې (د جمعې په ورځ) او (د خطبې په حالت کې به) ولاړ وو او د دې دواړو خطبو په مينځ کې به ئې فصل (جداوالے) راوستلو په ناسته سره.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا خبره فهم کيږي چې د جمعې خطبه په ولاړه وئيل پکار ده او دا دوه خطبې دي.

***

د خطبې په دوران کې خبرې نه کول

144 ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ : أن النَّبِيَّ ﷺ[1] قَالَ : «إِذَا قُلْتَ لِصَاحِبِكَ أَنْصِتْ ـ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالإِمَامُ يَخْطُبُ ـ فَقَدْ لَغَوْتَ». [2]

ترجمه: د ابو هريره ﷺ نه نقل دي چې بيشکه نبي ﷺ فرمائيلي دي: کله چې ته خپل ملګري ته د جمعې په ورځ چپ شه اووائې او امام خطبه کوي نو په تحقيق سره تا (د جمعې ثواب) لغوه کړو.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د خطبې په دوران کې خبرې کول د ملګري سره د ثواب نه بنده محروموي.

***

يَخْطُبُ جَالِسًا فَقَدْ كَذَبَ، فَقَدْ وَاللهِ صَلَّيْتُ مَعَهُ أَكْثَرَ مِنْ أَلْفَيْ صَلَاةٍ» وأما اللفظ الذي ذكره المصنف : فهو عند النسائي برقم 1416.

(1) في نسخة الزهيري : «أن رسول الله ﷺ» وهي في البخاري، برقم 934.

(2) رواه البخاري، كتاب الجمعة، باب الإنصات يوم الجمعة والإمام يخطب، برقم 934، ومسلم، كتاب الجمعة، باب في الإنصات يوم الجمعة في الخطبة، برقم 851، واللفظ له.

د جمعې خطبې ته د وختې راتللو ثواب

145 ـ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: «مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ غُسْلَ الْجَنَابَةِ[1]، ثُمَّ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الأُولَى[2]، فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَدَنَةً وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّانِيَةِ، فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَقَرَةً، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الثَّالِثَةِ، فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ كَبْشًا أَقْرَنَ، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الرَّابِعَةِ، فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ دَجَاجَةً، وَمَنْ رَاحَ فِي السَّاعَةِ الْخَامِسَةِ، فَكَأَنَّمَا قَرَّبَ بَيْضَةً، فَإِذَا خَرَجَ الإِمَامُ حَضَرَتِ الْمَلائِكَةُ يَسْتَمِعُوْنَ الذِّكْرَ».[3]

ترجمه: د ابو هریره ﷺ نه نقل دي چې بیشکه نبي ﷺ فرمائیلي دي: چا چې د جمعې په ورځ غسل اوکړل او بیا په اول ساعت کې مسجد ته لاړو نو ګویه کې ده یو اوښ صدقه کړو او څوک چې په دویم ساعت کې مسجد ته لاړو نو ګویه کې ده یوه غوا صدقه کړه او څوک چې په دریم ساعت کې مسجد ته لاړو نو ګویه کې ده یو ګډ صدقه کړو او څوک چې په څلورم ساعت کې لاړو نو ګویه کې ده یوه چرګه صدقه کړه او څوک چې په پنځم ساعت کې مسجد ته لاړو نو ګویه کې ده یوه انډه صدقه کړه کله چې امام راوځي نو ملائک (خطبې ته) حاضر شي او خطبه اوري.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث مفهوم دا دے چې د جمعې په ورځ مسجد ته مخکې راتلل او هغه ثواب حاصلول.

***

د جمعې مونځ وختې کول

146 ـ عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الأَكْوَعِ ﷺ، وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ الشَّجَرَةِ، قَالَ: «كُنَّا نُصَلِّي مَعَ رَسُوْلِ اللهِ

(1) «غسل الجنابة»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في البخاري، برقم 881، ومسلم، برقم 850.

(2) «في الساعة الأولى»: ليست في نسخة الزهيري، ولا في البخاري، برقم 881، ولا في مسلم، برقم 10-(850)، ولا في مسلم، بعد رقم 22-(856)، والمعنى صحيح بدونها.

(3) رواه البخاري، كتاب الجمعة، باب فضل الجمعة، برقم 881، ومسلم، كتاب الجمعة، باب الطيب والسواك يوم الجمعة، برقم 850.

ﷺ[1] صَلَاةَ[2] الْجُمُعَةِ، ثُمَّ نَنْصَرِفُ، وَلَيْسَ لِلْحِيطَانِ ظِلٌّ نَسْتَظِلُّ بِهِ». [3]

ترجمه: د ابو سلمه بن الاکوع ﷺ نه نقل دي چې دا د هغه صحابو نه يو صحابي دے چې د هغې ونې د لاندې ئې د نبي ﷺ سره بيعت کړے وو دا فرمائي: مونږ به د نبي ﷺ سره د جمعې مونځ اوکړو او بيا به راواپس شو او د ديوالونو دپاره به (دومره) سوري نه وو چې مونږ پرې سورے حاصل کړے وے.

وَفِي لَفْظٍ: «كُنَّا نُجَمِّعُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ، ثُمَّ نَرْجِعُ فَنَتَتَبَّعُ الْفَيْءَ». [4]

ترجمه: په بل لفظ سره دا حديث داسې نقل دے سلمه فرمائي: مونږ به د نبي ﷺ سره د جمعې مونځ کولو کله چې به نمر زائله شو بيا به راواپس شو او مونږ به سورے تالاش کولو (په ديوالونو پورې)

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د جمعې مونځ وختي کول سنت عمل دے.

***

د جمعې په سحر مونځ کې قرأت

147 ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَقْرَأُ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ (الم تَنْزِيلُ) السَّجْدَةَ وَ(هَلْ أَتَى عَلَى الإِنْسَانِ)». [5]

ترجمه: د ابو هريره ﷺ نه روايت دے دا فرمائي: نبي ﷺ به د جمعې په ورځ سحر مانځه کې سورت

---

(1) في نسخة الزهيري: «مع النبي ﷺ» وهي في البخاري، برقم 4168.

(2) «صلاة»: ليست في نسخة الزهيري.

(3) رواه البخاري، كتاب المغازي، باب غزوة الحديبية، برقم 4168، ومسلم، كتاب الجمعة، باب صلاة الجمعة حين تزول الشمس، برقم 32- (860).

(4) رواه مسلم (860/ 31)، كتاب: الجمعة، باب: صلاة الجمعة حين تزول الشمس،

(5) رواه البخاري، كتاب الجمعة، باب ما يُقرأ في صلاة الفجر يوم الجمعة، برقم 891، وفي كتاب سجود القرآن، باب سجدة (التنزيل) السجدة برقم 1068، ومسلم، كتاب الجمعة، باب ما يقرأ يوم الجمعة، برقم 879، وزاد: «... وأن النبي ﷺ كان يقرأ في صلاة الجمعة: سورة الجمعة، والمنافقين» ورقم 880.

سجده لوسته په اول رکعت کې او په دويم رکعت کې به ئې سورت دهر لوستلو.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا خبره فهم شوه چې د جمعې په ورځ د سحر په مونځ کې اول رکعت کې سورت السجده لوستل او په دويم رکعت کې سورت دهر لوستل سنت عمل دے.

باب صلاة العيدين

***

د اختر مونځ د خطبې نه مخکې کول

148ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رضي الله عَنْهما قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ ﷺ، وَأَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ، يُصَلُّونَ الْعِيدَيْنِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ».[1].

ترجمه: د ابن عمر رضي الله عنه نه نقل دي دا فرمائي: نبي ﷺ، ابو بکر، عمر او عثمان رضي الله عَنْهم (دې ټولو) به د اخترونو مونځ د خطبې نه مخکې کولو.

مفهوم د حديث

د نبي ﷺ او د صحابو سنت دا دی چې خطبه د اخترونو د مونځ نه مخکې اوکړے شي او دا عمل تر د مروان د دور پورې جاري وو بيا هغه د مونځ نه مخکې خطبه اوکړه او ابو سعيد رضي الله عنه پرې کلک انکار اوکړو.

***

قرباني د مونځ نه پس کول

149ـ عَنْ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رضي الله عنه قَالَ: «خَطَبَنَا النَّبِيُّ ﷺ يَوْمَ الأَضْحَى بَعْدَ الصَّلاةِ، فَقَالَ: «مَنْ صَلَّى صَلاتَنَا وَنَسَكَ نُسُكَنَا فَقَدْ أَصَابَ النُّسُكَ، وَمَنْ نَسَكَ قَبْلَ الصَّلاةِ فَلا نُسُكَ لَهُ»، فَقَالَ أَبُو بُرْدَةَ بْنُ نِيَارٍ- خَالُ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ-: يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي نَسَكْتُ شَاتِي قَبْلَ الصَّلاةِ، وَعَرَفْتُ أَنَّ الْيَوْمَ يَوْمُ أَكْلٍ وَشُرْبٍ، وَأَحْبَبْتُ أَنْ تَكُونَ شَاتِي أَوَّلَ مَا يُذْبَحُ فِي بَيْتِي، فَذَبَحْتُ شَاتِي، وَتَغَدَّيْتُ قَبْلَ أَنْ آتِيَ الصَّلاةَ، فَقَالَ:

---

(1) رواه البخاري، كتاب العيدين، باب الخطبة بعد العيد، بلفظه برقم 963، وبلفظ آخر، برقم 957، ومسلم، كتاب صلاة العيدين، برقم 888.

«شَاتُكَ شَاةُ لَحْمٍ» قَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ فَإِنَّ عَنْدَنَا عَنَاقاً لَنَا جَذَعَةً[1]، هِيَ أَحَبُّ إِلَينا[2] مِنْ شَاتَيْنِ، أَفَتَجْزِي عَنِّي؟ قَالَ: «نَعَمْ، وَلَنْ تَجْزِيَ عَنْ أَحَدٍ بَعْدَكَ».[3]

ترجمه: براء ﷺ نه نقل دي دا فرمائي: مونږ ته نبي ﷺ خطبه اوکړه د لوي اختر په ورځ د مانځه نه روسته او وي فرمائيل: چا چې زمونږ (د مونځ پشان) مونځ کولو او زمونږ (د) قربانۍ (پشان) قرباني ئې کوله نو په تحقيق سره ته خپله قرباني حق ته ورسوله او چا چې قرباني مخکې د مونځ نه اوکړه نو د هغه دپاره دا قرباني نه شوه (بلکې هسې غوښې شوې)، ابو برده ﷺ چې دا د براء ﷺ ماما دے اوفرمائي: اے د الله تعالىٰ رسوله ما خپل کډ قرباني کړے دے مخکې د مونځ نه او ما دا خبره معلومه کړه چې نن ورځ دا د خوراک او څښاک والا ورځ ده او که دا مې محبوبه کڼله چې زما کډ دې اول د هغه ذبحه شوو کډانو نه شي چې زما په کور کې ذبح کيږي نو ما خپل کډ ذبح کړو او صبا نارے مې ترينه اوکړو مخکې د راتلو نه مانځه ته (نو) نبي ﷺ ورته اوفرمائيل: ستا کډ دا د غوښې کډ وو (يعنې تا صرف غوښه کړې ده او قرباني دې نده کړې) (نو بيا) هغه صحابي اووئيل: اے د الله تعالىٰ رسوله يقيناً زما سره د چيلۍ بچے دے چې هغه ما ته د دوه کډانو نه خوښ دے ايا هغه زما نه کافي کيږي (چې قرباني پرې اوکړم) نبي ﷺ ورته اووئيل: هاؤ! خو هيڅ چيرې دغه د بل کس نه نه کافي کيږي روسته ستا نه.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې قرباني اصل کې د اختر د مونځ نه پس ده او که چا مخکې اوکړه نو د هغه قرباني اونه شوه صرف غوښه ئې اوکړه.

❋❋❋

(1) «لنا جذعة»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في البخاري، برقم 955.

(2) في نسخة الزهيري: «أحب إليّ» وهي في البخاري، برقم 955.

(3) رواه البخاري، كتاب العيدين، باب الأكل يوم النحر، برقم 955، ومسلم، كتاب الأضاحي، باب وقتها، برقم 1961.

د اختر مونځ نه مخکې قرباني نه کيږي

150 ـ عَنْ جُنْدُبِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْبَجَلِيِّ ﷺ قَالَ: «صلى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ[1] يَوْمَ النَّحْرِ، ثُمَّ خَطَبَ، ثُمَّ ذَبَحَ، وَقَالَ: «مَنْ ذَبَحَ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ، فَلْيَذْبَحْ أُخْرَى مَكَانَهَا، وَمَنْ لَمْ يَذْبَحْ فَلْيَذْبَحْ بِاسْمِ اللهِ».[2].

ترجمه: د جندب ﷺ نقل دی دا فرمائي: چې نبي ﷺ د لوي اختر مونځ اوکړو او بیا ئې خطبه اوکړه بیا ئې ذبح اوکړه او وې فرمائيل: چا چې مخکې د مونځ نه قرباني کړې وي نو هغه دې د هغې په ځائې بله قرباني اوکړي او چا چې نه وي کړې نو هغه دې (اوس) قرباني اوکړي د الله تعالیٰ په نوم.

مفهوم د حديث

د دې نه دا مسئله فهم شوه چې چا د اختر د مونځ نه مخکې ذبح اوکړه نو هغه به د دې په ځائې بله قرباني کوي.

＊＊＊

د اختر په ورځ زنانه وو ته مستقل خطبه کول

151 ـ عَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ: «شَهِدْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ[3] الصَّلَاةَ[4] يَوْمَ الْعِيدِ، فَبَدَأَ بِالصَّلَاةِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ بِلا أَذَانٍ وَلَا إِقَامَةٍ، ثُمَّ قَامَ مُتَوَكِّئًا عَلَى بِلالٍ، فَأَمَرَ بِتَقْوَى اللهِ تَعَالَى، وَحَثَّ عَلَى طَاعَتِهِ؛ وَوَعَظَ النَّاسَ وَذَكَّرَهُمْ، ثُمَّ مَضَى حَتَّى أَتَى النِّسَاءَ فَوَعَظَهُنَّ وَذَكَّرَهُنَّ، فَقَالَ[5]: «يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ[6]، تَصَدَّقْنَ، فَإِنَّكُنَّ أَكْثَرُ حَطَبِ جَهَنَّمَ» فَقَامَتِ امْرَأَةٌ مِنْ سِطَةِ النِّسَاءِ، سَفْعَاءُ الْخَدَّيْنِ، فَقَالَتْ: لِمَ يَا رَسُولَ اللهِ؟

---

(1) في نسخة الزهيري: «صلى النبي ﷺ» وهي عند البخاري، برقم 985.

(2) رواه البخاري، كتاب العيدين، باب كلام الإمام والناس في خطبة العيد، برقم 985، بلفظه، ومسلم، كتاب الأضاحي، باب وقتها، برقم 1960.

(3) في نسخة الزهيري: «مع النبي ﷺ».

(4) «الصلاة»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في مسلم، برقم 4- (885).

(5) في نسخة الزهيري: «وقال».

(6) «يا معشر النساء»: ليست في نسخة الزهيري.

فَقَالَ : «لأَنَّكُنَّ تُكْثِرْنَ الشَّكَاةَ ، وَتَكْفُرْنَ الْعَشِيرَ» . قَالَ : فَجَعَلْنَ يَتَصَدَّقْنَ مِنْ حُلِيِّهِنَّ ، يُلْقِينَ فِي ثَوْبِ بِلالٍ مِنْ أَقْرِطَتِهِنَّ وَخَوَاتِيمِهِنَّ». [1]

ترجمه: د جابر ﷺ نه نقل دي دا فرمائي : زه د نبي ﷺ سره د اختر په ورځ (عيدګاه ته) حاضر شوم هغه اول شروع په مونځ اوکړه مخکې د خطبې نه بغير د اذان او اقامت نه بيا پاځيدلو اوتکيه وهونکے وو په بلال ﷺ باندې امر ئې په تقوی سره اوکړو او په خپل طاعت ئې تيزي ورکړه (چې زما خبره منئ) او وعظ ئې اوکړو خلقو ته او يادونه ئې ورته اوکړه (قيامت د ورځې او عذابونو) بيا لاړو تردې چې زنانو ته ورغے هغوي ته ئې هم وعظ او يادونه اوکړه ورته ئې اوفرمائيل : اے د زنانو تولګيه تاسو صدقې کوئ ځکه چې تاسو زياتې د جهنم لرګي ئې ، نو يوه زنانه پاځيدله د زنانو د مينځ نه چې هغه د تورو اننګو والا وه وې فرمائيل : د څه وجې نه اے د الله تعالیٰ رسوله ؟ نبي ﷺ اوفرمائيل: دا ځکه چې تاسو اکثر شکايتونه کوئ او د خاوندانانو ناشکري کوئ ، جابر ﷺ فرمائي: هغه زنانه شروع شوې صدقې به ئې راوړلې د خپلو سرو (کالو) نه او هغه به ئې په څادر د بلال ﷺ کې اچول خپلې مندرئ (والئ) او ګوتمې (به ئې راوړلې) .

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د اختر مونځ به بغير د اذان او اقامت نه کولے شي او بيا به خطبه کولے شي ، او په خطبه کې سنت طريقه دا ده چې همسا وغيره خطيب سره وي زنانو ته خطبه کول او هغوي ته په تقوی او صدقاتو باندې امر کول دا هم د کاميابۍ اساس دے .

***

(1) رواه البخاري، كتاب العيدين، باب موعظة الإمام النساء يوم العيد، برقم 978، ومسلم،كتاب صلاة العيدين، بلفظه، برقم (885).

د زنانو وتل عيدګاه ته

152 ـ عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ نُسَيْبَةَ الأَنْصَارِيَّةِ ، قَالَتْ : «أَمَرَنَا ـ تَعْنِي النَّبِيَّ ﷺ ـ أَنْ نُخْرِجَ فِي الْعِيدَيْنِ الْعَوَاتِقَ وَذَوَاتِ الْخُدُورِ ، وَأَمَرَ الْحُيَّضَ أَنْ يَعْتَزِلْنَ مُصَلَّى الْمُسْلِمِينَ»[1] . وَفِي لَفْظٍ: «كُنَّا نُؤْمَرُ أَنْ نَخْرُجَ يَوْمَ الْعِيدِ ، حَتَّى نُخْرِجَ الْبِكْرَ مِنْ خِدْرِهَا ، وحَتَّى نُخْرِجَ الْحُيَّضَ ، فَيَكُنَّ خلف النَّاس[2] ، فَيُكَبِّرْنَ بِتَكْبِيرِهِمْ وَيَدْعُونَ بِدُعَائِهِمْ ، يَرْجُونَ بَرَكَةَ ذَلِكَ الْيَوْمِ وَطُهْرَتَهُ»[3] .

ترجمه: د ام عطيه رضي الله عنها نه نقل دي دا فرمائي : مونږ ته نبي ﷺ امر کړے دے په دې چې مونږ د اختر مونځ ته ځواني جينکۍ او هغه سترې (پيغلې جينکۍ) چې په کورونو کې بندې ناستې وي اوباسو او امر ئې کړے دے حائضو زنانو ته چې هغوي د عيدګاه د مسلمانانو نه (د مونځ په وخت کې) په ډډه شي) حائضه زنانه به مونځ نه کوي او دعاګانو کې به شريک کيږي) .، په بل لفظ سره دا حديث داسې نقل دے ام عطيه رضي الله عنها فرمائي : مونږ ته به حکم کيدلو چې پيغلې جينکۍ اوباسو د خپلو کورونو نه د اختر په ورځ عيدګاه ته ترديې چې حائضې زنانه هم اوباسو او هلته دوي د خلقو سره تکبيرونه اووائي او دعاء ګانې اوغواړي چې د دغه ورځ د برکت او پاکوالي اوميد ساتي .

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د اختر په ورځ به زنانه هم عيدګاه ته اوځي او د مسلمانانو سره به په دعاګانو او ذکرونو او تکبيرونو کې شريک کيږي او دا د دوي دپاره ګلک سنت دي .

---

(1) رواه البخاري، كتاب الصلاة، باب شهود الحائض العيدين ودعوة المسلمين، ويعتزلن المصلى، برقم 324، وباب وجوب الصلاة في الثياب، برقم 351، ومسلم، كتاب صلاة العيدين، باب ذكر إباحة خروج النساء في العيدين إلى المصلى وشهود الخطبة، مفارقات للرجال، بلفظه، برقم 890.

(2) «فيكن خلف الناس» : ليست في نسخة الزهيري، وهي في البخاري، برقم 971.

(3) رواه البخاري، كتاب العيدين، باب التكبير أيام منى، وإذا غدا إلى عرفة، برقم 971، بلفظه، ومسلم، كتاب صلاة العيدين، باب ذكر إباحة خروج النساء في العيدين، برقم 11-(890).

باب صلاة الكسوف

***

صلاة كسوف كې څلور ركوع كانې

153 ـ عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها «أَنَّ الشَّمْسَ خَسَفَتْ عَلَى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ ، فَبَعَثَ مُنَادِياً يُنَادِي : الصَّلاَةُ جَامِعَةٌ ، فَاجْتَمَعُوا ، وَتَقَدَّمَ فَكَبَّرَ ، وَصَلَّى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ فِي رَكْعَتَيْنِ وَأَرْبَعَ سَجَدَاتٍ».[1]

ترجمه: د عائشه رضي الله عنها نه نقل دي چې بيشكه د نبي ﷺ په زمانه كې نمر تور شو يعنى تندر ونيولو نو نبي ﷺ يو اواز كونكے وليږلو اواز ئې اوكړو چې مونځ ته راجمع شئ نو خلق راجمع شول او نبي ﷺ يا مخكې شو څلور ركوعګانې ئې اوكړې په دوه ركعته مونځ كې او څلور ئې سجدې اوكړې.

مفهوم د حديث

په دې حديث كې د نمر د تورولې د مونځ طريقه بيان شوه چې هغه دوه ركعاته دي او هر ركعت كې دوه دوه ركوع كانې دي.

كسوف د چا د مرګ او ژوند د وجې نه نه كيږي

154 ـ عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ عُقْبَةَ بْنِ عَمْرٍو الأَنْصَارِيِّ الْبَدْرِيِّ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللهِ ، يُخَوِّفُ اللهُ بِهِمَا عِبَادَهُ ، وَإِنَّهُمَا لا يَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ مِنَ النَّاسِ ، وَلَا لِحَيَاتِهِ[2] ، فَإِذَا رَأَيْتُمْ مِنْهَا شَيْئًا فَصَلُّوا وَادْعُوا اللهَ[3] ، حَتَّى يَنْكَشِفَ مَا بِكُمْ».[4]

---

(1) رواه البخاري، كتاب الكسوف، باب الجهر بالقراءة في الكسوف برقم 1066، وقد أخرجه في ثلاثة عشر موضعاً أطرافها مع الحديث رقم 1044، ومسلم، كتاب الكسوف، باب صلاة الكسوف برقم 901.

(2) «ولا لحياته» : ليست في نسخة الزهيري، وهي في صحيح مسلم، برقم 902.

(3) «لفظ الجلالة» : ليست في نسخة الزهيري، وهي في صحيح مسلم برقم 911.

(4) رواه البخاري بنحوه كتاب الكسوف باب الصلاة في كسوف الشمس، برقم 1041، ومسلم، كتاب الكسوف باب ذكر النداء بصلاة الكسوف (الصلاة جامعة)، برقم 911.

ترجمه: د ابو مسعود ﷺ نه نقل دي دا فرمائي: چې نبي ﷺ فرمائيلي دي: يقيناً نمر او سپوږمۍ دا دواړه نښې دي د نښو د الله تعالیٰ نه الله تعالیٰ په دې سره خپل بندګان ويروي او يقيناً دا دواړه نه توربيږي د مرګ د يو کس د وجې نه نو کله چې تاسو د دې نه څه شے اووينئ (چې تور شو) نو بيا مونځ کوئ او دعاء کانې غواړئ تردې چې روښانه شي هغه څه چې په تاسو باندې دي (يعنې چې دا تورواله ختم شي تر د هغه وخته پورې تاسو مونځونه او دعاګانې کوئ).

مفهوم د حديث

په دې حديث کې دا مسئله ذکر شوه چې کله نمر او سپوږمۍ تندر اونيول نو بيا مونځ او دعاګانې پکار دي.

***

د کسوف د مونځ طريقه

155 ـ عَنْ عَائِشَةَ رضي اللهُ عَنْها : «خَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلَى [1] عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَقامَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ [2] ، فَصَلَّى [3] بِالنَّاسِ ، فَأَطَالَ الْقِيَامَ ، ثُمَّ رَكَعَ ، فَأَطَالَ الرُّكُوعَ ، ثُمَّ قَامَ فَأَطَالَ الْقِيَامَ ـ وَهُوَ دُونَ الْقِيَامِ الأَوَّلِ ـ ثُمَّ رَكَعَ ، فَأَطَالَ الرُّكُوعَ ـ وَهُوَ دُونَ الرُّكُوعِ الأَوَّلِ ، ثُمَّ سَجَدَ ، فَأَطَالَ السُّجُودَ ، ثُمَّ فَعَلَ فِي الرَّكْعَةِ الأُخْرَى مِثْلَ مَا فَعَلَ فِي الرَّكْعَةِ [4] الأُولَى ، ثُمَّ انْصَرَفَ ، وَقَدْ تَجَلَّتِ الشَّمْسُ ، فَخَطَبَ النَّاسَ . فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ، ثُمَّ قَالَ : «إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللهِ ، لا يَنْخَسِفَانِ [5] لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلا لِحَيَاتِهِ ، فَإِذَا رَأَيْتُمْ ذٰلِكَ فَادْعُوا اللهَ ، وَكَبِّرُوا ، وَصَلُّوا ، وَتَصَدَّقُوا» ثُمَّ قَالَ : «يَا

---

(1) في نسخة الزهيري: «في» بدل «على» وهي في مسلم، برقم 901.

(2) «فقام رسول الله ﷺ»: ليست في نسخة الزهيري.

(3) في نسخة الزهيري: «فصلى رسول الله ﷺ بالناس».

(4) «الركعة»: ليست في نسخة الزهيري.

(5) في نسخة الزهيري: «لا يخسفان».

أُمَّةَ مُحَمَّدٍ ، وَاللهِ مَا مِنْ أَحَدٍ أَغْيَرُ مِنَ اللهِ ، من أَنْ يَزْنِيَ عَبْدُهُ ، أَوْ تَزْنِيَ أَمَتُهُ ، يَا أُمَّةَ مُحَمَّدٍ ، وَاللهِ لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلاً ، وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيراً» .[1]. وَفِي لَفْظٍ : فَاسْتَكْمَلَ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ ، وَأَرْبَعَ سَجَدَاتٍ.[2].

ترجمه: عائشه رضي الله عنها فرمائي : د نبي ﷺ په زمانه کې نمر تور شو (یعنی تن در ونیولو) نو نبي ﷺ پاڅیدلو او خلقو له ئې مونځ اوکړو، قیام ئې اوږد کړو، بیا ئې رکوع اوکړه، اورکوع ئې اوږده کړه، بیا اودریدلو اوږد قیام ئې اوکړو، خو د اول قیام نه کم وو، بیا ئې اوږده رکوع اوکړه، چې د اولنۍ رکوع نه لنډه وه، بیا ئې سجده اوکړه، اوږده سجده ئې اوکړه، بیا ئې په دویم رکعت کې هم داسې کار اوکړو، کوم چې ئې په اول کې اوکړو، بیا واپس شو او نمر روښانه شو، نو نبي ﷺ خلقو ته خطبه اوکړه، او د الله تعالیٰ حمد ئې اووئیلو او ثناء ئې پرې اووئیله، بیا ئې اوفرمائیل : یقیناً نمر او سپوږمۍ، د الله تعالیٰ د آیاتونو نه دي نه توریږي د چا د مرګ د وجې نه او نه د چا د ژوند د وجې نه، نو کله چې تاسو دا اووینئ نو د الله تعالیٰ نه دعا غواړئ، او الله اکبر اووائې، او مونځ کوئ او صدقې ورکوئ، بیا ئې اووئیل : اے د محمد ﷺ امته، قسم په الله نشته هیڅ یو کس ډیر غیرتي د الله تعالیٰ نه، په دې باندې چې د هغه بنده زنا اوکړي، او یا د هغه وینځه زنا اوکړي، اے د محمد ﷺ امته، قسم په الله که تاسو پوهه شوئ په هغه څه باندې په کوم چې زه پوهیږم، نو تاسو به لږ اوخاندئ او ډیر به اوژاړئ، او په بل روایت کې دي، پوره ئې کړې څلور رکوع ګانې او څلور سجدې.

مفهوم د حدیث

په دې حدیث کې د صلاة کسوف طریقه بیان شوه او بیا د هغې نه پس خطبه ذکر شوه په خطبه کې

(1) رواه البخاري، كتاب الكسوف، باب الصدقة في الكسوف، برقم 1044، واللفظ له ومسلم، كتاب الكسوف، باب صلاة الكسوف، برقم 1- (901).

(2) رواه البخاري في كتاب الكسوف، باب خطبة الإمام في الكسوف، برقم 1046، ومسلم، كتاب الكسوف، باب صلاة الكسوف برقم 3- (901).

وعظ نصیحت کول سنت عمل دے.

د نمر او سپوږمۍ توریدل د خلقو یرولو دپاره دي

156ـ عَنْ أَبِي مُوسَى الأَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ[1] قَالَ: «خَسَفَتِ الشَّمْسُ فِي زَمَنِ[2] النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[3]، فَقَامَ فَزِعاً، يَخْشَى أَنْ تَكُونَ السَّاعَةُ، حَتَّى أَتَى الْمَسْجِدَ، فَقَامَ يُصَلِّي[4] بِأَطْوَلِ قِيَامٍ، وَرُكُوعٍ، وَسُجُودٍ، مَا رَأَيْتُهُ يَفْعَلُهُ فِي صَلاةٍ قَطُّ، ثُمَّ قَالَ: «إِنَّ هَذِهِ الآيَاتِ الَّتِي يُرْسِلُهَا اللهُ تَعَالَى لا تَكُونُ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلا لِحَيَاتِهِ، وَلَكِنَّ اللهَ يُرْسِلُهَا يُخَوِّفُ بِهَا عِبَادَهُ، فَإِذَا رَأَيْتُمْ مِنْهَا شَيْئاً فَافْزَعُوا إِلَى ذِكْرِ اللهِ وَدُعَائِهِ وَاسْتِغْفَارِهِ».[5]

ترجمه: د ابو موسی ﷺ نه روایت دے دا فرمائي: نمر تور شو د نبي ﷺ په زمانه کښ نو نبي ﷺ پاڅیدلو په ګبراهټ سره ویریدلو د دې نه چې قیامت واقع شي تردې چې مسجد ته راغے پاڅیدلو او مونځ ئې (خلقو له) اوکړو (په جمع سره) په اوږد قیام، رکوع او سجدې سره (ابو موسی ﷺ فرمائي چې) ما نه دے لیدلے نبي ﷺ (مخکې نه) چې داسې کار (اوږد والے) ئې کړے وو په مونځ کښ (ما نه دے لیدلے چرته هم) بیا ئې اوفرمائیل: یقیناً دا نښې دي هغه نښې چې الله تعالیٰ ئې رالیږي دا نه د چا د مرګ د وجې نه واقع کیږي او نه د (چا) د ژوند د وجې نه (واقع کیږي) (خو) لیکن رالیږي دې له الله تعالیٰ (د دې دپاره چې) ویره وي په دې سره خپل بندګان نو کله چې تاسو اووینئ د دې (نښو) نه څه شے نو تاسو په جلتۍ او یرې سره لاړ شئ د الله تعالیٰ ذکر، دعا او استغفار ته.

مفهوم د حدیث

---

(1) في نسخة الزهيري: «عن أبي موسى قال» بدون الأشعري، وبدون ﷺ.

(2) في نسخة الزهيري: «في زمان»، وقوله في: «الزمن» في المتن هو لفظ مسلم، برقم 24-(912).

(3) في نسخة الزهيري: «رسول الله ﷺ»، ولفظ المتن في مسلم، برقم 24-(912).

(4) في نسخة الزهيري: «فصلى»، ولفظ المتن في صحيح مسلم، برقم 24-(912).

(5) رواه البخاري، كتاب الكسوف، باب الذكر في الكسوف، برقم 1059، ومسلم، كتاب الكسوف، باب صلاة الكسوف، بلفظه، برقم (912).

په دې حدیث کې دا خبره ذکر شوه چې کله نمر یا سپوږمۍ تور شي نو د الله تعالیٰ نه یره پکار ده او د هغه ذکر ته متوجه کېدل پکار دي تر د روښانه کېدلو پورې.

❋ ❋ ❋

بابُ الاستسقاء

باب دے په بيان د مونځ کې د وجې د طلب کولو د اوبو نه.

په دې باب کې مصنف رحمه الله دوه احاديثه ذکر کړي دي.

***

د استسقاء د مونځ نه مخکې د څادر اولټه کول

157 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَاصِمٍ المازِنِيِّ رضي الله عنه قَالَ: «خَرَجَ النَّبِيُّ ﷺ يَسْتَسْقِي، فَتَوَجَّهَ إِلَى الْقِبْلَةِ يَدْعُو، وَحَوَّلَ رِدَاءَهُ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ، جَهَرَ فِيهِمَا بِالْقِرَاءَةِ».[1] وفي لفظٍ: «أَتَى[2] الْمُصَلَّى»[3].

ترجمه: عبد الله بن زيد رضي الله عنه فرمائي: نبي ﷺ اووتلو طلب د اوبو ئي کولو نو متوجه شو قبلې ته دعا ئي کوله او اولټه ئي کړو خپل څادر بيا ئي مونځ اوکړو دوه رکعته، او جهر ئي اوکړو په دواړو رکعتونو کې په قرأت سره. (يعنې په تيزه باندې ئي قرأت اولوستلو) په بل روايت کې داسې دي، نبي ﷺ عيد ګاه ته لاړو.

مفهوم د حديث

په دې حديث کې د نبي ﷺ د استسقاء د مونځ طريقه بيان شوه او تحويل الرداء مسئله په کې ذکر شوه.

***

(1) رواه البخاري، كتاب الاستسقاء، باب الجهر بالقراءة في الاستسقاء، بلفظه، برقم 1024، ومسلم بنحوه، كتاب الاستسقاء، برقم 4- (894) بلفظ: خرج النبي ﷺ إلى المصلى.

(2) في نسخة الزهيري: «إلى» وهي في البخاري، برقم 1012، و1027.

(3) رواه البخاري، كتاب الكسوف، باب الاستسقاء في المصلى، برقم 1027، ومسلم، كتاب الاستسقاء، برقم 1، 2، 3- (894)، بلفظ: خرج النبي ﷺ إلى المصلى.

د صلاة استسقاء سبب

158ـ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ، «أَنَّ رَجُلاً دَخَلَ الْمَسْجِدَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ مِنْ بَابٍ كَانَ نَحْوَ دَارِ الْقَضَاءِ، وَرَسُوْلُ اللهِ ﷺ قَائِمٌ يَخْطُبُ، فَاسْتَقْبَلَ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَائِمًا، ثُمَّ قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، هَلَكَتِ الأَمْوَالُ، وَانْقَطَعَتِ السُّبُلُ فَادْعُ اللهَ يُغِيثُنَا، قَالَ: فَرَفَعَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَدَيْهِ ثُمَّ قَالَ: «اللّٰهُمَّ أَغِثْنَا، اللّٰهُمَّ أَغِثْنَا، اللّٰهُمَّ أَغِثْنَا»، قَالَ أَنَسٌ: فَلا[1] وَاللهِ، مَا نَرَى فِي السَّمَاءِ مِنْ سَحَابٍ وَلا قَزَعَةٍ، وَمَا بَيْنَنَا وَبَيْنَ سَلْعٍ مِنْ بَيْتٍ وَلا دَارٍ، قَالَ: فَطَلَعَتْ مِنْ وَرَائِهِ سَحَابَةٌ مِثْلُ التُّرْسِ، فَلَمَّا تَوَسَّطَتِ السَّمَاءَ انْتَشَرَتْ ثُمَّ أَمْطَرَتْ، قَالَ: فَلا وَاللهِ مَا رَأَيْنَا الشَّمْسَ سَبْتاً، قَالَ: ثُمَّ دَخَلَ رَجُلٌ مِنْ ذٰلِكَ الْبَابِ فِي الْجُمُعَةِ الْمُقْبِلَةِ، وَرَسُوْلُ اللهِ ﷺ قَائِمٌ يَخْطُبُ النَّاسَ[2]، فَاسْتَقْبَلَهُ قَائِماً، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، هَلَكَتِ الأَمْوَالُ، وَانْقَطَعَتِ السُّبُلُ، فَادْعُ اللهَ أَنْ يُمْسِكَهَا عَنَّا، قَالَ: فَرَفَعَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَدَيْهِ ثُمَّ قَالَ: «اللّٰهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلا عَلَيْنَا، اللّٰهُمَّ عَلَى الآكَامِ، وَالظِّرَابِ، وَبُطُونِ الأَوْدِيَةِ، وَمَنَابِتِ الشَّجَرِ»، قَالَ: فَأَقْلَعَتْ. وَخَرَجْنَا نَمْشِي فِي الشَّمْسِ». قَالَ شَرِيكٌ: «فسألت أنس بن مالك، أَهُوَ الرَّجُلُ الأَوَّلُ؟ قَالَ: لا أَدْرِي»[3].

ترجمه: د انس ﷺ نه روايت دے چې بيشکه يو سړے داخل شو (مسجد ته) د جمعې په ورځ د (هغه) دروازې نه کومه چې په طرف د دار القضاء وه، او نبي ﷺ ولاړ وو خطبه ئې کوله، نو نبي ﷺ ته مخامخ او اودريدلو بيا ئي اووئيل: اے د الله رسوله! هلاک شول مالونه او قطع کړے شولې لارې نو د الله تعالیٰ نه دعا اوغواړه چې باران اوکړي په مونږ باندې (راوي) وائي: نبي ﷺ لاسونه اوچت کړل، بيا ئي اوفرمائيل: اے الله په مونږ باندې باران اوکړي اے الله په مونږ باندې باران اوکړي، انس ﷺ فرمائي: داسې نه ده قسم به الله مونږ په اسمان کې وريځ نه ليدله او نه څه ټوکړه د وريځ او زمونږ او د

(1) في نسخة الزهيري: «ولا» وهو لفظ البخاري، برقم 1013، ومسلم، برقم 897.

(2) «الناس»: ليست في نسخة الزهيري.

(3) رواه البخاري، كتاب الاستسقاء، باب الاستسقاء في المسجد الجامع، برقم 1013، 1014، ومسلم، كتاب الاستسقاء، باب الدعاء في الاستسقاء، برقم 897.

سلع غر په مینځ کې نه وروکے کور وو او نه غټ کور وو (انس رضي الله عَنْه) فرمائي: راوښتله د هغه غر نه شاته نه وریځ په مثل د ډال، نو هر کله چې مینځ د اسمان ته راورسیدله خوره شوه (په اسمان کې) بیا ئې باران اوکړو، (انس رضي الله عَنْه) فرمائي: داسې نه ده قسم په الله مونږ (د یو خالي نه تر بل) خالي (پورې) نمر اونه لیدلو (انس رضي الله عَنْه) فرمائي: بیا (بله جمعې) هغه سړے هم د هغه دروازې نه داخل شو د راتلونکې جمعې په ورځ او نبي ﷺ ولاړ وو خطبه ئې کوله، مخامخ شو نبي ﷺ ته په داسې حال کې چې ولاړ وو او وئې فرمائیل: اے د الله تعالیٰ رسوله! مالونه هلاک شول او لارې قطع (یعنی اسباب ختم) شول، نو د الله تعالیٰ نه دعا اوغواړه چې باران بند کړي زمونږ نه، نبي ﷺ لاسونه اوچت کړل او وئې فرمائیل: اے الله تعالیٰ (باران) زمونږ نه چار چاپیره اوکړه او په مونږ ئې مه کوه، اے الله تعالیٰ په ډیره کو ئې اوکړې او په ورو غرونو باندې او په کندو باندې او په هغه ځایونو باندې چې اونې په کې راخیژي، (انس رضي الله عَنْه) فرمائي: باران بند شو او مونږ اووتلو روان شو په نمر کې.

شریک رحمه الله فرمائي: ما د انس رضي الله عنه نه تپوس اوکړو آیا دغه (دویمه جمعه باندې چې طلب د دعا اوکړو) هغه اولنے سړے وو (کوم چې په اوله جمعه کې طلب د دعا کړے وو)؟ هغه اووئیل ما ته پته نشته.

مفهوم د حدیث

په دې حدیث کې د استسقاء طریقه ذکر شوې ده.

❊❊❊

باب صلاة الخوف

باب دے په بیان د یرې والا مونځ کې.

***

د صلاة خوف طریقه

159ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ بْنِ الخَطَّابِ رضي اللهُ عَنْهما «صَلَّى بِنَا[1] رَسُوْلُ اللهِ ﷺ صَلاةَ الْخَوْفِ فِي بَعْضِ أَيَّامِهِ التِي لَقِيَ فِيهَا الْعَدُوَّ[2]، فَقَامَتْ طَائِفَةٌ مَعَهُ، وَطَائِفَةٌ بِإِزَاءِ الْعَدُوِّ، فَصَلَّى بِالَّذِينَ مَعَهُ رَكْعَةً، ثُمَّ ذَهَبُوا، وَجَاءَ الآخَرُونَ، فَصَلَّى بِهِمْ رَكْعَةً، وَقَضَتِ الطَّائِفَتَانِ رَكْعَةً رَكْعَةً».[3].

ترجمه: د ابن عمر رضي الله عنه نه روایت دے چې مونږ له نبي ﷺ (په جمع سره) د یرې مونځ اوکړو په بعض هغه ورځو کې چې (نبي ﷺ سره زمونږ نه) د دشمن سره په هغې کې مخامخ شو، نو یوه ډله د نبي ﷺ سره اودریدله، او بله ډله (د دشمن په مقاَله کې) مخامخ دشمن ته (اودریدله) نو نبي ﷺ هغه کسانو له یو رکعت اوکړو بیا هغوي لاړ او هغه نور کسان راغلل (کومو چې مونځ نه وو کړے) نو نبي ﷺ ورله یو رکعت اوکړو او دواړو ډلو ځانله یو یو رکعت اوکړو.

مفهوم د حدیث

په دې حدیث کې د صلاة خوف یوه طریقه بیان شوه چې امام به یو رکعت یوې ډلې له اوکړي بیا به هغه ډله لاړه شي دشمن ته به مخامخ اودریږي او هغه بله ډله به راشي او امام به لا ولاړ وي نو هغوي له

---

(1) «بنا»: لیست في نسخة الزهیري.

(2) «التي لقي فیها العدو»: لیست في نسخة الزهیري.

(3) رواه البخاري، کتاب صلاة الخوف، باب صلاة الخوف، برقم 942، وزاد في آخره برقم 4535: «فَإِنْ كَانَ خَوْفٌ هُوَ أَشَدَّ مِنْ ذَلِكَ، صَلَّوْا رِجَالًا قِيَامًا عَلَى أَقْدَامِهِمْ، أَوْ رُكْبَانًا، مُسْتَقْبِلِي القِبْلَةِ أَوْ غَيْرَ مُسْتَقْبِلِيهَا» قَالَ مَالِكٌ: قَالَ نَافِعٌ: «لاَ أُرَى عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ ب ذَكَرَ ذَلِكَ إِلَّا عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ» ومسلم، کتاب صلاة المسافرین وقصرها، باب صلاة الخوف، برقم 306- (839)، وزاد في آخره: «وَقَالَ ابْنُ عُمَرَ: «فَإِذَا كَانَ خَوْفٌ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ، فَصَلِّ رَاكِبًا، أَوْ قَائِمًا تُومِئُ إِيمَاءً».

به هم يو ركعت اوكړي بيا به امام سلام اوګرځوي او هغه ډله به پاڅيږي او يو ركعت به ځانله اوكړي نو د امام دوه ركعته شول او د روستو خلقو يو يو ركعت شو.

❋❋❋

د صلاة خوف دويمه طريقه

160ـ عَنْ يَزِيدَ بْنِ رُومَانَ، عَنْ صَالِحِ بْنِ خَوَّاتِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَمَّنْ صَلَّى مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ صَلَاةَ ذَاتِ الرِّقَاعِ صلاةِ الخَوْفِ: «أَنَّ طَائِفَةً صَفَّتْ مَعَهُ، وَطَائِفَةٌ وِجَاهَ الْعَدُوِّ، فَصَلَّى بِالَّذِينَ مَعَهُ رَكْعَةً، ثُمَّ ثَبَتَ قَائِماً، فَأَتَمُّوا[1] لِأَنْفُسِهِمْ، ثُمَّ انْصَرَفُوا، فَصَفُّوا وِجَاهَ الْعَدُوِّ، وَجَاءَتِ الطَّائِفَةُ الْأُخْرَى، فَصَلَّى بِهِمُ الرَّكْعَةَ الَّتِي بَقِيَتْ، ثُمَّ ثَبَتَ جَالِساً، وَأَتَمُّوا لِأَنْفُسِهِمْ، ثُمَّ سَلَّمَ بِهِمْ».[2]

ترجمه: يزيد بن رمان د صالح بن خوات نه نقل كوي او هغه د هغه چا نه نقل كوي چې د نبي ﷺ سره ئې په ذات الرقاع (غزا) كې صلاة خوف كړے وو (فرمائي:) يقيناً يوې ډلې د نبي ﷺ سره صف جوړ كړو او بله ډله په طرف د دشمن باندې اودريدله (نو نبي ﷺ) هغه كسانو له يو ركعت مونځ اوكړو كوم چې ورسره وو بيا نبي ﷺ په خپل ځائې باندې ثابت ولاړ پاتې شو نو هغه كسانو د خپلو ځانونو دپاره مونځ پوره كړو، بيا هغوي واپس شول او د دشمن په طرف ئې صف جوړ كړو او هغه بله ډله راغله هغوي له نبي ﷺ هغه باقي ركعت اوكړو بيا نبي ﷺ په خپل ځائې باندې ثابت كيناستلو او هغه كسانو مونځ پوره كړو بيا نبي ﷺ د هغوي سره يو ځائې سلام اوګرځولو.

مفهوم د حديث

په دې حديث كې يوه بله طريقه د صلاة خوف بيان شوه هغه دا چې امام به يوې ډلې له يو ركعت اوكړي او بيا به هغه لاړه شي دشمن ته به مخامخ اودريږي او هغه بله به راشي نو هغې له به امام دويم

(1) في نسخة الزهيري: «وأتموا» وهي في البخاري، برقم 4129، ومسلم، برقم 842.

(2) رواه البخاري، كتاب المغازي، باب غزوة ذات الرقاع، برقم 4129، ومسلم، كتاب صلاة المسافرين، باب صلاة الخوف، بلفظه 842.

ركعت اوكړي بيا به امام سلام نه گرځوي او هغه ډله به څانله يو ركعت اوكړي او بيا د امام سره سلام اوگرځوي.

***

دريمه طرقه د صلاة خوف

161 ـ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الأَنْصَارِيِّ ﷺ قَالَ : «شَهِدْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ صَلاةَ الْخَوْفِ فَصَفَفْنَا صَفَّيْنِ، صَفٌّ[1] خَلْفَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ وَالْعَدُوُّ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ، فَكَبَّرَ النَّبِيُّ ﷺ، وَكَبَّرْنَا جَمِيعاً، ثُمَّ رَكَعَ وَرَكَعْنَا جَمِيعاً، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ، وَرَفَعْنَا جَمِيعاً. ثُمَّ انْحَدَرَ بِالسُّجُودِ وَالصَّفُّ الَّذِي يَلِيهِ. وَقَامَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ فِي نَحْرِ الْعَدُوِّ، فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ ﷺ السُّجُودَ، وَقَامَ الصَّفُّ الَّذِي يَلِيهِ، انْحَدَرَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ بِالسُّجُودِ وَقَامُوا، ثُمَّ تَقَدَّمَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ وَتَأَخَّرَ الصَّفُّ الْمُقَدَّمُ، ثُمَّ رَكَعَ النَّبِيُّ ﷺ وَرَكَعْنَا جَمِيعاً، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ، وَرَفَعْنَا جَمِيعاً، ثُمَّ انْحَدَرَ بِالسُّجُودِ، وَالصَّفُّ الَّذِي يَلِيهِ ـ الَّذِي كَانَ مُؤَخَّرًا فِي الرَّكْعَةِ الأُولَى ـ وَقَامَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ فِي نُحُورِ الْعَدُوِّ، فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ ﷺ السُّجُودَ وَالصَّفُّ الَّذِي يَلِيهِ، انْحَدَرَ الصَّفُّ الْمُؤَخَّرُ بِالسُّجُودِ، فَسَجَدُوا، ثُمَّ سَلَّمَ النَّبِيُّ ﷺ. وَسَلَّمْنَا جَمِيعاً».

قَالَ جابر: «كَمَا يَصْنَعُ حَرَسُكُمْ هَؤُلاءِ بِأُمَرَائِهِمْ»، ذكره مسلم بتمامه[2].

وذكر البخاري طَرَفاً منه، «وَأَنَّهُ صَلَّى صَلاةَ الْخَوْفِ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فِي الْغَزْوَةِ السَّابِعَةِ، غَزْوَةِ ذَاتِ الرِّقَاعِ»[3].

ترجمه: د جابر ﷺ نه نقل دي دا فرمائي : زه د نبي ﷺ سره صلاة خوف ته حاضر شوم، نو مونږ دوه صفونه جوړ كړل روسته د نبي ﷺ نه او دشمن زمونږ او د قبلې په مينځ كې وو، نبي ﷺ الله اكبر اووئيلو مونږ هم تولو الله اكبر اوكړو، بيا نبي ﷺ ركوع ته لاړو مونږ هم تول ركوع ته لاړو، بيا نبي

(1) «صفٌّ»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في صحيح مسلم، برقم 840.

(2) رواه مسلم، كتاب صلاة المسافرين وقصرها، باب صلاة الخوف، بلفظه برقم 840.

(3) رواه البخاري، كتاب المغازي،باب غزوة ذات الرقاع، برقم 4125.

ﷺ د رکوع نه سر رابره کړو نو مونږ هم ټولو سرونه رابره کړل بیا نبي ﷺ سجدې ته ښکته شو او هغه صف چې نبي ﷺ ته نزدې وو (هغه هم د نبي ﷺ سره سجدې ته لاړو) او آخرنے صف اودریدلو په طرف د دشمن باندې نو هر کله چې نبي ﷺ سجده پوره کړه او اودریدلو هغه صف چې نبي ﷺ ته نزدې وو (یعنی اول صف سجده اوکړه او پاڅیدل د سجدې نه نو) آخرني صف والا سجدې ته ښکته شول او هغه (نور کسان) اودریدل (په طرف د دشمن باندې) بیا اخرني صف والا رامخکې شول او مخکني صف والا روسته شو (او دویم رکعت نبي ﷺ شروع کړو) بیا نبي ﷺ رکوع ته لاړ او مونږ ټول ورسره رکوع ته لاړو بیا ئي سر د رکوع نه رابره کړو نو مونږ هم ټولو سرونه رابره کړل بیا نبي ﷺ سجدې ته ښکته شو نو د اولني صف والا (کوم چې مخکې په اول رکعت کې روسته وو او اوس رامخکې شوي دي) ورسره هم سجدې ته ښکته شول، او دویم رکعت والا په طرف د دشمن اودریدل، نو هر کله چې نبي ﷺ سجده پوره کړه او اولني صف والاؤ هم پوره کړه، نو روسته صف والا (بیا) سجدې ته ښکته شول هغوي سجده اوکړه (نو د ټولو دوه رکعته برابر شول او په التحیات باندې کیناستل نو) بیا نبي ﷺ سلام اوکړخو مونږ هم ټولو ورسره سلام اوکړخوو.

جابر ﷺ فرمائي: لکه څرنګه چې ستاسو څوکیداران د خپلو امراؤ سره کوي نو دغه شان صحابو به هم کول.

دا روایت امام مسلم رحمه الله ټول ذکر کړے دے او امام بخاري رحمه الله ترینه یو طرف ذکر کړے دے (هغه دا دے چې) جابر ﷺ د نبي ﷺ سره صلاة خوف اوکړو په اومه غزا کې چې هغه غزا د ذات الرقاع وه.

مفهوم د حدیث

په دې حدیث کې د صلاة خوف دریمه طریقه ذکر شوه حاصل ئي دا دے چې کله دشمن قبلې طرف ته وو نو ټول مجاهدین به دوه صفه برابر کړي او د امام سره به مونځ شروع کړي قیام او رکوع به ټول د امام سره یو ځائي کوي خو سجده به اول صف والا د امام سره یو ځائي اوکړي او دویم صف والا

به ولاړ وي کله چې امام او اول صف والاؤ سجده اوکړه نو بیا به دویم صف والا سجده اوکړي کله چې دویم رکعت ته تول اودریدل نو اولني صف والا به روسته شي او د روستني صف والا به رامخکې شي او دویم رکعت به داسې اوکړي لکه اولنے رکعت ئې چې څنګه اوکړو.

❊ ❊ ❊

كتابُ الجنائز

***

غائبانه جنازه

162 ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : «نَعَى النَّبِيُّ ﷺ النَّجَاشِيَّ فِي الْيَوْمِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ ، وخَرَجَ بِهِمْ إِلَى الْمُصَلَّى فَصَفَّ بِهِمْ، وَكَبَّرَ أَرْبَعاً» [1].

ترجمه: ابو هريره ﷺ فرمائي : نبي ﷺ خبر ورکړو (صحابو ته) د نجاشي د مرګ اوکړو په هغه ورځ په کومه ورځ چې وفات شو او د ملګرو سره اووتلو عيدګاه ته په هغوي ئې صفونه برابر کړل او څلور تکبيره ئې پرې اوکړل.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د مړي خبر ورکول جائز دي او غائبانه جنازه شته دے.

***

دوه صفه او درې صفه دواړه جائز دي په جنازه کښې

163 – عَنْ [2] جَابِرٍ ﷺ ، «أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ [3] صَلَّى عَلَى النَّجَاشِيِّ ، فَكُنْتُ فِي الصَّفِّ الثَّانِي ، أَوِ الثَّالِثِ» [4].

ترجمه: د جابر ﷺ نه روايت دے چې بيشکه نبي ﷺ جنازه اوکړه په نجاشي باندې، او زه په دويم

---

(1) رواه البخاري، كتاب الجنائز، باب التكبير على الجنازة أربعاً برقم 1333، وفي آخره: «وَكَبَّرَ عَلَيْهِ أَرْبَعَ تَكْبِيرَاتٍ» ومسلم، كتاب الجنائز، باب في التكبير على الجنازة، برقم 951.

(2) في نسخة الزهيري : «وعن جابر بن عبد الله» بزيادة الواو، وابن عبد الله.

(3) في نسخة الزهيري : «أن رسول الله ﷺ».

(4) رواه البخاري، كتاب الجنائز، باب من صف صفين، أو ثلاثة خلف الإمام، برقم 1317، وكتاب مناقب الأنصار، باب موت النجاشي، برقم 3878، ولم أجده في صحيح مسلم

يا دريم صف کې اووم.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا خبره فهم کيږي چې په جنازه کې دوه صفه جوړول هم سنت عمل دے.

***

په قبر باندې جنازه

164 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ رضي اللهِ عَنْهما «أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ[1] صَلَّى عَلَى قَبْرٍ، بَعْدَ مَا دُفِنَ، فَكَبَّرَ عَلَيْهِ أَرْبَعاً».[2].

ترجمه: د عبد الله بن عباس ﷺ نه روايت دے چې بيشکه نبي ﷺ په (يو) قبر باندې جنازه اوکړه روسته د هغه نه چې (مړے) دفن کړے شوے وو نو په هغې باندې ئې څلور تکبيرونه اووئيل.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې په قبر باندې جنازه کول شته دے خو چې کله پرې جنازه نه وي شوي.

***

کفن په درې کپړو کې

165 ـ عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها «أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كُفِّنَ فِي ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ يَمَانِيَّةٍ بِيضٍ سَحُولِيَّةٍ[3] لَيْسَ فِيهَا قَمِيصٌ وَلَا عِمَامَةٌ».[4].

---

(1) في نسخة الزهيري: «أن رسول الله ﷺ».

(2) رواه البخاري، كتاب الجنائز، باب الإذن بالجنازة، برقم 1247، وباب الصفوف على الجنازة، برقم 1319، وذكره مفرقاً في مواضع، منها: رقم 857، و1219، و1247، و1321، و1322، و1326، و1336، و1340، ومسلم – واللفظ له–، كتاب الجنائز، باب الصلاة على القبر، برقم 954.

(3) «سحولية»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في البخاري، برقم 1264.

(4) رواه البخاري، كتاب الجنائز، باب الثياب البيض للكفن، برقم 1264، ومسلم، كتاب الجنائز، باب في كفن الميت، برقم 941.

ترجمه: د عائشه رضي الله عنها نه نقل دي چې بېشکه نبي ﷺ په درې کپړو کې کفن کړے شوے وو چې هغه يماني وې او سپينې وې او د سحلي مقام وې (يا تکې سپينې وې) چې په هغې کې قميص او پټکے نه وو.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې کفن په سپينو کپړو سره مستحب دے او دا به درې کپړې وي خو قميص او پټکے به په کې نه وي اګر چې په وخت د ضرورت کې قميص جائز دے.

***

دمړې زنانه دغسلو طريقه

166 ـ عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ الأَنْصَارِيَّةِ، قَالَتْ: «دَخَلَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللهِ ﷺ، حِينَ تُوُفِّيَتْ بِنْتُهُ[1] زَيْنَبُ. فَقَالَ: «اغْسِلْنَهَا ثَلاثاً، أَوْ خَمْساً، أَوْ أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ ـ إِنْ رَأَيْتُنَّ ذَلِك ـ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ وَاجْعَلْنَ فِي الآخِرَةِ كَافُوراً ـ أَوْ شَيْئاً مِنْ كَافُورٍ ـ فَإِذَا فَرَغْتُنَّ فَآذِنَّنِي»، فَلَمَّا فَرَغْنَا آذَنَّاهُ، فَأَعْطَانَا حَقْوَهُ، فَقَالَ: «أَشْعِرْنَهَا إِياه[2]». يَعْنِي إِزَارَه.[3] وَفِي رِوَايَةٍ: «أَوْ سَبْعًا»[4]. وَقَالَ: «ابْدَأْنَ بِمَيَامِنِهَا، وَمَوَاضِعِ الْوُضُوءِ مِنْهَا[5]»[6]. وَأَنَّ أُمَّ عَطِيَّةَ قَالَتْ: «وَجَعَلْنَا رَأْسَهَا ثَلاثَةَ قُرُونٍ».[7].

---

(1) في نسخة الزهيري: «ابنته» وهي في البخاري، برقم 1253.

(2) في نسخة الزهيري: ايه».

(3) رواه البخاري، كتاب الجنائز، باب غسل الميت ووضوئه بالماء والسدر، برقم 1253، بلفظه، وباب هل تكفن المرأة في إزار الرجل، برقم 1257، ومسلم، كتاب الجنائز، باب في غسل الميت، برقم 939.

(4) رواه البخاري، كتاب الجنائز، باب يجعل الكافور في آخره، برقم 1259، وفيه: «أَوْ سَبْعًا، أَوْ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ، إِنْ رَأَيْتُنَّ»، ومسلم، كتاب الجنائز، باب في غسل الميت، برقم 39-(939)، وفيه: «... أو سبعاً، أو أكثر من ذلك إن رأيتن».

(5) «منها»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في البخاري، برقم 256، ومسلم، برقم 42- (939).

(6) رواه البخاري، كتاب الجنائز، باب مواضع الوضوء من الميت، برقم 1256، ومسلم، برقم 42- (939).

(7) رواه البخاري، كتاب الجنائز، باب في غسل الميت، برقم 1259، ومسلم، كتاب الجنائز، باب في غسل الميت، برقم 39- (939).

ترجمه: ام عطية رضي الله عنها فرمائي: نبي ﷺ مونږ ته راغے په هغه وخت کې چې د هغه لور وفات شوې وه اوئې فرمائيل: دې له درې يا پنځه ځل غسل ورکړئ او يا زيات د دې نه که تاسو مناسب ګڼله په اوبو او بيرو سره، او په آخير ځل په کې کافور واچوئ او يا څه شے د کافور نه، نو کله چې تاسو فارغه شوئ بيا ماته خبر راکړئ، نو هر کله چې مونږ فارغه شو مونږ نبي ﷺ ته خبر ورکړو، نو هغه مونږ ته خپل لنګ راکړو او اوئې فرمائيل: دا ورله په بدن واچوئ يعنې لنګ ورله ترينه جوړ کړئ. په بل روايت کې دي چې يا اووه ځله (غسل ورکړې). نبي ﷺ اوفرمائيل: اول شروع پرې د ښي طرف نه اوکړئ او په اندامونو د اودس باندې، ام عطيه رضي الله عنها فرمائي: چې مونږ د هغې (د) سر (ويښتان) درې کمځۍ کړل.

مفهوم د حديث

په دې حديث کې مړي د غسلو ورکو طريقه بيان شوه او د زنانه او نارينه په غسلو کې لږ شان فرق شته دے په اکثر احکامو کې يو شان دي.

* * *

د محرم کفن د هغه کپړې دي

167 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ رضي اللهِ عَنْهما، قَالَ: «بَيْنَمَا رَجُلٌ وَاقِفٌ بِعَرَفَةَ، إِذْ وَقَعَ عَنْ رَاحِلَتِهِ، فَوَقَصَتْهُ ـ أَوْ قَالَ: فَأَوْقَصَتْهُ ـ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «اغْسِلُوْهُ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ، وَكَفِّنُوْهُ فِي ثَوْبَيْنِ، وَلاتُحَنِّطُوْهُ، وَلَا تُخَمِّرُوا رَأْسَهُ، فَإِنَّهُ يُبْعَثُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مُلَبِّياً».[1] وَفِي رِوَايَةٍ: «وَلَا تُخَمِّرُوا وَجْهَهُ[2] وَرَأْسَهُ»

---

(1) رواه البخاري، كتاب الجنائز، باب الكفن في ثوبين، بلفظه، برقم 1265، ومسلم، كتاب الاعتكاف، باب ما يفعل بالمحرم إذا مات، برقم 93- (1206)، ولفظه: «اغسلوه بماء وسدر، وكفنوه في ثوبيه...» الحديث، وبرقم 98- (1206)، وفيه: «... ولا تخمّروا رأسه، ولا وجهه، فإنه يبعث يوم القيامة ملبياً»، وفي لفظ لمسلم برقم 103-(1206): «ولا تغطوا وجهه»، ولفظ: «وكفنوه في ثوبين» في البخاري، برقم 1265، و1266، و1268، و1849، و1850، ولفظ: «وكفنوه في ثوبيه» في البخاري، برقم 1851، وفي مسلم، برقم 94- (1206).

(2) في نسخة الزهيري: «وجهه ولا رأسه» بزيادة «ولا».

(1)
.

قَالَ المصنّف[2]: **الوَقْصُ : كَسْرُ العَنَقِ.**

ترجمه: ابن عباس رضي الله عنه فرمائي : يو وخت کې يو کس په عرفات کې ولاړ وو نا څاپه د سورۍ نه پريوتلو او سورلۍ ورله څټ مات کړو نو نبي ﷺ اوفرمائيل : دې له په اوبو او بيرو (پانو) سره غسل ورکړئ او په دوه کپړو کې ورته کفن واچوئ او خوشبوئي پرې لګوئ او سر ورله مه پټوئ ځکه چې دا به د قيامت په ورځ راپاڅيږي تلبيه ويونکے به وي. په بل روايت کې دي (نبي ﷺ فرمائي) تاسو د دې مخ او سر مه پټوئ. مصنف رحمه الله فرمائي : وقص د چټ ماتولو ته وائي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله معلومه شوه چې د احرام په حالت کې يو کس وفات شي نو د احرام په کپړو کې به خښولے شي او سر او مخ به ورله نه پټوي او خوشبوئي به ورله هم نه لګوي.

* * *

د زنانه وو د پاره جنازې پسې تلل اولی نه دي

168ـ عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ الأَنْصَارِيَّةِ، قَالَتْ «نُهِينَا عَنْ اتِّبَاعِ الجَنَائِزِ، وَلَمْ يُعْزَمْ عَلَيْنَا».[3]

ترجمه: د ام عطيه رضي الله عنها نه روايت دے دا فرمائي : مونږه منع کړے شوي يو په جنازه پسې روستو تلو نه (خو) ټينګتيا راباندې نه ده شوې.

مفهوم د حديث

---

(1) رواه البخاري، كتاب الجنائز، باب الحنوط للميت، برقم 1266، وزيادة «ولا تخمروا رأسه ولا وجهه» عند مسلم، كتاب الحج، باب ما يفعل بالمحرم إذا مات، برقم 98- (1206).

(2) «قال المصنف» ليست في نسخة الزهيري.

(3) رواه البخاري، كتاب الجنائز، باب اتباع النساء الجنازة، برقم 1278، واللفظ له ومسلم، كتاب الجنائز، باب نهي النساء عن اتباع الجنائز، برقم 938.

د دې حدیث نه دا مسئله فهم شوه چې د زنانو تلل په جنازه پسې ښه کار نه دے.

❊ ❊ ❊

په جنازه وړلو کې جلتي کول

169 ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ عَنْ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «أَسْرِعُوا بِالْجِنَازَةِ، فَإِنَّهَا[1] إِنْ تَكُ[2] صَالِحَةً، فَخَيْرٌ تُقَدِّمُونَهَا إِلَيْهِ، وَإِنْ تَكُ سِوَى ذٰلِكَ فَشَرٌّ تَضَعُونَهُ عَنْ رِقَابِكُمْ»[3].

ترجمه: ابو هریره ﷺ روایت کوي د نبي ﷺ نه هغه فرمائي: تاسو جلتي اوکړئ د جنازې په وړلو کې ځکه چې که دا نیک وي نو (د دې دپاره) خیر دے ورمخکې ئې کړئ او که د دې نه سیوا وي (یعنی بد وي) نو پس شر دے د خپلو څټونو نه ئې لرې کړئ.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا خبره فهم ده چې د مړي په تکفین، تجهیز او جنازه وړلو کې جلتي کول یعنی حصارول نه دي پکار.

❊ ❊ ❊

په جنازه کې د زنانه مینځ ته ودریدل

170 ـ عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ ﷺ قَالَ: «صَلَّيْت وَرَاءَ النَّبِيِّ ﷺ عَلَى امْرَأَةٍ مَاتَتْ فِي نِفَاسِهَا فَقَامَ وَسَطَهَا»[4].

---

(1) «فإنها»: ليست في نسخة الزهيري، وليست في البخاري، ولا في مسلم.

(2) في نسخة الزهيري: «فإن تك»، وهي في البخاري، برقم 1315.

(3) رواه البخاري، كتاب الجنائز، باب السرعة بالجنازة، برقم 1315، واللفظ له، وأوله: «أَسْرِعُوا بِالْجَنَازَةِ فَإِنْ تَكُ...»، ومسلم، كتاب الجنائز، باب الإسراع بالجنازة، برقم 944.

(4) رواه البخاري، كتاب الجنائز، باب الصلاة على النفساء إذا ماتت في نفاسها، برقم 1331، وباب أين يقوم من المرأة والرجل، برقم 1332، وطرفه رقم 332، ومسلم، كتاب الجنائز، باب أين يقوم الإمام من الميت للصلاة عليه، برقم 964.

ترجمه: د سمره بن جندب ﷺ نه نقل دي دا فرمائي: چې ما د نبي ﷺ نه روستو په يوه زنانه جنازه کوله چې هغه په نفاس (ولادت د بچي) کې وفات شوي وه نو نبي ﷺ د هغې مينځ ته اودريدلو.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د زنانه په جنازه کې به امام د زنانه مينځ ته اودريږي.

❋ ❋ ❋

ددې قسمه زنانه وو نه د نبي ﷺ برائت

171 ـ عَنْ أَبِي مُوسَى عَبْدِ اللهِ بْنِ قَيْسٍ ﷺ «أَنَّ رَسُولَ اللهِ بَرِئَ مِنَ الصَّالِقَةِ ، وَالْحَالِقَةِ ، وَالشَّاقَّةِ»[1].

ترجمه: ابو موسى ﷺ نقل کوي چې بيشکه نبي ﷺ بيزاري کړي ده د هغه زنانه نه چې د مصيبت په وخت کې اواز چوتونکي وي او سر خرونکي وي او شلونکي وي کپړو لره.

مصنف رحمه الله فرمائي: وَالصَّالِقَةُ: الَّتِي تَرْفَعُ صَوْتَهَا عِنْدَ الْمُصِيبَةِ:

صالقه: هغه زنانه ته وائي چې د مصيبت په وخت کې اواز چتونکي وي.

مفهوم د حديث

دې حديث نه دا خبره فهم شوه چې د مصيبت په وخت کې مذکوره کارونه نه دي کول پکار بلکې په احاديثو کې چې څه وارد دي هغه کول پکار دي.

❋ ❋ ❋

(1) رواه البخاري، كتاب الجنائز، باب ما ينهى عن الحلق عند المصيبة برقم 1296، ومسلم، كتاب الإيمان، باب تحريم ضرب الخدود وشق الجيوب والدعاء بدعوى الجاهلية، برقم 104، ولفظه عند البخاري، ومسلم: «حَدَّثَنِي أَبُو بُرْدَةَ بْنُ أَبِي مُوسَى، قَالَ: وَجِعَ أَبُو مُوسَى وَجَعًا فَغُشِيَ عَلَيْهِ وَرَأْسُهُ فِي حِجْرِ امْرَأَةٍ مِنْ أَهْلِهِ فَصَاحَتِ امْرَأَةٌ مِنْ أَهْلِهِ فَلَمْ يَسْتَطِعْ أَنْ يَرُدَّ عَلَيْهَا شَيْئًا، فَلَمَّا أَفَاقَ قَالَ: أَنَا بَرِيءٌ مِمَّا بَرِئَ مِنْهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ، «فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ بَرِئَ مِنَ الصَّالِقَةِ، وَالْحَالِقَةِ، وَالشَّاقَّةِ» إلا أن في البخاري: «أَنَا بَرِيءٌ مِمَّنْ بَرِئَ...» وفي مسلم: «أَنَا بَرِيءٌ مِمَّا بَرِئَ».

په قبر باندې ابادۍ کول حرام دي

172 ـ عَنْ عَائِشَةَ رضي اللهِ عَنْها، قَالَتْ : «لَمَّا اشْتَكَى النَّبِيُّ ﷺ ذَكَرَتْ[1] بَعْضُ نِسَائِهِ كَنِيسَةً رَأَتْهَا[2] بِأَرْضِ الْحَبَشَةِ يُقَالَ لَهَا : مَارِيَةُ ، وَكَانَتْ أُمُّ سَلَمَةَ ، وَأُمُّ حَبِيبَةَ أَتَتَا أَرْضَ الْحَبَشَةِ ــ فَذَكَرَتَا مِنْ حُسْنِهَا وَتَصَاوِيرَ فِيهَا ، فَرَفَعَ رَأْسَهُ ﷺ وَقَالَ[3] : «أُولَئِكِ إِذَا مَاتَ فِيهِمُ الرَّجُلُ الصَّالِحُ بَنَوْا عَلَى قَبْرِهِ مَسْجِداً ، ثُمَّ صَوَّرُوا فِيهِ تِلْكَ الصُّوَرَ[4]، أُولَئِكِ شِرَارُ الْخَلْقِ عِنْدَ اللهِ».[5]

ترجمه: عائشه رضي الله عَنْها فرمائي : هر كله چې نبي ﷺ مريض شو بعض بيبيانو د هغه كنيسه ياده كړه چې د حبشو په ځمكه کې ئې ليدلې وه هغې ته ماريه وئيل كيدله ، او ام سلمه او ام حبيبه رضي الله عَنْهما د حبشو ځمكې ته تلې وې هغوي د دې (كنيسو) د حسن او كوم تصويرونه چې په كې وو (د هغې) تذكره ئې اوكړه ، نو نبي ﷺ سر رااوچت كړو او اوئې فرمائيل : دغه كسان كله چې به په هغوي كې يو نيک كس مړ شو نو په قبر به ئې ورله مسجد جوړ كړو بيا به ئې په كې دغه تصويران اولړول دغه كسان (ډير) شريان د خلقو نه دي د الله تعالىٰ په نزد .

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دوه خبرې فهم كيږي يو دا چې په قبر باندې مسجد جوړول ناروا دي او دويم تصويران په كې جوړول لويه ګناه ده .

❋ ❋ ❋

(1) [ت]: ليست في نسخة الزهيري، وهي في البخاري، برقم 1341.

(2) في نسخة الزهيري: «رأيتها»، وهي في البخاري، برقم 1341.

(3) في نسخة الزهيري: «فقال»، وهي في البخاري، برقم 1341.

(4) في نسخة الزهيري: «الصورة»، وهي في البخاري، برقم 1341.

(5) رواه البخاري، كتاب الجنائز، باب بناء المسجد على القبر، برقم 1341، واللفظ له، ومسلم، كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب النهي عن بناء المساجد على القبور، واتخاذ الصور فيها، والنهي عن اتخاذ القبور مساجد، برقم 528، وفيه: «... وَصَوَّرُوا فيه تلك الصور...».

دقبر په خواکې د مسجد جوړولو حکم

173 ـ عَنْ[1] **عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ ـ فِي مَرَضِهِ الَّذِي لَمْ يَقُمْ مِنْهُ ـ : «لَعَنَ اللهُ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ» قَالَت : وَلَوْلَا ذٰلِكَ لأُبْرِزَ قبرُه ، غير أنه خُشِيَ أَنْ يُتَّخَذَ مسْجداً .**[2]

ترجمه: د عائشه رضي الله عنها نه روایت دے دا فرمائي : چې نبي ﷺ فرمائیلي دي په هغه مرض الموت کې چې ترینه پانه څیدلو ، (دا خبره ئې فرمائیلې ده) الله تعالىٰ دې لعنت اوکړي په یهودو او نصارى وو باندې هغوي به جوړول په قبرونو د انبیاؤ خپلو باندې مسجدونه ، عائشه رضي الله عنها فرمائي : که چرته دې خبرې (نه یره نه وے) نو د نبي ﷺ قبر به ښکاره وے خو مکر یره کیدے شي چې د نبي ﷺ قبر به مسجد اونیولے شي .

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا خبره فهم شوه چې د قبر په خواکې مسجد جوړول منع دي .

***

په غمکې د مخ وهل ، د ګریوان شلول ، او د جاهلیت وازونه کول حرام دي

174 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ ﷺ ، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ أَنه[3] **قَالَ : «لَيْسَ مِنَّا مَنْ ضَرَبَ الْخُدُودَ ، وَشَقَّ الْجُيُوبَ ، وَدَعَا بِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ» .**[4]

---

(1) في نسخة الزهيري: «وعنها».

(2) رواه البخاري، كتاب الجنائز، باب ما يكره من اتخاذ المساجد على القبور، برقم 1330، وباب ما جاء في قبر النبي ﷺ وأبي بكر، وعمر، برقم 1390، واللفظ له في هذا الموضع، وأطرافه في البخاري في الحديث رقم 435، ومسلم، كتاب المساجد، باب النهي عن بناء المساجد على القبور، واتخاذ الصور فيها، والنهي عن اتخاذ القبور مساجد، برقم 530.

(3) «أنه»: ليست في نسخة الزهيري، وهو في البخاري بدون أنه برقم 1294، وكذلك في مسلم، برقم 103.

(4) رواه البخاري، كتاب الجنائز، باب ليس منا من شق الجيوب، برقم 1294، ومسلم، كتاب الإيمان، باب تحريم ضرب الخدود وشق الجيوب والدعاء بدعوى الجاهلية، برقم 103، واللفظ له.

ترجمه: د ابن مسعود ﷺ نه نقل دي دا د نبي ﷺ نه نقل کوي هغه فرمائي: نه دي زمونږ نه هغه څوک چې (په وخت د مصيبت کې) مخونه وهي، او گريوانونه شلوي، او اوازونه کوي په اوازونو د جاهليت سره.

مفهوم د حديث

په دې حديث کې دا خبره ذکر وه چې د مصيبت په وخت کې د جاهليت چغې نه دي وهل پکار.

***

د جنازې کولو او دفن کولو اجر

175 ـ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَنْ شَهِدَ الْجَنَازَةَ حَتَّى يُصَلِّيَ عَلَيْهَا، فَلَهُ قِيرَاطٌ، وَمَنْ شَهِدَهَا حَتَّى تُدْفَنَ، فَلَهُ قِيرَاطَانِ»، قِيلَ: وَمَا الْقِيرَاطَانِ؟ قَالَ: «مِثْلُ الْجَبَلَيْنِ الْعَظِيمَيْنِ».[1] ولِمسلم: «أَصْغَرُهُمَا: مِثْلُ جَبَلِ أُحُدٍ».[2]

ترجمه: د ابو هريره ﷺ نه روايت دے دا فرمائي: چې نبي ﷺ فرمائيلي دي: څوک چې جنازې (مړي) ته حاضر شو تردې چې په مړي باندې جنازه اوکړے شوه (او يا په مړي باندې ئې جنازه اوکړه) نو د هغه دپاره يو قيراط (ثواب) دے او څوک چې جنازې ته حاضر شو تردې چې دفن کړے شي نو د هغه دپاره دوه قيراطه (ثواب) دے چا (نبي ﷺ ته) اووئيل: قيراطان څه ته وائي: هغه اووئيل: د دوه لوې لوې غرونو په مقدار وي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا خبره فهم شوه چې د يو مسلمان ورور جنازې ته حاضريدل او په هغې باندې جنازه کول او بيا ورسره قبر ته تلل او د دفن نه روستو ورته دعا کول نو الله تعالیٰ به دې انسان له دوه

---

(1) رواه البخاري، كتاب الجنائز، باب من انتظر حتى تدفن، برقم 1325، ومسلم، كتاب الجنائز، باب فضل الصلاة على الجنازة واتباعها، برقم 945.

(2) رواه مسلم، كتاب الجنائز، باب فضل الصلاة على الجنازة واتباعها، برقم 53- (945)، ولفظه: «... أَصْغَرُهُمَا مِثْلُ أُحُدٍ».

قيراطه ثواب ورکړي چې يو قيراط د احد د غر په مقدار دے.

❋❋❋

د جنازې او مړي له غسل ورکول، او مړي ته کفن اچولو دپاره زمونږ دوه کتابو نه اوګورئ، «څلور مسائل د احاديثو په رڼا کې» «المسائل الثلاثة في ضوء الكتاب والسنة».

❋❋❋

كتاب الزكاة

باب دے په بيان د زكات وركولو كې.

***

زكات د غريبانو حق دے

176 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ رضي اللهِ عَنْهما ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لِمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ ، حِينَ بَعَثَهُ إِلَى الْيَمَنِ : «إِنَّك سَتَأْتِي قَوْماً أَهْلَ كِتَابٍ ، فَإِذَا جِئْتَهُمْ فَادْعُهُمْ إِلَى أَنْ يَشْهَدُوا أَنْ لا إِلَهَ إِلاَّ اللَّه ، وَأَنَّ مُحَمَّداً رَسُولُ اللهِ ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَكَ بِذَلِكَ فَأَخْبِرْهُمْ : أَنَّ اللهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَك بِذَلِكَ ، فَأَخْبِرْهُمْ : أَنَّ اللهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ ، فَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ ، فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لَك بِذَلِكَ ، فَإِيَّاكَ وَكَرَائِمَ أَمْوَالِهِمْ ، وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ ، فَإِنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ اللهِ حِجَابٌ» [1].

ترجمه: د عبد الله ابن عباس رضي الله نه نه نقل دي دا فرمائي: چې نبي ﷺ معاذ رضي الله عنه ته فرمائيلي وو: كله چې ئې هغه يمن ته ليږلو، (دا ئې ورته اوفرمائيل) يقيناً زر دے چې ته به يو قوم د اهل كتابو ته ورځې، نو كله چې ته هغوي ته ورشې نو هغوي ته دعوت وركړه دې خبرې ته چې دوي ګواهي اوكړي د دې چې نشته لائق د عبادت سيوا د يو الله تعالىٰ نه او يقيناً نبي ﷺ د الله تعالىٰ رسول دے، نو كه دوي ستا تابعداري اوكړه په خبره كې نو بيا خبر وركړه چې يقيناً الله تعالىٰ فرض كړي دي په دې باندې پنځه مونځونه په هره ورځ او شپه كې، كه دوي ستا اطاعت اوكړو په دې خبرو كې نو بيا خبر وركړه په دې چې يقيناً الله تعالىٰ په دوي باندې صدقه (زكات) فرض كړے دے د مالدارو نه به اخستلے شي او فقراؤ ته به وركولے شي نو كه دوي ستا اطاعت اوكړو په دې خبرو كې نو بيا ځان اوساته د عمده مال د دوي نه

(1) رواه البخاري، كتاب المغازي، باب بعث أبي موسى، ومعاذ إلى اليمن قبل حجة الوداع، برقم 4347، واللفظ له ومسلم، كتاب الإيمان، باب الدعاء إلى الشهادتين وشرائع الإسلام، برقم 19.

او ځان بچ کړه د خيرو د مظلوم نه ځکه چې نشته دے په مينځ د خيرو د دوي او د الله تعالیٰ کې پرده.

مفهوم د حديث

په دې حديث کې د الله تعالیٰ توحيد او اعمالو طرف ته دعوت ورکړے شو **مثلاً**: کلمه طيبه، رسالت، فرض مونځونه کول، زکات ورکول، او هغه شيان چې الله تعالیٰ پرې خفه کيږي د هغې نه ځان ساتل **مثلاً**: عمده او غوره مال په زکات کې اخستل، او د مظلو د خيرو نه ځان ساتل.

❊ ❊ ❊

د پنځه وسقه نه په کم طعام کې زکات نشته

177 ـ عَنْ أَبِي سعيد الخُدْرِيِّ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «لَيْسَ فِيمَا دُونَ خَمْسِ أَوَاقٍ صَدَقَةٌ، وَلا فِيمَا دُونَ خَمْسِ ذَوْدٍ صَدَقَةٌ، وَلا فِيمَا دُونَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ صَدَقَةٌ»[1].

ترجمه: د ابو سعيد الخدري ﷺ نه روايت دے دا فرمائي: چې نبي ﷺ فرمائيلي دي: نشته په کم د پنځه اوقيه کې زکات او نه په کم د پنځه اوښانو کې زکات او نه په کم د پنځه وسقو کې زکات.

مفهوم د حديث

په دې حديث کې د زکات نصاب بيان شو چې په سپينو زرو کې نصاب ۲۰۰ درهم دي او په اوښانو کې پنځه اوښان دي او په دانو کې پنځه وسقه دي.

❊ ❊ ❊

په غلام او اس کې زکات نشته

178 ـ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: «لَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِ فِي عَبْدِهِ وَلا فَرَسِهِ صَدَقَةٌ»[2].

---

(1) رواه البخاري، كتاب الزكاة، باب من أدى زكاته فليس بكنز، برقم 1405، ومسلم، كتاب الزكاة، برقم 979، واللفظ له مع تقديم بعض الجمل على بعض.

(2) رواه البخاري، كتاب الزكاة، باب ليس على المسلم في فرسه صدقة، برقم 1463، وباب ليس على المسلم في عبده صدقة، برقم 1464، ومسلم، كتاب الزكاة، باب لا زكاة على المسلم في عبده وفرسه، برقم 982، واللفظ له.

وَفِي لَفْظٍ: «إِلاَّ زَكَاةَ الْفِطْرِ فِي الرَّقِيقِ».[1]

ترجمه: د ابو هريره ﷺ نه نقل دي دا فرمائي: چې يقيناً نبي ﷺ فرمائيلي دي: نشته په مسلمان باندې په غلام د هغه کې او نه په اس د هغه کې زکات.

په بل لفظ سره داسې دي: مګر سرسايه په غلام شته دے. (مالک به ئې ورله ادا کوي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا خبره فهم شوه چې په هغه اس او غلام کې زکات نشته کوم چې مالک د خپل ځان دپاره خاص کړے وي خو په غلام باندې سرسايه شته.

***

په رکاز کې خمس دے

179 ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: «الْعَجْمَاءُ جُبَارٌ، وَالْبِئْرُ جُبَارٌ، وَالْمَعْدِنُ جُبَارٌ، وَفِي الرِّكَازِ الْخُمُسُ».[2]

الْجُبَارُ: الْهَدَرُ الَّذِي لَا شَيْءَ فِيهِ، وَالْعَجْمَاءُ: الدَّابَّةُ.

ترجمه: د ابو هريره ﷺ نه نقل دي چې بيشکه نبي ﷺ فرمائيلي دي: زخم د ځاروي (يعنی ځاروي څوک زخمي کړو هغه) معاف دے او کوهي ته غورځيدل معاف دي (يعنی کوهي والا باندې ئې تاوان نشته) او معدن معاف دے (يعنی زکات په کې نشته) او په رکاز کې پنځمه حصه ده.

مفهوم د حديث

---

(1) لم أجد هذا للفظ في الصحيحين، وإنما الذي عند مسلم دون البخاري: «ليس في العبد صدقة إلا صدقة الفطر» مسلم، برقم 10- (982)، وأما اللفظ الذي ذكره المصنف / فرواه أبو داود، كتاب الزكاة، باب صدقة الرقيق، برقم 1594، وأخرجه من طريقه البيهقي في السنن الكبرى، 4/ 117، برقم 7652، وصححه الألباني في صحيح أبي داود، 1/ 301، برقم 1420.

(2) رواه البخاري، كتاب الزكاة، باب في الركاز الخمس، برقم 1499، واللفظ له ومسلم، كتاب الحدود، باب جرح العجماء جبار، والمعدن والبئر جبار، برقم 1710، بلفظ: «الْعَجْمَاءُ جَرْحُهَا جُبَارٌ، وَالْبِئْرُ جُبَارٌ، وَالْمَعْدِنُ جُبَارٌ، وَفِي الرِّكَازِ الْخُمُسُ».

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د دې درې شيانو زخمي كول هدر دي، څاروي، كوهے، معدن او په ركاز كې خمس دے.

***

زكات نه وركول سببد نفاق دے

180 ـ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: «بَعَثَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عُمَرَ عَلَى الصَّدَقَةِ، فَقِيلَ: مَنَعَ ابْنُ جَمِيلٍ، وَخَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ، وَالْعَبَّاسُ عَمُّ النَّبِيِّ ﷺ[1]، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَا يَنْقِمُ ابْنُ جَمِيلٍ إِلاَّ أَنْ كَانَ فَقِيراً، فَأَغْنَاهُ اللهُ تَعَالى، وَأَمَّا خَالِدٌ: فَإِنَّكُمْ تَظْلِمُونَ خَالِداً، فَقَدِ[2] احْتَبَسَ أَدْرَاعَهُ وَأَعْتَادَهُ فِي سَبِيلِ اللهِ، وَأَمَّا الْعَبَّاسُ: فَهِيَ عَلَيَّ وَمِثْلُهَا» ثُمَّ قَالَ[3]: «يَا عُمَرُ، أَمَا شَعَرْتَ أَنَّ عَمَّ الرَّجُلِ صِنْوُ أَبِيهِ؟».[4].

ترجمه: د ابو هريره ﷺ نه روايت دے دا فرمائي: نبي ﷺ عمر رضی الله عنه په زكات (راټولولو) باندې مقرر كړو، نو اووئيل شو چې ابن جميل، خالد بن الوليد او عباس چې د نبي ﷺ تره وو دوي زكات منع كړو، نو نبي ﷺ اوفرمائيل: بد نه ګڼي ابن جميل مګر دا خبره چې دا فقير وو او الله تعالىٰ مالداره كړو، او هر چې خالد دے، نو تاسو ظلم كوئ په هغه باندې هغه خو خپلې زغرې او سامان د الله تعالىٰ په لاره كې بند كړے دے، او هر چې عباس دے نو د ده زكات (وركول) په ما باندې دے او د هغې په مثل، (به هم زه وركوم) بيا نبي ﷺ اوفرمائي: اے عمر آيا تاته پته نشته چې بيشكه تره د سړي

---

(1) في نسخة الزهيري: «عم رسول الله ﷺ».

(2) في نسخة الزهيري: «وقد».

(3) في نسخة الزهيري: «قال رسول الله ﷺ».

(4) رواه البخاري، كتاب الزكاة باب قول الله تعالى: ﴿وَفِي الرِّقَابِ وَالغارمين وَفِي سَبِيلِ اللهِ﴾، برقم 1468، ومسلم، كتاب الزكاة باب في تقديم الزكاة ومنعها، برقم 983، واللفظ له، إلا أن فيه: «فهي علي ومثلها معها» فمعها لم تذكر في متن العمدة ولفظ البخاري: «مَا يَنْقِمُ ابْنُ جَمِيلٍ إِلَّا أَنَّهُ كَانَ فَقِيرًا، فَأَغْنَاهُ اللهُ وَرَسُولُهُ، وَأَمَّا خَالِدٌ: فَإِنَّكُمْ تَظْلِمُونَ خَالِدًا، قَدِ احْتَبَسَ أَدْرَاعَهُ وَأَعْتُدَهُ فِي سَبِيلِ اللهِ، وَأَمَّا العَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ المُطَّلِبِ، فَعَمُّ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَهِيَ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ وَمِثْلُهَا مَعَهَا» تَابَعَهُ ابْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ أَبِيهِ، وَقَالَ ابْنُ إِسْحَاقَ: عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، «هِيَ عَلَيْهِ وَمِثْلُهَا مَعَهَا».

هم مثله د پلار د هغه وي.

مفهوم د حديث

دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې چا خپل مال د جهاد دپاره تيار كړو په هغه باندې زكات نشته.

❊❊❊

مؤلفة القلوب ته مال وركول

181 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَاصِمٍ المازني[1] ﷺ قَالَ: «لَمَّا أَفَاءَ اللهُ عَلَى نَبِيِّهِ ﷺ[2] يَوْمَ حُنَيْنٍ، قَسَمَ فِي النَّاسِ، وَفِي[3] الْمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمْ، وَلَمْ يُعْطِ الأَنْصَارَ شَيْئاً، فَكَأَنَّهُمْ وَجَدُوا فِي أَنْفُسِهِمْ[4]، إِذْ لَمْ يُصِبْهُمْ مَا أَصَابَ النَّاسَ، فَخَطَبَهُمْ، فَقَالَ: «يَا مَعْشَرَ الأَنْصَارِ، أَلَمْ أَجِدْكُمْ ضُلاَّلاً فَهَدَاكُمُ اللهُ بِي؟ وَكُنْتُمْ مُتَفَرِّقِينَ فَأَلَّفَكُمُ اللهُ بِي؟ وَعَالَةً فَأَغْنَاكُمُ اللهُ بِي؟» كُلَّمَا قَالَ شَيْئاً، قَالُوا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَمَنُّ، قَالَ: «مَا يَمْنَعُكُمْ أَنْ تُجِيبُوا رَسُولَ اللهِ ﷺ؟» قَالَ: كلما قَالَ شيئاً[5] قَالُوا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَمَنُّ، قَالَ: «لَوْ شِئْتُمْ لَقُلْتُمْ: جِئْتَنَا بِكَذَا[6] وَكَذَا، أَلا تَرْضَوْنَ أَنْ يَذْهَبَ النَّاسُ بِالشَّاةِ وَالْبَعِيرِ وَتَذْهَبُونَ بِرَسُولِ اللهِ[7] إِلَى رِحَالِكُمْ؟ لَوْلا الْهِجْرَةُ لَكُنْتُ امْرَأً مِنَ الأَنْصَارِ، وَلَوْ سَلَكَ النَّاسُ وَادِياً وشِعْباً، لَسَلَكْتُ وَادِيَ الأَنْصَارِ وَشِعْبَهَا، الأَنْصَارُ شِعَارٌ، وَالنَّاسُ دِثَارٌ، إِنَّكُمْ سَتَلْقَوْنَ بَعْدِي أَثَرَةً، فَاصْبِرُوا حَتَّى تَلْقَوْنِي عَلَى الْحَوْضِ»[8].

---

(1) «المازني»: ليست في نسخة الزهيري.

(2) في نسخة الزهيري: «رسول الله ﷺ».

(3) في نسخة الزهيري: «في» بدون واو.

(4) «في أنفسهم»: ليست في نسخة الزهيري.

(5) «قال: كلما قال شيئاً»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في البخاري، برقم 4330.

(6) في نسخة الزهيري: «كذا وكذا»، وهي هكذا في البخاري، برقم 1330.

(7) في نسخة الزهيري: «وتذهبون بالنبي ﷺ»، وهي هكذا في البخاري، برقم 4330.

(8) رواه البخاري، كتاب المغازي، باب غزوة الطائف، برقم 4330، بلفظه، إلا أحرفاً يسيرة، ومسلم، كتاب الزكاة، باب إعطاء المؤلفة قلوبهم على الإسلام وتصبر من قوي إيمانه، برقم 1061، ورقم 1059.

ترجمه: د عبد الله بن زيد ﷺ نه نقل دي دا فرمائي : چې هر كله نبي ﷺ له الله تعالیٰ مال فئ ورکړو په ورځ د حنين، په خلقو باندې ئې تقسيم کړو او په مؤلفة القلوب باندې ئې هم تقسيم کړو او انصارو ته ئې هيڅ ورنه کړل گويه کې هغوي په زړونوکې غمژن شول ځکه چې ونه رسيدل دوي ته هغه څه چې نورو خلقو ته ورسيدل ، نو نبي ﷺ خطبه اوکړه وې فرمائيل : اے د انصارو ټولګيه ، آيا ما تاسو گمراه نه وئ مونډلي الله تعالیٰ تاسو ته هدايت اوکړو زما په وجه ؟ او تاسو جدا جدا وئ نو الله تعالیٰ الفت راوستلو په تاسو کې زما په وجه ، ؟ تاسو فقيران وئ الله تعالیٰ غنيان کړئ زما په وجه باندې ؟ هر کله چې به نبي ﷺ څه اوويل : نو صحابو به دا اوويل : د الله او رسول په مونږ باندې ډير احسان دے ، نبي ﷺ اوفرمائيل : تاسو څه شي منع کړي يئ چې جواب ورکړئ د الله رسول ته ؟ صحابو اوفرمائيل: د الله تعالیٰ او د رسول د هغه احسان په مونږ ډير دے ، نبي ﷺ فرمائي : كه ستاسو خوښه شي نو خبره اوکړئ ، مونږ راغلي يو په فلاني فلاني حال باندې ، آيا تاسو نه ئې خوشحاله په دې چې خلق به ګډې او اوښان بوځي او تاسو به نبي ﷺ خپلو کورونو ته بوځئ ؟ كه چرته هجرت (يعنې راتلل زما د مکې نه مدينې ته) نه وے نو زه به يو کس وے د انصارو نه ، او که خلق روان شي په يوه وادي يا دره باندې نو زه به په وادي او دره د انصارو باندې زم ، انصار زما هغه کپړه ده چې بدن سره متصل وي او نور خلق زما هغه کپړه ده چې په بدن پسې متصل نه وي يقيناً تاسو زر دے چې مخامخ به شئ زما نه پس د داسې کسانو سره چې هغوي به په تاسو باندې ځانونه غوره کوي نو تاسو صبر کوئ ترڅو چې زما سره مخامخ شئ په حوض باندې.

مفهوم د حديث

په دې حديث کې دا خبره ذکر شوه چې نبي ﷺ مؤلفة القلوب والاؤ له مالونه د غنيمت ورکړل.

***

باب صدقة الفطر

باب دے په بیان د سرسایه کې.

***

سرسایه په هرکس باندې لازم ده

182 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رضي اللهِ عَنْهما ، قَالَ : «فَرَضَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ[1] صَدَقَةَ الْفِطْرِ ـ أَوْ قَالَ : رَمَضَانَ ـ عَلَى الذَّكَرِ وَالأُنْثَى ، وَالْحُرِّ وَالْمَمْلُوكِ : صَاعاً مِنْ تَمْرٍ ، أَوْ صَاعاً مِنْ شَعِيرٍ قَالَ : فَعَدَلَ النَّاسُ بِهِ نِصْفَ صَاعٍ مِنْ بُرٍّ عَلَى الصَّغِيرِ وَالْكَبِيرِ».[2] . وَفِي لَفْظٍ : «أَنْ تُؤَدَّى قَبْلَ خُرُوجِ النَّاسِ إِلَى الصَّلاةِ».[3]

ترجمه: د عبد الله بن عمر ﷺ نه نقل دي دا فرمائي : نبي ﷺ سرسایه د فطر فرض کړې ده (راوي وائي : چې یا ئې داسې اوویل : سرسایه د رمضان) په نارینه او زنانه ، ازاد او غلام باندې یو صاع د کجورو ، او یا یو صاع د وربشو ، (راوي وائي) خلقو د یو صاع سره نیم صاع د غنمو برابر کړو او دا په ماشوم او غټ تولو باندې لازم ده.

په بل روایت کې دي چې دا دې اداء کړے شي مخکې د وتلو د خلقو نه مونځ (د اختر) ته.

مفهوم د حدیث

په دې حدیث کې صدقة الفطر بیان شوه او د هغې مقدار او جنس او دا به د اختر د مونځ نه مخکې اداء کولے شي.

***

---

(1) في نسخة الزهيري: «النبي» وهي هكذا في البخاري، برقم 1511.

(2) رواه البخاري، كتاب الزكاة، باب صدقة الفطر على الحر والمملوك برقم 1511، واللفظ له، وقوله: «على الصغير والكبير» ليست في لفظ الحديث، وإنما هي في آخر الرواية: «فَكَانَ ابْنُ عُمَرَ ب يُعْطِي عَنِ الصَّغِيرِ، وَالْكَبِيرِ...» ومسلم، كتاب الزكاة، باب زكاة الفطر على المسلمين من التمر والشعير، برقم 984.

(3) رواه البخاري، كتاب الزكاة، باب فرض صدقة الفطر، برقم 1503، وفي أوله: «وَأَمَرَ بِهَا...».

په غنمو کې نیم صاع هم ورکول جائز دي

183 ـ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ ﷺ قَالَ: «كُنَّا نُعْطِيهَا فِي زَمَنِ[1] الرسولِ ﷺ[2] صَاعاً مِنْ طَعَامٍ، أَوْ صَاعاً مِنْ تمرٍ، أَوْ صَاعاً مِنْ شَعِيرٍ، أَوْ صَاعاً مِنْ أَقِطٍ، أَوْ صَاعاً مِنْ زَبِيبٍ، فَلَمَّا جَاءَ مُعَاوِيَةُ، وَجَاءَتِ السَّمْرَاءُ، قَالَ: أَرَى مُدّاً مِنْ هَذِهِ[3] يَعْدِلُ مُدَّيْنِ.

قَالَ أَبُو سَعِيدٍ: أَمَّا أَنَا فَلا أَزَالُ أُخْرِجُهُ كَمَا كُنْتُ أُخْرِجُهُ عَلَى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ[4]».[5]

ترجمه: د ابو سعيد الخدري ﷺ نه روايت دي دا فرمائي: چې مونږ به د نبي ﷺ په زمانه کې (سرسايه) ورکوله (د يو کس نه) يو صاع د طعام او يا يو صاع د کجورو، او يا يو صاع د وربشو، او يا يو صاع د پنير، او يا يو صاع د اوچوکو، نو هر کله چې معاويه ﷺ راغې او سمراء غنم راغلل، نو معاويه ﷺ اوويل: زه دا ښه ګڼم چې يو مد (لپه) دې د دې غنمو نه برابر شي د دوه مدو (لپو) سره (او هغه دې ورکړے شي) ابو سعيد ﷺ اوفرمائيل: هر چې زه يم نو زه به هميشه (په سرسايه کې) هغه څه اوباسم کوم چې ما د نبي ﷺ په زمانه کې ويستل (په سرسايه کې)

---

(1) في نسخة الزهيري: «في زمان» وهي في البخاري، برقم 1508.

(2) في نسخة الزهيري: «النبي ﷺ» وهي في البخاري، برقم 1508.

(3) في نسخة الزهيري: «من هذا» وهي في البخاري، برقم 1508.

(4) «على عهد رسول الله ﷺ» ليست في نسخة الزهيري.

(5) رواه البخاري، كتاب الزكاة، باب صاع من زبيب، برقم 1508، وقوله: «أو صاعاً من أقط» ليست في هذه الرواية، وهي في الحديث رقم 1506، ومسلم، كتاب الزكاة، باب زكاة الفطر على المسلمين من التمر والشعير، برقم 985، و18- (985).

ورواية البخاري: «عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ ﷺ قَالَ: كُنَّا نُعْطِيهَا فِي زَمَانِ النَّبِيِّ ﷺ صَاعًا مِنْ طَعَامٍ، أَوْ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ، أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ، أَوْ صَاعًا مِنْ زَبِيبٍ، فَلَمَّا جَاءَ مُعَاوِيَةُ وَجَاءَتْ السَّمْرَاءُ قَالَ: أُرَى مُدًّا مِنْ هَذَا يَعْدِلُ مُدَّيْنِ».

ورواية مسلم: «عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: كُنَّا نُخْرِجُ إِذْ كَانَ فِينَا رَسُولُ اللهِ ﷺ زَكَاةَ الْفِطْرِ، عَنْ كُلِّ صَغِيرٍ، وَكَبِيرٍ، حُرٍّ، أَوْ مَمْلُوكٍ صَاعًا مِنْ طَعَامٍ، أَوْ صَاعًا مِنْ أَقِطٍ، أَوْ صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ، أَوْ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ، أَوْ صَاعًا مِنْ زَبِيبٍ فَلَمْ نَزَلْ نُخْرِجُهُ حَتَّى قَدِمَ عَلَيْنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ أَبِي سُفْيَانَ حَاجًّا، أَوْ مُعْتَمِرًا، فَكَلَّمَ النَّاسَ عَلَى الْمِنْبَرِ، فَكَانَ فِيمَا كَلَّمَ بِهِ النَّاسَ أَنْ قَالَ: إِنِّي أَرَى أَنَّ مُدَّيْنِ مِنْ سَمْرَاءِ الشَّامِ، تَعْدِلُ صَاعًا مِنْ تَمْرٍ، فَأَخَذَ النَّاسُ بِذَلِكَ، قَالَ أَبُو سَعِيدٍ: فَأَمَّا أَنَا، فَلاَ أَزَالُ أُخْرِجُهُ كَمَا كُنْتُ أُخْرِجُهُ، أَبَدًا مَا عِشْتُ» مسلم، 18- (985).

مفهوم د حديث

په دې حديث کې دوه مسئلې بيان شوې يوه دا چې سرسايه به د مذکوره اشياؤ نه ورکولے شي او دويم د مذکوره اشياؤ په نيمه به غنم هم ورکولے شي.

كتاب الصيام

كتاب ثابت دے په بيان د روژو کې.

***

درمضان نه مخکې يوورځ يادوه ورځې روژې نيولو حکم

184 - عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «لا تَقَدَّمُوا رَمَضَانَ بِصَوْمِ يَوْمٍ، ولا يَوْمَيْنِ إلاَّ رَجُلٌ كَانَ يَصُومُ صَوْماً فَلْيَصُمْهُ». [1].

ترجمه: د ابو هريره ﷺ نه روايت دے دا فرمائي: چې نبي ﷺ فرمائيلي دي: تاسو مه مخکې کوئ په رمضان باندې روژه د يوې ورځې او نه دوه ورځې مګر که يو سړے (له جائز دي) چې هغه د مخکې نه روژې نيسي نو هغه دې اونيسي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د رمضان نه مخکې روژه نيول جائز نه ده خو که يو کس يوه خاصه معينه روژه نيسي د مخکې نه نو نيولے ئې شي.

***

روژې نيول په ليدلو د مياشت سره

185 ـ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رضي اللّٰهِ عَنْهما، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يقولُ: «إذَا رَأَيْتُمُوهُ فَصُومُوا، وَإِذَا رَأَيْتُمُوهُ فَأَفْطِرُوا، فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَاقْدُرُوا لَهُ». [2].

---

(1) رواه البخاري، كتاب الصوم، باب لا يتقدمن رمضان بصوم يوم ولا يومين، برقم 1914، ومسلم، كتاب الصيام، باب لا تقدموا رمضان بصوم يوم ولا يومين، برقم 1082، واللفظ له.

(2) رواه البخاري، كتاب الصوم، باب هل يقال: رمضان، أو شهر رمضان، برقم 1900، واللفظ له، وباب قول النبي ﷺ: «إذا رأيتم الهلال فصوموا، وإذا رأيتموه فأفطروا» برقم 1906، ومسلم، كتاب الصيام، باب وجوب صوم رمضان لرؤية الهلال، والفطر لرؤية الهلال، وأنه إذا غمّ في أوله أو آخره أكملت عدة الشهر ثلاثين يوماً، برقم 1080، ولفظه: «عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ ب: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ ذَكَرَ رَمَضَانَ

ترجمه: د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دے دا فرمائي : ما د نبي ﷺ نه اوريدلي دي هغه فرمائيل : کله چې تاسو (د رمضان) مياشت اووينئ روژه اونيسئ او کله چې تاسو (د شوال) مياشت اووينئ روژه ماته کړئ (يعنی اختر اوکړئ) او که مياشت پټه پاتې کړے شوه په تاسو باندې نو بيا (ورځې) اندازه کړئ د هغې. يعنې ديرشت ورځې پوره کړئ.

مفهوم د حديث

په دې حديث کې دا مسئله بيان شوه چې د روژې نيول هم په ليدلو د مياشت سره دي او ماتول ئې هم په ليدلو د مياشت سره دي او که مياشت په وريځه کې پټه پاتې شوه نو بيا به ديرش ورځې پوره کولے شي.

***

پيشمنى کول

186ـ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ «تَسَحَّرُوا، فَإِنَّ فِي السَّحُورِ بَرَكَةً».[1]

ترجمه: د انس رضي الله عنه نه روايت دے دا فرمائي : چې نبي ﷺ فرمائيلي دي : تاسو پيشمنے (چربانکے) کوئ ځکه چې په پيشمني (چربانکي) کې برکت وي.

مفهوم د حديث

په دې حديث کې ترغيب دے پيشمني کولو ته ځکه چې په دې کې برکت دے.

***

اندازه د وخت د پيشمني او اذان په مينځ کې

187ـ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه، عَنْ زَيدِ بْنِ ثَابِتٍ رضي الله عنه قَالَ: «تَسَحَّرْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ، ثُمَّ قَامَ إِلَى

فَقَالَ: «لاَ تَصُومُوا حَتَّى تَرَوُا الْهِلاَلَ، وَلاَ تُفْطِرُوا حَتَّى تَرَوْهُ، فَإِنْ غُمَّ عَلَيْكُمْ فَاقْدُرُوا لَهُ».

(1) رواه البخاري، كتاب الصوم، باب بركة السحور من غير إيجاب، برقم 1923، واللفظ له ومسلم، كتاب الصيام، باب فضل السحور، وتأكيد استحبابه واستحباب تأخيره وتعجيل الفطر، برقم 1095، بلفظه أيضاً.

الصَّلاةِ. قَالَ أَنَسٌ: قُلْتُ لِزَيْدٍ: كَمْ كَانَ بَيْنَ الأَذَانِ وَالسَّحُورِ؟ قَالَ: قَدْرُ خَمْسِينَ آيَةً». [1].

ترجمه: د انس ﷺ نه نقل دي هغه نقل کوي د زید بن ثابت ﷺ نه هغه فرمائي: مونږ د نبي ﷺ سره پیشمنے اوکړو بیا پاڅیدو مونځ ته، انس ﷺ فرمائي: ما زید ﷺ ته اووئیل: څومره وخت وو په مینځ د اذان او پیشمني کې؟ هغه اووئیل: په اندازه د پنځوسو آیاتونو.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا خبره فهم شوه چې د پیشمني نه د فارغه کیدلو او د مونځ په مابین کې د (٥٠) آیاتونو په مقدار اندازه ساتل پکار دي.

❋❋❋

د جنابت غسل کول د پیشمني نه پس

188ـ عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها وَأُمِّ سَلَمَةَ رضي الله عنها: «أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ يُدْرِكُهُ الْفَجْرُ وَهُوَ جُنُبٌ مِنْ أَهْلِهِ، ثُمَّ يَغْتَسِلُ وَيَصُومُ». [2].

ترجمه: د عائشه او ام سلمه رضي الله عَنْهما نه نقل دي چې بیشکه نبي ﷺ له به صبا رالاندي کړو په داسې حال کې چې هغه به جنب وو د خپل اهل (سره د جماع) د وجې نه بیا به ئې غسل اوکړل او روژه به شو. یعنې سحر کې به ئې غسل اوکړل.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم شوه چې کله یو کس د شپې نه جنب شوے وي او د پیشمني کولو نه سحر کې غسل اوکړي نو روژې ته ئې نقصان نه رسیږي.

---

(1) رواه البخاري، كتاب مواقيت الصلاة، باب وقت الفجر، برقم 575، وكتاب الصوم، باب قدر كم بين السحور وصلاة الفجر، برقم 1921، واللفظ له، ومسلم، كتاب الصيام، باب فضل السحور، وتأكيد استحبابه، واستحباب تأخيره وتعجيل الفطر، برقم 1097.

(2) رواه البخاري، كتاب الصوم، باب الصائم يصبح جنباً، واللفظ له، برقم 1926، وبنحوه مسلم، كتاب الصيام، باب صحة صوم من طلع عليه الفجر وهو جنب، برقم 1109.

په هيره سره په روژه کې خوراک کول

189 ـ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ، أن النَّبِيَّ ﷺ[1] قَالَ: «مَنْ نَسِيَ وَهُوَ صَائِمٌ فَأَكَلَ أَوْ شَرِبَ، فَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ، فَإِنَّمَا أَطْعَمَهُ اللهُ وَسَقَاهُ»[2].

ترجمه: د ابو هريره ﷺ نه نقل دي چې بيشکه نبي ﷺ فرمائيلي دي: چا چې هير کړو په داسې حال کې روژه وو او خوراک يا څکاک ئې اوکړو، نو روژه دې پوره کړي ځکه چې ده له الله ﷻ طعام ورکړو او اوبه ئې ورکړې.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې په هيره سره خوراک، څکاک باندې روژه نه ماتيږي.

***

په روژه کې د جماع کولو حکم

190 ـ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ، قَالَ: «بَيْنَمَا نَحْنُ جُلُوسٌ عِنْدَ النَّبِيِّ ﷺ إِذْ جَاءَهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، هَلَكْتُ، فقَالَ[3]: «مَا لك؟» قَالَ: وَقَعْتُ عَلَى امْرَأَتِي فِي رَمَضَانَ، وَأَنَا صَائِمٌ ـ وَفِي رِوَايَةٍ: أَصَبْتُ أَهْلِي فِي رَمَضَانَ ـ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «هَلْ تَجِدُ رَقَبَةً تُعْتِقُهَا؟» قَالَ: لا، قَالَ: «فَهَلْ تَسْتَطِيعُ أَنْ تَصُومَ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ؟» قَالَ: لا، قَالَ: «فَهَلْ تَجِدُ إِطْعَامَ سِتِّينَ مِسْكِينًا؟» قَالَ: لا، قَالَ: فسكت[4] النَّبِيُّ ﷺ، فَبَيْنَمَا[5] نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ إِذ أُتِيَ[6] النَّبِيُّ ﷺ بِعَرَقٍ فِيهِ تَمْرٌ ـ وَالْعَرَقُ الْمِكْتَلُ ـ قَالَ: «أَيْنَ السَّائِلُ؟» قَالَ: أَنَا،

---

(1) في نسخة الزهيري: «عن النبي ﷺ».

(2) رواه البخاري، كتاب الصوم، باب الصائم إذا أكل أو شرب ناسياً، برقم 1933، ومسلم، كتاب الصيام، باب أكل الناسي وشربه وجماعه لا يفطر، برقم 1155، واللفظ له.

(3) في نسخة الزهيري: «قال».

(4) في نسخة الزهيري: «فمكث» وهي في البخاري، برقم 1936.

(5) في نسخة الزهيري: «فبينا» وهي في البخاري، برقم 1936.

(6) في نسخة الزهيري: «أُتِيَ» بدون «إذا».

قَالَ: «خُذْ هَذَا، فَتَصَدَّق بِهِ». فَقَالَ[1]: عَلَى أَفْقَرَ مِنِّي يَا رَسُولَ اللهِ؟ فَوَاللهِ مَا بَيْنَ لابَتَيْهَا ـ يُرِيدُ الْحَرَّتَيْنِ ـ أَهْلُ بَيْتٍ أَفْقَرُ مِنْ أَهْلِ بَيْتِي، فَضَحِكَ النَّبِيُّ ﷺ حَتَّى بَدَتْ أَنْيَابُهُ، ثُمَّ قَالَ: «أَطْعِمْهُ أَهْلَكَ»[2].

الحَرَّةُ: أَرْضٌ تَرْكَبُهَا حِجَارَةٌ سُودٌ.

ترجمه: د ابو هریره ﷺ نه نقل دي فرمائي: چې یو وخت کې مونږ د نبي ﷺ په خوا کې ناست وو ناڅاپه یو کس راغے، وې فرمائیل: اے د الله رسوله! هلاک شوم، نبي ﷺ ورته اووئیل: څه شي هلاک کړې؟ هغه اووئیل: په خپله ښځه واقع شوم (یعنی جماع مې ورسره اوکړه) په داسې حال کې چې زه روژه ووم، (په بل روایت کې داسې دي خپل اهل ته مې په رمضان کې رسیدل اوکړل) نو نبي ﷺ ورته اووئیل: آیا غلام بیامومې چې ازاد ئې کړې؟ هغه اووئیل: نهٔ، نبي ﷺ ورته اووئیل: آیا شپیتو مسکنانو له طعام ورکول بیامومې؟ هغه اووئیل: نهٔ، راوي وائي نبي ﷺ چپ شو او مونږ په همدې حال ناست وو، نبي ﷺ ته یوه پچۍ (تیلۍ) راوړلے شوه په هغې کې کجورې وې (عرق پیمانې ته وائي) نبي ﷺ اووئیل: څه شو هغه سائل؟ سائل اووئیل: دا یم، نبي ﷺ ورته اووئیل: دا واخله او صدقه ئې کړه، هغه کس اووئیل: (آیا زه دا صدقه کړم) په (هغه چا باندې چې هغه) ډیر فقیر (وي) زما نه اے د الله رسوله! قسم په الله (چې نشته دے) په مابین د دوه خوړونو د مدینه کې د یو کور والا چې هغه ډیر محتاجه وي زما د کور والاؤ نه! نو نبي ﷺ اوخندل تردې چې انیاب غاښونه ئې ښکاره شول، بیا ئې اووئیل: د دې نه طعام خپل اهل ته ورکړه.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم شوه چې څا د رمضان په ورځ کې جماع اوکړه نو هغه به په کفاره کې یا غلام ازاده وي

(1) في نسخة الزهيري: «فقال الرجل»، وهي في البخاري، برقم 1936.

(2) رواه البخاري، كتاب الصوم، باب إذا جامع في رمضان فتصدق عليه، فليكفِّر، برقم 1936، وباب المجامع في رمضان هل يطعم؟، برقم 1937، ومسلم، كتاب الصيام، باب تغليظ تحريم الجماع في نهار رمضان على الصائم، ووجوب الكفارة الكبرى وبيانها، وأنها تجب على الموسر والمعسر، وتثبت في ذمة المعسر حتى يستطيع، برقم 1111، ورواية: «أصبت أهلي» برقم 87- (1112).

او یا به شپیته مسکناتو ته طعام ورکوي.

باب الصوم في السفر وغيره

باب دے په بیان د روژو نیولو په سفر کې او غیر سفر کې.

په سفر کې د روژې نیولو حکم

191 ـ عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها «أَنَّ حَمْزَةَ بْنَ عَمْرٍو الأَسْلَمِيَّ قَالَ لِلنَّبِيِّ ﷺ : أَصُومُ فِي السَّفَرِ؟ ـ وَكَانَ كَثِيرَ الصِّيَامِ ـ قَالَ : «إِنْ شِئْتَ فَصُمْ، وَإِنْ شِئْتَ فَأَفْطِرْ». [1].

ترجمه: عائشه رضي الله عنها نقل کوي چې بیشکه حمزه بن عمرو اسلمي ﷺ نبي ﷺ ته اوفرمائیل : آیا زه په سفر کې روژه نیولے شم ؟ (او دې کس به ډیرې روژې نیولې) نبي ﷺ ورته اوفرمائیل : که دې خوښه شي روژه نیسه او که دې خوښه شي ماتوه ئې.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم کیږي چې په سفر کې د مسافر دپاره د روژو نیولو اختیار دے که نیسي ئې او که نه ئې نیسي.

***

په سفر کې روژه ماتونکي با ندې څه عیب نشته

192 ـ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ قَالَ : «كُنَّا نُسَافِرُ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فَلَمْ يَعِبِ الصَّائِمُ عَلَى الْمُفْطِرِ، وَلا الْمُفْطِرُ عَلَى الصَّائِمِ». [2].

---

(1) رواه البخاري، كتاب الصوم، باب الصوم في السفروالإفطار، واللفظ له برقم 1943، ومسلم، كتاب الصيام، باب التخيير في الصوم والفطر في السفر، برقم 1121.

(2) رواه البخاري، كتاب الصوم، باب لم يعب أصحاب النبي ﷺ بعضهم بعضاً في الصوم والإفطار، برقم 1947، واللفظ له، ومسلم، باب جواز الصوم والفطر في شهر رمضان للمسافر في غير معصية إذا كان سفره مرحلتين فأكثر، وأن الأفضل لمن أطاقه بلا ضرر أن يصوم، ولمن يشق عليه أن يفطر، برقم 1118.

ترجمه: د انس ﷺ نه نقل دي دا فرمائي: مونږ په سفر کې وو د نبي ﷺ سره نو روژه کس به په کوژه باندې عيب نه لګولو او کوژه به په روژه کس باندې عيب نه لګولو.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم کيږي چې په سفر کې د مسافر اختيار دے که روژه نيسي او که نه.

❋ ❋ ❋

په سفر کې روژه نيول جائز دي

193 ـ عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ ﷺ قَالَ: «خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ، فِي حَرٍّ شَدِيدٍ، حَتَّى إِنْ كَانَ أَحَدُنَا لَيَضَعُ يَدَهُ عَلَى رَأْسِهِ مِنْ شِدَّةِ الْحَرِّ، وَمَا فِينَا صَائِمٌ إِلاَّ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ، وَعَبْدُ اللهِ بْنُ رَوَاحَةَ»[1].

ترجمه: د ابو درداء ﷺ نه نقل دي دا فرمائي: مونږ د نبي ﷺ سره په مياشت د رمضان کې اووتلو په سخته ګرمۍ کې تردې چې يو کس زمونږ نه به په خپل سر باندې لاس کيښودو د سختې ګرمۍ د وجې نه او په مونږ کې بل کس روژه نه وو سيوا د نبي ﷺ او عبد الله بن رواحه رضي الله عَنْه نه.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا خبره فهم کيږي چې په سفر کې مسافر روژه نيولے شي.

❋ ❋ ❋

مسافر ته رخصت په روژه نيولو کې

194 ـ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ ﷺ قَالَ: «كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فِي سَفَرٍ، فَرَأَى زِحَاماً وَرَجُلاً قَدْ ظُلِّلَ عَلَيْهِ، فَقَالَ: «مَا هَذَا؟» قَالُوا: صَائِمٌ، قَالَ: «لَيْسَ مِنَ الْبِرِّ الصَّومُ فِي السَّفَرِ»[2]. وفي لفظٍ وَلِمُسْلِمٍ

---

(1) رواه البخاري، كتاب الصوم، باب حدثنا عبد الله بن يوسف، برقم 1945، ومسلم، كتاب الصيام، باب التخيير في الصوم والفطر في السفر، برقم 1122، واللفظ له.

(2) رواه البخاري، كتاب الصوم، باب قول النبي ﷺ لمن ظُلل عليه واشتد الحر «ليس من البر الصوم في السفر»، واللفظ له، برقم 1946، ومسلم، باب جواز الصوم والفطر في شهر رمضان للمسافر في غير معصية إذا كان سفره مرحلتين فأكثر، وأن الأفضل لمن أطاقه بلا

«عَلَيْكُمْ بِرُخْصَةِ اللهِ الَّتِي رَخَّصَ لَكُمْ».[1].

ترجمه: د جابر ﷺ نه نقل دي دا فرمائي: نبي ﷺ په سفر کې وو ګنړه ئې ولیدله او يو کس باندې سوري کولے شول، نو نبي ﷺ اوفرمائيل: دا څه دي؟ صحابو اووئيل: دا کس روژه دے، نبي ﷺ اوفرمائي: نه ده د نيکۍ نه روژه نيول په سفر کې. په روايت د مسلم کې دي: په تاسو باندې د الله ﷻ رخصت (باندې عمل کول) لازم دي کوم چې ئې تاسو له رخصت درکړے دے.

مفهوم د حديث

د دې نه دا مسئله فهم کيږي چې په سفر کې په چا باندې روژه نيول ګران وي نو نه دې نيسي.

***

په سخت سفر کې روژه ماتول افضل دي

195ـ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ قَالَ: «كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ[2] فِي سَفَرٍ، فَمِنَّا الصَّائِمُ، وَمِنَّا الْمُفْطِرُ قَالَ: فَنَزَلْنَا مَنْزِلاً فِي يَوْمٍ حَارٍّ، وَأَكْثَرُنَا ظِلاً صَاحِبُ الْكِسَاءِ، فَمِنَّا مَنْ يَتَّقِي الشَّمْسَ بِيَدِهِ، قَالَ: فَسَقَطَ الصُّوَّامُ، وَقَامَ الْمُفْطِرُوْنَ فَضَرَبُوا الأَبْنِيَةَ، وَسَقَوا الرِّكَابَ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «ذَهَبَ الْمُفْطِرُوْنَ الْيَوْمَ بِالأَجْرِ».[3].

ترجمه: د انس ﷺ نه نقل دي دا فرمائي: مونږ د نبي ﷺ سره په سفر کې وو نو بعض زمونږ نه روژه وو او بعض کوژه وو، دا وائي: مونږ يو ځائي ته نازل شو (هلته مو پړاؤ واچولو) په ورځ د سخته ګرمۍ

ضرر أن يصوم، ولمن يشق عليه أن يفطر، برقم 1115.

(1) رواه مسلم، كتاب الصيام، باب جواز الصوم والفطر في شهر رمضان للمسافر في غير معصية إذا كان سفره مرحلتين فأكثر، وأن الأفضل لمن أطاقه بلا ضرر أن يصوم، ولمن يشق عليه أن يفطر، برقم 1115، وعنده «الذي» بدل «التي».

(2) في نسخة الزهيري: «مع النبي ﷺ» وهو في البخاري، برقم 2890.

(3) رواه البخاري، كتاب الجهاد والسير، باب فضل الخدمة في الغزو، برقم 2890، ومسلم، كتاب الصيام، باب أجر المفطر في السفر إذا تولى العمل، برقم 1119، واللفظ له.

کې او اکثر زمونږ نه په سورو کې وو صاحب د کمبلو وو بعض زمونږ نه هغه څوک وو چې په خپل لاس به ئې ځان ساتلو د نمر نه ، انس ﷺ فرمائي : روژه دار راوغورځيدل او کوژه کسان پاڅيدل په هغوي باندې خيمې اووهلې او د هغوي سورلۍ ئې اوبه کولې ، نو نبي ﷺ اوفرمائيل : کوژه خلقو نن اجر يوړه.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم کيږي چې د مصلحت په بناء په سفر کې روژه ماتول جائز دے.

***

تر شعبا نه پورې قضاء روژه نيول جائز دي

196 ـ عَنْ عَائِشَةَ رضي اللهِ عَنْها «كَانَ يَكُونُ عَلَيَّ الصَّوْمُ مِنْ رَمَضَانَ ، فَمَا أَسْتَطِيعُ أَنْ أَقْضِيَ إِلاَّ فِي شَعْبَانَ».[1]

ترجمه: د عائشه رضي الله عنها نه روايت دے چې په ما باندې د رمضان روژه وه نو ما طاقت نه لرلو چې زه ئې قضائي راورم مګر په شعبان کې. يعنې په شعبان کې مې اونيوله.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې په رمضان کې د چا نه روژې فوت شي نو تر د بل رمضان پورې ديته اجازه ده چې کله دا نيسي.

***

په مړي باندې چې کومې روژې وي نو ولي دپاره د هغې نيول ترينه جائز دي

197 ـ عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ : «مَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ صِيَامٌ صَامَ عَنْهُ وَلِيُّهُ»

---

(1) رواه البخاري، كتاب الصوم، باب متى يُقضى قضاء رمضان، برقم 1950، واللفظ له، ومسلم، كتاب الصيام، باب قضاء رمضان في شعبان، برقم 1146، وفيه: «فَمَا أَسْتَطِيعُ أَنْ أَقْضِيَ إِلَّا فِي شَعْبَانَ: الشُّغْلُ مِنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ أَوْ بِرَسُولِ اللهِ ﷺ».

. «وأخرجه أبو داود، وقَالَ: هذا في النذر، وهو قولُ أحمدَ بنِ حنبلٍ».[2]

ترجمه: عائشه رضي الله عنها نقل کوي چې بیشکه نبي ﷺ فرمائیلي دي: څوک چې مړ شوا و په هغه باندې روژې وي نو ولي دې ترینه ونیسي.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم شوه چې کله یو کس وفات شي او روژې پرې وي نو ولي ترینه نیولې شي.

❋❋❋

د مورد طرف نه روژه نیول چې کله مره وي

198ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ رضي اللهِ عَنْهما، قَالَ: «جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ. فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّ أُمِّي مَاتَتْ وَعَلَيْهَا صَوْمُ شَهْرٍ، أَفَأَقْضِيهِ عَنْهَا؟ قَالَ[3]: «لَوْ كَانَ عَلَى أُمِّكَ دَيْنٌ، أَكُنْتَ قَاضِيَهُ عَنْهَا؟» قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: «فَدَيْنُ اللهِ أَحَقُّ أَنْ يُقْضَى»[4].

وَفِي رِوَايَةٍ: «جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى النَّبِيِّ[5] ﷺ فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّ أُمِّي مَاتَتْ، وَعَلَيْهَا صَوْمُ نَذْرٍ، أَفَأَصُومُ عَنْهَا؟ قَالَ[6]: «أَفَرَأَيْتِ[7] لَوْ كَانَ عَلَى أُمِّكِ دَيْنٌ فَقَضَيْتِيهِ، أَكَانَ يُؤَدِّي ذَلِكَ عَنْهَا؟» قَالَتْ: نَعَمْ.

---

(1) رواه البخاري، كتاب الصوم، باب من مات وعليه صوم، برقم 1952، واللفظ له، ومسلم، كتاب الصيام، باب قضاء الصيام عن الميت، برقم 1147، بلفظه أيضاً.

(2) سنن أبي داود، كتاب الصيام، باب من مات وعليه صيام، بعد الحديث رقم 2402.

(3) في نسخة الزهيري: «فقال».

(4) رواه البخاري، كتاب الصوم، باب من مات وعليه صوم، برقم 1953، ومسلم، كتاب الصيام، باب قضاء الصيام عن الميت، برقم 1148، واللفظ له، وتقدم تخريجه في تخريج حديث المتن رقم 197.

(5) في نسخة الزهيري: «إلى رسول الله ﷺ».

(6) في نسخة الزهيري: «فقال» بزيادة الفاء.

(7) في نسخة الزهيري: «أرأيت».

قَالَ : «فَصُومِي عَنْ أُمِّكِ». [1].

ترجمه:ابن عباس ﷺ نه روایت دے فرمائي : یو کس راغے نبي ﷺ ته ورته ئي اوفرمائیل : اے د الله رسوله! یقیناً زما مور مړه شوې ده او په هغې باندې د یوې میاشتې روژې دي آیا زه ترینه اداء کولے شم ، ؟ نبي ﷺ ورته اوفرمائیل : که ستا په مور باندې قرض وے نو آیا تا به ترینه اداء کولے ؟ هغه اوویئیل : آو ! نبي ﷺ ورته اوفرمائیل : د الله ﷻ قرض ډیر لائق دے چې اداء کړے شي.

په بل روایت کې دي : یوه زنانه راغله نبي ﷺ ته اوئي فرمائیل : اے د الله رسوله! یقیناً زما مور مړه شوې ده او په هغې باندې د نذر روژه وه نو آیا زه ئي ترینه نیولے شم ؟ نبي ﷺ ورته اوفرمائیل: ما ته خبر راکړه که چرته په هغې باندې قرض وے او تا ترینه اداء کولے نو آیا هغه ترینه اداء کیږي ؟ هغې اوویئیل : آؤ ! نو نبي ﷺ ورته اوویئیل : روژه ترینه اونیسه.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه فهم شوه چې چا باندې د رمضان روژې وي او مړ شي ولي ترینه نیولے شي.

❊ ❊ ❊

په روژه ماتي کې جلتي کول

199 ـ عَنْ سهل بن سعد الساعدي ﷺ ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ : «لا يَزَالُ النَّاسُ بِخَيْرٍ مَا عَجَّلُوا الْفِطْرَ» «وأخروا السحور[2]». [3].

ترجمه:د سهل بن سعد ﷺ نه روایت دے چې بیشکه نبي ﷺ فرمائیلي دي : همیشه به خلق په خیر باندې وي ترڅو چې دوي تلوار کوي په روژه ماتولو کې او تاخیر کوي پیشمني کې.

---

(1) رواه مسلم، كتاب الصيام، باب قضاء الصيام عن الميت، برقم 156-(1148).

(2) «وأخروا السحور»: ليست في نسخة الزهيري.

(3) مسند أحمد، 35/ 241، برقم 21312، وصحح محقق المسند إسناده على شرط مسلم، 35/ 241، وقواه العلامة الألباني في سلسلة الأحاديث الصحيحة، برقم 1773.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا خبره فهم کيږي چې په روژه ماتي کې محکې والے پکار دے او په پيشمني کې تاخير پکار دے.

❊ ❊ ❊

نمر پريوتلو سره روژه ماتول

200 ـ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «إِذَا أَقْبَلَ اللَّيْلُ مِنْ هَهُنَا ، وَأَدْبَرَ النَّهَارُ مِنْ هَهُنَا وغربت الشمس[1] فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ»[2].

ترجمه: د عمر ﷺ نه نقل دي دا فرمائي : چې نبي ﷺ فرمائيلي دي : کله چې شپه د دې طرف نه رامخامخ شي او ورځ شاه کړي د دې طرف نه او نمر ډوب شي نو په تحقيق سره روژه دار روژه ماتوي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې کله نمر پريوځي نو روژه ماتول پکار دي.

❊ ❊ ❊

د وصال حکم

201 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ : «نَهَى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَنْ الْوِصَالِ . قَالُوا : يا رسول الله[3] . إِنَّكَ تُوَاصِلُ؟ قَالَ : «إِنِّي لَسْتُ كَهَيْئَتِكُمْ[4] ، إِنِّي أُطْعَمُ وَأُسْقَى»[5].

---

(1) «وغربت الشمس»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في صحيح البخاري، برقم 1954.

(2) رواه البخاري، كتاب الصوم، باب متى يحل فطر الصائم، برقم 1954، بلفظه، ومسلم، كتاب الصيام، باب بيان وقت انقضاء الصوم وخروج النهار، برقم 1100.

(3) «يا رسول الله»: ليست في نسخة الزهيري.

(4) في نسخة الزهيري: «مثلكم»، وهي في البخاري، برقم 1962.

(5) رواه البخاري، كتاب الصوم، باب متى يحل فطر الصائم، برقم 1954، بلفظه، ومسلم، كتاب الصيام، باب بيان وقت انقضاء الصوم وخروج النهار، برقم 1100.

رَوَاهُ[1] أَبُو هُرَيْرَةَ، وَعَائِشَةُ، وَأَنَسُ بْنُ مَالِكٍ.

202 ـ وَلِمُسْلِمٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ ﷺ «فَأَيُّكُمْ أَرَادَ أَنْ يُوَاصِلَ، فَلْيُوَاصِلْ إِلَى السَّحَرِ».[2].

ترجمه: د عبد الله بن عمر ﷺ نه روایت دے دا فرمائي: چې نبي ﷺ منعه کړې ده د وصال (دوه روژې یو ځائې کولو) نه، صحابو اوفرمائیل: اے د الله رسوله! یقیناً ته چې وصال کوې؟ هغه اوفرمائیل: زه ستاسو پشان نه یم یقیناً ماته طعام راکړے کیږي او اوبه راکړے کیږي.

دا روایت د ابو هریره، عائشه او انس رضي الله عَنْهم نه هم نقل دے.

په روایت د مسلم کې دي: د ابو سعید ﷺ نه روایت دے کوم یو په تاسو کې چې اراده لري د وصال نو وصال دې کوي تر پیشمني پورې.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم کیږي چې وصال صرف تر پیشمني پورې جائز دے.

***

(1) في نسخة الزهيري: «رواه» بدون الواو في أوله

(2) رواه البخاري، كتاب الصوم، باب الوصال، ومن قال: ليس في الليل صيام برقم 1963، ولفظه: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ ﷺ، أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ ﷺ يَقُولُ: «لاَ تُوَاصِلُوا، فَأَيُّكُمْ إِذَا أَرَادَ أَنْ يُوَاصِلَ، فَلْيُوَاصِلْ حَتَّى السَّحَرِ»، قَالُوا: فَإِنَّكَ تُوَاصِلُ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ: «إِنِّي لَسْتُ كَهَيْئَتِكُمْ إِنِّي أَبِيتُ لِي مُطْعِمٌ يُطْعِمُنِي، وَسَاقٍ يَسْقِينِ»، والحديث لم أجده في مسلم

بَابُ أَفْضَلِ الصِّيَامِ وَغَيْرِه

باب دے په بيان د غوره روژو کې.

غوره روژې

203 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بنِ عَمْرِو بْنِ العَاصِ ﷺ قَالَ: «أُخْبِرَ النَّبِيّ ﷺ[1] أَنِّي أَقُولُ: وَاللهِ لأَصُومَنَّ النَّهَارَ وَلأَقُومَنَّ اللَّيْلَ مَا عِشْتُ، فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: «أَنْتَ الَّذِي قُلْتَ ذٰلِكَ؟»[2] فَقُلْتُ لَهُ: قَدْ قُلْتُهُ، بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي يا رسول اللهِ[3]، قَالَ: «فَإِنَّكَ لا تَسْتَطِيعُ ذٰلِكَ، فَصُمْ وَأَفْطِرْ، وَقُمْ وَنَمْ، وَصُمْ مِنَ الشَّهْرِ ثَلاثَةَ أَيَّامٍ، فَإِنَّ الْحَسَنَةَ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا، وَذَلِكَ مِثْلُ صِيَامِ الدَّهْرِ» قُلْتُ[4]: إِنِّي لأُطِيقُ[5] أَفْضَلَ مِنْ ذٰلِكَ، قَالَ: «فَصُمْ يَوْماً وَأَفْطِرْ يَوْمين» قُلْتُ: إِنِّي لأُطِيقُ[6] أَفْضَلَ مِنْ ذٰلِكَ، قَالَ: «فَصُمْ يَوْماً وَأَفْطِرْ يَوْماً، فَذٰلِكَ صِيَامُ دَاوُد ﷺ، وَهُوَ أَفْضَلُ الصِّيَامِ» قُلْتُ[7]: إِنِّي لأُطِيقُ[8] أَفْضَلَ مِنْ ذٰلِكَ. فَقَالَ: «لا أَفْضَلَ مِنْ ذٰلِكَ»[9].

وفي رواية: قَالَ: «لا صَوْمَ فَوْقَ صَوْمِ أَخِي[10] دَاوُد ﷺ ـ شَطْرَ الدَّهْرِ ـ صُمْ يَوْماً وَأَفْطِرْ يَوْماً»[1].

---

(1) في نسخة الزهيري: «أخبر رسول الله ﷺ».

(2) «فقال النبي ﷺ: «أنت الذي قلت ذلك؟»: ليست في نسخة الزهيري، وليست في البخاري في رقم 1976، وهي في مسلم، برقم 1159.

(3) «يا رسول الله»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في مسلم، برقم 1159.

(4) في نسخة الزهيري: «فقلت».

(5) في نسخة الزهيري: «أطيق»، وهي في البخاري، برقم 1976، ومسلم، برقم 1159.

(6) في نسخة الزهيري: «أطيق»، وهي في البخاري، برقم 1976، ومسلم، برقم 1159.

(7) في نسخة الزهيري: «فقلت».

(8) في نسخة الزهيري: «أطيق»، وهي في البخاري، برقم 1976، ومسلم، برقم 1159.

(9) رواه البخاري، كتاب الصوم، باب صوم الدهر، برقم 1976، ومسلم، كتاب الصيام، باب النهي عن صوم الدهر لمن تضرر به، أو فوّت به حقاً، أو لم يفطر العيدين والتشريق، وبيان تفضيل صوم يوم وإفطار يوم، برقم 1159.

(10) «أخي»: ليست في نسخة الزهيري.

ترجمه: عبد الله بن عمرو ﷺ روايت دے دا فرمائي: چې نبي ﷺ ته خبر ورکړے شو چې ما وئيلي دي: قسم په الله خامخا به زه د ورځې روژه نيسم او د شپې به مونځ کوم تر څو پورې چې زه ژوندے ووم، نبي ﷺ (ماته) اوفرمائيل: ته هغه کس ئې چې دا خبره دې کړې ده؟ ما ورته اووئيل: آو ما دا خبره کړې ده زما مور او پلار دې په تا قربان وي، نبي ﷺ اوفرمائيل: يقيناً چې ته طاقت نه لرې د دې، نو روژه هم نيسه او کوژه کوه هم مونځ هم کوه او اوده کيږه هم، په مياشت کې درې ورځې روژې نيسه ځکه چې يوه نيکي په لس چنده وي او دا (درې روژې نيول په مياشت کې) په مثل د ټولې زمانې (روژې نيولو) وي په ثواب کې، (عبد الله ﷺ فرمائي) ما ورته اووئيل: يقيناً چې زه ډير ښه طاقت لرم د دې (درې روژو) نه، نبي ﷺ اوفرمائيل: يوه ورځ روژه نيسه او دوه ورځې کوژه کيږه ما ورته اووئيل: د دې نه هم ډير طاقت لرم، نبي ﷺ اوفرمائيل: پس يوه ورځ روژه نيسه او بله ورځ کوژه کيږه، او د داود ﷺ د روژو پشان روژې دي او دا ډيرې غوره روژې دي، ما ورته اووئيل: يقيناً زه د دې نه زيات طاقت لرم، نبي ﷺ اوفرمائيل: د دې نه زيات نشته. په بل روايت کې دي نبي ﷺ فرمائي: نشته روژې زياتې د روژو د ورور زمانه چې داود ﷺ دے نيمه زمانه (د هغه روژې وې) (نو ته هم) يوه ورځ روژه نيسه او بله ورځ کوژه کيږه.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا خبره فهم شوه چې په مياشت کې درې ورځې روژې نيول غوره عمل دے او يوه ورځ روژه او بله ورځ کوژه دا د ټولو نه غوره عمل دے.

❋❋❋

---

(1) رواه البخاري، كتاب الاستئذان، باب من أُلقي له وسادة، برقم 6277، ومسلم بنحوه، كتاب الصيام، باب النهي عن صوم الدهر لمتضرر به، أو فوّت به حقاً أو لم يفطر العيدين والتشريق، وبيان تفضيل صوم يوم وإفطار يوم، برقم 1159.

الله تعالی ته غوره روژې

204 ـ عَنْ [1] عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رضي اللهِ عَنْهما قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «إِنَّ أَحَبَّ الصِّيَامِ إِلَى اللهِ، صِيَامُ دَاوُد ﷺ، وَأَحَبَّ الصَّلاةِ إِلَى اللهِ صَلاةُ دَاوُد ﷺ، كَانَ يَنَامُ نِصْفَ اللَّيلِ، وَيَقُومُ ثُلُثَهُ، وَيَنَامُ سُدُسَهُ، وَكَانَ يَصُومُ يَوماً، وَيُفْطِرُ يَوْماً». [2].

ترجمه: د عبد الله بن عمر ﷺ نه روايت دے دا فرمائي : چې نبي ﷺ فرمائيلي دي: يقيناً ډيرې محبوبې روژې الله ﷻ ته روژې د داود ﷺ دي او ډير محبوب او خوښ مونځ الله ﷻ ته د داود ﷺ مونځ وو، هغه به نيمه حصه د شپې کې اوده کيدو او په دريمه حصه کې به راپاخيدلو (مونځ به ئې کولو)، بيا به په شپږمه حصه کې اوده کيدلو، او هغه به يوه ورځ روژه نيوله او بله ورځ به کوژه وو.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې الله ﷻ ته غوره مونځ او روژې هغه د داود ﷺ د روژو او مونځ پشان دي.

***

په هره مياشت کې درې ورځې روژې

205 ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : «أَوْصَانِي خَلِيلِي رَسُوْلُ اللهِ ﷺ [3] بِثَلاثٍ : صِيَامِ ثَلاثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ، وَرَكْعَتَيِ الضُّحَى، وَأَنْ أُوتِرَ قَبْلَ أَنْ أَنَامَ». [4].

---

(1) في نسخة الزهيري: «وعنه»، ولم يذكر اسم عبد الله بن عمرو بن العاص به.

(2) رواه البخاري، أبواب التهجد، باب من نام عند السحر، برقم 1131، وفي الطرف رقم 1979: «فَصُمْ صَوْمَ دَاوُدَ ﷺ، كَانَ يَصُومُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا، وَلاَ يَفِرُّ إِذَا لاَقَى»، ورقم 3419، ومسلم، كتاب الصيام، باب النهي عن صوم الدهر لمن تضرر به، أو فوّت به حقاً، أو لم يفطر العيدين والتشريق، وبيان تفضيل صوم يوم وإفطار يوم، برقم 189- (1159).

(3) «رسول الله»: ليست في نسخة الزهيري.

(4) رواه البخاري، كتاب الصوم، باب صيام البيض: ثلاث عشرة وأربع عشرة وخمس عشرة، برقم 1981، ومسلم، كتاب صلاة المسافرين وقصرها، باب استحباب صلاة الضحى، وأن أقلها ركعتان، وأكملها ثمان ركعات، وأوسطها أربع ركعات أو ست، والحث على

ترجمه: د ابو هريره ﷺ نه روايت دے دا فرمائي: ماته خپل دوست وصيت کړے دے په درې ورځو روژو نيولو باندې د هرې مياشت نه او د ضحی دوه رکعته مونځ کولو باندې او په دې چې زه وتر کوم مخکې داوده کيدلو نه.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا خبره فهم کيږي چې په مياشت کې درې ورځې روژې نيول او د ضحی مونځ کول، او وتر مخکې د خوب نه کول دا د نبي ﷺ وصيت دے ابو هريره ﷺ ته.

***

د جمعې په ورځ نفلي روژه نيول ممنوع ده

206ـ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبَادِ بْنِ جَعْفَرٍ، قَالَ: «سَأَلْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ أَنَهَى النَّبِيُّ ﷺ عَنْ صَوْمِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ؟ قَالَ: نَعَمْ»[1]. وزاد مسلم: «وَرَبِّ الْكَعْبَةِ».[2]

ترجمه: د محمد بن عباد بن جعفر رحمه الله نه روايت دے دا فرمائي: ما د جابر ﷺ نه تپوس اوکړو آيا نبي ﷺ منع کړې ده د جمعې د ورځې روژې نه؟ هغه اووئيل: آؤ!.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه معلومه شوه چې د جمعې په ورځ روژه نيول ممنوع ده.

***

المحافظة عليها، برقم 721.

(1) رواه البخاري، كتاب الصوم، باب صوم يوم الجمعة، وإذا أصبح صائماً يوم الجمعة فعليه أن يفطر، برقم 1984، بلفظه، ومسلم، كتاب الصيام، باب كراهة صيام يوم الجمعة منفرداً، برقم 1143.

(2) مسلم، كتاب الصيام، باب كراهة صيام يوم الجمعة منفرداً، برقم 1143، ولفظه: >سَأَلْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ ب، وَهُوَ يَطُوفُ بِالْبَيْتِ: أَنَهَى رَسُولُ اللَّهِ ﷺ عَنْ صِيَامِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ؟ فَقَالَ: نَعَمْ، وَرَبِّ هَذَا الْبَيْتِ.

د جمعې نه مخکې او روسته روژې نيول

207 ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ[1] يَقُولُ : «لا يَصُومَنَّ أَحَدُكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ ، إِلاَّ أَنْ يَصُومَ يَوْماً قَبْلَهُ أَوْ بَعْدَهُ[2]» .[3]

ترجمه: د ابو هريره ﷺ نه روايت دے دا فرمائي : ما د نبي ﷺ نه اوريدلي دي هغه فرمائيل : روژه دې نه نيسي يو کس ستاسو نه د جمعې په ورځ مګر که روژه نيسي مخکې د دې نه يوه ورځ او يا روسته د دې نه يوه ورځ . (نو بيا نيولے شي)

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د جمعې په ورځ روژه نيول جائز نه دي .

***

د اختر په ورځ روژه نيول ممنوع ده

208 ـ عَنْ أَبِي عُبَيْدٍ مَوْلَى ابْنِ أَزْهَرَ ، وَاسْمُهُ سَعْدُ بْنُ عُبَيْدٍ ، قَالَ : شَهِدْتُ العِيدَ مَعَ عُمَر بْن الخَطَّابِ ﷺ فَقَالَ : هَذَانِ يَوْمَانِ نَهَى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَنْ صِيَامِهِمَا : يَوْمُ فِطْرِكُمْ مِنْ صِيَامِكُمْ ، وَالْيَوْمُ الآخَرُ : تَأْكُلُونَ[4] مِنْ نُسُكِكُمْ» .[5]

ترجمه: د ابو عبيد مولى ابن ازهر رحمه الله نه نقل دي دا فرمائي : زه د اختر (مونځ) ته حاضر شوم د عُمَر بْن الخَطَّابِ ﷺ سره هغه اوفرمائيل : دا دوه ورځې دي چې نبي ﷺ منع کړې ده په دې کې د روژو

---

(1) في نسخة الزهيري: «النبي ﷺ»

(2) في نسخة الزهيري: «أو يوماً بعده»

(3) رواه البخاري، كتاب الصوم، باب صوم يوم الجمعة، وإذا أصبح صائماً يوم الجمعة فعليه أن يفطر، برقم 1985، واللفظ له، ومسلم، كتاب الصيام، باب كراهة صيام يوم الجمعة منفرداً، برقم 1144.

(4) في نسخة الزهيري: «تأكلون فيه» وهي في البخاري، برقم 1990، ومسلم، برقم 1137.

(5) رواه البخاري، كتاب الصوم، باب صوم يوم الفطر، برقم 1990، ومسلم، كتاب الصيام، باب النهي عن صوم يوم الفطر ويوم الأضحى، برقم 1137، واللفظ له.

نیولو نه یوه ستاسو د ورو کي اختر ورځ ده او بله د غټ اختر ورځ چې تاسو خوراک کوئ په هغې کې د قربانۍ ستاسو نه.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم شوه چې د اختر په ورځ روژه نیول ممنوع ده.

❋❋❋

د اخترونو په ورځ روژه نیول ممنوع ده

209 ـ عَنْ أَبِي سعيد الخدري ﷺ قَالَ: «نَهَى رَسُوْلُ اللهِ ﷺ عَنْ صَوْمِ يَوْمَيْنِ: النَّحْرِ، وَالْفِطْرِ[1]، وَعَنْ اشتمال[2] الصَّمَّاءِ، وَأَنْ يَحْتَبِيَ الرَّجُلُ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ، وَعَنْ الصَّلاةِ بَعْدَ الصُّبْحِ وَالْعَصْرِ».

أخرجه مسلم بتمامه، وأخرج البخاري الصوم فقط.[3]

ترجمه: د ابو سعید ﷺ نه روایت دے دا فرمائي: نبي ﷺ منع کړې ده د روژې نیولو د دوه ورځو نه یوه ورځ د ورو کي اختر ده او دویمه ورځ د غټ اختر ده، (او منع ئې کړې ده) د صماء نه او دا دیته وائي: چې یو کس په یوه جامه کې ځان راتاؤ کړي، (او منع ئې کړې ده) د نفل مونځ کولو نه پس د سحر او مازدیګر د مونځونو نه.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا خبره فهم شوه چې د اختر په ورځ روژه نیول منع دي.

---

(1) في نسخة الزهيري: «الفطر والنحر».

(2) «اشتمال»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في البخاري، برقم 367.

(3) رواه البخاري، كتاب الصوم، باب صوم يوم الفطر، برقم 1991، و1992، ومسلم، كتاب الصيام، باب النهي عن صوم يوم الفطر ويوم الأضحى، برقم 140، و141- (827)، ورواية البخاري بلفظ: >عَنْ أَبِي سَعِيدٍ ﷺ قَالَ: نَهَى النَّبِيُّ ﷺ عَنْ صَوْمِ يَوْمِ الْفِطْرِ، وَالنَّحْرِ، وَعَنِ الصَّمَّاءِ، وَأَنْ يَحْتَبِيَ الرَّجُلُ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ، وَعَنْ صَلَاةٍ (وَعَنِ الصَّلَاةِ) بَعْدَ الصُّبْحِ وَالْعَصْرِ.

تنبيه: وهم المؤلف / في قوله: «أخرجه مسلم بتمامه، وأخرج البخاري الصوم فقط» والعكس هو الصواب، فقد رواه البخاري بتمامه، وأخرج مسلم النهي عن الصوم فقط، فقال: «نهى رسول الله ﷺ عن صومين: يوم الفطر، ويوم الأضحى» مسلم، برقم 1140.

***

د الله تعالی په لاره کې د روژې نیولو ثواب

210 ـ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «مَنْ صَامَ يَوْماً فِي سَبِيلِ اللهِ بَعَّدَ اللهُ وَجْهَهُ عَنْ النَّارِ سَبْعِينَ خَرِيفاً»[1].

ترجمه: د ابو سعيد الخدري ﷺ نه روايت دے دا فرمائي: نبي ﷺ فرمائيلي دي: چا چې روژه ونيوله يوه ورځ د الله ﷻ په لاره کې الله ﷻ به د هغه مخ لرې کړي داور نه اويا کاله (مزل په مقدار).

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د الله ﷻ په لاره (جهاد) کې روژه نيول ډير اجر لري د اور نه پرې بنده خلاصيږي.

***

(1) رواه البخاري، كتاب الجهاد والسير، باب فضل الصوم في سبيل الله، برقم 2840، واللفظ له ومسلم، كتاب الصيام، باب فضل الصيام في سبيل الله لمن يطيقه، بلا ضرر، ولا تفويت حق، برقم 1153.

بَابُ لَيْلَةِ الْقَدْرِ

باب دے په بیان د لیلة القدر کې.

❊ ❊ ❊

لیلة القدر شپه په آخرو اووه شپو کې لټول

211 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رضي اللهِ عَنْهما : «أَنَّ رِجَالاً مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ ﷺ أُرُوا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْمَنَامِ، فِي السَّبْعِ الْأَوَاخِرِ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «أَرَى رُؤْيَاكُمْ قَدْ تَوَاطَأَتْ فِي السَّبْعِ الْأَوَاخِرِ، فَمَنْ كَانَ مِنْكُم(1) مُتَحَرِّيهَا فَلْيَتَحَرَّهَا فِي السَّبْعِ الْأَوَاخِرِ».(2).

ترجمه: د عبد الله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چې بیشکه څه کسانو د نبي ﷺ د ملګرو نه لیلة القدر شپه په خوب کې ولیدله چې دا په اووه اخرنو شپو کې ده، نو نبي ﷺ ورته اووفرمائیل : زه ګنم ستاسو خوبونه چې هغه موافق شوي دي په اووه آخرنو شپو کې نو څوک چې تالاش کونکے وي ستاسو نه د لیلة القدر د شپې نو تالاش دې کړي په اووه اخرنو شپو کې.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم شوه ده چې د لیلة القدر شپه په آخرنو شپو د رمضان کې وي.

❊ ❊ ❊

د لیلة القدر وقت

عَنْ عَائِشَةَ ، قَالَتْ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُجَاوِرُ فِي العَشْرِ الأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ

---

(1) «منكم»: ليست في نسخة الزهيري.

(2) رواه البخاري، كتاب فضل ليلة القدر، باب التماس ليلة القدر في السبع الأواخر، برقم 2015، ومسلم، كتاب الصيام، باب فضل ليلة القدر، والحث على طلبها، وبيان محلها، وأرجى أوقات طلبها، برقم 1165.

وَيَقُولُ: «تَحَرَّوْا لَيْلَةَ القَدْرِ فِي العَشْرِ الأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ»[1]

ترجمه: عائشه رضي الله عنها فرمائي: چې نبي ﷺ په آخرنو لسو شپو د رمضان کې اعتکاف کولو او وئيل: به يُ تاسو تالاش کوئ د ليلة القدر شپه په آخرنو شپو د رمضان کې.

عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أُرِيتُ لَيْلَةَ الْقَدْرِ، ثُمَّ أَيْقَظَنِي بَعْضُ أَهْلِي، فَنُسِّيتُهَا فَالْتَمِسُوهَا فِي الْعَشْرِ الْغَوَابِرِ»[2]

ترجمه: ابو هريره ﷺ فرمائي: نبي ﷺ فرمائيلي دي: ما ته د ليلة القدر شپه اوښودلے شوه په خوب کې بيا راويښ کړو ما لره بعض اهل زما نو هغه مې هيره کړه نو تاسو اولټوئ هغه په باقي لسو شپو کې.

عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَحَيَّنُوا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ»[3]

ترجمه: نبي ﷺ فرمائي: تاسو وخت اولټوئ د ليلة القدر د شپې په لسو اخرنو شپو کې.

❊❊❊

اخرنئ لسو شپو کې ليلة القدر لټول

212 ـ عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ: «تَحَرَّوْا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي الْوِتْرِ مِنَ الْعَشْرِ الأَوَاخِرِ»[4].

ترجمه: نبي ﷺ فرمائي: تاسو تالاش کړئ د ليلة القدر شپه په طاق د لسو اخرنو شپو د رمضان کې.

---

(1) رواه البخاريُّ (2020)، ومسلم (1169)

(2) رواه مسلم 1166

(3) رواه مسلم 116ه

(4) رواه البخاري، كتاب فضل ليلة القدر، باب تحري ليلة القدر في الوتر من العشر الأواخر، واللفظ له برقم 2017، ومسلم، كتاب الصيام، باب فضل ليلة القدر، والحث على طلبها، وبيان محلها، وأرجى أوقات طلبها، برقم 1169.

مفهوم د حديث

د ليلة القدر شپه د رمضان په اخرنو لسو شپو په تاک شپو کې تلاش کول.

د دې حديث نه معلومه شوه چې ليلة القدر شپه په آخرنو لسو شپو د رمضان کې وي.

د ليلة القدر هيريدل د نبي ﷺ نه

213ـ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه: أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ يَعْتَكِفُ فِي الْعَشْرِ الأَوْسَطِ مِنْ رَمَضَانَ، فَاعْتَكَفَ عَاماً، حَتَّى إِذَا كَانَتْ لَيْلَةُ إِحْدَى وَعِشْرِينَ ـ وَهِيَ اللَّيْلَةُ الَّتِي يَخْرُجُ مِنْ صَبِيحَتِهَا مِنْ اعْتِكَافِهِ ـ قَالَ: «مَنِ اعْتَكَفَ مَعِي فَلْيَعْتَكِفْ فِي[1] الْعَشْرِ الأَوَاخِرِ، فَقَدْ أُرِيتُ هَذِهِ اللَّيْلَةَ، ثُمَّ أُنْسِيتُهَا، وَقَدْ رَأَيْتُنِي أَسْجُدُ فِي مَاءٍ وَطِينٍ مِنْ صَبِيحَتِهَا، فَالْتَمِسُوهَا فِي الْعَشْرِ الأَوَاخِرِ، وَالْتَمِسُوهَا فِي كُلِّ وِتْرٍ»، قَالَ[2]: فَمَطَرَتِ السَّمَاءُ تِلْكَ اللَّيْلَةَ. وَكَانَ الْمَسْجِدُ عَلَى عَرِيشٍ، فَوَكَفَ الْمَسْجِدُ. فَأَبْصَرَتْ عَيْنَايَ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ عَلَى[3] جَبْهَتِهِ أَثَرُ الْمَاءِ وَالطِّينِ مِنْ صُبْحِ إِحْدَى وَعِشْرِينَ».[4]

ترجمه: د ابو سعيد الخدري رضي الله عنه نه روايت دے چې بيشکه نبي ﷺ اعتکاف اوکړو په لسو منيځنو شپو د رمضان کې نو يو کال ئې داسې اعتکاف اوکړو تردې چې کله يوويشتمه (۲۱) شپه شوه او دا هغه شپه وه چې نبي ﷺ راووتلو د دغې په سحر کې د اعتکاف نه، نبي ﷺ اوفرمائيل: چا چې زما سره اعتکاف کړے وي نو هغه دې (بيا) اعتکاف اوکړي په لسو اخرنو شپو کې، په تحقيق سره ما ته دا شپه (د ليلة القدر) اوښودلے شوه بيا مې هيره کړه په تحقيق سره ما خپل ځان اوليدلو چې ما سجده کيښودله په اوبو او خټه کې د دغه شپې په سحر کې، نو تاسو اولټوئ دغه شپې لره د لسو اخرنو شپو په طاق (وتر)

---

(1) «في»: ليست في نسخة الزهيري، ولا في البخاري، برقم 2027.

(2) «قال»: ليست في نسخة الزهيري.

(3) في نسخة الزهيري: «وعلى جبهته» هو لفظ البخاري، برقم 2027.

(4) رواه البخاري، كتاب الاعتكاف، باب الاعتكاف في العشر الأواخر، والاعتكاف في المساجد كلها، واللفظ له، برقم 2027، ومسلم، كتاب الصيام، باب فضل ليلة القدر، والحث على طلبها، وبيان محلها، وأرجى أوقات طلبها برقم 1167.

کې (ابو سعيد ﷺ فرمائي : په دغه شپه باران اوشو او مسجد په څپر باندې وو نو مسجد رااوبيدلو ، زما
سترګو نبي ﷺ اوليدلو چې د هغه په تندي باندې اثر د اوبو او خټې وو په سحر د يوويشتمې (۲۱) شپې .

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا خبره فهم شوه چې د ليلة القدر شپه په اخرنو لسو شپو کې تالاش کولے شي .

❊❊❊

بَابُ الاعْتِكَافِ

باب دے په بیان د اعکاف کې.

***

اعتکاف په اخر نولسو شپو کې

214 - عَنْ عَائِشَةَ -رضي الله عنها «أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ[1] كَانَ يَعْتَكِفُ فِي[2] الْعَشْرِ الأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ، حَتَّى تَوَفَّاهُ اللهُ تعالى، ثُمَّ اعْتَكَفَ أَزْوَاجُهُ مِنْ[3] بَعْدِهِ»[4].

وَفِي لَفْظٍ: «كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَعْتَكِفُ فِي كُلِّ رَمَضَانَ، فَإِذَا صَلَّى الْغَدَاةَ جَاءَ مَكَانَهُ الَّذِي اعْتَكَفَ فِيهِ»[5].

ترجمه: د عائشه رضي الله عنها نه روایت دے چې بیشکه نبي ﷺ به اعتکاف کولو په آخرنو لسو شپو د رمضان کې تردې چې الله ﷻ وفات کړو بیا به اعتکاف کولو بیبیانو د هغه روستو د هغه نه.

بل روایت کې: چې نبي ﷺ به په هر رمضان کې اعتکاف کوو، کله چې به ئې د سحر مونځ اوکړو خپل هغه ځائې ته به راغے په کوم ځائې کې چې به ئې اعتکاف کولو.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دوه خبرې فهم شوې یوه دا چې اعتکاف سنت عمل دے او دویم دا چې معتکف خاني ته به د یوویشتم سحر مونځ نه پس داخلیږي.

---

(1) في نسخة الزهيري: «أن النبي ﷺ»

(2) «في»: ليست في نسخة الزهيري

(3) «من»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في البخاري، برقم 2026

(4) رواه البخاري، كتاب الاعتكاف، باب الاعتكاف في العشر الأواخر، واللفظ له برقم 2026، ومسلم، كتاب الاعتكاف، باب اعتكاف العشر الأواخر من رمضان، برقم 5-(1172).

(5) رواه البخاري، كتاب الاعتكاف، باب الاعتكاف في شوال، برقم 2041

حائضه زنانه د معتکف سر وینځلی شي

215 ـ عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها : «أَنَّهَا كَانَتْ تُرَجِّلُ النَّبِيَّ ﷺ وَهِيَ حَائِضٌ ، وَهُوَ مُعْتَكِفٌ فِي الْمَسْجِدِ ، وَهِيَ فِي حُجْرَتِهَا ، يُنَاوِلُهَا رَأْسَهُ»[1] . وفي رواية ، «وَكَانَ لا يَدْخُلُ الْبَيْتَ إِلاَّ لِحَاجَةِ الإِنْسَانِ»[2] . وَفِي رِوَايَةٍ : «أَنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ : إِنِّي كُنْتُ لأَدْخُلُ الْبَيْتَ لِلْحَاجَةِ ـ وَالْمَرِيضُ فِيهِ ـ فَمَا أَسْأَلُ عَنْهُ إِلاَّ وَأَنَا مَارَّةٌ»[3] . التَّرْجِيل : تَسْرِيحُ الشعر.

ترجمه: د عائشه رضي الله عنها نه روایت دے چې دې به د نبي ﷺ سر ګمنځولو او دا به حائضه وه او نبي ﷺ به معتکف وو په مسجد کې او عائشه رضي الله عنها به په خپله حجره کې وه (نبي ﷺ به) خپل سر هغې ته بهر کړے وو. بل روایت کې دي : چې نبي ﷺ به کور ته نه داخلیدلو مګر د حاجت انساني د وجې نه (به داخلیدلو). په بل روایت کې دي چې بیشکه عائشه رضي الله عنها فرمائي : زه به کور ته داخلیدلم د حاجت د وجې نه او مریض به په هغې کې وو نو ما به د هغه تپوس نه کوو مګر په داسې حال کې چې زه به روانه ووم.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم شوه چې معتکف د مسجد نه د ضرورت په بناء وتلے شي.

❋❋❋

(1) رواه البخاري، كتاب الحيض، باب غسل الحائض رأس زوجها وترجيله، برقم 296، وكتاب الاعتكاف باب المعتكف يدخل رأسه البيت للغسل، برقم 2046، واللفظ له، ومسلم، كتاب الحيض، باب جواز غسل الحائض رأس زوجها وترجيله وطهارة سؤرها، والاتكاء في حجرها وقراءة القرآن فيه، برقم 9- (297).

(2) رواه البخاري في الاعتكاف، باب لا يدخل البيت إلا لحاجة برقم 2029، ومسلم، كتاب الحيض، باب جواز غسل الحائض رأس زوجها وترجيله وطهارة سؤرها، والاتكاء في حجرها وقراءة القرآن فيه واللفظ له برقم 297.

(3) مسلم، كتاب الحيض، باب جواز غسل الحائض رأس زوجها وترجيله وطهارة سؤرها، والاتكاء في حجرها وقراءة القرآن فيه (297)

د جاهليت نذر په اسلام کې پوره کول

216 ـ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ﷺ قَالَ : « قُلْتُ : يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنِّي كُنْتُ نَذَرْتُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ : أَنْ أَعْتَكِفَ لَيْلَةً .

وَفِي رِوَايَةٍ : يَوْماً ـ فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ؟ قَالَ : «فَأَوْفِ بِنَذْرِكَ» .[1] ـ وَلَمْ يَذْكُرْ بَعْضُ الرُّوَاةِ «يَوْماً» ولا «لَيْلَةً»

ترجمه: د عمر ﷺ نه روايت دے دا فرمائي : چې ما نبي ﷺ ته اوفرمائيل : اے د الله رسوله ! يقيناً ما نذر کړے وو په جاهليت کې چې زه يوه شپه اعتکاف کوم ،

بل روايت کې دي : يوه ورځ په مسجد حرام کې ؟ نبي ﷺ اوفرمائيل : پوره کړه خپل نذر.

مصنف رحمه الله فرمائي : چې بعض راويانو «يَوْماً» او «لَيْلَةً» الفاظ نه دي ذکر کړي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې کوم نذر چا کړے وي هغه به پوره کوي اګر که په جاهليت کې ئې کړے وي.

***

د معتکف خواله د هغه بي بي راتلل

217 ـ عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ حُيَيٍّ رضي الله عنها «كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ[2] مُعْتَكِفًا في المسجد[3] ، فَأَتَيْتُهُ أَزُوْرُهُ لَيْلاً فَحَدَّثْتُهُ ، ثُمَّ قُمْتُ لأَنْقَلِبَ ، فَقَامَ مَعِي لِيَقْلِبَنِي ـ وَكَانَ مَسْكَنُهَا فِي دَارِ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ ـ فَمَرَّ

---

(1) رواه البخاري، كتاب الاعتكاف، باب الاعتكاف ليلاً، برقم 2032، وقوله: إِنَّهُ كَانَ «عَلَيَّ اعْتِكَافُ يَوْمٍ فِي الجَاهِلِيَّةِ» رواية للبخاري، برقم 3144، ومسلم، برقم 7- (1656) ، ومسلم، كتاب الأيمان والنذور، باب نذر الكافر وما يفعل فيه إذا أسلم، برقم 1656.

(2) في نسخة الزهيري: «كان النبي ﷺ».

(3) «في المسجد»: ليست في نسخة الزهيري.

رَجُلانِ مِنَ الأَنْصَارِ، فَلَمَّا رَأَيَا رَسُولَ اللهِ ﷺ أَسْرَعَا في المشي[1]، فَقَالَ[2]: «عَلَى رِسْلِكُمَا، إِنَّهَا صَفِيَّةُ بِنْتُ حُيَيٍّ»، فَقَالَا: سُبْحَانَ اللهِ! يَا رَسُولَ اللهِ، فَقَالَ: «إِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِي مِنْ ابْنِ آدَمَ مَجْرَى الدَّمِ، وَإِنِّي خِفْتُ[3] أَنْ يَقْذِفَ فِي قُلُوبِكُمَا شَرًّا» أَوْ قَالَ: «شَيْئًا»[4]. وَفِي رِوَايَةٍ: «أَنَّهَا جَاءَتْ تَزُورُهُ فِي اعْتِكَافِهِ فِي الْمَسْجِدِ فِي الْعَشْرِ الأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ، فَتَحَدَّثَتْ عِنْدَهُ سَاعَةً، ثُمَّ قَامَتْ تَنْقَلِبُ، فَقَامَ النَّبِيُّ ﷺ مَعَهَا يَقْلِبُهَا، حَتَّى إِذَا بَلَغَ[5] بَابَ الْمَسْجِدِ عِنْدَ بَابِ أُمِّ سَلَمَةَ، ثُمَّ ذَكَرَهُ بِمَعْنَاهُ»[6].

ترجمه: صفيه رضي الله عنها نه روايت دے چې نبي ﷺ معتکف وو په مسجد کې نو زه ورته راغلم ملاقات مې ورله کوو د شپې ما ورسره خبرې اترې اوکړې، بيا پاځيدلم چې کور ته واپس شم، نو نبي ﷺ هم زما سره پاځيدلو د دې دپاره چې ما کور ته واپس کړي (راوي وائي چې کور د هغې په محله د اسامه بن زيد کې وو) نو دوه کسان (په لاره) تيريدل او دا د انصارو نه وو، نو هر کله چې دوي نبي ﷺ وليدلو نو تيز شو په مزل کې، نو نبي ﷺ ورته اووفرمائيل: په خپل صلو مزل ځئ يقيناً دا صفيه بنت حيي ده، هغوي اووئيل: سُبْحَانَ اللهِ! اے د الله رسوله! نبي ﷺ ورته اوفرمائيل: يقيناً شيطان روان وي په انسان کې په ځائي د روانيدلو د وينه کې او زه يريږم چې وابه چوي ستاسو په زړونو کې (د) شر (وسوسې) او يا ئې داسې اووئيل: چې څه شے به ستاسو په زړونو کې واچوي.

بل روايت کې دي: صفيه ﷺ راغله ملاقات ئې کولو په وخت د اعتکاف د نبي ﷺ کې چې هغه په

---

(1) «في المشي»: ليست في نسخة الزهيري.

(2) في نسخة الزهيري: «فقال النبي ﷺ».

(3) في نسخة الزهيري: «خشيت».

(4) رواه البخاري، كتاب الاعتكاف، باب هل يخرج المعتكف لحوائجه إلى باب المسجد، برقم 2035، ومسلم، كتاب السلام، باب بيان أنه يستحب لمن رؤي خالياً بامرأة وكانت زوجة أو محرماً له أن يقول: هذه فلانة ليدفع ظن السوء به، برقم 2175.

(5) في نسخة الزهيري: «بلغت».

(6) رواه البخاري، كتاب الاعتكاف، باب هل يخرج المعتكف لحوائجه إلى باب المسجد، برقم 2035، ومسلم، كتاب السلام، باب بيان أنه يستحب لمن رؤي خالياً بامرأة وكانت زوجة أو محرماً له أن يقول: هذه فلانة ليدفع ظن السوء به، برقم، 25- (2175).

مسجد کې وو په آخرنو لسو شپو د رمضان کې، نو د نبي ﷺ سره چې څه وخت خبرې اوکړې بيا پاڅيدله چې واپس شي کور ته نو نبي ﷺ ورسره هم پاڅيدلو د دې دپاره چې هغه کور ته واپس کړي تردې چې د مسجد دروازې ته ورسيدل چې دا په خوا د دروازې د ام سلمه رضي الله عنها کې وه، بيا ئې د دې حديث معنى ذکر کړه.

مفهوم د حديث

په دې حديث کې دوه خبرې ذکر شوې يوه دا چې د معتکف ملاقات جائز دے ا دويم دا چې هغه د ضرورت په بناء د مسجد نه بهر وتلے شي.

❋❋❋

كتابُ الحجّ

باب دے په بيان د حج کې.

***

بَابُ الْمَوَاقِيْتِ

باب دے په بيان د مواقيتو کې.

مواقيت داحرام

218 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ ﵄ : «أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ وَقَّتَ لأَهْلِ الْمَدِينَةِ ، ذَا الْحُلَيْفَةِ ، وَلأَهْلِ الشَّامِ ، الْجُحْفَةَ ، وَلأَهْلِ نَجْدٍ ، قَرْنَ الْمَنَازِلِ ، وَلأَهْلِ الْيَمَنِ ، يَلَمْلَمَ، وقَالَ[1] : «هُنَّ لَهُنَّ ، وَلِمَنْ أَتَى عَلَيْهِنَّ مِنْ غَيْرِ أَهْلِهِنَّ[2] ، مِمَّنْ أَرَادَ الْحَجَّ أَوِ الْعُمْرَةَ[3] ، وَمَنْ كَانَ دُونَ ذٰلِكَ : فَمِنْ حَيْثُ أَنْشَأَ ، حَتَّى أَهْلُ مَكَّةَ مِنْ مَكَّةَ». [4].

ترجمه: د عبد الله بن عباس ﵄ روايت دے بيشکه نبي ﷺ ميقات مقرر کړے دے د مديني والاؤ دپاره ذوالحليفه او د شام والاؤ دپاره ئې (ميقات) جحفه مقرر کړے دے او د نجد والاؤ دپاره ئې قرن منازل مقرر کړے دے او د يمن والاؤ دپاره ئې يلملم مقرر کړے دے او نبي ﷺ فرمائيلي دي: دا ميقاتونه د هغوي د اهل دپاره دي او د هغه چا دپاره چې څوک په دغه ميقاتونو راځي هغه خلق چې د

---

(1) «وقال» ليست في نسخة الزهيري، وهي ليست في البخاري، برقم 1524.

(2) في نسخة الزهيري: «من غيرهن» وهي في البخاري، برقم 1524، وفي رقم 1526: «من غير أهلهن».

(3) في نسخة الزهيري: «الحج والعمرة»، وهي في البخاري، برقم 1524، ومسلم، برقم 1181، وفي جميع روايات البخاري ومسلم أيضاً.

(4) رواه البخاري، كتاب الحج، باب مُهلّ أهل مكة للحج والعمرة، برقم 1524، وباب مهل أهل الشام، برقم 1526، وباب مهل من كان دون المواقيت، برقم 1529، ومسلم، كتاب الحج، باب مواقيت الحج والعمرة، برقم 1181.

دغه علاقو نه وي (او په دغه میقاتونو راتیریږي) د حج او عمرې اراده لري او څوک چې د دغه میقاتونو نه په اخوا (یعنې یو طرف ته) وي د کوم ځائي نه چې احرام اوتړو (جائز دے) تردې چې د مکې والا به ئې د مکې نه تړي.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دوه خبرې فهم شوې دي یوه دا چې احرام د میقات نه تړل لازم دي او دویمه دا چې که د چا ځایونه د دغه میقاتونو نه په سیټ وي نو هغوي دې د خپلو ځایونو نه احرام تړي تردې چې د مکې والا به د مکې نه احرام تړي.

دمدینې والاؤ میقات

219 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رضي الله عَنْهما : أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ : «يُهِلُّ أَهْلُ الْمَدِيْنَةِ مِنْ ذِي الْحُلَيْفَةِ، وَأَهْلُ الشَّامِ مِنَ الْجُحْفَةِ، وَأَهْلُ نَجْدٍ : مِنْ قَرْنٍ». قَالَ عَبْدُ اللهِ : وَبَلَغَنِي أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ : «وَيُهِلُّ[1] أَهْلُ الْيَمَنِ مِنْ يَلَمْلَمَ».[2]

ترجمه: د عبد الله بن عمر ﷺ نه روایت دے چې پې شکه نبي ﷺ فرمائیلي دي : د مدینې والا به د ذو الحلیفة نه احرام تړي او د شام والا به د جحفې نه احرام تړي او د نجد والا به د قرن نه احرام تړي. عبد الله ﷺ فرمائي : ما ته رارسیدلي دي چې بیشکه نبي ﷺ فرمائیلي دي : د یمن والا به د یلملم نه احرام تړي.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه هم دا خبره فهم کیږي چې احرام د میقات نه تړل لازم دي.

❊❊❊

(1) في نسخة الزهيري: «ومُهَلُّ».

(2) رواه البخاري، كتاب الحج، باب ميقات أهل المدينة، ولا يهلّوا قبل ذي الحليفة، برقم 1525، ومسلم، كتاب الحج، باب مواقيت الحج والعمرة، برقم 1182، واللفظ له.

بَابُ مَا يَلْبَسُ الْمُحْرِمُ مِنْ الثِّيَابِ

باب دے په بيان د هغه کپړې کې چې محرم يې اچوي.

❋❋❋

ممنوع اشياء د محرم دپاره

220 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رضي اللهِ عَنْهما: «أَنَّ رَجُلاً قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، مَا يَلْبَسُ الْمُحْرِمُ مِنَ الثِّيَابِ؟ قَالَ[1]: «لا يَلْبَسُ الْقُمُصَ، وَلا الْعَمَائِمَ، وَلا السَّرَاوِيلاتِ، وَلا الْبَرَانِسَ، وَلا الْخِفَافَ، إلاَّ أَحَدٌ لا يَجِدُ نَعْلَيْنِ فَلْيَلْبِسِ الخُفَّيْنِ، وَلْيَقْطَعْهُمَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ، وَلا يَلْبَسْ مِنَ الثِّيَابِ شَيْئاً مَسَّهُ زَعْفَرَانٌ أَوْ وَرْسٌ».[2]

وللبخاري «وَلا تَنْتَقِبُ الْمُحرمة[3] وَلا تَلْبَسُ الْقُفَّازَيْنِ».[4]

ترجمه: د عبد الله بن عمر ﷛ نه روايت دے چې بيشکه يو کس اوفرمائيل: اے د الله رسوله! محرم به کوم (قسم) کپړې اچوي؟ هغه اوفرمائيل: قميص به نه اچوي او پټکے به نه تړي، پرتوګ به نه اچوي، او توږۍ (هغه توږۍ چې کپړې پسې نښتي وي) او موزې به نه اچوي مګر که يو کس چپړې نه

---

(1) في نسخة الزهيري: «قال رسول الله ﷺ»، وهي في البخاري، برقم 1542.

(2) رواه البخاري، كتاب الحج، باب الإهلال عند مسجد ذي الحليفة، برقم 1542، ولفظه: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ ب، أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا يَلْبَسُ الْمُحْرِمُ مِنَ الثِّيَابِ؟ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «لاَ يَلْبَسُ القُمُصَ، وَلاَ العَمَائِمَ، وَلاَ السَّرَاوِيلاَتِ، وَلاَ البَرَانِسَ، وَلاَ الخِفَافَ إِلَّا أَحَدٌ لاَ يَجِدُ نَعْلَيْنِ، فَلْيَلْبَسْ خُفَّيْنِ، وَلْيَقْطَعْهُمَا أَسْفَلَ مِنَ الكَعْبَيْنِ، وَلاَ تَلْبَسُوا مِنَ الثِّيَابِ شَيْئًا مَسَّهُ الزَّعْفَرَانُ أَوْ وَرْسٌ»، ومسلم، كتاب الحج، باب ما يُباح للمحرم بحج أو عمرة، وما لا يُباح، وبيان تحريم الطيب عليه، برقم 1177، ولفظه: «عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ رضي الله عنه، قَالَ: سُئِلَ النَّبِيُّ ﷺ: مَا يَلْبَسُ الْمُحْرِمُ؟ قَالَ: «لَا يَلْبَسُ الْمُحْرِمُ الْقَمِيصَ، وَلَا الْعِمَامَةَ، وَلَا الْبُرْنُسَ، وَلَا السَّرَاوِيلَ، وَلَا ثَوْبًا مَسَّهُ وَرْسٌ وَلَا زَعْفَرَانٌ وَلَا الْخُفَّيْنِ، إِلَّا أَنْ لَا يَجِدَ نَعْلَيْنِ فَلْيَقْطَعْهُمَا، حَتَّى يَكُونَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ».

(3) في نسخة الزهيري: «المرأة».

(4) رواه البخاري، كتاب جزاء الصيد، باب ما يُنهى من الطيب للمحرم والمحرمة، برقم 1838، ولفظه: «ولا تنتقب المرأة المحرمة، ولا تلبس القفازين».

مومي موزې دې واچوي او کټ دې کړي هغې لره لاندې د کېټکو نه، او نه دې اچوي د کپړو نه هغه کپړې چې رسيدلي وي هغې ته زعفران او ورس.

په روايت د بخاري کې دي: او نقاب دې نه اچوي محرمه زنانه او نه دې دستانې اچوي.

مفهوم د حديث

په دې حديث کې دا خبره بيان شوه چې محرم به د قميص، پرتوګ، موزې، پټکې، توپۍ، خوشبوداره کپړو نه ځان ساتي.

***

د ضرورت په وخت کې محرم دپاره موزې اچول جائز دي

221 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما، قَالَ: «سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَخْطُبُ بِعَرَفَاتٍ: «مَنْ لَمْ يَجِدْ نَعْلَيْنِ فَلْيَلْبَسِ الْخُفَّيْنِ، وَمَنْ لَمْ يَجِدْ إِزَاراً فَلْيَلْبَسْ سَرَاوِيلَ» يَعْنِي[1] لِلْمُحْرِمِ».[2]

ترجمه: د عبد الله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دے دا فرمائي: ما د نبي ﷺ نه اوريدلي دي او هغه خطبه کوله په عرفات کې (فرمائيل ئې) څوک چې چپړې نه بيامومي نو موزې دې واچوي، او څوک چې لنګ نه بيامومي نو پرتوګ دې واچوي. يعنې دا حکم د محرم دپاره دے.

مفهوم د حديث

په دې حديث کې دا خبره بيان شوه چې څوک پيزار او لنګ نه بيامومي نو موزې او پرتوګ اچولے شي.

***

---

(1) «يعني»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في صحيح مسلم، برقم 1178.

(2) في رواية للبخاري: «للمحرم» برقم 1841، ولمسلم: «يعني المحرم» برقم 4-(1178).

بَابُ التَّلْبِيَة

باب دے په بيان د تلبيه کې.

د تلبيه الفاظ

222 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رضي اللهِ عَنْهما «أَنَّ تَلْبِيَةَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ : «لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ، لا شَرِيكَ لَكَ» .[1]. قَالَ : وَكَانَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ يَزِيدُ فِيهَا : لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ، وَالْخَيْرُ بِيَدَيْكَ، لَبَّيْكَ[2]، وَالرَّغْبَاءُ إِلَيْكَ وَالْعَمَلُ.[3].

ترجمه: عبد الله بن عمر ﷺ نه روايت دے چې بيشکه تلبيه د نبي ﷺ دا وه «لَبَّيْكَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ. إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ، لا شَرِيكَ لَكَ» حاضر يم ستا د خبرې قبلولو ته اے الله حاضر يم ستا د خبرې قبلولو ته، حاضر يم ستا د خبرې قبلولو ته، نشته دے شريک ستا دپاره، حاضر يم ستا د خبرې قبلولو ته، يقيناً حمد او نعمت ستا دپاره دي او بادشاهي هم، نشته دے شريک ستا دپاره.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه د نبي ﷺ د تلبيې طريقه فهم شوه.

❋❋❋

د زنانه دپاره سفر بغير د محرم نه حرام دے

223 ـ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ[4] : «لا يَحِلُّ لامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ، أَنْ

---

(1) رواه البخاري، كتاب الحج، باب التلبية، برقم 1549، واللفظ له، ومسلم، كتاب الحج، باب التلبية وصفتها ووقتها، برقم 1184.

(2) «لبيك» الثالثة: ليست في نسخة الزهيري، وهي في مسلم، برقم 1184.

(3) هذه الزيادة لمسلم، كتاب الحج، باب التلبية وصفتها ووقتها، برقم 1184، وهو في موطأ مالك، 3/ 479، برقم 1192.

(4) في نسخة الزهيري: «قال النبي ﷺ».

تُسَافِرَ مَسِيرَةَ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ ليس مَعَها[1] حُرْمَةٌ»[2].

وَفِي لَفْظٍ لِلْبُخَارِيِّ: «لا تُسَافِرُ يوماً، ولا ليلة[3]، إلاَّ مَعَ ذِي مَحْرَمٍ»[4].

ترجمه: د ابو هريره ﷺ نه روايت دے دا فرمائي: نبي ﷺ فرمائيلي دي: نه دي حلال د يوې زنانه دپاره چې ايمان لري په الله ﷻ او په ورځ د آخرت باندې (حلال ورله دا نه دي) چې سفر كوي په مقدار د يوې ورځ او شپې او د هغې سره مَحْرم نه وي.

په روايت د بخاري كې دي: سفر دې نه كوي يوه ورځ او شپه مګر د محرم سره.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا خبره فهم شوه چې د زنانه دپاره بغير د محرم نه سفر كول حرام دي.

***

(1) في نسخة الزهيري: «إلا ومعها حرمة»، والذي في البخاري، برقم 1088: «ليس معها حرمة» كما في المتن.

(2) رواه البخاري، أبواب تقصير الصلاة، باب في كم يقصر الصلاة، برقم 1088، واللفظ له، ومسلم، كتاب الحج، باب سفر المرأة مع محرم إلى حج وغيره، برقم 421- (1339)، ولفظه: عن أبي هُرَيْرَةَ ﷺ، قال: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ «لا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ مُسْلِمَةٍ تُسَافِرُ مَسِيرَةَ لَيْلَةٍ إِلَّا وَمَعَهَا رَجُلٌ ذُو حُرْمَةٍ مِنْهَا».

(3) في نسخة الزهيري: «تسافر مسيرة يوم إلا مع ذي محرم».

(4) لم أقف على هذا اللفظ في صحيح البخاري، وهو في صحيح مسلم، كتاب الحج، باب سفر المرأة مع محرم إلى حج وغيره، برقم 20- (1339)، ولفظه: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، تُسَافِرُ مَسِيرَةَ يَوْمٍ إِلَّا مَعَ ذِي مَحْرَمٍ» وفي مسلم، برقم 21- (1239): «لا يحل لامرأة تؤمن بالله واليوم الآخر تسافر مسيرة يوم وليلة إلا مع ذي محرم عليها».

بَابُ الْفِدْيَةِ

باب دے په بيان د فديه کې.

د محرم دپاره په وخت د ضرورت کې بعض کارونه جائز دي

224 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَعْقِلٍ ، قَالَ : «جَلَسْتُ إِلَى كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ فَسَأَلْتُهُ عَنْ الْفِدْيَةِ؟ فَقَالَ : نَزَلَتْ فِيَّ خَاصَّةً ، وَهِيَ لَكُمْ عَامَّةً ! حُمِلْتُ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ ، وَالْقَمْلُ يَتَنَاثَرُ عَلَى وَجْهِي . فَقَالَ : «مَا كُنْتُ أُرَى الْوَجَعَ بَلَغَ بِكَ مَا أَرَى ـ أَوْ مَا كُنْتُ أُرَى الْجَهْدَ بَلَغَ بِكَ مَا أَرَى ـ أَتَجِدُ شَاةً؟ «فَقُلْتُ : لا ، قَالَ : «فصُمْ ثَلاثَةَ أَيَّامٍ ، أَوْ أَطْعِمْ سِتَّةَ مَسَاكِينَ ، لِكُلِّ مِسْكِينٍ نِصْفُ صَاعٍ». [1].

وَفِي رِوَايَةٍ : «فَأَمَرَهُ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : أَنْ يُطْعِمَ فَرَقاً بَيْنَ سِتَّةِ مَسَاكِينَ [2] ، أَوْ يُهْدِيَ شَاةً ، أَوْ يَصُومَ ثَلاثَةَ أَيَّامٍ». [3].

ترجمه: د عبد الله بن مغفل ؓ نه روايت دے دا فرمائي : زه د كعب بن عجره ؓ سره كيناستم تپوس مې ترې نه اوکړو د فدیې په باره کې ؟ هغه اوفرمائيل : (هغه آيت كريمه) خصوصاًزما په باره کې نازل شوے دے او عموماً ستاسو په باره کې نازل شوے دے ، زه نبي ﷺ ته وروړلے شوم او سپږې زما په مخ راوریدلې ، نبي ﷺ اوفرمائيل : زه نه وینم درد لره چې ته ئې رسولے ئې هغه حالت ته کوم چې زه وینم ، او یا نه یم زه چې وینم تکلیف چې رسولے ئې ته هغه حالت ته چې زه ئې وینم ، آیا ته ګډ ، چیلے مومې ؟ ما ورته اووئیل : نهٔ ! هغه اووئیل : درې ورځې روژې اونیسه ، او یا شپږو مسکینانو

---

(1) رواه البخاري، كتاب المحصر، باب الإطعام في الفدية نصف صاع، برقم 1816، بلفظه، وكتاب التفسير، باب قوله: ﴿فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ﴾ [البقرة: 196]، برقم 4517، ومسلم، كتاب الحج، باب جواز حلق الرأس للمحرم إذا كان به أذى، ووجوب الفدية لحلقه، وبيان قدرها، برقم 1201.

(2) «مساكين»: ليست في نسخة الزهيري، وهي ليست في البخاري، برقم 1817.

(3) رواه البخاري، كتاب المحصر، باب النسك شاة، برقم 1817، واللفظ له، ومسلم بنحوه برقم 82- (1201).

ته طعام ورکړه، او یا یو ګډ هدیه کړه، او یا درې ورځې روژې اونیسه.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا خبره فهم شوه چې د احرام په دوران کې یو کس سر وخروي نو هغه به فدیه ورکوي او هغه یو ګډ دے، یا شپږو ورځې روژې نیول دي، او یا درې مسکینانو ته طعام ورکول دي.

***

بَابُ حُرْمَةِ مَكَّةَ

باب دے په بيان د حرمت د مکې کې.

دمکې په حرم کې ښکرونې حرامه ده

(1) رواه البخاري، كتاب جزاء الصيد، باب إذا أهدى للمحرم حماراً وحشياً حياً لم يقبل، برقم (1825)، واللفظ له ومسلم، كتاب الحج، باب تحريم الصيد للمحرم، برقم 1193.

(2) في نسخة الزهيري: «وفي لفظ لمسلم».

(3) رواه مسلم، كتاب الحج، باب تحريم الصيد للمحرم، برقم 54- (1193).

(4) رواه مسلم، كتاب الحج، باب تحريم الصيد للمحرم، برقم 54- (1193).

وجه[2] هذا الحديث: أنه ظنَّ أنه صِيْدَ لأجله، والمحرم لا يأكل ما صيد لأجله.

ترجمه: صعب بن جثامه ﷺ روايت نقل كوي، چې ده نبي ﷺ ته وحشي (ځنګلي) خر هديه كړو او نبي ﷺ په ابواء مقام كې وو، او يا په بوادان مقام كې وو، نبي ﷺ هغه واپس كړو هغه ته، نو هر كله چې نبي ﷺ خفګان د هغه صحابي په مخ كې وليدلو، نو اوئي فرمائيل: دا مونږ تاسو ته واپس نه كړو مګر په دې وجه چې مونږ په احرام كې يو.

په بل روايت كې دي: ښپه د خر، بل روايت كې دي، يو طرف د خر، بل روايت كې دي، لكمنے د خر.

مصنف رحمه الله فرمائي: چې وجه د دې خبرې دا وه چې نبي ﷺ ګمان اوكړو چې كېنې دا ښكار د ده د وجې نه شوے دے، او محرم كس به خوراک نه كوي د هغه ښكار نه چې د ده د وجې نه شوے وي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د محرم دپاره ښكار اوكړے شو نو محرم به د هغې نه خوراک نه كوي، او كه د دې دپاره نه وي شوے نو بيا ترېنه خوراک كولے شي.

❋❋❋

(1) رواه مسلم، كتاب الحج، باب تحريم الصيد للمحرم، برقم 54- (1193).

(2) في نسخة الزهيري: «قال المصنف: وجه هذا الحديث...».

كتاب البيوع

كتاب ثابت دے په بيان د بيعګانو کې.

***

داخستونكي او خرڅونكي دپاره خيار مجلس

259ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ أنه قَالَ: «إِذَا تَبَايَعَ الرَّجُلانِ فَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا بِالْخِيَارِ، مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا، وَكَانَا جَمِيعاً، أَوْ يُخَيِّرَ أَحَدُهُمَا الآخَرَ، فَإِنْ خَيَّرَ أَحَدُهُمَا الآخَرَ[1]، فَتَبَايَعَا عَلَى ذَلِكَ، فَقَدْ وَجَبَ الْبَيْعُ، وَإِنْ تَفَرَّقَا بَعْدَ أَنْ تَبَايَعَا وَلَمْ يَتْرُكْ واحدٌ مِنْهُمَا الْبَيعَ، فَقَدْ وَجَبَ الْبَيْعُ[2]»[3].

ترجمه: عبد الله بن عمر ﷺ د نبي ﷺ نه نقل كوي، يقيناً نبي ﷺ فرمائي: كله چې دوه كسان بيع كوي نو هر يو د دوي نه په اختيار سره دے، (يعنى هر يو لره اختيار دے) تر څو چې جدا شوي نه وي، (د يو بل نه) او دا دواړه يو ځائي وي، او يا اختيار وركړي يو د دوي نه بل لره، نو په دغه (اختيار) باندې بيع اوكړي نو بيع واجب شوه، او كه جدا شول روسته د دې نه چې بيع اوكړي، او پرې نه ږدي يو كس د دوي نه بيع نو په تحقيق سره بيع واجب شوه.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا خبره فهم شوه چې كله اخستونكے او خرڅونكے بيع اوكړي نو دوي لره په دغه مجلس كې اختيار دے كه بيع برقراره پرېږدي او كه ماتوي ئې.

***

(1) «فإن خَيَّرَ أحدُهما الآخَرَ» ليست في نسخة الزهيري، وهي عند مسلم، برقم 1531.

(2) «وإنْ تفرَّقَا بعدَ أن تَبَايَعا ولمْ يترُكْ واحدٌ منهما البيعَ، فقدْ وجبَ البيعُ» ليست في نسخة الزهيري، وهي عند البخاري، برقم 2112، ومسلم، برقم 44-(1531).

(3) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب إذا خيّر أحدهما صاحبه بعد البيع، برقم 2112، ومسلم، كتاب البيوع، باب ثبوت خيار المجلس للمتبايعين، برقم 1531، واللفظ له.

خيار مجلس او د ريښتيا ويلو فضيلت په بيع کې

260 ـ عَنْ حَكِيم بِنِ حزامٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «الْبَيِّعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا ـ أَوْ قَالَ: حَتَّى يَتَفَرَّقَا ـ فَإِنْ صَدَقَا وَبَيَّنَا بُورِكَ لَهُمَا فِي بَيْعِهِمَا، وَإِنْ كَتَمَا وَكَذَبَا مُحِقَتْ بَرَكَةُ بَيْعِهِمَا»[1].

ترجمه: د حکيم بن حزام ﷺ نه نقل دي دا فرمائي: چې نبي ﷺ فرمائيلي دي، دوه بيع کونکي په اختيار سره دي، (يعنې دوي لره اختيار دے) تر څو چې جدا شوي نه وي، او يا ئي داسې وئيلي دي: تردې چې جدا شي، که چرته دوي ريښتيا اووئيل (او دهوکه ئي اونه کړه) او بيان (د عيب) ئي اوکړو، برکت به واچولے شي په بيع د دوي کې، او که (عيب ئي) پټ کړو او دروغ ئي اووئيل: (دوکه ئي اوکړه) لرې به کړے شي برکت د بيع د دوي نه.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا خبره فهم کيږي چې څوک په بيع کې ريښتيا وائي نو د هغې دپاره به په کې برکت واچولے شي.

***

(1) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب إذا بين البيعان ولم يكتما ونصحا، برقم 2079، واللفظ له، ومسلم، كتاب البيوع، باب الصدق في البيع والبيان، برقم 1532.

بَابٌ: مَا نُهِيَ عَنْهُ مِنَ الْبُيُوعِ[1]

باب دے په بيان د هغه بيع ګانو کې چې د هغې نه منع شوې ده.

بيع المنابذة والملامسه حرام دي

261 ـ عَنْ أَبِي سعيد الخدري ﷺ، «أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ[2] نَهَى عَنْ الْمُنَابَذَةِ، وَهِيَ طَرْحُ الرَّجُلِ ثَوْبَهُ بِالْبَيْعِ إِلَى الرَّجُلِ قَبْلَ أَنْ يُقَلِّبَهُ[3]، أَوْ يَنْظُرَ إِلَيْهِ وَنَهَى عَنَ الْمُلامَسَةِ، وَالْمُلامَسَةُ: لَمْسُ الرَّجُلِ[4] الثَّوْبَ لا يَنْظُرُ إِلَيْهِ»[5].

ترجمه: د ابو سعيد الخدري ﷺ نه نقل دي چې بې شکه نبي ﷺ منع کړې ده د (بيع د) منابذې نه، او دا (ديته وائي چې) ګزارل د يو کس دي کپړې خپلې له په (نيت د) بيع سره بل کس ته مخکې د دې نه چې هغه ئې واړوي راواړوي، او يا ورته اونه ګوري، او منع ئې کړې ده د (بيع) د ملامسې نه، (او دا ديته وائي چې) مسح کول د يو کس دي کپړې لره (په نيت د اخستلو) چې اونه ګوري هغې ته (او وائي خلې).

مفهوم د حديث

په دې حديث کې دوه هغه بيع ګانې ذکر شوې چې هغه حرامې دي، منابذه، ملامسه.

❊❊❊

(1) في قراءة القارئ على الشيخ: «باب ما نهى الله عنه من البيوع» وفي نسخة الزهيري: «باب ما نهي عنه من البيوع».

(2) في نسخة الزهيري: «أن رسول الله ﷺ».

(3) في نسخة الزهيري: «قبل يقلبه» بدون: أن، ولفظ المتن في البخاري، برقم 2144.

(4) «الرجل»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في البخاري، برقم 5820.

(5) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب بيع الملامسة، برقم 2144، واللفظ له، إلا كلمة «الرجل» ومسلم، كتاب البيوع، باب إبطال بيع الملامسة، والمنابذة، برقم 1512.

يو بل په بيع باندې تيزول ، ښارے د باندچي دپاره بيع كول د قافلې مخې ته ورتلل د بيع دپاره دا حرام دي

262 ـ وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ : «لا تَلَقَّوْا الرُّكْبَانَ، وَلا يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ، وَلا تَنَاجَشُوا، وَلا يَبِعْ حَاضِرٌ لِبَادٍ، وَلا تُصَرُّوا الإِبِلَ[1] وَالْغَنَمَ، وَمَنِ ابْتَاعَهَا فَهُوَ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ، بَعْدَ أَنْ يَحْلُبَهَا، إِنْ رَضِيَهَا أَمْسَكَهَا، وَإِنْ سَخِطَهَا رَدَّهَا وَصَاعاً مِنْ تَمْرٍ»[2].

وفي لفظ : «**وَهُوَ بِالْخِيَارِ ثَلاثاً**»[3].

ترجمه: د ابو هريره ﷺ نه نقل دي ، چې پې شکه نبي ﷺ فرمائيلي دي : تاسو مه مخامخ کيږئ د قافلې سره ، او نه دې بيع کوي بعض ستاسو نه په بيع د بعضو باندې ، او تاسو تيزي مه ورکوئ يو بل لره (په بيع کې) او بيع دې نه کوي ښارے د باندچي دپاره ، او تاسو يۍ مه بندوئ په غولانځو د اوښانو او ګاروکې ، او چا چې دغه ګاروے (د کوم په غولانځه کې چې يۍ حصار شوي دي) واخستلو ، نو دغه (کس) لره اختيار دے په يو د دوه نظرورنو کې ، روسته د لوه شلو نه ، که ئې خوښ کړو ځان سره دې حصار کړي ، او که خوښ ئې نه کړو واپس دې کړي (مالک ته) او يو صاع د کجورو دې ورسره هم واپس کړي.

په بل لفظ کې داسې دي ، دې کس لره درې ورځو پورې اختيار دے .

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا خبره فهم شوه چې په بيع کې دهوکه کول ناروا دي يو بل په بيع باندې تيزول او د

(1) في نسخة الزهيري: «ولا تصروا الغنم» ولم تذكر الإبل، ولفظ: «ولا تصروا الإبل والغنم» في البخاري، برقم 2148، ومسلم، (1515).

(2) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب النهي للبائع أن لا يحفل الإبل، برقم 2148، ورقم2150، واللفظ له، ومسلم، كتاب البيوع، باب تحريم بيع الرجل على بيع أخيه، وسومه على سومه، وتحريم النجش، وتحريم التصرية، برقم 1515، وقوله: «ولا تصروا الإبل والغنم»، كلمة الإبل في مسلم، وليست في البخاري.

(3) رواه مسلم، كتاب البيوع، باب حكم بيع المصراة، برقم 24- (1524).

څارووپه غلانځوکې پۍ بندول ناروا دي.

د جاهلیت والاؤ د بیع پشان بیع حرامه ده

263 ـ وعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ نَهَى عَنْ بَيْعِ حَبَلِ الْحَبَلَةِ، وَكَانَ[1] يَتَبَايَعُهُ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ، كَانَ الرَّجُلُ يَبْتَاعُ الْجَزُورَ إِلَى أَنْ تُنْتَجَ النَّاقَةُ، ثُمَّ تُنْتَجَ الَّتِي فِي بَطْنِهَا»[2].

ترجمه: د ابن عمر رضي الله عنه نه نقل دي، چې بې شکه نبي ﷺ منع کړې ده د بیع د حمل د حاملې (اوښې یا څاروي) نه، او دا (یوه بیع) وه چې جاهلیت والاؤ به کوله، یو کس به اوښان اخستل تر لنګیدلو د اوښې پورې، بیا به هغه اوښه لنګه شوه کومه چې د اوښې په خیټه کې وه.

«قِيلَ: إِنَّهُ كَانَ يَبِيعُ الشَّارِفَ ـ وَهِيَ الْكَبِيرَةُ الْمُسِنَّةُ ـ بِنِتَاجِ الْجَنِينِ الَّذِي فِي بَطْنِ نَاقَتِهِ»[3].

ترجمه: چا اووئیل: دا چې وه خرڅوله به غټه اوښه، په لنګیدلو د هغه بچي کوم چې په خیټه د اوښې کې وو.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا خبره فهم کیږي چې په کومه بیع کې ناخبرتیا وي هغه منع وي **مثلاً:** د اوښې په خیټه کې چې کوم بچے وي هغه خرڅول، یا د بل څاروي په خیټه کې وي دا ځکه ناروا ده چې په دې کې جهالت دے.

***

د میوو خرڅول مخکې د پخیدلو نه حرام دي

264 ـ وعَنْه، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ نَهَى عَنْ بَيْعِ الثَّمَرَةِ حَتَّى يَبْدُوَ صَلَاحُهَا، نَهَى الْبَائِعَ وَالْمُبْتَاعَ[4]»[1].

---

(1) في نسخة الزهيري: «وكان بيعاً» وهو في البخاري، برقم 2143.

(2) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب بيع الغرر وحبل الحبلة، برقم 2143، بلفظه، ومسلم، كتاب البيوع، باب تحريم بيع حبل الحبلة، برقم 1514.

(3) قلت: هذا من كلام المؤلف، وليس من الحديث كما ذكره الشيخ الأرنؤوط محقق عمدة الأحكام.

(4) في نسخة الزهيري: «نهى البائع والمشتري» وهي في رواية مسلم، برقم 1534.

ترجمه: ابن عمر ﷺ نه نقل دي، چې پې شکه نبي ﷺ منع کړې ده د خرڅولو د میوې نه تردې چې ښکاره شي د هغې صلاحیت (پوخوالے) منع کړي ئې دي خرڅونکے او اخستونکے.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا خبره فهم شوه چې کله میوه پخه شوې نه وي نو د هغې خرڅول ناروا دي.

❊ ❊ ❊

د پوخوالي نه مخکې د میوې خرڅول ممنوع دي

265 ـ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ، نَهَى عَنْ بَيْعِ الثِّمَارِ حَتَّى تُزْهِيَ، قِيلَ: وَمَا تُزْهِي؟ قَالَ: «حَتَّى تَحْمَرَّ» قَالَ: «أَرَأَيْتَ إِذَا مَنَعَ اللهُ الثَّمَرَةَ بِمَ يَسْتَحِلُّ أَحَدُكُمْ مَالَ أَخِيهِ؟»[2].

ترجمه: انس ﷺ نقل کوي، چې پې شکه نبي ﷺ منع کړې ده د خرڅولو د میوو نه تردې چې پوخوالي ته نزدې شي، چا اووئیل: د دې څه علامه ده، نبي ﷺ اوفرمائیل: تردې چې سرې شي، نبي ﷺ اوفرمائیل: ما ته خبر راکړه کله چې الله ﷻ منع اوکړي د میوې نه، نو په څه سره حلال ګڼي یو کس ستاسو نه مال د ورور خپل.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم شوه چې د میوو خرڅول مخکې د پخوالي نه منع دي خو چې کله میوه

---

(1) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب بيع الثمار قبل أن يبدو صلاحها، برقم 2194، ومسلم، كتاب البيوع، باب النهي عن بيع الثمار قبل بدو صلاحها بغير شرط القطع، برقم 1534، وفيهما جميعاً كلمة «بيع الثمار» لا «بيع الثمرة» إلا أنها وردت فيهما في روايات أخرى، فلفظ البخاري الآخر، برقم 2197: «أَنَّهُ نَهَى عَنْ بَيْعِ الثَّمَرَةِ حَتَّى يَبْدُوَ صَلَاحُهَا، وَعَنِ النَّخْلِ حَتَّى يَزْهُوَ» ولفظ مسلم، برقم 1554: «أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ نَهَى عَنْ بَيْعِ الثَّمَرَةِ حَتَّى تُزْهِيَ»، قَالُوا: وَمَا تُزْهِيَ؟ قَالَ: «تَحْمَرُّ»، فَقَالَ: «إِذَا مَنَعَ اللهُ الثَّمَرَةَ فَبِمَ تَسْتَحِلُّ مَالَ أَخِيكَ؟» وفي مسلم، برقم 1555: «نهى عن بيع ثمر النخل حتى تزهو، فقلنا لأنس: ما زهوها؟ قال: تحمرّ، وتصفرّ أرأيت إن منع الله الثمرة بما تستحل مال أخيك».

(2) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب إذا باع الثمار قبل أن يبدو صلاحها برقم 2198، ومسلم، كتاب البيوع، باب النهي عن بيع الثمار قبل بدو صلاحها بغير شرط القطع، برقم 1555.

سره يا زيره شي نو بيا خرڅول جائز دي، وجه دا ده چې که مخکې د پخوالي نه ميوه خرڅه شي نو هغې ته هر قسم افتونه متوجه وي کيدے شي هغه هلاکه شي نو اخستونکي ته به تاوان اوکړي.

د قافلې مخې له ورتلل د بيع دپاره جائز نه دي، ښاري سړي له جائز نه دي چې د بانډه چې دپاره بيع اوکړي

266 ـ وعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «نَهَى رَسُولُ اللهِ ﷺ أَنْ تُتَلَقَّى الرُّكْبَانُ، وَأَنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ» قَالَ: « فَقُلْتُ لابْنِ عَبَّاسٍ: مَا قَوْلُهُ: حَاضِرٌ لِبَادٍ؟ قَالَ: لا يَكُونُ لَهُ سِمْسَاراً»[1].

ترجمه: ابن عباس ﷺ فرمائي: منع کړې ده نبي ﷺ، د دې نه چې مخامخ کيدل اوکړے شي د قافلو سره، او (منع ئې کړې ده د دې نه چې) بيع اوکړي ښارے د بانډچي دپاره، راوي وائي: ما ابن عباس ﷺ ته اوونيل: د دې قول (حَاضِرٌ لِبَادٍ؟) څه معنى ده؟ هغه اوونيل: دا (ښارے) دې دلال نه کرځي د هغه (بانډچي) دپاره.

مفهوم د حديث

د دې نه دا مسئله فهم شوه چې کله قافلې منډئ ته مال راروان کړے وي نو د منډئ والا به د هغې مخې نه راځي چې په لاره کې ترينه مال واخلي بلکې هغوي به منډئ ته مال راوړي د دې دپاره چې عام مسلمانان ترينه هم فائده واخلي، او ښارے سړے به د بانډه چې دپاره مال نه خرڅوي، د دې دپاره چې عام خلق ترينه فائده واخلي او په ارزانه قيمت ئې واخلي.

***

په او نه کې ميوه خرڅول په اوچه ميوه باندې ناروا دي

267 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: «نَهَى رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنْ الْمُزَابَنَةِ، أَنْ يَبِيعَ ثَمَرَ حَائِطِهِ، إنْ كَانَ نَخْلاً، بِتَمْرٍ كَيْلاً، وَإِنْ[2] كَرْماً: أَنْ يَبِيعَهُ بِزَبِيبٍ كَيْلاً، وَ[1]إِنْ كَانَ زَرْعاً، أَنْ يَبِيعَهُ بِكَيْلِ طَعَامٍ نَهَى

(1) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب: هل يبيع حاضر لباد بغير أجر، وهل يعينه أو ينصحه برقم 2158، ومسلم، كتاب البيوع، باب تحريم بيع الحاضر للبادي، برقم 1521، واللفظ لمسلم.

(2) في نسخة الزهيري: «وإن كان»، وهي في البخاري، برقم 2205.

عَنْ ذٰلِكَ كُلِّهِ»[2].

ترجمه: ابن عمر رضي الله عنه فرمائي: منع کړې ده نبي ﷺ د مزابنې (د ديکه کولو د) بيع نه، (او دا ديته وائي: چې) خرڅ کړي (يو کس) ميوې د باغ خپل، که په اونو کې کجورې وي، په (هغه) کجورو باندې (چې اوچې وي) په پيمانه سره، او که انګور وي نو هغه خرڅ کړي په اوچکو باندې په پيمانه سره، او که فصل وي، هغه خرڅ کړي په پيمانه د طعام سره او منع کړې ده (نبي ﷺ) د دې ټولو نه.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې کجورې، انګور او يا نور فصل په اوچ فصل او اوچو ميوو باندې خرڅول جائز نه دي.

***

حرامې بيع ګانې

268 ـ عَنْ جابر بن عبد اللهِ قَالَ: «نَهَى النَّبِيُّ ﷺ عَنْ الْمُخَابَرَةِ، وَالْمُحَاقَلَةِ، وَعَنْ الْمُزَابَنَةِ، وَعَنْ بَيْعِ الثَّمَرَةِ حَتَّى يَبْدُوَ صَلاحُهَا، وَأَنْ لا تُبَاعَ إلاَّ بِالدِّينَارِ وَالدِّرْهَمِ، إلاَّ الْعَرَايَا»[3].

ترجمه: جابر رضي الله عنه فرمائي: منع کړې ده نبي ﷺ، مخابرې، محاقلې (دانې په وږي کې خرڅول)، او مزابنې نه، او د خرڅولو د ميوو نه تردې چې د هغې صلاحيت ښکاره شي، او (منع کړې ده نبي ﷺ) د

---

(1) في نسخة الزهيري: «أو كان زرعاً» ولفظ المتن في البخاري، برقم 2205 بلفظه.

(2) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب بيع الزبيب بالزبيب والطعام بالطعام، برقم 2171، بلفظه، ومسلم، كتاب البيوع، باب تحريم بيع الرطب بالتمر إلا في العرايا، برقم 76- (1542)، واللفظ له، ولفظ البخاري: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ ب: «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ نَهَى عَنِ الْمُزَابَنَةِ، وَالْمُزَابَنَةُ: بَيْعُ الثَّمَرِ بِالتَّمْرِ كَيْلًا، وَبَيْعُ الزَّبِيبِ بِالْكَرْمِ كَيْلًا».

(3) رواه البخاري، كتاب المساقاة (الشرب)، باب الرجل يكون له ممر أو شرب في حائط أو في نخل، برقم 2381، واللفظ له، إلا كلمة الثمرة، فهي فيه: «الثمر»، ومسلم، كتاب البيوع، باب النهي عن المحاقلة والمزابنة، وعن المخابرة، وبيع الثمرة قبل بُدو صلاحها، وعن بيع المعاومة وهو بيع السنين، برقم 81- (1536)، كلاهما فيه لفظ: «الثمر» و«ليس الثمرة».

دې نه چې خرخ نه کړے شي مګر په دينار يا درهم باندې مګر عرايا (د سوال والا کجورې)

المحاقلة : الحِنْطَة في سُنْبُلِها بحنطة[1].

په وګوکې غنم په غنمو خرڅولو ته محاقله وائي .

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې مذکوره پنځه بيع ګانې ناروا دي .

***

د سپي ، زناکارې ښځې او د کاهن پيسې حرامې دي

269 ـ عَنْ أبي مسعود الأنصاري ﷺ ، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ نَهَى عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ ، وَمَهْرِ الْبَغِيِّ ، وَحُلْوَانِ الْكَاهِنِ»[2].

ترجمه: ابو مسعود ﷺ نقل کوي ، بې شکه نبي ﷺ منع کړې ده د پيسو د سپي نه ، او د مهر د زناکارې ښځې نه ، او د اجرت د کاهن نه .

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د سپي پيسې حرامې دي يعنى د دې خرڅول اخستل دواړه حرام دي ، او په زنا باندې پيسې اخستل او ورکول دواړه حرام دي ، کاهن له تلل او هغې له پيسې ورکول او هغې نه پيسې اخستل حرام کار دے .

***

خبيث رزيل کسب

270 ـ عَنْ رافع بن خديج ﷺ ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ : «ثَمَنُ الْكَلْبِ خَبِيثٌ ، وَمَهْرُ الْبَغِيِّ خَبِيثٌ ،

(1) في نسخة الزهيري: «المحاقلة: بيع الحنطة في سنبلها بصافية».

(2) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب ثمن الكلب، برقم 2237، بلفظه، ومسلم، كتاب المساقاة والمزارعة، باب في تحريم ثمن الكلب، وحلوان الكاهن، ومهر البغي، والنهي عن بيع السنور، برقم 1567.

وَكَسْبُ الْحَجَّامِ خَبِيثٌ"[1] .

ترجمه: رافع ﷺ نقل كوي، چې ېې شكه نبي ﷺ فرائيلي دي: د سپي پيسې خبيثې (حرامې) دي او مهر د زناكارې ښځې خبيث (حرام) دے، او كسب د خكر لګونكي خبيث (حرام) دے.

مفهوم د حديث

د دې نه معلومه شوه چې دا مذكوره درې اشيا حرام دي اګر چې د حجامه كونكي كسب حرام نه دے خو اعلى كار هم نه دے.

❋❋❋

(1)المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج 10\232، معالم السنن، وهو شرح سنن أبي داود 4\228.

بَابُ الْعَرَايَا وَغَيْرُ ذٰلِكَ

باب دے په بيان د عرايا وغيره کې.

بيع العرايا جائز ده

271ـ عَنْ زيد بن ثابت ﷺ، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ رَخَّصَ لِصَاحِبِ الْعَرِيَّةِ، أَنْ يَبِيعَهَا بِخَرْصِهَا»[(1)].

ولمسلم: «بِخَرْصِهَا تَمْراً، يَأْكُلُونَهَا رُطَباً»[(2)].

ترجمه: زيد بن ثابت ﷺ نقل کوي چې بې شکه نبي ﷺ، رخصت ورکړے دے صاحب د عريه ته، چې خرڅ کړي هغې لره په اټکل سره.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله معلومه شوه چې د بيع العرايا جائز ده اګر چې داسې بيع بغير د ضرورت نه حرامه ده خو دلته ضرورت دے نو په دې وجه دا جائز ده.

❋❋❋

په عرايا کې مقدار

272ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ، «أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ رَخَّصَ فِي بَيْعِ الْعَرَايَا فِي خَمْسَةِ أَوْسُقٍ، أَوْ دُونَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ»[(3)].

---

(١) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب بيع المزابنة، وهو بيع التمر بالثمر، وبيع الزبيب بالكرم، وبيع العرايا، برقم 2188، بلفظه، إلا أن في أوله همزة: «أرخص»، ومسلم، كتاب البيوع، باب تحريم بيع الرطب بالتمر إلا في العرايا، برقم 60- (1539)، بلفظ: «رخص لصاحب العرية أن يبيعها بخرصها من التمر».

(2) رواه مسلم، كتاب البيوع، باب تحريم بيع الرطب بالتمر إلا في العرايا، برقم 61- (1539).

(3) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب بيع الثمر على رؤوس النخل بالذهب أو الفضة، برقم 2190، واللفظ له، ومسلم، كتاب البيوع، باب تحريم بيع الرطب بالتمر إلا في العرايا، برقم 1541.

ترجمه: ابو هريره ﷺ نقل كوي چې پې شكه نبي ﷺ، رخصت وركړے دے په خرڅولو د عرايا كې په پنځه وسقه كې، او يا د پنځه وسقه نه كم كې.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې په بيع العرايا كې به كجورې د پنځه وسقه نه كمې وي او يا به پنځه وسقه وي خو زياتې به نه وي.

***

حكم د هغه كجورو چې قلم شوې وي

273 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ[1] قَالَ: «مَنْ بَاعَ نَخْلاً قَدْ أُبِّرَتْ، فَثَمَرُهَا[2] لِلْبَائِعِ، إِلاَّ أَنْ يَشْتَرِطَ الْمُبْتَاعُ»[3].

ولمسلمٍ: «**مَنِ ابْتَاعَ عَبْداً فَمَالُهُ لِلَّذِي بَاعَهُ، إِلاَّ أَنْ يَشْتَرِطَ الْمُبْتَاعُ**»[4].

ترجمه: ابن عمر ﷺ نقل كوي، پې شكه نبي ﷺ فرمائي: چا چې خرڅې كړې (ونې د) كجورو (كومې چې) قلم كړے شوې وي، نو ميوې د هغې د بائع دي مګر كه شرط اولګوي اخستونكے (د دې ميوو نو بيا به د هغه وي).

په روايت د مسلم كې دي، چا چې واخستلو غلام، مال د غلام د هغه كس دے چا چې خرڅ

---

(1) في نسخة الزهيري: «أن النبي ﷺ».

(2) في نسخة الزهيري: «فثمرتها».

(3) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب من باع نخلاً قد أبرت، أو أرضاً مزروعة، أو بإجارة، برقم 2204، واللفظ له، ومسلم، كتاب البيوع، باب من باع نخلاً عليها ثمر، برقم 1543 بلفظه ايضاً.

(4) رواه البخاري، كتاب المساقاة، باب الرجل يكون له ممر، أو شِرْبٌ في حائط، أو في نخل، برقم 2379، بلفظ: «من ابتاع نخلاً بعد أن تؤبر فثمرتها للبائع، إلا أن يشترط المبتاع، ومن ابتاع عبداً، وله مال، فماله للذي باعه إلا أن يشترط المبتاع»، ومسلم كتاب البيوع، باب من باع نخلاً عليها ثمر، بلفظ قريب من لفظ البخاري، برقم 80- (1543).

کړو، مګر که شرط ورسره ولګوي اخستونکے (نو بیا د هغې دے).

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم شوه چې که چا يو داسې باغ خرڅ کړو چې هغه قلم شوے وو نو د هغې ميوه به د خرڅونکي وي، خو که اخستونکي ورسره شرط لګولے وو چې ميوه به زما وي نو بیا به د اخستونکي وي.

***

په طعام کې قبض لازم دے

274ـ وعَنْهُ أنَّ رسولَ اللهِ ﷺ قَالَ: «مَنِ ابْتَاعَ طَعَامًا، فَلا يَبِعْهُ حَتَّى يَسْتَوْفِيَهُ»[1].

وفي لفظٍ «حَتَّى يَقْبِضَهُ»[2]. وعَنْ ابن عباس مثله[3].

ترجمه: ابن عمر ﷺ نقل کوي، بې شکه نبي ﷺ فرمائیلي دي: چا چې طعام واخستلو، نو نه دې خرڅوي تردې چې پوره (قبض) کړي هغې لره.

په بل لفظ کې دي، تردې چې قبض ئې کړي.

د ابن عباس ﷺ نه هم داسې روایت نقل دے.

مفهوم د حدیث

(1) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب الكيل على البائع والمعطي، بلفظه، برقم 2126، ومسلم، كتاب البيوع، باب بطلان بيع المبيع قبل القبض، برقم، 1526.

(2) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب ما يذكر في بيع الطعام والحكرة، برقم 2133، ومسلم، كتاب البيوع، باب بطلان بيع المبيع قبل القبض، برقم 36- (1526).

(3) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب ما يذكر في بيع الطعام، برقم 2132، بلفظ: «أن رسول الله ﷺ نهى أن يبيع الرجل الطعام حتى يستوفيه» ومسلم، كتاب البيوع، باب بطلان بيع المبيع قبل القبض، برقم 1525، بلفظ: «من ابتاع طعاماً فلا يبعه حتى يستوفيه».

د دې حديث نه دا خبره فهم شوه چې په طعام کې قبض لازم دے **مثلاً**: يو کس طعام واخستلو نو هغه به هغه وخته پورې نشي خرڅولے تر څو ئې چې قبض کړے نه وي.

خبيث اشياء حرام دي

275ـ وعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ ﷺ، أنه سمع رسولَ اللهِ ﷺ يقول وَهُوَ بِمَكَّةَ[1] عَامَ الْفَتْحِ: «إنَّ اللهَ وَرَسُولَهُ حَرَّمَ بَيْعَ الْخَمْرِ، وَالْمَيْتَةِ، وَالْخِنْزِيرِ، وَالأَصْنَامِ»، فَقِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَرَأَيْتَ شُحُومَ الْمَيْتَةِ؟ فَإِنَّهُ يُطْلَى بِهَا السُّفُنُ، وَيُدْهَنُ بِهَا الْجُلُودُ، وَيَسْتَصْبِحُ بِهَا النَّاسُ؟ فَقَالَ: «لا، هُوَ حَرَامٌ»، ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ، عِنْدَ ذَلِكَ: «قَاتَلَ اللهُ الْيَهُودَ، إِنَّ اللهَ لَمَّا حَرَّمَ عَلَيْهِمْ[2] شُحُومَهَا، جَمَلُوهُ، ثُمَّ بَاعُوهُ، فَأَكَلُوا ثَمَنَهُ»[3].

جملوه: أي[4] أذابوه.

ترجمه: د جابر ﷺ نه نقل دي چې شکه ده اوردلي دي د نبي ﷺ نه، هغه فرمائيل: (او هغه په مکه کې وو، په کال د فتح)، يقيناً الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ، حرامه کړې ده بيع د شرابو، مردارې، خنزير، او بوتانو، چا اووئيل: اے د الله ﷻ رسوله! خبر راکړه د مردارې د وازدو په باره کې؟ يقيناً په هغې مونږ کيشتۍ غوړو، او څرمنې پرې غوړو، او ډيوې پرې خلق لګوي، ؟ نبي ﷺ اوفرمائيل: نهٔ! دا حرام دي، بيا په دغه وخت کې، نبي ﷺ اوفرمائيل: الله ﷻ دې يهود قتل کړي، يقيناً الله ﷻ چې کله په دوي باندې وازدې حرامې کړې نو دوي به هغه ولې کولې او بيا به ئې خرڅولې، او د هغې پيسې به ئې خوړلې.

مفهوم د حديث

---

(1) «وهو بمكة»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في البخاري، برقم 2236.

(2) «عليهم»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في البخاري، برقم 4633، ومسلم، برقم 1581.

(3) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب بيع الميتة والأصنام، برقم 2236، ومسلم، كتاب المساقاة والمزارعة، باب تحريم بيع الخمر والميتة والخنزير والأصنام، برقم71- (1581).

(4) «أي»: ليست في نسخة الزهيري.

د دې حديث نه دا خبره فهم شوه چې د خبيث اشياؤ خرڅول حرام دي، او هغه اشياء چې د خبيث اشياؤ نه جوړ شوي وي هغه هم حرام دي او فائده پرې اخستل جائز نه ده.

بَابُ السَّلَمِ

باب دے په بيان د قرض کې.

***

سلم جائز دے

276 - عَنْ عبدالله بن عَبَّاسٍ قَالَ: «قَدِمَ النَّبِيّ ﷺ الْمَدِينَةَ، وَهُمْ يُسْلِفُونَ فِي الثِّمَارِ، السَّنَةَ[1] وَالسَّنَتَيْنِ وَالثَّلاثَ، فَقَالَ: «مَنْ أَسْلَفَ فِي شَيْءٍ، فَلْيُسْلِفْ فِي كَيْلٍ مَعْلُومٍ، وَوَزْنٍ مَعْلُومٍ، إِلَى أَجَلٍ مَعْلُومٍ»[2].

ترجمه: ابن عباس ﷺ فرمائي: نبي ﷺ مدينې ته راغے او (د مدينې والاؤ) سلف (قرض) کولو په ميوو کې يو کال او دوه کالو او درې کالو پورې، نو نبي ﷺ اوفرمائيل: څوک چې سلف (قرض) کوي په يو شي کې نو قرض دې اوکړي په پيمانه معلومه کې، او په وزن معلوم سره، تر نيټې معلومې پورې.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا خبره فهم شوه چې قرض سودا جائز ده خو چې کله نيټه معلومه وي او وزن يا پيمانه معلومه وي.

(1) «السنة و» ليست في نسخة الزهيري، وهي في صحيح مسلم، برقم 1604.

(2) رواه البخاري، كتاب السلم، باب السلم في كيل معلوم، برقم 2239، وباب السلم في وزن معلوم، برقم 2240، ومسلم، كتاب المساقاة والمزارعة، باب السلم، برقم 1604.

***

بَابُ الشُّرُوطِ فِي الْبَيْعِ

باب دے په بيان د شروطو د بيع کې.

***

په بيع کې شروط لګول

277 ـ عَنْ عائشة قَالَت : «جَاءَتْنِي بَرِيرَةُ فَقَالَتْ : كَاتَبْتُ أَهْلِي عَلَى تِسْعِ أَوَاقٍ ، فِي كُلِّ عَامٍ أُوقِيَّةٌ ، فَأَعِينِينِي. فَقُلْتُ : إِنْ أَحَبَّ أَهْلُكِ أَنْ أَعُدَّهَا لَهُمْ ، ويكون وَلاؤُكِ لِي فَعَلْتُ ، فَذَهَبَتْ بَرِيرَةُ إِلَى أَهْلِهَا، فَقَالَتْ لَهُمْ ، فَأَبَوْا عَلَيْهَا ، فَجَاءَتْ مِنْ عَنْدِهِمْ ، وَرَسُولُ اللهِ ﷺ جَالِسٌ ، فَقَالَتْ : إِنِّي عَرَضْتُ ذٰلِكَ عَلَيهِم ، فَأَبَوْا إِلاَّ أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْوَلاءُ ، فسمع النَّبِيِّ ﷺ[1] ، فَأَخْبَرَتْ عَائِشَةُ النَّبِيَّ ﷺ ، فَقَالَ : «خُذِيهَا ، وَاشْتَرِطِي لَهُمُ الْوَلاءَ ، فَإِنَّمَا الْوَلاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ» فَفَعَلَتْ عَائِشَةُ ، ثُمَّ قَامَ رَسُولُ اللهِ ﷺ فِي النَّاسِ ، فَحَمِدَ اللهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ، ثُمَّ قَالَ : «أَمَّا بَعْدُ : فَمَا[2] بَالُ رِجَالٍ يَشْتَرِطُونَ شُرُوطاً لَيْسَتْ فِي كِتَابِ اللهِ ، مَا كَانَ مِنْ شَرْطٍ لَيْسَ فِي كِتَابِ اللهِ فَهُوَ بَاطِلٌ ، وَإِنْ كَانَ مِائَةَ شَرْطٍ ، قَضَاءُ اللهِ أَحَقُّ ، وَشَرْطُ اللهِ أَوْثَقُ ، وَإِنَّمَا الْوَلاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ»[3] .

ترجمه: د عائشه رضي الله عنها نه روايت دے دا فرمائي : بريره راغله اوئې فرمائيل : ما مکاتبت کړے دے د خپل اهل (مولى او سيد) سره په نهه اوقيو سره چې په هر کال به يوه اوقيه ورکوم، نو ما سره مدد اوکړه، (عائشه رضي الله عَنْها) فرمائي : ما ورته اووئيله ، که ستا اهل دا خوښوي چې زه اوشمارم

(1) «فسمع النبي ﷺ»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في البخاري، برقم 2168.

(2) في نسخة الزهيري: «ما بال» بدون الفاء، وهي في البخاري، برقم 2168 بدون الفاء، والفاء في رواية مسلم، رقم 8- (1504).

(3) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب إذا اشترط شروطاً في البيع لا تحل، برقم 2168، واللفظ له، ومسلم، كتاب العتق، باب إنما الولاء لمن أعتق، برقم 1504.

هغوي ته (دا اوقي) او (په دې شرط چې) ستا ولاء (ميراث) به زما وي نو زه به دا كار اوكړم؟، نو بريره لاړه خپل اهل ته، دا خبره ئې ورته اوكړه، خو هغوي پرې انكار اوكړو، نو واپس راغله د هغوي نه او نبي ﷺ ناست وو، اوئې فرمائيل: ما (خو) دا خبره په هغوي باندې پيش كړه، نو هغوي انكار اوكړو مگر د دې نه (ئې انكار اونه كړو چې) ولاء (ميراث) به د هغوي وي، نو دا خبره نبي ﷺ واوريدله، نو عائشه رضي الله عنها نبي ﷺ ته خبر وركړو، نبي ﷺ اوفرمائيل: واخله هغې لره او شرط ورسره د ولاء اولګوه، ځكه چې ولاء د هغه چا وي چې (غلام يا وينځه) ازاد كړي، نو دا كار عائشه رضي الله عنها اوكړو او بيا نبي ﷺ پاڅيدلو په خلقوكې او حمد او ثناء ئې اوويله، بيا ئې اوفرمائيل: اما بعد: څه دے حال د څه كسانو چې شروط لګوي داسې شروط چې د الله ﷻ په كتاب كې نه وي، كوم شرط چې د الله ﷻ په كتاب كې نه وي نو هغه باطل دے اګر كه سل شرطونه وي، فيصله د الله ډيره حقه (او اولى) ده، او د الله ﷻ شرط ډير مضبوط دے، يقيناً ولاء د هغه چا وي چا چې ازادول كړي وي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا خبره فهم شوه چې كومه وينځه يا غلام چا واخستلو نو د هغې ميراث به د اخستونكي وي، او كوم شرط چې د الله ﷻ د كتاب نه خلاف وي هغه باطل شرط دے.

❊❊❊

نقل د ملكيت په يوشي كې او د هغې د نفع استثناء تر يو معلوم وخته پورې

278 ـ عَنْ جابر بن عبد اللهِ ، «أَنَّهُ كَانَ يَسِيرُ عَلَى جَمَلٍ له قد أَعْيَا [1] ، فَأَرَادَ أَنْ يُسَيِّبَهُ ، قَالَ [2] : فَلَحِقَنِي النَّبِيُّ ﷺ ، فَدَعَا لِي ، وَضَرَبَهُ ، فَسَارَ سَيْراً لَمْ يَسِرْ مِثْلَهُ قط ، ثُمَّ [3] قَالَ : "بِعْنِيهِ بِأُوقِيَّةٍ". قُلْتُ : لا ، ثُمَّ قَالَ : "بِعْنِيهِ". فَبِعْتُهُ بِأُوقِيَّةٍ ، وَاسْتَثْنَيْتُ حِمْلانَهُ إِلَى أَهْلِي ، فَلَمَّا بَلَغْتُ أَتَيْتُهُ بِالْجَمَلِ ، فَنَقَدَنِي ثَمَنَهُ ، ثُمَّ

(1) في نسخة الزهيري: «يسير على جمل فأعيى» ولفظ البخاري، رقم 2718: «قد أعيا» وهو لفظ مسلم أيضاً برقم 109- (715).

(2) «قال»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في مسلم برقم 109- (715).

(3) «قط، ثم»: ليست في نسخة الزهيري.

رَجَعْتُ، فَأَرْسَلَ فِي أَثَرِي، فَقَالَ: «أَتُرَانِي مَاكَسْتُكَ لآخُذَ جَمَلَكَ؟ خُذْ جَمَلَكَ وَدَرَاهِمَكَ، فَهُوَ لَكَ»[1].

ترجمه: جابر ﷺ نه نقل دي، چې دا په يو اوښ باندې روان وو چې هغه د ده وو، او ستړے شوے وو، نو ده اراده اوکړه د هغه د پرېښودلو، دا وائي: زما سره نبي ﷺ ميلاؤ شو، او دعا ئې راته اوکړه، او اوښ ئې اوهلو، نو روان شو په داسې روانيدلو سره چې داسې چرته هم نه وه روان شوے، بيا نبي ﷺ اوفرمائيل: ما باندې ئې په يوه اوقيه راخرڅه کړه، ما ورته اووئيل: نهٔ! بيا ئې راته اووئيل: ما باندې ئې راخرڅه کړه، نو ما وربانديې په يوه اوقيه ورخرڅه کړه، او استثناء ئې ترينه د باريدلو تر کوره پورې اوکړه (چې زه به پرې کوره پورې زمه)، نو هر کله چې اورسيدلم او هغه ته مې اوښ راوستلو، نو ما له ئې نقدې پيسې راکړې بيا زه واپس شوم، نو ما پسې ئې يو کس راوليږلو او اوئې فرمائيل: آيا ته ګمان لرې په ما باندې چې ما خبرې تا سره د اخستلو کړې دي د دې دپاره چې واخلم اوښ ستا؟ خپل اوښ دې واخله او پيسې هم ستا شوې.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا خبره فهم شوه چې کله يو کس په څا باندې څه سورلي يا بل څه خرڅ کړي نو د هغې سره شرط کښودلے شي چې زه به پرې فلانې ځائې پورې سورلي کوم.

❋❋❋

هغه شروط چې په نکاح کې جائز نه وي

279 - عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: «نَهَى رَسُولُ اللهِ ﷺ: أَنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ، وَلَا تَنَاجَشُوا، وَلَا يَبِعِ[2] الرَّجُلُ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ، وَلَا يَخْطُبْ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ، وَلَا تَسْأَلِ الْمَرْأَةُ طَلَاقَ أُخْتِهَا لِتَكْفَأَ مَا فِي إِنَائِهَا»[3].

---

(1) رواه البخاري، كتاب الشروط، باب إذا اشترط البائع ظهر الدابة إلى مكان مسمّى جاز، برقم 2718، ومسلم، كتاب المساقاة والمزارعة، باب بيع البعير واستثناء ركوبه، برقم 109- (715)، واللفظ له.

(2) في نسخة الزهيري: «ولا يبيع»، وهي في البخاري، برقم 2140، بلفظ: «ولا يبيع».

(3) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب لا يبيع على بيع أخيه ولا يسوم على سوم أخيه حتى يأذن له أو يترك، برقم 2140، ومسلم، كتاب

ترجمه: د ابو هريره ﷺ نه نقل دي دا فرمائي: منع کړې ده نبي ﷺ د دې نه چې بيع اوکړي ښارے (کس) د باندېچي دپاره، او تاسو تيزي مه ورکوئ يو بل لره (په بيع کې) او بيع دې نه کوي يو کس په بيع د ورور خپل، او خِطبه دې نه کوي په خِطبه د ورور خپل، او سوال دې نه کوي يوه زنانه د طلاقو د خور خپلې د دې دپاره چې راواړوي هغه څه چې په لوښي د هغې کې دي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه يو څو خبرې فهم شوې، ښارے د باندېچي دپاره بيع نشي کولے، په بيع کې تيزي ورکول يو بل ته جائز نه دي، يو مسلمان د بل مسلمان په بيع باندې بيع نشي کولے، يو مسلمان به د بل مسلمان په خطبه باندې خطبه نه کوي، يوه زنانه به د بلې زنانه طلاق نه غواړي.

❋❋❋

النكاح، باب تحريم الخطبة على خطبة أخيه حتى يأذن أو يترك، برقم 1413، زاد مسلم: «وَلَا يَسُمِ الرَّجُلُ عَلَى سَوْمِ أَخِيهِ».

بَابُ الرِّبَا وَالصَّرْفِ

باب دے په بیان د سود او صرافۍ کي.

❋❋❋

هغه اشیاء چې په هغې کې سود جاري کیږي

280 ـ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «الذَّهَبُ بِالذهب[1] رِبًا، إلاَّ هَاءَ وَهَاءَ، والفضةُ بالفضةِ ربًا، إلا هَاءَ وهَاءَ[2]، وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ رِباً، إلاَّ هَاءَ وَهَاءَ، وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ رِباً، إلاَّ هَاءَ وَهَاءَ»[3].

ترجمه: عمر ضي الله عَنْه فرمائي: چې نبي ﷺ فرمائيلي دي: سره به په سرو سره (بدلول) سود دے مگر که واخله او راکړه (یعنی لاس په لاس) وي، سپین زر په سپینو زرو باندې (بدلول) سود دے مگر که واخله او راکړه (لاس په لاس) وي، او غنم په غنمو باندې (بدلول) سود دے مگر که واخله او راکړه (لاس په لاس) وي، او وربشې په وربشو باندې (بدلول) سود دے مگر که واخله او راکړه (لاس په لاس) وي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه خبره فهم شوه چې سره زر په سپينو زرو بدلول جائز دي خو په دې شرط چې لاس په لاس وي همدا رنګه غنم او وربشې هم.

❋❋❋

---

(1) في نسخة الزهيري: «بالورق» والذي في البخاري، برقم 2134: «الذهب بالذهب».

(2) «والفضة بالفضة رباً، إلا هاء وهاء»: ليست في نسخة الزهيري.

(3) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب ما يذكر في بيع الطعام والحكرة، برقم 2134، واللفظ له، إلا أنه لم يذكر الفضة بالفضة، ومسلم، كتاب المساقاة والمزارعة، باب الصرف وبيع الذهب بالورق نقداً، برقم 1586.

د سود انواع

281 ـ وعَنْ أَبِي سعيد الخدري ﷺ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: «لا تَبِيعُوا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ، إلاَّ مثلاً: بِمِثْلٍ، وَلا تُشِفُّوا بَعْضَهَا عَلَى بَعْضٍ، وَلا تَبِيعُوا الْوَرِقَ بِالْوَرِقِ إلاَّ مثلاً: بِمِثْلٍ، وَلا تُشِفُّوا بَعْضَهَا عَلَى بَعْضٍ، وَلا تَبِيعُوا مِنْهَا غَائِباً بِنَاجِزٍ»[1].

وفي لفظ: «إلاَّ يَداً بِيَدٍ»[2]. وفي لفظ: «إلاَّ وَزْناً بِوَزْنٍ، مِثْلاً بِمِثْلٍ سَوَاءً بِسَوَاءٍ»[3].

ترجمه: ابو سعيد ﷺ نقل کوي، چې بې شکه نبي ﷺ فرمائيلي دي: تاسو مه خرڅوئ سره زر په سرو زرو باندې مگر که برابر په برابر وي تاسو مه خرڅوئ سپين زر په سپين زرو باندې مگر که برابر په برابر وي، او زيادت مه کوئ د بعضو په بعضو باندې، او مه خرڅوئ د دغې نه غائب په نقد باندې. بل روايت کې دي: مگر لاس په لاس. په بل لفظ کې داسې دي: وزن په وزن سره برابر په برابر.

مفهوم د حديث

د دې نه دا خبره فهم شوه چې په مذکوره اشياؤ کې سود هله راځي چې کله زيادت د بعضو په بعضو او شي او يا نيته پکې مقرر کړے شي، او يا غائب شے په حاضر باندې بدل کړے شي.

❊❊❊

يو صاع طعام په دوه صاعه طعام باندې اخستل ناروا دي

282 ـ عَنْ أَبِي سعيد الخدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ[4] قَالَ: «جَاءَ بِلالٌ إلَى النَّبِيِّ ﷺ بِتَمْرٍ بَرْنِيٍّ، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ ﷺ: «مِنْ أَيْنَ هَذَا؟» قَالَ بِلالٌ: كَانَ عَنْدِي[5] تَمْرٌ رَدِيءٌ، فَبِعْتُ مِنْهُ صَاعَيْنِ بِصَاعٍ لِنُطْعِمَ[1] النَّبِيَّ

---

(1) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب بيع الفضة بالفضة، واللفظ له، برقم 2177، ومسلم، باب الربا، برقم 1584.

(2) رواه مسلم، كتاب المساقاة والمزارعة، باب الصرف وبيع الذهب بالورق نقداً، برقم 76- (1584).

(3) رواه مسلم، كتاب المساقاة والمزارعة، باب الصرف وبيع الذهب بالورق نقداً، برقم 77- (1584).

(4) في نسخة الزهيري: «وعنه قال».

(5) في نسخة الزهيري: «عندنا» وهذا لفظ البخاري، برقم 2312، ولفظ مسلم، برقم 1594 «عندنا» أيضاً.

ﷺ، فَقَالَ النَّبِيُّ عِنْدَ ذٰلِكَ: أَوَّهْ[2]، أَوَّهْ، عَيْنُ الرِّبَا[3]، لا تَفْعَلْ، وَلَكِنْ إِذَا أَرَدْتَ أَنْ تَشْتَرِيَ فَبِعِ التَّمْرَ بِبَيْعٍ آخَرَ، ثُمَّ اشْتَرِ بِهِ»[4].

ترجمه: ابو سعید ؓ فرمائي: بلال راوړي نبي ﷺ ته برني (بني) کجوري، نو نبي ﷺ ورته اووئيل: دا دې د کوم ځائې نه راوړلې؟ بلال ؓ اوفرمائيل: زما سره ردي کجورې وې نو ما د هغې نه دوه صاعه په يو صاع باندې خرڅې کړې، د دې دپاره چې نبي ﷺ ته ئې په طعام کې ورکړم، نو نبي ﷺ اوفرمائيل: دغه وخت کې ډير افسوس (او خفګان) دے دا خو عين سود دے دا کار مه کوه، ليکن کله چې تا اراده اوکړه چې (کجورې) واخلې، نو دغه کجورې خرڅې کړه په پيسو باندې او بيا په دغې پيسو باندې نورې کجورې واخله.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا خبره فهم شوه چې يو صاع طعام يا کجورې په دوه صاعو باندې ورکول سود دے، ښه طريقه په کې دا ده چې دوه صاعه خرڅ کړي او په هغې باندې يو صاع واخلي.

❊ ❊ ❊

سره زر په سپينو زرو باندې نسيته خرڅولو حکم

283 ـ عَنْ أَبِي الْمِنْهَالِ قَالَ: «سَأَلْتُ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ، وَزَيْدَ بْنَ أَرْقَمَ عَنِ الصَّرْفِ، فَكُلُّ وَاحِدٍ

---

(1) في نسخة الزهيري: «ليطعم» ولفظ المتن في البخاري، برقم 2312.

(2) «أوه» ليست في نسخة الزهيري إلا مرة واحدة وفي البخاري، برقم 2312: «أوه، أوه» مرتين.

(3) في نسخة الزهيري: «عين الربا، عين الربا» وهذا لفظ البخاري، برقم 2312.

(4) رواه البخاري، كتاب الوكالة، باب إذا باع الوكيل شيئاً فاسداً فبيعه مردود، برقم 2312، ومسلم، كتاب المساقاة والمزارعة، باب الطعام مثلاً بمثل، برقم 87- (1594).

منهما يَقُولُ: هَذَا خَيْرٌ مِنِّي، وَكِلاهُمَا يَقُولُ: نَهَى رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنْ بَيْعِ الذَّهَبِ بِالْوَرِقِ دَيْناً»[1].

ترجمه: ابو المنهال رحمه الله فرمائي: ما د براء او زيد بن ارقم رضي الله عنهما نه تپوس اوکړو د بيع الصرف په باره کې؟ نو هغوي هر يو اووئيل: دا زما نه غوره دے او دواړو اووئيل: نبي ﷺ منع کړې ده د خرڅولو د سرو زرو نه په سپينو زرو باندې قرض.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه سره زر په سپينو زرو باندې اخستل قرض دا ممنوع دي.

***

هغه اشياء چې په هغې کې سود جاري کيږي

284 - عَنْ أَبِي بكرة ﷺ قَالَ: «نَهَى رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنْ الْفِضَّةِ بِالْفِضَّةِ، وَالذَّهَبِ بِالذَّهَبِ، إِلاَّ سَوَاءً بِسَوَاءٍ، وَأَمَرَنَا أَنْ نَشْتَرِيَ الْفِضَّةَ بِالذَّهَبِ كَيْفَ شِئْنَا، وَنَشْتَرِيَ الذَّهَبَ بِالْفِضَّةِ كَيْفَ شِئْنَا، قَالَ: فَسَأَلَهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: يَدًا بِيَدٍ؟ فَقَالَ: هَكَذَا سَمِعْتُ»[2].

ترجمه: ابو بکره ﷺ فرمائي: منع کړې ده نبي ﷺ د سپينو زرو (خرڅولو نه) په سپينو زرو باندې او د سرو زرو (خرڅولو نه) په سرو زرو باندې مګر که برابر په برابر وو، او مونږ ته ئې امر کړے دے چې اخلو سپين زر په سرو زرو باندې څرنګه چې مو خوښه وي، او اخلو سره زر په سپينو زرو باندې څرنګه چې مو خوښه وي، دا وائي: يو کس سوال اوکړو آيا لاس په لاس؟ نو ابو بکره ﷺ اوفرمائيل: همداسې ما اوريدلي دي.

مفهوم د حديث

(۱) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب بيع الورق بالذهب نسيئة، برقم 2180، واللفظ له، ومسلم، كتاب المساقاة والمزارعة، باب النهي عن بيع الورق بالذهب ديناً، برقم 1589.

(2) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب بيع الذهب بالورق يداً بيده برقم 2182، ومسلم، كتاب المساقاة والمزارعة، باب النهي عن بيع الورق بالذهب ديناً، برقم 1590، واللفظ له.

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې په حديث کې کوم اشياء ذکر شوي دي ، هغې کې به برابروالے او مثليت او نقدوالے لازم وي، که داسې نه وي نو بيا به سود راځي.

❋❋❋

بَابُ الرَّهْنِ وَغَيْرِه

باب دے په بیان د ګانه وغیره کې.

***

په سلم او نقد کې ګانه کول

285 ـ عَنْ عائشة «أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ، اشْتَرَى مِنْ يَهُودِيٍّ طَعَاماً، وَرَهَنَهُ دِرْعاً مِنْ حَدِيدٍ»[1].

ترجمه: عائشه رضي الله عنها نقل کوي چې بې شکه نبي ﷺ، د يو يهودي نه طعام واخستلو، او د اوسپنې زغره ئې ورسره په ګانه کې کیښوده.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم کیږي چې د چا سره د اعتماد دپاره په بدله د قرض کې څه شے کیښودل جائز دي.

***

قرض کې ټال متول کول ظلم دے

286 ـ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: «مَطْلُ الْغَنِيِّ ظُلْمٌ، وَإِذَا[2] أُتْبِعَ أَحَدُكُمْ عَلَى مَلِيءٍ فَلْيَتْبَعْ»[3].

ترجمه: ابو هريره ﷺ نقل کوي چې بې شکه نبي ﷺ فرمائيلي دي: ټال متول د مالداره سړي ظلم

---

(1) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب شراء النبي ﷺ بالنسيئة، برقم 2068، وفيه: «اشترى طعاماً من يهودي إلى أجل...» وباب شراء الإمام الحوائج بنفسه، برقم 2096، ومسلم، كتاب المساقاة والمزارعة، باب الرهن، وجوازه في الحضر والسفر، برقم 1603.

(2) في نسخة الزهيري: «فإذا»، وهذا لفظ البخاري، برقم 2287، ولفظ: «وإذا» لمسلم، برقم 1564.

(3) رواه البخاري، كتاب الحوالات، باب الحوالة وهل يرجع في الحوالة، برقم 2287، ومسلم، كتاب المساقاة والمزارعة، باب تحريم مطل الغني، وصحة الحوالة، واستحباب قبولها إذا أحيل على مليء، برقم 1564، واللفظ له.

دے ، او كله چې حواله كړے شي يو مالداره يو كس ستاسو ته ، نو ورپسې دې شي (په هغې پسې او قرض دې ترينه واخلي) .

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د قرض ادا كول لازم دي په خپل وخت كې چې كله پرې انسان قادر وي او كه چا سره نه وي نو بيا به ورته صبر كولے شي ، او كه ورسره وي خو هسې ټال متول كوي نو د هغه نه ئې په زور اخستلے شي .

***

د مفلس سره كه چا خپل مال اومندلو نو ترينه اخستلے ئې شي

٢٨٧ـ وعَنْه قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ ، أَو قَالَ: سَمِعْتُ رسولَ اللهِ ﷺ[1] يَقُولُ: «مَنْ أَدْرَكَ مَالَهُ بِعَيْنِهِ عِنْدَ رَجُلٍ، أَوْ إِنْسَانٍ قَدْ أَفْلَسَ ، فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ مِنْ غَيْرِهِ»[2] .

ترجمه: ابو هريره رضي الله عنه نه نقل دي دا فرمائي : چې نبي ﷺ فرمائيلي دي : او يا ئې داسې وئيلي دي چې ما د نبي ﷺ نه اوريدلي دي هغه فرمائيل : چا چې اومندلو مال خپل بعينه د يو كس سره ، او يا يو انسان سره چې هغه مفلس شوے وو ، نو دا ډير لائق دے د بل چا نه په هغې مال سره (چې ترينه ئې واخلي) .

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې يو كس بانديې د بل كس قرض وي او هغه سره مال او پيسې بلكل ختمې شي ، نو قرضدارے راشي او د ده سره هغه شے اومومي كوم چې ئې پرې خرڅ كړے وي ، د ده حق دا دے چې دغه خپل مال ترينه واخلي ، او كه پيسې ورسره وي نو بيا به هغه په تولو

(1) في نسخة الزهيري: «سمعت النبي ﷺ».

(2) رواه البخاري، كتاب في الاستقراض، باب إذا وجد ماله عند مفلس في البيع، والقرض، والوديعة فهو أحق به، برقم 2402، واللفظ له، ومسلم، كتاب المساقاة والمزارعة، باب من أدرك ما باعه عند المشتري، وقد أفلس، فله الرجوع فيه، برقم 1559.

قرضدارو باندې برابر تقسيمولے شي.

د شفعې حکم

٢٨٨ ـ عَنْ جابر بن عبد اللهِ قَالَ: «جَعَلَ ـ وَفِي لَفْظٍ قَضَى ـ النَّبِيُّ ﷺ بِالشُّفْعَةِ فِي كُلِّ مَالٍ لَمْ يُقْسَمْ[1]، فَإِذَا وَقَعَتِ الْحُدُودُ، وَصُرِّفَتِ الطُّرُقُ، فَلا شُفْعَةَ»[2].

ترجمه: جابر رضي الله عنه فرمائي: اوکرځو (په بل لفظ کې داسې دي) فيصله کړې ده نبي ﷺ په شفعې سره په هر هغه مال کې چې نه وي تقسيم شوے، نو کله چې حدود واقع شي او لارې واوړي (جدا شي)، نو بيا شفعه نشته.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې شفعه په هغه مال کې جوړيږي چې کوم مال تقسيم شوے نه وي، کله چې تقسيم شي او لارې جدا شي نو بيا شفعه نه ثابتيږي.

***

وقف جائز دے

٢٨٩ ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: «أَصَابَ عُمَرُ أَرْضاً بِخَيْبَرَ، فَأَتَى النَّبِيَّ ﷺ يَسْتَأْمِرُهُ فِيهَا، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنِّي أَصَبْتُ أَرْضاً بِخَيْبَرَ، لَمْ أُصِبْ مَالاً قَطُّ هُوَ أَنْفَسُ عِنْدِي مِنْهُ، فَمَا تَأْمُرُنِي بِهِ؟ قَالَ: «إِنْ شِئْتَ حَبَسْتَ أَصْلَهَا، وَتَصَدَّقْتَ بِهَا» قَالَ: فَتَصَدَّقَ بِهَا عمر، غَيْرَ أَنَّهُ لا يُبَاعُ أَصْلُهَا، وَلا يُورَثُ، وَلا يُوهَبُ، قَالَ: فَتَصَدَّقَ بها[3] عُمَرُ فِي الْفُقَرَاءِ، وَفِي الْقُرْبَى، وَفِي الرِّقَابِ وَفِي سَبِيلِ اللهِ، وَابْنِ السَّبِيلِ،

---

(1) في نسخة الزهيري: «في كل ما لم يقسم» وهو في البخاري، برقم 2257، والذي في المتن: «في كا مالٍ لم يقسم» هو لفظ البخاري، برقم 2213

(2) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب بيع الشريك من شريكه، برقم 2213، بلفظه، ورقم 2214 بلفظه أيضاً، ومسلم، كتاب المساقاة والمزارعة، باب الشفعة، برقم 134- (1608)، ولفظه: عَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه، قَالَ: «قَضَى رَسُولُ اللهِ ﷺ بِالشُّفْعَةِ فِي كُلِّ شِرْكَةٍ لَمْ تُقْسَمْ، رَبْعَةٍ، أَوْ حَائِطٍ، لَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَبِيعَ حَتَّى يُؤْذِنَ شَرِيكَهُ، فَإِنْ شَاءَ أَخَذَ، وَإِنْ شَاءَ تَرَكَ، فَإِذَا بَاعَ وَلَمْ يُؤْذِنْهُ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ».

(3) «بها»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في البخاري، برقم 2737.

وَالضَّيْفِ ، لا جُنَاحَ عَلَى مَنْ وَلِيَهَا : أَنْ يَأْكُلَ مِنْهَا بِالْمَعْرُوفِ ، أَوْ يُطْعِمَ صَدِيقاً ، غَيْرَ مُتَمَوِّلٍ فِيهِ»[1]. وفي لفظِ «غَيْرَ مُتَأَثِّلٍ»[2].

ترجمه: ابن عمر ﷺ فرمائي : حاصل کړه عمر ﷺ په خیبر کې ځمکه ، نو نبي ﷺ ته راغے چې طلب د امر اوکړي (یعنې مشوره طلب کړي) د هغه نه په دې کې نو اوئي فرمائیل : اے د الله ﷻ رسوله ! یقیناً ما حاصله کړې ده ځمکه په خیبر کې (داسې ځمکه ده) چې چرته هم ما نه دے حاصل کړے مال چې ډیر عمده (خوش) وي ماته د دې نه ، نو ته څه حکم کوې ما ته په دې سره ؟ نو نبي ﷺ ورته اووئیل : که دې خوښه شي اصل ئې ځان سره حصار کړه او هغه (نفعه ئې) صدقه کړه ، ابن عمر ﷺ وائي : عمر ﷺ هغه صدقه کړه ، علاوه د دې نه چې نه به شي خرڅولے اصل د هغې او نه به په میراث کې ورلے شي او نه به هبه کیولے شي ، ابن عمر ﷺ وائي: صدقه کړه عمر ﷺ هغه په فقراء او په خپلو خپلوانو ، او په ازادولو د مریانو کې ، او په مسافرو ، او میلمنو باندې ، او نشته ګناه په هغه کس باندې چې د دې متصرف شو چې اوخوري د دې نه په ښه طریقې سره ، او یا ملګري ته ترینه طعام ورکړي چې جمع کونکے نه وي په هغې کې د ځان سره.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم شوه چې کله یو کس باغ صدقه کړي او د هغې دپاره منتظم اونسي نو هغه ترینه خرچه کولے شي ، د باغ اصل به نشي خرڅولے ، او نه به هبه کولے شي او نه به چا ته په میراث کې پاتې کیدے شي ، د دې میوې به په فقراؤ خپلو خپلوانو باندې او غلامانو ازادولو ، د الله ﷻ په لاره کې مسافرو لره ورکول او میلمنو له ورکول ، ملګرو لره ورکول دا ټول جائز .

❊❊❊

(1) رواه البخاري، كتاب الشروط، باب الشروط في الوقف، برقم 2737، وكتاب الوصايا، باب وما للوصي أن يعمل في مال اليتيم وما يأكل منه بقدر عمالته، برقم 2764، ومسلم، كتاب الوصية، باب الوقف، برقم 1632، واللفظ له.

(2) البخاري، برقم 2737، مسلم، برقم 1632، وتقدم تخريجه.

هبه واپس کول جائز نه دي

290 ـ عَنْ عمر ﷺ **قَالَ : «حَمَلْتُ عَلَى فَرَسٍ فِي سَبِيلِ اللهِ ، فَأَضَاعَهُ الَّذِي كَانَ عِنْدَهُ فَأَرَدْتُ أَنْ أَشْتَرِيَهُ ، وَظَنَنْتُ أَنَّهُ يَبِيعُهُ بِرُخْصٍ ، فَسَأَلْتُ النَّبِيَّ ﷺ؟ فَقَالَ : «لا تَشْتَرِهِ وَلا تَعُدْ فِي صَدَقَتِكَ ، وَإِنْ أَعْطَاكَهُ بِدِرْهَمٍ ، فَإِنَّ الْعَائِدَ فِي هِبَتِهِ كَالْعَائِدِ فِي قَيْئِهِ»**[1] .

ترجمه: عمر ﷺ فرمائي : ما بار کړو يو کس په اس باندې د الله ﷻ په لاره کې ، نو هغه ضائع کړو هغه اس چې د هغه سره وو ، ما اراده اوکړه چې ترينه واخلم ، او ګمان مې اوکړو چې هغه به ئې خرڅ کړي (په ما باندې) په ارزانه قيمت سره نو ما تپوس اوکړو د نبي ﷺ نه د دې په باره کې ؟ هغه راته اووئيل : دا مه اخله ، او مه واپس کوه صدقه خپله ، اګر که تالره ئې درکوي په يو درهم باندې ، ځکه چې واپس کيدونکے په هيبه کې داسې دے لکه واپس کيدونکے خپلو اُلټو ته .

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې چا چالره څه شے هبه کړو ، نو هغه به ترينه بيا نه په پيسو اخلي او نه بې پيسو ، اګر که په يوه روپۍ ئې ورکوي خو نه به ئې اخلي ترينه ، ځکه چې خپله هبه واپس کول داسې دي لکه سپے چې اولټۍ اوکړي او واپس ئې بيا اوڅټي .

❊❊❊

په هبه او صدقه کې رجوع کول حرام دي

291 ـ وعَنْ ابن عباس : أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ[2] **قَالَ : «العَائِدِ فِي هِبَتِهِ ، كالعائِدِ فِي قَيْئِهِ»**[3] .

---

(1) رواه البخاري، كتاب الزكاة، باب هل يشتري الرجل صدقته، برقم 1490، وكتاب الهبة، باب لا يحل لأحد أن يرجع في هبته وصدقته، برقم 2632، ومسلم، كتاب الهبات، باب كراهة شراء الإنسان ما تصدق به ممن تصدق عليه، برقم 1620.

(2) في نسخة الزهيري: «أن النبي ﷺ».

(3) رواه البخاري، كتاب الهبة باب لا يحل لأحد أن يرجع في هبته وصدقته، برقم 2621، واللفظ له، ومسلم، كتاب الهبات، باب تحريم الرجوع في الصدقة والهبة بعد القبض إلا ما وهبه لولده وإن سفل، برقم 7- (1622).

وفي لفظ[1] : «فإنَّ الَّذِي يَعُودُ في صَدَقَتِهِ كالْكَلْبِ ثُمَّ[2] يَعُودُ في قَيْئِهِ»[3] .

ترجمه: ابن عباس رضي الله عنهما نقل کوي چې بې شکه نبي ﷺ فرمائيلي دي : واپس کيدونکے هبې خپلې لره پشان د واپس کيدونکي دے اولتو خپلو ته.

په بل لفظ کې دي : پس يقيناً هغه کس چې واپس کيږي صدقه خپلې ته پشان د سپي دے ، چې التۍ اوکړي ، بيا هغې ته ورس شي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې هبه واپس کول د ښو خلقو عادت نه دے.

***

په هبه با ندې ګواه پيش کول

292 ـ وعَنْ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ : «تَصَدَّقَ عَلَيَّ أَبِي بِبَعْضِ مَالِهِ ، فَقَالَتْ أُمِّي عَمْرَةُ بِنْتُ رَوَاحَةَ : لا أَرْضَى حَتَّى تُشْهِدَ رَسُولَ اللهِ ﷺ ، فَانْطَلَقَ أَبِي إِلَى النَّبِيِّ ﷺ[4] لِيُشْهِدَهُ عَلَى صَدَقَتِي ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ : «أَفَعَلْتَ هَذَا بِوَلَدِكَ كُلِّهِمْ؟» قَالَ : لا، قَالَ : «اتَّقُوا اللَّهَ ، وَاعْدِلُوا فِي[5] أَوْلادِكُمْ» فَرَجَعَ أَبِي ، فَرَدَّ تِلْكَ الصَّدَقَةَ»[6] . وفي لفظٍ ، قَالَ : «فَلا تُشْهِدْنِي إذاً ، فَإِنِّي لا أَشْهَدُ عَلَى جَوْرٍ»[1] . وفي لفظٍ : «فَأَشْهِدْ عَلَى هَذَا

---

(1) هذه الفقرة كاملة من قوله: وفي لفظ...إلى قوله: ثم يعود في قيئه». جاءت في نسخة الزهيري قبل حديث ابن عباس السابق، رقم 291.

(2) في نسخة الزهيري: «كالكلب يعود في قيئه»، ولم تذكر «يقيء ثم يعود».

(3) رواه البخاري، كتاب الهبة، باب لا يحل لأحد أن يرجع في هبته وصدقته، برقم 2623، ومسلم، كتاب الهبات، باب تحريم الرجوع في الصدقة والهبة، بعد القبض إلا ما وهبه لولده وإن سفل، برقم 8- (1622).

(4) في نسخة الزهيري: «إلى رسول الله ﷺ».

(5) في نسخة الزهيري: «بين أولادكم»، وهي في البخاري، برقم 2587، ولفظ المتن: «اعدلوا في أولادكم» في مسلم، برقم 13- (1623).

(6) رواه البخاري، كتاب الهبة، باب الإشهاد في الهبة، برقم 2587، ومسلم، كتاب الهبات، باب كراهة تفضيل بعض الأولاد في الهبة، برقم 13- (1623)، بلفظه.

غَيْرِي»[2].

ترجمه: نعمان بن بشير ﷺ فرمائي : په ما باندې پلار زما بعض مال خپل صدقه کړو، نو مور مې چې عمره بنت رواحه وه ورته اووئيل : زه نه خوشحاليږم ترديې چې ته پرې نبي ﷺ ګواه کړې، نو زه ئي بوتلم نبي ﷺ ته، د دې دپاره چې هغه ګواه کړي په هغه صدقه باندې چې په ما باندې ئي کړې وه، نو نبي ﷺ ورته اووئيل : آيا دا کار دې ټولو بچو سره کړے دے ؟ هغه ورته اووئيل : نهٔ ! نبي ﷺ ورته اووئيل : د الله ﷻ نه اويريږه، عدل او انصاف اوکړه په مينځ د اولاد خپل کې، نو پلار مې واپس شو، او واپس ئي کړه هغه صدقه.

په بل روايت کې دي : نبي ﷺ ورته اوفرمائيل : ما مه ګواه کوه په دې وخت کې، ځکه چې زه په ظلم باندې ګواهي نه کوم. په بل روايت کې دي : ګواه کړه په دې باندې سيوا زما نه بل څوک.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې پلار به بچو سره عدل کوي داسې به نه کوي چې يو بچي له ډير مال ورکړي او نورو له کم، د دې حديث نه معلوميږي چې کله يو کس څه چاله ورکوي نو په هغې باندې ګواه پيش کول پکار دي.

❊ ❊ ❊

زميداري په نيمه باندې کول جائز ده

293ـ وعَنْ عَبْدِ اللهِ بنِ عُمَرَ، «أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ عَامَلَ أَهْلَ خَيْبَرَ على شَطْرٍ[3] مَا يَخْرُجُ مِنْهَا مِنْ تَمْرٍ أَوْ

(1) رواه البخاري بنحوه كتاب الشهادات، باب لا يشهد على شهادة جور إذا أشهد، برقم 2650، ومسلم، كتاب الهبات، باب كراهة تفضيل بعض الأولاد في الهبة، رقم 14-(1623) بلفظه.

(2) رواه مسلم، كتاب الهبات، باب كراهة تفضيل بعض الأولاد في الهبة، برقم 17-(1623).

(3) في نسخة الزهيري: «بشطر» وبدون على، وهو لفظ البخاري، برقم 2329.

زَرْعٍ»[1].

ترجمه: ابن عمر ﷺ نقل کوي چې پې شکه نبي ﷺ، معامله اوکړه د خيبر والاؤ سره په نيمه باندې د هغه ميوو او فصل چې هغه راوتل د هغه ځمکې نه.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې ځمکه په نيمه ورکول او کوم فصل چې د ځمکې نه راوځي هغه په مينځ نيمول جائز دي.

***

ځمکه په کرايه باندې ورکول جائز دي

294ـ عَنْ رافع بن خديج ﷺ قَالَ: «كُنَّا أَكْثَرَ الأَنْصَارِ حَقْلاً، قَالَ[2]: كُنَّا[3] نُكْرِي الأَرْضَ عَلَى أَنَّ لَنَا هَذِهِ، وَلَهُمْ هَذِهِ، فَرُبَّمَا أَخْرَجَتْ هَذِهِ، وَلَمْ تُخْرِجْ هَذِهِ، فَنَهَانَا عَنْ ذَلِكَ، وَأَمَّا[4] الْوَرِقُ: فَلَمْ يَنْهَنَا»[5].

ترجمه: رافع بن خديج ﷺ فرمائي: مونږ اکثر د انصارو نه زميداران وو، دا وائي: مونږ به په کرايه باندې ځمکه ورکوله، په دې شرط چې دا (حصه) به زمونږ وي او دا (حصه) به د دوي وي (يعنې نيمه به زمونږ وي او نيمه به د هغوي وي) نو ډير کرته به فصل اوکړو هغه ځمکې او دې بلې حصې به (فصل)

(1) رواه البخاري، كتاب الحرث والمزارعة، باب إذا لم يشترط السنين في المزارعة، برقم 2329، ومسلم، كتاب المساقاة والمزارعة، باب المساقاة والمعاملة بجزء من الثمر والزرع، برقم 1551، واللفظ له.

(2) «قال» ليست في نسخة الزهيري.

(3) في نسخة الزهيري: «فكنا»، والذي في المتن: «كنا» لفظ البخاري، برقم 2327.

(4) في نسخة الزهيري: «فأما الورق».

(5) رواه البخاري، كتاب الحرث والمزارعة، بابه برقم 2327، ومسلم، كتاب البيوع، باب كراء الأرض بالذهب والورق، برقم 117-(1547)، واللفظ له.

اونه کړو، نو مونږ ئې منع کړو دې نه، او هر چې سپين زر دي نو د هغې نه ئې منع نه کړو.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې ځمکه او کور، دوکان وغيره په کرايه باندې ورکولے شي.

اجاره جائز ده

295 ـ ولمسلم عَنْ حَنْظَلة بن قيس قَالَ : «سَأَلْتُ رَافِعَ بْنَ خَدِيجٍ عَنْ كِرَاءِ الأَرْضِ بِالذَّهَبِ وَالْوَرِقِ؟ فَقَالَ : لا بَأْسَ بِهِ ، إِنَّمَا كَانَ النَّاسُ يُؤَاجِرُونَ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ ﷺ[1] بِمَا عَلَى الْمَاذِيَانَاتِ ، وَأَقْبَالِ الْجَدَاوِلِ ، وَأَشْيَاءَ مِنَ الزَّرْعِ ، فَيَهْلِكُ هَذَا ، وَيَسْلَمُ هَذَا ، وَيَسْلَمُ هَذَا ، وَيَهْلِكُ هَذَا ، فَلَمْ[2] يَكُنْ لِلنَّاسِ كِرَاءٌ إِلاَّ هَذَا ، فَلِذَلِكَ زَجَرَ عَنْهُ، فَأَمَّا شَيْءٌ مَعْلُومٌ مَضْمُونٌ فَلا بَأْسَ بِهِ»[3].

الأنهار الكبار. ماذيانات لوې نهرونو ته وائي :

والجدول : نهر صغير[4]. جدول وړوکي لختي ته وائي :

ترجمه: حنظله رضي الله عنه فرمائي : ما د رافع رضی الله عنه نه تپوس اوکړو د ځمکې په کرايه ورکولو کې په سرو زرو او سپينو زرو باندې؟ هغه اوفرمائيل : هيڅ باک په کې نشته، يقيناً خلقو به اجارې کولې په زمانه د نبي ﷺ کې په هغه لوې نهرونو باندې او په مخو د لختو باندې او په نورو اشياؤ د فصلونو باندې نو هغه (حصه) به هلاکه شوه او دا بله حصه به بچ پاتې شوله، او بچ به پاتې شوه دا، او هغه بله (حصه) به هلاکه شوه، د خلقو دپاره کرايه نه وه سيوا د دې نه، نو د دې وجې نه نبي ﷺ رټنه ورکړه د دې نه (او صحابه ئې منع کړل)، او هر چې يو معلوم شے وي چې هغه مضمون وي نو په هغې څه باک نشته.

مفهوم د حديث

---

(1) في نسخة الزهيري: «على عهد رسول الله ﷺ».

(2) في نسخة الزهيري: «ولم»، والذي في المتن: «فلم» في صحيح مسلم، برقم 116- (1547).

(3) رواه مسلم، كتاب البيوع، باب كراء الأرض بالذهب والورق، رقم 116- (1547) بلفظه.

(4) في نسخة الزهيري: «والجدول: النهر الصغير».

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې په اجاره کې دا جائز نه ده چې زميدار ته اووائي دا د نهر غاړه ماله اوکره او دا نور پټے ځانله اوکره، په سرو زرو او سپينو زرو سره اجاره جائز ده او دا د عامو علماؤ مذهب هم دے.

***

د عمرئ احکام

296ـ عَنْ جابر بن عبد اللهِ قَالَ: «قَضَى النَّبِيُّ ﷺ بِالْعُمْرَى لِمَنْ وُهِبَتْ لَهُ»[1].

ترجمه: جابر رضي الله عنه فرمائي: فيصله کړې ده نبي ﷺ په عمرى باندې د هغه چا دپاره چې د هغه دپاره هبه کړے شوې وي.

وفي لفظٍ «مَنْ أُعْمِرَ عُمْرَى لَهُ وَلِعَقِبِهِ، فَإِنَّهَا لِلَّذِي أُعْطِيَهَا، لا تَرْجِعُ للَّذِي[2] أَعْطَاهَا، لأَنَّهُ عَطَاءً[3] وَقَعَتْ فِيهِ الْمَوَارِيثُ»[4].

ترجمه: په بل روايت کې داسې دي چا دپاره چې عمرى اوکړے شي نو دا د هغه دپاره هم ده او د هغه د اولاد دپاره هم ده ځکه چې دا د هغه کس دپاره وي چې چا له ورکړے شي، نه واپس کيږي هغه کس ته چې دا ئې ورکړې وي، ځکه چې دا داسې عطيه ده چې په دې کې ميراثونه واقع کيږي.

وقَالَ جابر: «إِنَّمَا الْعُمْرَى الَّتِي أَجَازَهَا[5] رَسُولُ اللهِ ﷺ أَنْ يَقُولَ: هِيَ لَكَ وَلِعَقِبِكَ، فَأَمَّا إِذَا قَالَ:

---

(1) رواه البخاري، كتاب الهبة، باب ما قيل في العمرى والرقبى، برقم 2625، ومسلم، كتاب الهبات، باب العمرى، برقم 25- (1625)

(2) في نسخة الزهيري: «لا ترجع إلى الذي أعطاها».

(3) في نسخة الزهيري: «لأنه أعطى عطاء».

(4) رواه مسلم، كتاب الهبات، باب العمرى، برقم (1625).

(5) في نسخة الزهيري: «التي أجاز».

هِيَ لَكَ مَا عِشْتَ : فَإِنَّهَا تَرْجِعُ إِلَى صَاحِبِهَا»[1] .

ترجمه: جابر ﷺ فرمائي : يقيناً عمرى هغه شے دے چې اجازه ورکړې ده د دې نبي ﷺ ، (چې يو کس اووائي) دا ستا دپاره او ستا د اولاد دپاره دے ، هر کله چې اووائي دا ستا دپاره دے تر څو چې ته ژوندے ئې نو دا واپس کيږي خپل صاحب ده .

وفي لفظ لمسلم «أَمْسِكُوا عَلَيْكُمْ أَمْوَالَكُمْ ، وَلا تُفْسِدُوهَا ، فَإِنَّهُ مَنْ أَعْمَرَ عُمْرَى فَهِيَ لِلَّذِي أُعْمِرَهَا ، حَيّاً وَمَيِّتاً ، وَلِعَقِبِهِ»[2] .

ترجمه: په روايت د مسلم کې دي ، (نبي ﷺ فرمائي) بند (محفوظ) کړئ خپل مالونه ، او مه خرابوئ هغې لره ، ځکه چې چا عمرى اوکړه نو دا د هغه چا دپاره ده چې هغه ته ورکړے شوي وي ، په ژوند او مرګ او د دې د وارثانو دپاره ده .

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې چا چاته اووئيله چې ما دا شے تا له ستا د ژونده پورې درکړو ، نو دا به د هغه نسل ته هم په ميراث کې پاتې کيږي .

❋ ❋ ❋

د ګاونډي په ديوال باندې ګاډر (بش) کيښودل جائز دي

297 ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ : «لا يَمْنَعْ[3] جَارٌ جَارَهُ أَنْ يَغْرِزَ خَشَبَهُ فِي جِدَارِهِ» ثُمَّ يَقُولُ أَبُو هُرَيْرَةَ : مَا لِي أَرَاكُمْ عَنْهَا مُعْرِضِينَ؟ وَاللهِ لأَرْمِيَنَّ بِهَا بَيْنَ أَكْتَافِكُمْ»[4] .

---

(1) رواه مسلم، كتاب الهبات، باب العمرى، برقم 23- (1625) .

(2) رواه مسلم، كتاب الهبات، باب العمرى، برقم 26- (1625) .

(3) في نسخة الزهيري: «لا يمنعن»، والذي في المتن: «لا يمنع» هو لفظ البخاري، برقم 2463.

(4) رواه البخاري، كتاب المظالم، باب لا يمنع جار جاره أن يغرز خشبه في جداره، برقم 2463، بلفظه، ومسلم، كتاب المساقاة والمزارعة، باب غرز الخشب في جدار الجار، برقم 1609 بلفظ: «لَا يَمْنَعْ أَحَدُكُمْ جَارَهُ أَنْ يَغْرِزَ خَشَبَةً فِي جِدَارِهِ» وبقيته مثل لفظ

ترجمه: ابو هريره ﷺ نقل کوي چې بې شکه نبي ﷺ فرمائي: نه دې منع کوي ګاونډي د ګاونډي خپل نه دا چې خښ کړي لرګے (ګادر، بش) خپل په ديوال د هغه کې، بيا ابو هريره ﷺ اوفرمائيل: څه وجه ده ماله چې وينم زه تاسو د دې کار نه اعراض کونکي، ؟ قسم په الله چې خامخا به اوولم دغه (لرګے) په مينځ د اوګو ستاسو کې.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د ګاونډي په ګاونډي باندې ډېر حقوق دي، کله چې يو ګاونډي د بل ګاونډي په ديوال باندې ګادر ږدي نو هغه به ئې نه منع کوي.

❊❊❊

ظلم کول او غصب د ځمکې حرام کار دے

298 – عَنْ عائشة ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ : «مَنْ ظَلَمَ مِنَ الأَرْضِ قِيدَ شِبْرٍ[1] ، طُوِّقَهُ مِنْ سَبْعِ أَرَضِينَ»[2].

ترجمه: عائشه رضي الله عنها نقل کوي، چې بې شکه نبي ﷺ فرمائيلي دي: چا چې (په) ظلم سره د (چا) د ځمکې نه په اندازه د يوه لويشت (ځمکه قطع کړه) نو طوق به کړے شي ده ته (يعنې په غاړه کې به واچولے شي) د اووه وو ځمکو نه (د قيامت په ورځ).

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې چا په ظلم سره د يوې لويشت په مقدار باندې ځمکه

البخاري.

(1) في نسخة الزهيري: «من ظلم قيد شبرٍ من الأرض» تقديم وتأخير، وهنا هو لفظ البخاري، برقم 2453، وهو أيضاً لفظ مسلم، برقم 1612.

(2) رواه البخاري، كتاب المظالم، باب إثم من ظلم شيئاً من الأرض، برقم 2453، ومسلم، كتاب المساقاة والمزارعة، باب تحريم الظلم وغصب الأرض وغيرها، برقم 1612.

غصب کړه الله ﷺ به ئې په غاړه کې ورله د قيامت په ورځ د عذاب په طور واچوي.

❋❋❋

بَابُ اللُّقَطَة

باب دے په بيان د موندلے شوي شي کې.

❋❋❋

د لقطې احکام او انواع

299 ـ عَنْ زيد بن خالد الْجُهَنِيِّ ﷺ قَالَ: «سُئِلَ رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنْ لُقَطَةِ[1] الذَّهَبِ، أَوِ الْوَرِقِ؟ قَالَ[2]: «اعْرِفْ وِكَاءَهَا وَعِفَاصَهَا، ثُمَّ عَرِّفْهَا سَنَةً، فَإِنْ لَمْ تُعْرَفْ فَاسْتَنْفِقْهَا، وَلْتَكُنْ وَدِيعَةً عِنْدَكَ، فَإِنْ جَاءَ طَالِبُهَا يَوْماً مِنَ الدَّهْرِ فَأَدِّهَا إِلَيْهِ» وَسَأَلَهُ عَنْ ضَالَّةِ الإِبِلِ؟ فَقَالَ: «مَا لَكَ وَلَهَا؟ دَعْهَا، فَإِنَّ مَعَهَا حِذَاءَهَا وَسِقَاءَهَا، تَرِدُ الْمَاءَ، وَتَأْكُلُ الشَّجَرَ، حَتَّى يَجِدَهَا رَبُّهَا» وَسَأَلَهُ عَنِ الشَّاةِ؟ فَقَالَ: «خُذْهَا، فَإِنَّمَا هِيَ لَكَ، أَوْ لأَخِيكَ، أَوْ لِلذِّئْبِ»[3].

ترجمه: زيد بن خالد رضى الله عَنْه فرمائي: د نبي ﷺ نه تپوس اوکړے شو د موندلے شوي شي په باره کې، سره زر يا سپين زر (وي)؟ نبي ﷺ اوفرمائيل: اوپيژنه مزے (تار، پړے) د هغې او لوښے د هغې، بيا يو کاله پورې د هغې اعلان کوه، که اونه پيژندلے شو نو بيا خرچ اوکړه د هغې نه، او دا دې تا

---

(1) في نسخة الزهيري: «اللقطة»، وهي لفظ البخاري، برقم 91.

(2) في نسخة الزهيري: «فقال»، وهي لفظ البخاري، برقم 91.

(3) رواه البخاري، كتاب العلم، باب الغضب في الموعظة والتعليم، إذا رأى ما يكره، برقم 91، ومسلم، كتاب اللقطة برقم 5-(1722)، واللفظ له.

سره امانت شي ، كه د دې طلب كونكے راغے يوه ورځ د زمانې نه ، نو ادا كړه ورته هغه ، (بيا ئې) تپوس اوكړو د نبي ﷺ نه د ورک شوي اوښ په باره کې ، ؟ نبي ﷺ اوفرمائيل : ستا او د هغې خويمه ده (ستا د هغې سره څه كار دے) هغه پريږده ځكه د هغې سره ښې شته دے او د اوبو لوخے ورسره دے ، اوبو له ورځي ، او اونې خوري تردې چې بيا ئې مومي مالک خپل ، او تپوس ئې اوكړو د نبي ﷺ نه د ګډ ، چيلي په باره کې ؟ نو نبي ﷺ اوفرمائيل : هغه اونيسه ځكه چې هغه ستا دپاره دے او ستا د ورور دپاره دے او يا د شرمخ دپاره دے .

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې كله يو كس يو شے اومندلو او هغه شے قيمتي وو ، نو د هغې تعريف او اعلان به كوي تر يو كاله پورې ، او كه اوښ ئې اومندلو نو هغه به نه نيسي ، او چيلۍ يا ګډه ئې اوموندله نو هغه بيا د ده ده خو په دې شرط چې شر بيبان يا ځنګل کې وي .

❊ ❊ ❊

بَابُ الْوَصَايَا[1]

كتاب ثابت دے په بيان د وصيتونو كې.

وصيت مشروع دے

300ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ[2]، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: «مَا حَقُّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ لَهُ شَيْءٌ يُوصِي فِيهِ، يَبِيتُ لَيلَةً، أَوْ لَيْلَتَيْنِ[3]، إِلاَّ وَوَصِيَّتُهُ مَكْتُوبَةٌ عِنْدَهُ»[4].

زاد مسلم، قَالَ ابن عمر: «فَوَاللهِ[5] مَا مَرَّتْ عَلَيَّ لَيْلَةٌ مُنْذُ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ ذٰلِكَ، إِلاَّ وَوَصِيَّتِي عِنْدِي»[6][7].

ترجمه: ابن عمر ﷺ نقل كوي، چې بې شكه نبي ﷺ فرمائيلي دي: نه دے حق د يو مسلمان سړي چې هغې په ملكيت كې څه حقوق وي او وصيت په هغې اوكړي، او شپه تيره كړي يوه يا دوه شپې، مګر وصيت د هغه به ليكلے شوے وي د ده سره.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې په مسلمان باندې لازم دي چې د دې سره څه مال وي نو دا به وصيت ليكي.

---

(1) اللباب في فقه السنة والكتاب، محمد حسن حلاق (529).

(2) في نسخة الزهيري: «عن ابن عمر ب».

(3) في نسخة الزهيري: «يبيت ليلتين إلا ووصيته مكتوبة عنده» وهو لفظ البخاري، برقم 2738.

(4) رواه البخاري، كتاب الوصايا، باب الوصايا، برقم 2738، ومسلم، كتاب الوصية، فاتحته، برقم 1627.

(5) «فوالله»: ليست في نسخة الزهيري.

(6) في نسخة الزهيري: «إلا وعندي وصيتي».

(7) رواه مسلم، كتاب الوصية، فاتحته برقم 4- (1627).

***

په دریمه حصه باندې وصیت جائز دے

301 ـ عَنْ سعد بن أبي وَقَّاص رضي الله عنه قَالَ : «جاءَنِي رَسُولُ اللهِ ﷺ يَعُودُنِي عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ مِنْ وَجَعٍ اشْتَدَّ بِي، فَقُلْتُ : يَا رَسُولَ اللهِ، قَدْ بَلَغَ بِي مِنَ الْوَجَعِ مَا تَرَى، وَأَنَا ذُو مَالٍ، وَلا يَرِثُنِي إِلاَّ ابْنَةٌ، أَفَأَتَصَدَّقُ بِثُلُثَيْ مَالِي؟ قَالَ : «لا»، قُلْتُ : فَالشَّطْرُ يَا رَسُولَ اللهِ ؟ قَالَ : «لا»، قُلْت : فَالثُّلُثُ؟ قَالَ : «الثُّلُثُ، وَالثُّلُثُ كَثِيرٌ، إِنَّكَ إِنْ تَذَر ورَثتَكَ أَغنياءَ خيرٌ منْ أَنْ تَذَرهمْ عالَةً يَتَكَفَّفونَ النَّاسَ، وإِنَّكَ لَنْ تُنْفِقَ نَفَقَةً تَبْتَغِي بِهَا وَجْهَ اللهِ إِلاَّ أُجِرْتَ بِهَا، حَتَّى مَا تَجْعَلُ فِي فِي امْرَأَتِكَ» قَالَ : فقُلْتُ : يَا رَسُولَ اللهِ، أُخَلَّفُ بَعْدَ أَصْحَابِي؟ قَالَ : «إِنَّكَ لَنْ تُخَلَّفَ، فَتَعْمَلَ عَمَلاً تَبْتَغِي بِهِ وَجْهَ اللهِ، إِلاَّ ازْدَدْت بِهِ دَرَجَةً وَرِفْعَةً، وَلَعَلَّكَ أَنْ تُخَلَّفَ حَتَّى يَنْتَفِعَ بِكَ أَقْوَامٌ وَيُضَرَّ بِكَ آخَرُونَ، اللَّهُمَّ أَمْضِ لأَصْحَابِي هِجْرَتَهُمْ، وَلا تَرُدَّهُمْ عَلَى أَعْقَابِهِمْ، لَكِنِ الْبَائِسُ سَعْدُ بْنُ خَوْلَةَ» يَرْثِي لَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ أَنْ مَاتَ بِمَكَّةَ»[1].

ترجمه: سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه فرمائي : ما ته نبي ﷺ راغے زما بيمار پرسي ئي کوله، په کال د حجة الوداع کې زما د درد د وجې نه چې ډير سخت شوے وو په ما باندې، نو ما ورته اووئيل : اے د الله رسوله، په تحقيق سره رسيدلے دے په ما باندې درد هغه مقدار ته چې ته ئې وينې، او زه د مال والا يم، او زما نه ميراث نه وړي مګر لور زما، آيا زه د دې مال دوه حصې صدقه کولے شم؟ نبي ﷺ ورته اووئيل: نهٔ! ما ورته اووئيل : او نيمه حصه اے د الله ﷻ رسوله، ؟ نبي ﷺ ورته اووئيل : نهٔ! ما ورته اووئيل : دريمه حصه؟ هغه اووئيل : دريمه حصه صحيح ده خو دا هم ډيره ده، که ته پريږدې وارثان خپل مالداره نو دا غوره ده د دې نه چې ته هغوي فقيران پريږدې، چې لاسونه خلقو ته نيسي، او يقيناً ته هيڅ چيرې خرچه نه کوې يوه خرچه چې ته په هغې سره د الله ﷻ مخ لټوې مګر تاله په هغې باندې

(۱) رواه البخاري، كتاب الجنائز، باب رثي النبي ﷺ سعد بن خولة، رقم (1295)، ومسلم، كتاب الوصايا، باب الوصية بالثلث، برقم 1628.

اجر درکړے کیږي، ترديږ چې ته هغه په خولې د ښځه خپله کې واچوې، دا وائي ما ورته اووئیل: اے د الله رسوله، زه به پاتې کړے کیږم د ملګرو خپلو نه؟ نبي ﷺ اوفرمائیل: یقیناً ته هیچ چیرې روسته نه شې پاتې کیدلے، چې ته عمل کوې داسې عمل چې په هغې سره د الله ﷻ مخ (رضا) لټوې، مګر زیاتوې ته په هغې سره درجه او اوچتوالے، او شاید چې ته روسته پاتې کړے شې ترديږ چې نفع حاصله کړي ستاته قومونه، او ضرر به حاصل کړي په تا سره نور خلق (کافران)، اے الله ته جاري کړې زما د ملګرو دپاره اجر د هجرت د هغوي او مه واپس کوې هغوي په خپلو پوندو، لیکن غم سخت شو په سعد بن خوله باندې، مرثیه (غم رازي) اوکړه د هغه نبي ﷺ، ترديږ چې په مکه کې وفات شو.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم شوه چې یو کس وفات کیږي او هغه وصیت کول غواړي په خپل مال سره نو په دریمه حصه کې د هغه حق کیږي، د دې نه زیات باندې به وصیت نه کوي اګر چې دا هم ډیر وي خو بیا هم شرع اجازه ورکړې ده ګني د دې نه په کم باندې وصیت کول ډیر اولی وي.

***

د دریمې حصې نه په کم مال باندې وصیت کول غوره عمل دے

302 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «لَوْ أَنَّ النَّاسَ غَضُّوا مِنَ الثُّلُثِ إِلَى الرُّبُعِ؟ فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ: «الثُّلُثُ، وَالثُّلُثُ كَثِيرٌ»[1].

ترجمه: ابن عباس رضي الله عنه فرمائي: که چرته خلق ښکته شي د ثلث نه ربع ته (په صدقه کولو کې نو دا به ډیر ښه وي) ځکه چې نبي ﷺ (سعد رضي الله عنه ته) فرمائیلي دي: چې دریمه حصه (صدقه کړه خو) دریمه حصه هم زیاته ده.

مفهوم د حدیث

(1) رواه البخاري، كتاب الوصايا، باب الوصية بالثلث برقم 2743، بلفظ: «الثلث والثلث كثير، أو كبير» ومسلم، كتاب الوصية، باب الوصية بالثلث برقم 1629، واللفظ له.

د دې حديث نه دا خبره فهم شوه چې د دريمې حصې نه په کم مال باندې وصيت کول غوره عمل دے.

بَابُ الْفَرَائِض [1]

کتاب ثابت دے په باره د ميراث کې.

د ذوي الفروضو او عصباتو حصې

303 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «أَلْحِقُوا الْفَرَائِضَ بِأَهْلِهَا، فَمَا بَقِيَ فَهُوَ لأَوْلَى رَجُلٍ ذَكَرٍ» [2].

ترجمه: ابن عباس ﷺ نقل کوي د نبي ﷺ نه هغه فرمائي: تاسو پيوسته کړئ (يعنى ورکړئ) ميراث اهل د ميراث سره، او کوم چې باقي پاتې شو نو هغه ډير لائق دے د مذکر سړي دپاره.

وفي رواية: «**اقْسِمُوا الْمَالَ بَيْنَ أَهْلِ الْفَرَائِضِ عَلَى كِتَابِ اللهِ، فَمَا تَرَكَتِ الْفَرَائِضُ فَلأَوْلَى رَجُلٍ ذَكَرٍ**» [3].

ترجمه: په بل روايت کې دي: (نبي ﷺ فرمائي:) تاسو مال تقسيم کړئ په مينځ د ميراث والاؤ کې د الله ﷻ په کتاب باندې نو کوم ميراث چې پاتې شو نو هغه ډير اولى دے د يو کس نارينه دپاره.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا خبره فهم شوه چې په ميراث کې به حصې اهل د حصو ته ورکولے شي او کوم مال چې پاتې شو نو هغه به بيا نارينه ته ورکولے شي په عصبيت کې.

(1) في نسخة الزهيري: «باب الفرائض».

(2) رواه البخاري، كتاب الفرائض، باب ميراث الولد من أبيه وأمه، برقم 6732، ومسلم، كتاب الفرائض، باب ألحقوا الفرائض بأهلها فما بقي فلأولى رجل ذكر، برقم 1615.

(3) رواه مسلم، كتاب الفرائض، باب ألحقوا الفرائض بأهلها فما بقي فلأولى رجل ذكر، برقم 4- (1615).

***

مسلمان د کافر نه میراث نشي وړلی او کافر د مسلمان نه میراث نشي وړلی

304ـ عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ: «قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَتَنْزِلُ غَداً فِي دَارِكَ بِمَكَّةَ؟ قَالَ: "وَهَلْ تَرَكَ لَنَا عَقِيلٌ مِنْ رِبَاعٍ، أَوْ دُورٍ؟ [1]"، ثُمَّ قَالَ: "لاَ يَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ، ولا الكافرُ المُسْلِمَ[2]"» [3].

ترجمه: اسامه ﷺ فرمائي: ما اووئیل: اے د الله رسوله، ایا ته ورځې صبا له خپل کور ته په مکه کې؟ نبي ﷺ اوفرمائیل: آیا پرېښودلے دے زمونږ دپاره عقیل کور او محله، بیا ئې اوفرمائیل: میراث نه شي وړلے مسلمان د کافر نه او نه کافر د مسلمان نه.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم شوه چې کله اختلاف د دین وي (یعنې یو کافر او بل مسلمان وي) نو د یو بل نه میراث نه شي وړلے.

***

د ولاء خرڅول او هبه کول دواړه ناروا دي

305ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، «أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ: نَهَى عَنْ بَيْعِ الْوَلاءِ وَهِبَتِهِ» [4].

ترجمه: ابن عمر ﷺ فرمائي: چې بې شکه نبي ﷺ منع کړې ده د خرڅولو د ولاء (میراث د غلام او وینځې) نه او د هغې د هبه کولو نه.

---

(1) «أو دور» ليست في نسخة الزهيري، وهي في البخاري، برقم 1588.

(2) في نسخة الزهيري«... لا يرث الكافر المسلم، ولا المسلم الكافر» قدم الكافر على المسلم.

(3) رواه البخاري، كتاب الحج، باب توريث دور مكة وبيعها وشرائها، برقم 1588، وفي الفرائض، باب لا يرث المسلم الكافر، ولا الكافر المسلم، برقم 6764، ومسلم، كتاب الحج، باب النزول بمكة للحاج، وتوريث دورها، برقم 1351، وفي الفرائض برقم 1614.

(4) رواه البخاري، كتاب العتق، باب بيع الولاء وهبته، برقم 2535، ومسلم، كتاب العتق، باب النهي عن بيع الولاء وهبته، برقم 1506.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د ولاء خرڅول ناروا دي او هبه كول ئې هم ناروا دي او دا يو حق دے چې په ازادولو سره ثابتيږي يعنې چې كله يو كس غلام ازاد كړي نو د هغه ميراث به د ازادونكي وي.

٭٭٭

ولاء به د هغه چا وي چې چا غلام ازاد كړو

306 - عَنْ عائشة قَالَت[1] : «كَانَتْ فِي بَرِيرَةَ ثَلَاثُ سُنَنٍ : خُيِّرَتْ عَلَى زَوْجِهَا حِينَ عَتَقَتْ، وَأُهْدِيَ لَهَا لَحْمٌ، فَدَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ ﷺ، وَالْبُرْمَةُ عَلَى النَّارِ، فَدَعَا بِطَعَامٍ، فَأُتِيَ بِخُبْزٍ وَأُدْمٍ مِنْ أُدْمِ الْبَيْتِ، فَقَالَ : «أَلَمْ أَرَ الْبُرْمَةَ عَلَى النَّارِ فِيهَا لَحْمٌ؟» فقالوا: بَلَى، يَا رَسُولَ اللهِ، ذَٰلِكَ لَحْمٌ تُصُدِّقَ بِهِ عَلَى بَرِيرَةَ، فَكَرِهْنَا أَنْ نُطْعِمَكَ مِنْهُ، فَقَالَ : «هُوَ عَلَيْهَا صَدَقَةٌ، وَهُوَ لَنَا مِنْهَا[2] هَدِيَّةٌ»، وَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ[3] : «إِنَّمَا الْوَلَاءُ لِمَنْ أَعْتَقَ»[4].

ترجمه: عائشه رضي الله عنها فرمائي : بريره كې درې طريقې وې، هغې له اختيار وركړے شو د خاوند په باره كې چې كله ازاده كړه او هديه كړے شوه هغې ته غوښه، نو نبي ﷺ داخل شو زما خوا ته او كټوئ په اور وه، نو طعام ئې راوبلو، روټۍ او تركاري د كور د تركارۍ نه ورته راوړے شوه (كومه چې تياره وه) نو اوئې فرمائيل : آيا ما اونه ليدله كټوئ په اور باندې چې په هغې كې غوښه وه؟ نو دوي اووئيل : ولې نه اے د الله رسوله! دغه غوښه صدقه كړے شوې وه په بريره رضي الله عنها باندې، نو مونږ بده اوګڼله چې تاسو ته د دې نه طعام دركړو، نو نبي ﷺ اوفرمائيل : دا خو په هغې (بريره) باندې صدقه ده

(1) في نسخة الزهيري: «أنها قالت».

(2) في نسخة الزهيري: «وهو منها لنا هدية».

(3) في نسخة الزهيري: «وقال النبي ﷺ فيها».

(4) رواه البخاري، كتاب النكاح، باب الحرة تحت العبد، برقم 5097، واللفظ له، ومسلم، كتاب العتق، برقم 1504.

او زمونږ دپاره د هغې (بريره) نه هديه ده، او نبي ﷺ (د هغې په باره کې) فرمائيلي دي: ولاء د هغه چا ده چا چې ازادول کړي دي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې ولاء د هغه چا ده چې هغه غلام يا وينځه ازاده کړه،

***

كتاب النكاح

کتاب ثابت دے په باره د نکاح کې.

❋❋❋

څوک چې د نکاح طاقت لري په هغه باندې نکاح کول واجبه ده

307 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ ﷺ قَالَ: قَالَ[1] رسول اللهِ ﷺ: «يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ، مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمُ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ، فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ، وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ. وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ. فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ»[2].

ترجمه: ابن مسعود ﷺ فرمائي: چې نبي ﷺ فرمائيلي دي: اے د ځوانانو تولکيه، د چا چې طاقت وي ستاسو نه، د واده کولو نو نکاح دې اوکړي، ځکه چې دا ډيره ښکته کونکے دے نظر لره او ډير حفاظت کونکے دے عورت لره، او د چا چې طاقت نه کيږي نو په هغې باندې روژې نيول لازم دي، ځکه چې دا د دې دپاره تکول (خصي کول) دي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې حتی الوسع نکاح کول پکار ده او که وس نه وي نو بيا روژې نيول دي.

❋❋❋

(1) في نسخة الزهيري: «قال لنا».

(2) رواه البخاري، كتاب الصوم، باب الصوم لمن خاف على نفسه العزوبة، برقم 1905، وكتاب النكاح، باب قول النبي ﷺ: «من استطاع منكم الباءة فليتزوج، فإنه أغض للبصر، وأحصن للفرج، برقم 5065، ولفظ الحديث من مجموع ألفاظ الحديثين، ومسلم، كتاب النكاح، باب استحباب النكاح لمن طاقت نفسه إليه، ووجد مؤنة، واشتغل من عجز عن المؤن بالصوم، برقم 1400، واللفظ له.

نكاح طرف ته ترغيب او رد په هغه چا چې نكاح نه كوي

308 ـ عَنْ أنس بن مالك ﷺ، «أَنَّ نَفَراً مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ ﷺ سَأَلُوا أَزْوَاجَ النَّبِيِّ ﷺ عَنْ عَمَلِهِ فِي السِّرِّ؟ فَقَالَ بَعْضُهُمْ : لا أَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ : لا آكُلُ اللَّحْمَ ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ : لا أَنَامُ عَلَى فِرَاشٍ. فَبَلَغَ النَّبِيَّ ﷺ ذَلِكَ[1] فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ، وَقَالَ : «مَا بَالُ أَقْوَامٍ قَالُوا كَذَا وَكَذَا[2]؟ لَكِنِّي أُصَلِّي وَأَنَامُ ، وَأَصُومُ وَأُفْطِرُ ، وَأَتَزَوَّجُ النِّسَاء ، فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي»[3].

ترجمه: انس ﷺ نقل كوي چې يو شكه څه نفرو د نبي ﷺ د ملګرو نه تپوس اوكړو د بيبيانو د نبي ﷺ نه په باره د عمل د هغه كې په پټه (يعنې د شپې) نو بعضو اووئيل : زه به نكاح نه كوم د زنانو سره ، او بعض اووئيلو : زه به غوښه نه خورم ، او بعض اووئيل : زه به په بستره نه اوده كيږم ، نو دا خبره نبي ﷺ ته اورسيدله ، (هغه پاڅيدلو) او حمد د الله ﷻ ئې اووئيل او ثناء ئې اووئيله په هغه باندې ، بيا ئې اوفرمائيل : څه حال دے د هغه قومونو چې وائي دا دا خبرې ، ليكن زه مونځ كوم ، اوده كيږم ، روژه نيسم ، او روژه ماتوم ، نكاح د زنانو سره كوم ، نو چا چې اعراض اوكړو زما د سنتو نه هغه زما نه نه دے .

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې نكاح د نبي ﷺ سنت عمل دے ، او د دې نه اعراض كول دا ترك د سنت دے .

❋❋❋

---

(1) «فبلغ النبي ﷺ ذلك»: ليست في نسخة الزهيري.

(2) «وكذا»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في صحيح مسلم، برقم 5-(1401).

(3) رواه البخاري، كتاب النكاح، باب الترغيب في النكاح لقوله تعالى: ﴿فَانكِحُوا مَا طَابَ لَكُم مِّنَ النِّسَاءِ﴾ [النساء: 3]، برقم 5063، بمعناه، ومسلم، كتاب النكاح، باب استحباب النكاح لمن تاقت نفسه إليه ووجد مؤنة، واشتغال من عجز عن المؤن بالصوم، برقم 5-(1401)، واللفظ له.

نکاح نه کول او ځان خصي کول جائز نه دي

309 ـ عَنْ سعد بن أبي وقاص ﷺ قَالَ: «رَدَّ رَسُولُ اللهِ ﷺ عَلَى عُثْمَانَ بْنِ مَظْعُونٍ التَّبَتُّلَ، وَلَوْ أَذِنَ لَهُ لاخْتَصَيْنَا»[1].

«التبتل» ترك النكاح، ومنه قيل لمريم: البَتُول[2].

ترجمه: سعد بن ابي وقاص ﷺ فرمائي: نبي ﷺ رد کړو په عثمان بن مظعون رضي الله عنه باندې نکاح نه کول، که چرته اجازه ئې ورکړې وے نو مونږ به ځانونه خصيان کړي وے.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د بنده دپاره دا جائز نه دي چې د ځان نه شهوت ختم کړي برابره خبره ده که په خصي کولو سره وي او که په بله ذريعه سره وي.

***

په نکاح کې محرمات د نسب او رضاعت د وجې نه

310 ـ عَنْ أم حبيبة بنت أبي سفيان بأنها قَالَت: يا رسول الله، انْكِحْ أُخْتِي ابْنَةَ أَبِي سُفْيَانَ، فقالَ: «أَوَتُحِبِّينَ ذَلِكِ؟» فَقُلْتُ: نَعَمْ، لَسْتُ لَكَ بِمُخْلِيَةٍ، وَأَحَبُّ مَنْ شَارَكَنِي فِي خَيْرٍ: أُخْتِي، فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: «إِنَّ ذَلِكِ لا يَحِلُّ لِي» قَالَتْ: فَإِنَّا نُحَدَّثُ أَنَّكَ تُرِيدُ أَنْ تَنْكِحَ بِنْتَ أَبِي سَلَمَةَ، قَالَ: «بِنْتَ أُمِّ سَلَمَةَ؟» قُلْتُ: نَعَمْ، فقالَ[3]: «إِنَّهَا لَوْ لَمْ تَكُنْ رَبِيبَتِي فِي حِجْرِي، مَا حَلَّتْ لِي، إِنَّهَا لابْنَةُ أَخِي مِنَ الرَّضَاعَةِ، أَرْضَعَتْنِي وَأَبَا سَلَمَةَ ثُوَيْبَةُ، فَلا تَعْرِضْنَ عَلَيَّ بَنَاتِكُنَّ، وَلا أَخَوَاتِكُنَّ»[4].

---

(1) رواه البخاري، كتاب النكاح، باب ما يكره من التبتل والخصاء، برقم 5073، و5074، ومسلم، كتاب النكاح، باب استحباب النكاح لمن تاقت نفسه إليه ووجد مؤنة، واشتغال من عجز عن المؤن بالصوم، برقم 1402.

(2) التبتل... إلى البتول؛ ليس في نسخة الزهيري.

(3) في نسخة الزهيري: «قال»، ولفظ المتن: «فقال» للبخاري، برقم 5101.

(4) رواه البخاري، كتاب النكاح، باب قوله تعالى: ﴿وَأَنْ تَجْمَعُوا بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ﴾ [النساء: 23]، وباب قوله تعالى:

ترجمه: ام حبيبه رضي الله عنها اوفرمائيل : اے د الله رسوله ! زما د خور سره نكاح اوكړه چې د ابو سفيان لور ده، نو نبي ﷺ ورته اوفرمائيل : آيا ته دا خوښوې ؟ ما ورته اوويئيل : آو ! نه يم زه ستاسو دپاره خالي كونكې، زه خوښوم چې خور مې زما سره په خير كې شريكه شي، نبي ﷺ ورته اوويئيل : يقيناً دا كار (واده كول د خينې سره) زما دپاره جائز نه دے ام حبيبه رضي الله عنها اوفرمائيل : مونږ دا خبره اوكړه چې ته اراده لرې چې نكاح اوكړې د لور د ابو سلمه سره ؟ نبي ﷺ اوفرمائيل : د ام سلمه لور ؟ ما اوويئيل : آو ! نبي ﷺ اوويئيل : هغه كه زما پركټي نه وے نو هم زما دپاره نه وه حلاله، ځكه چې هغه زما رضاعي وريره ده (ځكه) ما او ابو سلمه ته ثويبه سينه راكړې ده، نو مه پيش كوئ ماته خپلې لونړه او خويندې ستاسو.

«قَالَ عُرْوَةُ : وَثُوَيْبَةُ مَوْلاَةٌ لأَبِي لَهَبٍ ، كان أَبُو لَهَبٍ أَعْتَقَهَا فَأَرْضَعَتِ النَّبِيَّ ﷺ ، فَلَمَّا مَاتَ أَبُو لَهَبٍ أُرِيَهُ بَعْضُ أَهْلِهِ بِشَرِّ حِيبَةٍ ، قَالَ[1] : مَاذَا لَقِيتَ؟ قَالَ[2] أَبُو لَهَبٍ : لَمْ أَلْقَ بَعْدَكُمْ خَيْراً ، غَيْرَ أَنِّي سُقِيتُ مِنْ هَذِهِ[3] بِعَتَاقَتِي ثُوَيْبَةَ»[4] . «الحِيبةُ» بكسر الحاء المهملة : الحال[5].

ترجمه: عروه او ثويبه چې دا مولاة د ابو لهب وه ابو لهب دا ازاده كړې وه، نو هغې سينه وركړې وه نبي ﷺ ته كله چې ابو لهب مړ شو، نو بعض اهل د هغه په خوب كې اوليدو په بد حالت كې، نو اوئې فرمائيل : ورته، د څه سره ته مخامخ شوے ئې ؟ ابو لهب اوويئيل : زه نه يم مخامخ شوے روسته ستاسو (د

﴿وَرَبَائِبُكُمُ اللَّاتِي فِي حُجُورِكُمْ مِنْ نِسَائِكُمُ اللَّاتِي دَخَلْتُمْ بِهِنَّ﴾ [النساء: 23] برقم 5101، واللفظ له، ومسلم، كتاب الرضاع، باب تحريم الربيبة وأخت المرأة، برقم 1449.

(1) في نسخة الزهيري: «قال له» وهنا لفظ البخاري، برقم 5101.

(2) في نسخة الزهيري: «قال له» وهو لفظ المتن للبخاري، برقم 5101.

(3) في نسخة الزهيري: «في هذه» وهو لفظ البخاري، برقم 5101.

(4) رواه البخاري، برقم 5101، بلفظه، وبنحوه مسلم، برقم 1449، وتقدم في التخريج قبله.

(5) في نسخة الزهيري: «الحيبة: الحالة بكسر الحاء».

جدائي د څه حالت سره) نه سیوا د دې نه چې ما ته اوبه راکړے شوې د ثوبي د ازادولو په وجه.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم شوه چې د دوه خویندو جمع په یوه نکاح کې جائز نه دي، خو لیکن کله چې یوه خور وفات شي او یا طلاقه کړے شي نو بیا ئې بله خور په نکاح اخستلے شي.

***

ښځه او د هغې ترور د پلار او مور د طرف نه نشي جمع کولی

311 ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «لا يَجْمَع الرَّجُلُ[1] بَيْنَ الْمَرْأَةِ وَعَمَّتِهَا، وَلا بَيْنَ الْمَرْأَةِ وَخَالَتِهَا»[2].

ترجمه: ابو هریره ﷺ فرمائي: نبي ﷺ فرمائیلي دي: جمعوالے دې نه کوي (په یوه نکاح کې) یو سړے په مینځ د ښځې او د هغې د ترور (د پلار خور) کې او نه په مینځ د ښځې او د هغې د خاله (د مور خور) کې.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم شوه چې د ترور او وریرې په منځ کې په یوه نکاح کې جمع کول ناروا دي دغه شان ترور او خورزه جمع کول هم ناروا دي.

***

په نکاح کې چې کوم شروط لګولی شي په هغې باندې وفاء کول

312 ـ عَنْ عُقْبَة بن عامر ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «إِنَّ أَحَقَّ الشُّرُوطِ أَنْ تُوفُوا بِهِ مَا

---

(1) «الرجل»: لیست في نسخة الزهيري، وبنى الجملة للمجهول: «لا يُجمع بين»، وهذا هو لفظ البخاري، برقم 5109، وهو لفظ مسلم برقم 1408.

(2) رواه البخاري، كتاب النكاح، باب لا تنكح المرأة على عمتها، برقم 5109، بلفظه، ومسلم، كتاب النكاح، ، برقم 1408، بلفظه أيضاً.

اسْتَحْلَلْتُمْ بِهِ الْفُرُوجَ»[1].

ترجمه: عقبه بن عامر ﷺ فرمائي: نبي ﷺ فرمائيلي دي: يقيناً ډير لائق (او حق) شروط دا دي چې تاسو پوره والے اوکړئ په هغې سره چې تاسو حلال کړئ په هغې سره عورتونه.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې په کوم مهر سره چې د زنانه فرج (عورت) حلاليږي د هغې پوره ادا کول لازم دي.

***

د شغار نکاح حرامه ده

313 ـ عَنْ ابن عمر، «أَنَّ رسول اللهِ ﷺ نَهَى عَنْ نِكَاحِ[2] الشِّغَارِ»، وَالشِّغَارُ: أَنْ يُزَوِّجَ الرَّجُلُ ابْنَتَهُ عَلَى أَنْ يُزَوِّجَهُ الآخَرُ[3] ابْنَتَهُ، وَلَيْسَ بَيْنَهُمَا صداقٌ[4].

ترجمه: ابن عمر ﷺ نقل کوي چې بې شکه نبي ﷺ منع کړې ده د نکاح د شغار نه، او شغار

---

(1) رواه البخاري، كتاب الشروط، باب الشروط في المهر عند عقد النكاح، برقم 2721، بلفظ: «أحق الشروط أن توفوا به ما استحللتم به الفروج»، وكتاب النكاح، باب الشروط في النكاح، برقم 5151، بنحوه، ومسلم، كتاب النكاح، باب الوفاء بالشروط في النكاح، برقم 1418، بلفظ: «إن أحق الشروط أن يُوفى به ما استحللتم به الفروج».

(2) «نكاح»: ليست في نسخة الزهيري.

(3) «الآخر»: ليست في نسخة الزهيري.

(4) رواه البخاري، كتاب النكاح، باب الشغار، برقم 5112، بلفظه إلا كلمة: «نكاح»، فلم أجدها في روايات البخاري، ولا مسلم، وكتاب الحيل، باب الحيلة في النكاح، برقم 6960، بلفظ: «حَدَّثَنِي نَافِعٌ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ ﷺ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ «نَهَى عَنِ الشِّغَارِ» قُلْتُ لِنَافِعٍ: مَا الشِّغَارُ؟ قَالَ: «يَنْكِحُ ابْنَةَ الرَّجُلِ وَيُنْكِحُهُ ابْنَتَهُ بِغَيْرِ صَدَاقٍ، وَيَنْكِحُ أُخْتَ الرَّجُلِ، وَيُنْكِحُهُ أُخْتَهُ بِغَيْرِ صَدَاقٍ»، ومسلم، كتاب النكاح، باب تحريم نكاح الشغار وبطلانه، برقم 1415، وانظر تفسير الشغار في: فتح الباري، لابن حجر، 9/ 162.

دې ته وائي چې په نکاح ورکړي يو کس خپله لور په دې شرط په نکاح به ورکوي ديته هغه بل کس خپله لور، او نه وي (مقرر) په مينځ د دې دواړو کې مهر.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د شغار نکاح حرامه ده که چا اوکړه نکاح به ئې ماتولې شي.

***

د متعې نکاح حرامه ده

314 ـ عَنْ عَلِيِّ بن أَبِي طالب ﷺ، «أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ نَهَى عَنْ نِكَاحِ الْمُتْعَةِ يَوْمَ خَيْبَرَ، وَعَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الأَهْلِيَّةِ»[1].

ترجمه: علي ﷺ نقل کوي چې بې شکه نبي ﷺ منع کړې ده د نکاح د متعې نه په ورځ د خيبر، او د کورنو خرونو د غوښو نه.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د متعې نکاح حرامه ده او په اجرت باندې زنا کول حرام کار دے نو دا هم يو قسم د زنا دے.

***

په نکاح کې د زنا نه رضا لازم ده

315 ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ: «لا تُنْكَحُ الأَيِّمُ حَتَّى تُسْتَأْمَرَ، وَلا تُنْكَحُ الْبِكْرُ حَتَّى تُسْتَأْذَنَ». قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، وكَيْفَ[2] إِذْنُهَا؟ قَالَ: «أَنْ تَسْكُتَ»[1].

---

(1) رواه البخاري، كتاب النكاح، باب نهي رسول الله ﷺ عن نكاح المتعة آخراً، برقم 5115، وأخرجه متفرقاً في مواضع، برقم 4216، و5115، و5523، و6961، ومسلم، كتاب النكاح، باب نكاح المتعة وبيان أنه أبيح ثم نسخ، ثم أبيح ثم نسخ، واستقر تحريمه إلى يوم القيامة، برقم 30- (1407)، واللفظ له.

(2) في نسخة الزهيري: «كيف» بدون واو، والواو في لفظ البخاري، برقم 5136، ومسلم، برقم 1419.

ترجمه: ابو هريره رضي الله عنه نقل کوي چې بې شکه نبي ﷺ فرمائيلي دي: په نکاح به نشي ورکولے کونده (يا طلاقه شوې) ښځه تردې چې د هغې نه اجازه طلب کړے شي، او په نکاح به نشي ورکولے ځوانه (پيغله) جينۍ تردې چې اجازه ترينه طلب کړے شي، صحابو اووئيل: اے د الله رسوله! اجازه ئې څرنګه ده؟ نبي ﷺ اوفرمائيل: (اجازه ئې دا ده) چې چپ شي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د زنانه نه به په وخت د نکاح کې اجازه اخستلے شي.

***

په درې طلاقو سره طلاقه شوې زنانه د خاوند دپاره حلاله نه ده

316 ـ عَنْ عائشة قَالَت: «جَاءَتِ امْرَأَةُ رِفَاعَةَ الْقُرَظِيِّ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ، فَقَالَتْ: كُنْتُ عِنْدَ رِفَاعَةَ الْقُرَظِيِّ فَطَلَّقَنِي، فَبَتَّ طَلَاقِي، فَتَزَوَّجْتُ بَعْدَهُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ الزَّبِيرِ، وَإِنَّمَا مَعَهُ مِثْلُ هُدْبَةِ الثَّوْبِ، فَتَبَسَّمَ رَسُولُ اللهِ ﷺ وَقَالَ: «أَتُرِيدِينَ أَنْ تَرْجِعِي إِلَى رِفَاعَةَ؟ لا، حَتَّى تَذُوقِي عُسَيْلَتَهُ، وَيَذُوقَ عُسَيْلَتَكِ» قَالَتْ: وَأَبُو بَكْرٍ عِنْدَهُ، وَخَالِدُ بْنُ سَعِيدٍ بِالْبَابِ يَنْتَظِرُ أَنْ يُؤْذَنَ لَهُ، فَنَادَى: «يَا أَبَا بَكْرٍ، أَلَا تَسْمَعُ إِلَى[2] هَذِهِ مَا تَجْهَرُ بِهِ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ ﷺ؟»[3].

ترجمه: عائشه رضي الله عنها فرمائي: د رفاعه قرظي ښځه راغله نبي ﷺ ته اوئې فرمائيل: زه د رفاعه په نکاح کې وم او ماله ئې قطعي طلاق راکړل، نو ما د دې نه پس عبد الرحمن بن الزبير سره نکاح اوکړه، او يقيناً د هغه سره په مثل د پلو (يو طرف) د کپړې دے (يعنی ذکر (عورت) ئې کار نه

(1) رواه البخاري، كتاب النكاح، باب لا ينكح الأب وغيره البكر والثيب إلا برضاهما، برقم 5136، واللفظ له، ومسلم، كتاب النكاح، باب استئذان الثيب في النكاح بالنطق، والبكر بالسكوت، برقم 1419.

(2) «إلى» ليست في نسخة الزهيري، وهي في البخاري، برقم 2693، وبدون إلى في مسلم، برقم 1433.

(3) رواه البخاري، كتاب الشهادات، باب شهادة المختبي، برقم 2639، بلفظه، ومسلم، كتاب النكاح، باب لا تحل المطلقة ثلاثاً لمطلقها حتى تنكح زوجاً غيره، ويطأها، ثم يفارقها، وتنقضي عدتها، برقم 1433.

کوي)، نو نبي ﷺ اوخندل، او اوئې فرمائيل: ايا ته اراده لرې چې واپس شې رفاعه ته؟ (هغې اووئيل: آؤ نبي ﷺ ورته اوفرمائيل:) نهٔ (نشې واپس کيدلے) تردې چې ته د هغې (عبد الرحمن) کبين کوټے اوڅکې او هغه ستا کبين کوټے اوڅکي (يعنې د يو بل نه په جماع سره خوند واخلئ)، عائشه رضي الله عنها فرمائي: او ابو بکر ﷺ د نبي ﷺ خواته ناست وو او خالد بن سعيد ﷺ په دروازه کې وو انتظار ئې کولو چې اجازه ورکړے شي (دننه د داخليدلو) نو اواز ئې اوکړو چې اے ابو بکره آيا تا غوږ کيښودے دے د دې زنانه (خبرو ته) څومره په جهر خبرې کوي د نبي ﷺ په خواکې.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې په درې طلاقو سره طلاقه شوې زنانه واپس خاوند ته نشي حلاليدلے تر څو چې د بل خاوند سره نکاح اوکړي او هغه ورسره جماع اوکړي او بيا ئې په شرعي طلاقو سره طلاقه کړي، نو د عدت نه پس که اوغواړي چې مخکني خاوند سره نکاح اوکړي کولے شي.

د پيغلې زنانه سره اووه شپې تيرول چې کله په ثيبې با ندې اوکړے شي

317 ـ عَنْ أنس بن مالك ﷺ قَالَ: «مِنَ السُّنَّةِ، إِذَا تَزَوَّجَ الْبِكْرَ عَلَى الثَّيِّبِ، أَقَامَ عَنْدَهَا سَبْعاً، ثُمَّ[1] قَسَمَ، وَإِذَا تَزَوَّجَ الثَّيِّبَ[2]، أَقَامَ عَنْدَهَا ثَلَاثاً، ثُمَّ قَسَمَ».

ترجمه: انس ﷺ فرمائي: د سنت طريقې نه دا ده چې کله پيغلې سره نکاح اوکړي (يو کس) په واده شوې باندې نو د هغې سره به وخت تيروي اووه ورځې او شپې، بيا به تقسيم کوي (د شپو او ورځو) او کله چې نکاح اوکړي د واده شوې سره، نو د هغې سره به درې ورځې او شپې تيروي، بيا به تقسيم (د وخت) کوي.

(1) في نسخة الزهيري: «وقسم» بدون ثم، والواو بدل «ثم» في البخاري، برقم 5214.

(2) في نسخة الزهيري: «الثيب على البكر» وهي لفظ البخاري، برقم 5214.

قَالَ أبو قِلابة : «وَلَوْ شِئْتُ لَقُلْتُ : إِنَّ أَنَساً رَفَعَهُ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ»[1] .

ابو قلابه رحمه الله فرمائي : که زه اوغواړم چې داسې اووايم چې انس ﷺ دا حديث مرفوع کړے دے نبي ﷺ ته نو په حقه به يم .

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې چې کله يو کس دويمه ښځه اوکړي او هغه پيغله وي نو د هغې سره به اووه شپې تيروي ، او که کونډه يا طلاقه کړے شوې ئې اوکړه نو د هغې سره به درې شپې تيروي .

د جماع په وخت کې دعا وئيل

318 ـ عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «لَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ[2] ـ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَأْتِيَ أَهْلَهُ ـ قَالَ : بِسْمِ اللَّه ، اللّٰهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ ، وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا ، فَإِنَّهُ إِنْ يُقَدَّرْ بَيْنَهُمَا وَلَدٌ فِي ذٰلِكَ : لَمْ يَضُرَّهُ الشَّيْطَانُ أَبَداً»[3] .

ترجمه: ابن عباس ﷺ فرمائي : چې نبي ﷺ فرمائيلي دي : که يو کس کله اراده اوکړي چې راشي خپل اهل ته (د جماع دپاره) نو بسم الله به وائي : (او دا دعاء به وائي ترجمه) اے الله په ډډه اوساته مونږ د شيطان نه او په ډډه اوساته د شيطان نه هغه اولاد چې ته ئې مونږ ته راکوې ، که بچے په تقدير کې ليکل

---

(1) رواه البخاري، كتاب النكاح، باب إذا تزوج البكر على الثيب، برقم 5213، وباب إذا تزوج الثيب على البكر، برقم 5214، ومسلم، كتاب الرضاع، باب قدر ما تستحقه البكر، والثيب من إقامة الزوج عندها عقب الزفاف برقم 1461.

(2) في نسخة الزهيري: «أحدهم»، و«أحدكم» التي في المتن في البخاري، برقم 141، و«أحدهم» في البخاري، برقم 6388.

(3) رواه البخاري، كتاب الوضوء، باب التسمية على كل حال، وعند الوقاع، برقم 141، وكتاب بدء الخلق، باب صفة إبليس وجنوده برقم 3271، و3283، وفي كتاب النكاح، باب ما يقول الرجل إذا أتى أهله، برقم 5165، وكتاب الدعوات، باب ما يقول إذا أتى أهله، برقم 6388، واللفظ له، ومسلم، كتاب النكاح، باب التسمية على كل حال وعند الوقاع، برقم 1434.

شوے وي په دې (جماع) سره (نو) ضرر به ورنه کړي دې ماشوم ته شيطان هيڅ چيرې.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې کله يو کس د جماع اراده اوکړي نو مذکوره دعا به وائي د دې دپاره چې د شيطان د شرورنو نه بچ شي.

د نامحرمه زنانه سره خلوت کول ناروا عمل دے

319 ـ عَنْ عقبة بن عامر ﷺ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: «إِيَّاكُمْ وَالدُّخُولَ عَلَى النِّسَاءِ» فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ: يَا رَسُوْلَ اللهِ، أَفَرَأَيْتَ الْحَمْوَ؟ قَالَ: «الْحَمْوُ الْمَوْتُ»[1]. ولمسلمٍ عَنْ أبي الطاهر، عَنْ ابن وهب قَالَ: «سَمِعْتُ اللَّيثَ يقولُ: الحَمْوُ، أَخو الزَّوْجِ، ومَا أَشْبَهَهُ منْ أَقاربِ الزَّوْجِ: ابن العَمِّ ونَحْوِه»[2].

ترجمه: عقبه بن عامر ﷺ نقل کوي چې بې شکه نبي ﷺ فرمائيلي دي: تاسو ځان اوساتئ د داخليدلو نه په زنانو باندې، نو يو کس د انصارو نه اووئيل: اے د الله رسوله! ما ته خبر راکړه د ليور په باره کې (چې ايا دا داخليدلے شي ورندار خواته)؟ نبي ﷺ اوفرمائيل: ليور خو مرګ دے.

په مسلم کې دي د ابو طاهر نه او هغه د ابن وهب نه نقل کړے دے دا فرمائي: ما د ليث نه اوريدلي دي فرمائيل ئې: ليور د خاوند ورور ته وائي: او هغه چې مشابه وي د اقاربو د خاوند نه ده سره په نزدې والي کې **مثلاً**: د تره خوي او د دې په مثل (په خپلوئ کې).

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د ليور او د خاوند د هغه اقرباؤ سره خلوت کول ناروا دے چې هغه نامحرمه وي د دې زنانه دپاره.

---

(1) رواه البخاري، كتاب النكاح، باب لا يخلون رجل بامرأة إلا ذو محرم، والدخول على المغيبة، برقم 5232، واللفظ له، ومسلم، كتاب السلام، باب تحريم الخلوة بالأجنبية والدخول عليها برقم 2172.

(2) رواه مسلم، كتاب السلام، باب تحريم الخلوة بالأجنبية والدخول عليها، برقم 21- (2172).

❋❋❋

بَابُ الصَّدَاقِ

باب دے په بيان د مهر کې.

د وينځې ازادول او په نکاح سره اخستل او ازادول ورله مهر مقررول

320 ـ عَنْ أنس بن مالك رضي الله عنه، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ: أَعْتَقَ صَفِيَّةَ، وَجَعَلَ عِتْقَهَا صَدَاقَهَا»[1].

ترجمه: انس رضي الله عنه نقل کوي چې بې شکه نبي ﷺ ازاده کړه صفيه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا او ازادول ئې ورله مهر اوګرځولو.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د وينځې دپاره د هغې ازادول مهر دے.

مهر په سامان سره هم جائز دے لږ وي او که ډير وي

321 ـ عَنْ سَهْلِ بن سعدٍ الساعديِّ رضي الله عنه، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ جَاءَتْهُ امْرَأَةٌ، فَقَالَتْ: إِنِّي وَهَبْتُ نَفْسِي لَكَ، فَقَامَتْ طَوِيلاً، فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ، زَوِّجْنِيهَا، إِنْ لَمْ يَكُنْ لَكَ بِهَا حَاجَةٌ، فَقَالَ: «هَلْ عِنْدَكَ مِنْ شَيْءٍ تُصْدِقُهَا»؟ فَقَالَ: مَا عِنْدِي إلا إِزَارِي هَذَا، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «إِنْ أَعْطَيْتَهَا إِزَارَكَ جَلَسْتَ[2]، وَلا إِزَارَ لَكَ، فَالْتَمِسْ غير هذا[3]»، قَالَ: مَا أَجِدُ، قَالَ: «فالْتَمِسْ وَلَوْ خَاتَماً مِنْ حَدِيدٍ»، فَالْتَمَسَ، فَلَمْ يَجِدْ شَيْئاً. فَقَالَ: رَسُولُ اللهِ ﷺ: «هَلْ مَعَكَ شَيْءٌ مِنَ الْقُرْآنِ؟» قَالَ: نَعَمْ[4]. فَقَالَ رَسُولُ

---

(1) رواه البخاري، كتاب النكاح، باب من جعل عتق الأمة صداقها، برقم 5086، واللفظ له، ومسلم، كتاب النكاح، باب فضيلة إعتاقه أمته ثم يتزوجها، برقم 85- (1365).

(2) في نسخة الزهيري: «إزارك إن أعطيتها جلست ولا إزار لك».

(3) في نسخة الزهيري: «فالتمس شيئاً».

(4) «فقال رسول الله ﷺ: هل معك شيء من القرآن؟ قال: نعم» ليست في نسخة الزهيري.

اللهِ ﷺ: «زَوَّجْتُكَهَا بِمَا مَعَك مِنَ الْقُرْآنِ»[1].

ترجمه: سهل بن سعد رضي الله عنه نقل کوي چې بې شکه نبي ﷺ ته يوه زنانه راغله اوئې فرمائيل: ما خپل ځان تاته هبه کړے دے، نو ډير وخت ولاړه وه، (نبي ﷺ ورته ښکته بره اوکتل خوښه ئې نه شوه) نو بيا يو سړي اووئيل: اے د الله رسوله! ما له ئې په نکاح راکړه، که ستاسو ورته حاجت نه وي، نبي ﷺ ورته اووئيل: ايا تا سره څه شے شته دے چې مهر کې ورکړې، ؟ هغه اووئيل: نۀ مګر دا لنګ راسره دے،

---

(1) رواه البخاري، كتاب فضائل القرآن، باب القراءة عن ظهر قلب، برقم 5030، ولفظه: «عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، أَنَّ امْرَأَةً جَاءَتْ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ جِئْتُ لِأَهَبَ لَكَ نَفْسِي، فَنَظَرَ إِلَيْهَا رَسُولُ اللَّهِ ﷺ، فَصَعَّدَ النَّظَرَ إِلَيْهَا وَصَوَّبَهُ، ثُمَّ طَأْطَأَ رَأْسَهُ، فَلَمَّا رَأَتِ المَرْأَةُ أَنَّهُ لَمْ يَقْضِ فِيهَا شَيْئًا جَلَسَتْ، فَقَامَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِهِ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنْ لَمْ يَكُنْ لَكَ بِهَا حَاجَةٌ فَزَوِّجْنِيهَا، فَقَالَ: «هَلْ عِنْدَكَ مِنْ شَيْءٍ؟» فَقَالَ: لاَ وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: «اذْهَبْ إِلَى أَهْلِكَ فَانْظُرْ هَلْ تَجِدُ شَيْئًا؟» فَذَهَبَ ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ: لاَ وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا وَجَدْتُ شَيْئًا، قَالَ: «انْظُرْ وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ» فَذَهَبَ ثُمَّ رَجَعَ، فَقَالَ: لاَ وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَلاَ خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ، وَلَكِنْ هَذَا إِزَارِي - قَالَ سَهْلٌ: مَا لَهُ رِدَاءٌ - فَلَهَا نِصْفُهُ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «مَا تَصْنَعُ بِإِزَارِكَ، إِنْ لَبِسْتَهُ لَمْ يَكُنْ عَلَيْهَا مِنْهُ شَيْءٌ، وَإِنْ لَبِسَتْهُ لَمْ يَكُنْ عَلَيْكَ شَيْءٌ» فَجَلَسَ الرَّجُلُ حَتَّى طَالَ مَجْلِسُهُ ثُمَّ قَامَ فَرَآهُ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ مُوَلِّيًا، فَأَمَرَ بِهِ فَدُعِيَ، فَلَمَّا جَاءَ قَالَ: «مَاذَا مَعَكَ مِنَ القُرْآنِ؟» قَالَ: مَعِي سُورَةُ كَذَا، وَسُورَةُ كَذَا، وَسُورَةُ كَذَا - عَدَّهَا - قَالَ: «أَتَقْرَؤُهُنَّ عَنْ ظَهْرِ قَلْبِكَ؟» قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: «اذْهَبْ فَقَدْ مَلَّكْتُكَهَا بِمَا مَعَكَ مِنَ القُرْآنِ» والجملة الأخيرة في كتاب الوكالة، باب وكالة المرأة الإمام في النكاح، برقم 2310، ولفظه: «عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ ﷺ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي قَدْ وَهَبْتُ لَكَ مِنْ نَفْسِي، فَقَالَ رَجُلٌ: زَوِّجْنِيهَا، قَالَ: «قَدْ زَوَّجْنَاكَهَا بِمَا مَعَكَ مِنَ القُرْآنِ» ومسلم، كتاب النكاح، باب الصداق وجواز كونه تعليم قرآن، وخاتم حديد، وغير ذلك من قليل وكثير، واستحباب كونه خمسمائة درهم لمن لا يجحف به، برقم 1425، ولفظه: «عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ، قَالَ: جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ، جِئْتُ أَهَبُ لَكَ نَفْسِي، فَنَظَرَ إِلَيْهَا رَسُولُ اللهِ ﷺ، فَصَعَّدَ النَّظَرَ فِيهَا وَصَوَّبَهُ، ثُمَّ طَأْطَأَ رَسُولُ اللهِ ﷺ رَأْسَهُ، فَلَمَّا رَأَتِ الْمَرْأَةُ أَنَّهُ لَمْ يَقْضِ فِيهَا شَيْئًا جَلَسَتْ، فَقَامَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِهِ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنْ لَمْ يَكُنْ لَكَ بِهَا حَاجَةٌ فَزَوِّجْنِيهَا، فَقَالَ: «فَهَلْ عِنْدَكَ مِنْ شَيْءٍ؟» فَقَالَ: لَا، وَاللهِ يَا رَسُولَ اللهِ، فَقَالَ: «اذْهَبْ إِلَى أَهْلِكَ فَانْظُرْ هَلْ تَجِدُ شَيْئًا؟» فَذَهَبَ ثُمَّ رَجَعَ، فَقَالَ: لَا، وَاللهِ، مَا وَجَدْتُ شَيْئًا، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «انْظُرْ وَلَوْ خَاتِمًا مِنْ حَدِيدٍ»، فَذَهَبَ ثُمَّ رَجَعَ، فَقَالَ: لَا، وَاللهِ، يَا رَسُولَ اللهِ، وَلَا خَاتِمًا مِنْ حَدِيدٍ، وَلَكِنْ هَذَا إِزَارِي - قَالَ سَهْلٌ: مَا لَهُ رِدَاءٌ - فَلَهَا نِصْفُهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «مَا تَصْنَعُ بِإِزَارِكَ؟ إِنْ لَبِسْتَهُ لَمْ يَكُنْ عَلَيْهَا مِنْهُ شَيْءٌ، وَإِنْ لَبِسَتْهُ لَمْ يَكُنْ عَلَيْكَ مِنْهُ شَيْءٌ»، فَجَلَسَ الرَّجُلُ، حَتَّى إِذَا طَالَ مَجْلِسُهُ قَامَ، فَرَآهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ مُوَلِّيًا، فَأَمَرَ بِهِ فَدُعِيَ، فَلَمَّا جَاءَ قَالَ: «مَاذَا مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ؟» قَالَ: مَعِي سُورَةُ كَذَا وَسُورَةُ كَذَا - عَدَّدَهَا - فَقَالَ: «تَقْرَؤُهُنَّ عَنْ ظَهْرِ قَلْبِكَ؟» قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: «اذْهَبْ فَقَدْ مُلِّكْتَهَا بِمَا مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ»، وفي رواية: «عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، بِهَذَا الْحَدِيثِ، يَزِيدُ بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ، غَيْرَ أَنَّ فِي حَدِيثِ زَائِدَةَ قَالَ: «انْطَلِقْ فَقَدْ زَوَّجْتُكَهَا فَعَلِّمْهَا مِنَ الْقُرْآنِ».

نبي ﷺ ورته اوويل : که ته خپل لنګ دې ته ورکړې نو ته به کينې او لنګ به دې نه وي (يعنې ته به بغير د لنګ نه پاتې شې) ، طلب کړه د دې نه سيوا بل څه ، هغه اوويل : نه بيامومم (نور څه) نبي ﷺ ورته اوويل : طلب کړه اګر که د اوسپنې ګوتمه وي ، نو هغه طلب اوکړو ، هيڅ ئې بيانه موندل ، نو نبي ﷺ ورته اوويل : آيا تا سره څه شے(حصه) د قرآن کريم شته (ياد) دے ؟ هغه اوويل : آؤ ! نبي ﷺ ورته اوويل : ما تاله په نکاح درکړه په عوض د هغه حصې د قرآن کريم کې چې تا سره ده.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د پيسو نه او سرو زرو او سپينو زرو نه سيوا نور اشيا هم په مهر کې ورکولے شي، قرآن کريم هم په مهر کې ښځې ته ښودلے شي.

❋❋❋

وليمه کول او واده والا ته دعا کول

322 ـ عَنْ أنس بن مالك ﷺ ، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ رَأَى عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ ، وَعَلَيْهِ رَدْعُ زَعْفَرَانٍ. فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ : «مَهْيَمْ؟» فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللهِ ، تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً ، فَقَالَ[1] : «مَا أَصْدَقْتَهَا»؟ قَالَ : وَزْنَ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ ، قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ[2] : «بَارَكَ[3] اللهُ لَكَ ، أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ»[4]»[1].

---

(1) في نسخة الزهيري: «قال».

(2) «رسول الله ﷺ»: ليست في نسخة الزهيري.

(3) في نسخة الزهيري: «فبارك».

(4) رواه البخاري، كتاب البيوع، بَابُ مَا جَاءَ فِي قَوْلِ اللهِ تَعَالَى: ﴿فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ * وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا انْفَضُّوا إِلَيْهَا وَتَرَكُوكَ قَائِمًا قُلْ مَا عِنْدَ اللَّهِ خَيْرٌ مِنَ اللَّهْوِ وَمِنَ التِّجَارَةِ وَاللَّهُ خَيْرُ الرَّازِقِينَ﴾ [الجمعة: 11]، برقم 2049، ولفظه: «عَنْ أَنَسٍ ﷺ، قَالَ: قَدِمَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ المَدِينَةَ فَآخَى النَّبِيُّ ﷺ، بَيْنَهُ وَبَيْنَ سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ الأَنْصَارِيِّ، وَكَانَ سَعْدٌ ذَا غِنًى، فَقَالَ لِعَبْدِ الرَّحْمَنِ: أُقَاسِمُكَ مَالِي نِصْفَيْنِ وَأُزَوِّجُكَ، قَالَ: بَارَكَ اللَّهُ لَكَ فِي أَهْلِكَ وَمَالِكَ، دُلُّونِي عَلَى السُّوقِ، فَمَا رَجَعَ حَتَّى اسْتَفْضَلَ أَقِطًا وَسَمْنًا، فَأَتَى بِهِ أَهْلَ مَنْزِلِهِ، فَمَكَثْنَا يَسِيرًا أَوْ مَا شَاءَ اللَّهُ، فَجَاءَ وَعَلَيْهِ وَضَرٌ مِنْ صُفْرَةٍ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ ﷺ «مَهْيَمْ» قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً مِنَ الأَنْصَارِ، قَالَ: «مَا سُقْتَ إِلَيْهَا؟» قَالَ: نَوَاةً مِنْ ذَهَبٍ - أَوْ وَزْنَ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ - قَالَ: «أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ»

ترجمه: انس بن مالک ﷺ نقل کوي چې پې شکه نبي ﷺ اولیدلو عبد الرحمن بن عوف، او په هغه باندې اثر د زعفران وو، نو نبي ﷺ اوفرمائیل: دا شان (حال) دې څنګه دے؟ نو هغه اووئیل: اے د الله ﷺ رسوله! ما د یوې زنانه سره نکاح کړې ده، نبي ﷺ ورته اووئیل: څومره مهر دې ورکړے دے؟ هغه اووئیل: په وزن د کجورې د ادوکي سره زر، نبي ﷺ ورته اووئیل: الله ﷺ دې درله په کې برکت واچوي، ولیمه اوکړه اګر که په کډ یا چیلي سره وي.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم شوه چې په واده کې بعض هغه اشیاء چې اثر ئې په بنده ښکاري هغه لړولے شي خو چې په زنانه وو پورې خاص نه وي، او مهر ورکول لازم دي، واده والا ته دعا کول، ولیمه کول لازم ده.

❊ ❊ ❊

وألفاظ الحديث مفرقاً عند البخاري، برقم 2293، و3781، و3937، و5072، و5148، و5153، و5155، و5167، و6082، و6386، ومسلم، كتاب الصداق وجواز كونه تعليم قرآن وخاتم حديد، وغير ذلك من قليل وكثير، واستحباب خمسمائة درهم لمن لا يجحف به، برقم 1427، ولفظه: «عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ رَأَى عَلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ أَثَرَ صُفْرَةٍ، فَقَالَ: «مَا هَذَا؟» قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنِّي تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً عَلَى وَزْنِ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ، قَالَ: «فَبَارَكَ اللهُ لَكَ، أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ».

(1) في نسخة الزهيري زيادة: «الردع: براء، ودال، وعين مهملات، ومهيم: تفسيره: ما أمرك؟، والنواة: خمسة دراهم» وأشار المحقق الزهيري إلى أنها من نسخة ابن الملقن، وأنها قد لا تكون من كلام المؤلف.

كتابُ الطّلاق

كتاب ثابت دے په بيان د طلاقو کې.

***

د بدعي طلاقو ورکول حرام دي

323 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، «أَنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ، فَذَكَرَ ذٰلِكَ عُمَرُ لِرَسُولِ اللهِ ﷺ، فَتَغَيَّظَ فِيهِ رَسُولُ اللهِ ﷺ، ثُمَّ قَالَ: «لِيُرَاجِعْهَا، ثُمَّ يُمْسِكْهَا حَتَّى تَطْهُرَ، ثُمَّ تَحِيضَ فَتَطْهُرَ، فَإِنْ بَدَا لَهُ أَنْ يُطَلِّقَهَا فَلْيُطَلِّقْهَا طاهراً[1] قَبْلَ أَنْ يَمَسَّهَا، فَتِلْكَ الْعِدَّةُ، كَمَا أَمَرَ اللهُ ﷻ»[2].

ترجمه: ابن عمر رضي الله عنه طلاق ورکړل خپلې ښځې ته او هغه حائضه وه، نو دا خبره عمر رضي الله عنه نبي ﷺ ته ذکر کړه، نو نبي ﷺ په دې (کار) کې غصه شو، بيا ئې اووئيل: رجوع دې اوکړي هغې ته، بيا دې اوساتي (د ځان سره) تردې چې پاکه شي، چې بيا حائضه شي او پاکه شي، نو که دې ته (مناسب) ښکاره شوه چې طلاق ورکړي، نو طلاق دې ورکړي، په داسې حال کې چې پاکه وي، (خو) مخکې د جماع نه، نو دغه (شان) عدت (به تيروي) لکه څرنګه چې الله ﷻ امر کړے دے (په هغې باندې په قرآن کريم کې).

وفي لفظ «**حَتَّى تَحِيضَ حَيْضَةً أخرى[3] مُسْتَقْبَلَةً، سِوَى حَيْضَتِهَا الَّتِي طَلَّقَهَا فِيهَا**»[4].

---

(1) «طاهراً»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في صحيح البخاري، برقم 4908.

(2) رواه البخاري، كتاب التفسير، سورة الطلاق، برقم 4908، بلفظه، ومسلم، كتاب الطلاق، باب تحريم طلاق الحائض بغير رضاها، وأنه لو خالف وقع الطلاق، ويؤمر برجعتها، برقم 1471.

(3) «أخرى»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في مسلم، برقم 4- (1471).

(4) رواه مسلم، كتاب الطلاق، باب تحريم طلاق الحائض بغير رضاها، وأنه لو خالف وقع الطلاق، ويؤمر برجعتها برقم 4-(1471)

ترجمه: په بل لفظ سره داسې الفاظ ثابت دي : (نبي ﷺ اوفرمائيل :) تردې چې بل حيض پرې راشي كوم چې مخې ته راروان دے ، سيوا د هغه حيض نه په كوم كې چې طلاق وركړې وو.

وفي لفظٍ «فَحُسِبَتْ مِنْ طَلاقِهَا ، وَرَاجَعَهَا عَبْدُ اللهِ بن عمر[1] كَمَا أَمَرَهُ[2] رَسُولُ اللهِ ﷺ»[3].

ترجمه: په بل لفظ سره داسې الفاظ ثابت دي : (دغه طلاق كوم چې په حيض كې وركړے وو) پس هغه اوشمارل شو د هغې د طلاقو نه ، او رجوع اوكړه ابن عمر ﷺ لكه څرنګه چې ورته نبي ﷺ امر كړے وو.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د حيض په دوران كې طلاق وركول د سنت نه خلاف دي ، كه چا وركړل نو رجوع به كوي.

* * *

په درې طلاقو سره طلاقه شوې زنانه دپاره نفقه او د اوسيدلو ځائي په خاوند نشته

324 ـ عَنْ فاطمة بنت قيس ، «أَنَّ أَبَا عَمْرِو بْنَ حَفْصٍ طَلَّقَهَا الْبَتَّةَ ، وَهُوَ غَائِبٌ ـ وفي رواية : طَلَّقَهَا ثَلاثاً ـ فَأَرْسَلَ إِلَيْهَا وَكِيلُهُ بِشَعِيرٍ ، فَسَخِطَتْهُ ، فَقَالَ : وَاللهِ مَا لَكِ عَلَيْنَا مِنْ شَيْءٍ ، فَجَاءَتْ رَسُولَ اللهِ ﷺ ، فَذَكَرَتْ ذٰلِكَ لَهُ ، فَقَالَ : «لَيْسَ لَكِ عَلَيْهِ نَفَقَةٌ» ـ وفي لفظ : «وَلا سُكْنَى» ـ فَأَمَرَهَا أَنْ تَعْتَدَّ فِي بَيْتِ أُمِّ شَرِيكٍ ، ثُمَّ قَالَ : «تِلْكِ امْرَأَةٌ يَغْشَاهَا أَصْحَابِي ، اعْتَدِّي عِنْدَ ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ ، فَإِنَّهُ رَجُلٌ أَعْمَى ، تَضَعِينَ ثِيَابَكِ ، فَإِذَا حَلَلْتِ فَآذِنِينِي» قَالَتْ : فَلَمَّا حَلَلْتُ ذَكَرْتُ لَهُ أَنَّ مُعَاوِيَةَ بْنَ أَبِي سُفْيَانَ ، وَأَبَا جَهْمٍ خَطَبَانِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : «أَمَّا أَبُو جَهْمٍ : فَلا يَضَعُ عَصَاهُ عَنْ عَاتِقِهِ ، وَأَمَّا مُعَاوِيَةُ : فَصُعْلُوكٌ لا مَالَ لَهُ

(1) «ابن عمر» ليست في نسخة الزهيري.

(2) في نسخة الزهيري: «كما أمر رسول الله ﷺ»، وهي في مسلم، برقم 4- (1471).

(3) رواه مسلم، كتاب الطلاق، باب تحريم طلاق الحائض بغير رضاها، وأنه لو خالف وقع الطلاق، ويؤمر برجعتها، برقم 4-(1471)

' انْكِحِي أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ» فَكَرِهْتُهُ، ثُمَّ قَالَ: «انْكِحِي أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ» فَنَكَحْتُهُ، فَجَعَلَ اللهُ فِيهِ خَيْراً، وَاغْتَبَطْتُ[1]»[2].

ترجمه: فاطمه بنت قيس رضي الله عنها نقل کوي چې بې شکه عمرو بن حفص، طلاقه ورکړه فاطمه لره په البته طلاقو سره، او هغه غائب وو، (بل روايت کې دي) درې طلاقه ئې ورکړل، نو وکيل ئې ورولېږلو په ورېشو سره، نو هغه ورته غصه شوه، نو عمرو ورته اووئيل: قسم په الله چې ستا په ما باندې هيڅ حق نشته، نو هغه نبي ﷺ ته راغله، او دا واقعه ئې ورته بيان کړه، نو نبي ﷺ ورته اووئيل: ستا په هغه باندې څه حق نشته، (په بل روايت کې دي) او (ستا) د اوسيدلو ځائي (د هغه په ذمه) هم نشته، نو نبي ﷺ ورته امر اوکړو چې عدت تير کړې په کور د ام شريک کې، بيا ورته اووئيل: دغه ښځه ده زما ملګري ورته ډېر راځي (د مسائلو تپوسلو له) عدت تير کړه د ابن ام مکتوم کره، ځکه چې هغه ړوند سړے دے، (که) ته کپړې (څادر) ږدې د هغه په خواکې (نو هم څه باک نشته) کله چې ته پاکه شوې نو ما ته خبر راکړه، دا وائي: کله چې زه پاکه شوم نو ما نبي ﷺ ته خبر ورکړو، چې معاويه بن ابي سفيان، او ابو جهم دواړو زما خطبه کړې ده، نو نبي ﷺ اوفرمائيل: (د مشورې په طور) هر چې ابو جهم دے، نو هغه همسا نه کوزوي د خپلو اوګو نه، او هر چې معاويه رضي الله عنه دے، نو هغه غريب دے هيڅ مال ورسره نشته، د اسامه بن زيد سره نکاح اوکړه، (فاطمه وائي) دا خبر ما بده اونه ګڼله، بيا راته نبي ﷺ اوفرمائيل: د اسامه بن زيد سره نکاح اوکړه، نو ما هغې سره نکاح اوکړه، نو الله ﷻ راله په هغې کې خير واچولو، او ما به په هغې غبطه (پسخيدل او فخر کولو).

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې که زنانه په درې طلاقو سره طلاقه کړے شي نو د هغې دپاره د دې

---

(1) في نسخة الزهيري: «واغتبطت به».

(2) رواه البخاري، كتاب الطلاق، باب قصة فاطمة بنت قيس، برقم 5321، و5322، و5323، و5324، و5325، و5326، و5327، و5328، بنحوه مختصراً، ومسلم، كتاب الطلاق، باب المطلقة ثلاثاً لا نفقة لها، برقم 1480، واللفظ له.

خاوند نه نه نفقه شته او نه ځائې د اوسيدلو، كله چې عدت تير شي نو بيا نكاح د بل خاوند سره كولے.

بَابُ العدّة

باب ثابت دے په بيان د عدت کې.

عدت په وضع د حمل سره پوره کيږي

325 ـ عَنْ سُبَيْعَةَ الأَسْلَمِيَّةِ، أَنَّهَا كَانَتْ تَحْتَ سَعْدِ بْنِ خَوْلَةَ ـ وَهُوَ مِنْ[1] بَنِي عَامِرِ بْنِ لُؤَيٍّ ـ وَكَانَ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا ـ فَتُوُفِّيَ عَنْهَا فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ، وَهِيَ حَامِلٌ، فَلَمْ تَنْشَبْ أَنْ وَضَعَتْ حَمْلَهَا بَعْدَ وَفَاتِهِ، فَلَمَّا تَعَلَّتْ مِنْ نِفَاسِهَا: تَجَمَّلَتْ لِلْخُطَّابِ. فَدَخَلَ عَلَيْهَا أَبُو السَّنَابِلِ بْنُ بَعْكَكٍ ـ رَجُلٌ مِنْ بَنِي عَبْدِ الدَّارِ ـ فَقَالَ لَهَا: مَا لِي أَرَاكِ مُتَجَمِّلَةً؟ لَعَلَّكِ تَرْجِينَ النِّكَاحَ، وَاللهِ مَا أَنْتِ بِنَاكِحٍ حَتَّى تَمُرَّ عَلَيْكِ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وَعَشْرٌ، قَالَتْ سُبَيْعَةُ: فَلَمَّا قَالَ لِي ذَلِكَ، جَمَعْتُ عَلَيَّ ثِيَابِي حِينَ أَمْسَيْتُ، فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ، فَسَأَلْتُهُ عَنْ ذَلِكَ؟ فَأَفْتَانِي بِأَنِّي قَدْ حَلَلْتُ حِينَ وَضَعْتُ حَمْلِي، وَأَمَرَنِي بِالتَّزْوِيجِ، إِنْ بَدَا لِي».

ترجمه: سبيعه الاسلمية رضي الله عنها د سعد بن خوله ﷺ ښځه وه (او سعد د نبي عامر بن لؤي نه دے او دا د هغه صحابو نه دے چې بدر ته حاضر شوي وو) نو دا وفات شو د هغې نه په حجة الوداع کې او سبيعه حامله وه، او ډير وخت ئې تير نه کړو (په عدت کې) تردې چې حمل ئې وزيږوو روسته د وفات د هغې نه، هر کله چې د نفاس نه ښه شوه، ځان ئې ښائسته کړو د خطبه کونکو دپاره، نو ابو السنابل بن بعكك (چې دا يو سړے د نبي عبد الدار نه دے) د سبيعې خواله ورغے، او ورته ئې اووئيل: څه وجه ده ما له چې وينم زه تا لره ډول کونکې، شايد چې ته اميد د نکاح کوې، قسم په الله ته نکاح نه شې کولے تردې چې تيرې شي په تا باندې څلور مياشتې او لس ورځې، سبيعه رضي الله عنها اوفرمائيل: هر کله چې ما ته هغه دا خبره اوکړه، نو ما په ځان باندې کپړې راټولې کړې کله چې مې مابنام کړو، نو راغلم نبي ﷺ ته، تپوس مې ترينه اوکړو د دې په باره کې؟ نو هغه فتوى راکړه چې زه

---

(1) في نسخة الزهيري: «وهو في بني عامر» وهو الذي في مسلم، برقم 1484.

حلاله شوې يم د هغه وخت نه چې حمل مې اوزيږوو، او امر ئې راته اوکړو په نکاح کولو باندې که ما ته دا نکاح ښه ښکاره شي.

قَالَ ابن شهاب : **ولا أَرى بَأْساً أَنْ تَتَزَوَّجَ حينَ وضَعَتْ ، وإِنْ كَانَتْ في دَمِها ، غَيْرَ أَنَّهُ[1] لايَقْرَبُها زَوْجُها حتَّى تَطْهُرَ[2]**

ترجمه: ابن شهاب رحمه الله فرمائي : زه څه باک نه ګنم چې زنانه نکاح اوکړي په هغه وخت کې چې بچے راوړي، اګر که په وينو کې وي، سيوا د دې نه چې خاوند به ورته نزديکت نه کوي تردې چې پاکه شي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې کله زنانه حمل اوزيږوي نو د دې عدت پوره شو، بيا دا نکاح کولے شي.

❋❋❋

د زنانه دپاره جائز نه دي چې د خاوند نه سيوا په بل چا باندې د دې ورځو نه زيات غمرازي اوکړي

326 ـ عَنْ زينب بنت أُمِّ سلمة قَالَت : تُوُفِّيَ حَمِيمٌ لأُمِّ حَبِيبَةَ ، فَدَعَتْ بِصُفْرَةٍ ، فَمَسَحَتْ[3] بِذِرَاعَيْهَا ، فَقَالَتْ[4] : إِنَّمَا أَصْنَعُ هَذَا لأَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ : «لا يَحِلُّ لامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ

---

(1) في نسخة الزهيري: «غير أن لا يقربها» وهذا الذي في مسلم، برقم 1484.

(2) رواه البخاري، كتاب التفسير، باب ﴿وَأُولاتُ الأَحْمالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ﴾، برقم 4909، وفيه: «فوضعت بعد موته بأربعين ليلة، فخُطبت فأنكحها رسول الله ﷺ، وكان أبو السنابل فيمن خطبها» وكتاب الطلاق، باب قول الله تعالى: ﴿وَأُولاَتُ الأَحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَنْ يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ﴾ [الطلاق: 4]، برقم 5318، ومسلم، كتاب الطلاق، باب انقضاء عدة المتوفى عنها زوجها وغيرها، بوضع الحمل، برقم 1484.

(3) في نسخة الزهيري: «فمسحته» وهذا هو الذي في مسلم، برقم 59- (1489).

(4) في نسخة الزهيري: «وقالت».

الآخِرِ، أَنْ تُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ[1] فَوْقَ ثَلاثٍ، إِلاَّ عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْراً»[2].[3]

ترجمه: زينب بنت ام سلمه رضي الله عنها فرمائي: د ام حبيبه رضي الله عنها پلار وفات شو، دې زيړ رنګ را اوغوښتلو او په مټو باندې ئې اولګولو، او وې فرمائيل: دا کار ما ځکه اوکړو چې ما د نبي ﷺ نه اوريدلي دي هغه فرمائيل: نه دي حلال د يوې زنانه دپاره چې هغه ايمان لري په الله ﷻ او په ورځ د اخرت باندې چې دا غم اوکړي په مړي باندې زيات د درې ورځو نه، مګر په خاوند باندې به څلور مياشتې او لس ورځې غم کوي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د زنانه خاوند وفات شي نو په هغې باندې به څلور مياشتې او لس ورځې غم رازي کوي، او دا کار په زنانه باندې واجب دے برابره خبره ده که وړه وي او که غټه وي، مدخول بها وي او که غير مدخول بها، او که خپلوانو کې کوم کس مړ شو **مثلاً**: پلار، مور، نيکه، وغيره نو په هغه باندې درې ورځو پورې اجازه شته دے د دې نه زياته اجازه نشته.

❊ ❊ ❊

هغه اشياء چې د غمزده زنانه دپاره ترينه ځان ساتل لازم دي

327 ـ عَنْ أم عطية، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: «لا تُحِدُّ امْرَأَةٌ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلاثٍ، إلا عَلَى زَوْجٍ، أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْراً، وَلا تَلْبَسُ ثَوْباً مَصْبُوغاً، إِلاَّ ثَوْبَ عَصْبٍ، وَلا تَكْتَحِلُ، وَلا تَمَسُّ طِيباً، إلاَّ إذَا طَهُرَتْ: نُبْذَةً مِنْ قُسْطٍ أَوْ أَظْفَارٍ»[4].

---

(1) «على ميت»: ليست في نسخة الزهيري.

(2) رواه البخاري، كتاب الجنائز، باب إحداد المرأة على غير زوجها، برقم 1280، و1281، وفي الطلاق، برقم 5334، ومسلم، كتاب الطلاق، باب وجوب الإحداد في عدة الوفاة، وتحريمه في غير ذلك، إلا ثلاثة أيام، برقم 1486، واللفظ له.

(3) في نسخة الزهيري قبل الحديث رقم 327 زيادة: «الحميم: القرابة».

(4) رواه البخاري، كتاب الطلاق، باب القسط للحادة عند الطهر، برقم 5341، وطرفه في صحيح البخاري، برقم 313، وأخرجه

العَصْب : ثياب من اليمن ، فيها بياض وسواد .

والنبذة : الشيء اليسير. والقسط : العود ، أو نوع من الطيب تُبَخَّر به النفساء.

والأظفار : جنس من الطيب ، لا واحد له من لفظه. وقيل : هو عطر أسود ، القطعة منه تشبه الظُّفُر [1].

ترجمه: ام عطيه رضي الله عَنْها نقل كوي چې پې شكه نبي ﷺ فرمائيلي دي : غم دې نه كوي يوه زنانه په مړي باندې زيات د درې ورځو نه ، مګر په خاوند باندې په څلور مياشتې او لس ورځې (بلكه غم كوي) او رنګينې كپړې به نه اچوي ، مګر يمنۍ كپړه (اچولے شي كه برګه وي) او رانجه به نه لګوي او خوشبوئي به نه لګوي ، مګر كله چې پاكه شوه نو يوه توكړه د قسط خوشبوئي او يا اظفار خوشبوئي نه (يعنې دا لګولے شي).

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې زنانه به په خپل خاوند باندې څلور مياشتې او لس ورځې غم رازي كوي او په نورو مړو باندې درې ورځې ، په دې وخت كې رنګينې كپړې او خوشبوئي نشي استعمالولے .

***

په عدت د وفات كې غم رازي په زنانه باندې لازم ده

328 ـ وعَنْ أم سلمة قَالَت : «جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ ، فَقَالَتْ : يَا رَسُولَ اللهِ ، إِنَّ بْنَتِي [2] تُوُفِّيَ عَنْهَا زَوْجُهَا ، وَقَدِ اشْتَكَتْ عَيْنَهَا ، أَفَنُكَحِّلُهَا؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : «لا» ـ مَرَّتَيْنِ ، أَوْ ثَلاثاً ـ كل ذلك يقول : «لا» ، ثُمَّ قَالَ : «إِنَّمَا هِيَ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وَعَشْرٌ ، وَقَدْ كَانَتْ إِحْدَاكُنَّ فِي الْجَاهِلِيَّةِ تَرْمِي بِالْبَعْرَةِ عَلَى رَأْسِ الْحَوْلِ» فَقَالَتْ زَيْنَبُ : كَانَتِ الْمَرْأَةُ إِذَا تُوُفِّيَ عَنْهَا زَوْجُهَا دَخَلَتْ حِفْشاً ، وَلَبِسَتْ شَرَّ ثِيَابِهَا ، وَلَمْ

مسلم، كتاب الطلاق، باب وجوب الإحداد في عدة الوفاة، وتحريمه في غير ذلك، إلا ثلاثة أيام، برقم 66- 938، واللفظ له.

(1) من قوله: «والنبذة... إلى: الظفر» ليس في نسخة الزهيري.

(2) في نسخة الزهيري: «إن ابنتي» وهو في البخاري، برقم 5336، وفي مسلم، برقم 1488.

تَمَسّ طِيباً وَلا شَيْئاً حَتَّى تَمُرَّ عليها[1] سَنَةٌ، ثُمَّ تُؤْتَى بِدَابَّةٍ- حِمَارٍ، أَوْ طَيْرٍ، أَوْ شَاةٍ[2] -فَتَفْتَض بِهِ فَقَلَّمَا تَفْتَضُّ بِشَيْءٍ إلاَّ مَاتَ، ثُمَّ تَخْرُجُ، فَتُعْطَى بَعْرَةً فَتَرْمِي بِهَا، ثُمَّ تُرَاجِعُ بَعْدُ، مَا شَاءَتْ مِنْ طِيبٍ أَوْ غَيْرِهِ»[3].

الحِفش: البيت الصغير الحقير[4]. و«تفتض» تدلك به جسدها.

ترجمه: ام سلمه رضي الله عنها فرمائي: يوه زنانه راغله نبي ﷺ ته ورته ئي اوفرمائيل: اے د الله رسوله، يقيناً زما د لور نه خاوند وفات شوے دے، او د هغې سترګې بيمارې دي، آيا رانجه ورله لګولے شم؟ نبي ﷺ ورته اووئيل: نهٔ دوه يا درې ځله ئي دا خبره اوکړه، په تولو ځلوکې به ورته نبي ﷺ نهٔ وئيله، بيا ورته نبي ﷺ اووئيل: يقيناً دا څلور مياشتې او لس ورځې دي او په تحقيق سره وه به يوه زنانه ستاسو نه په جاهليت کې چې ګزار به ئې کړه يوه پچه په سر اول د کال کې، نو زينب رضي الله عنها اوفرمائيل: يوه زنانه به چې کله خاوند وفات شو نو داخله به شوه وړوکي کمرې ته، او ناکاره (زړې) کپړې به ئي واچولې، خوشبوئي به ئې نه لګوله، او نه بل څه شے، تردې چې کال به پرې تير شو، بيا به ورله يو حيوان (خر، يا مرغه، يا ګډ) رواستلے شو، نو هغې پسې به ئي خپل بدن اومږو، ډير کرته به ئي ځان يو شي پسې اومږلو هغه به مړ شو، بيا به راووتله، نو پچه به ورکړے شوه او ګزار به ئې کړه، بيا به واپس شوه روسته د دې نه که خوښه به ئې شوه خوشبوئي وغيره (نو استعمال به ئې کړه)،

مفهوم د حديث

---

(1) نسخة الزهيري: «حتى تمرّ بها سنة» وهذه التي في مسلم، برقم 58-(1489).

(2) في نسخة الزهيري: «حمارٍ، أو شاة، أو طير».

(3) رواه البخاري، كتاب الطلاق، باب تحد المتوفى عنها زوجها أربعة أشهر وعشراً، برقم 5336، و5337، وباب الكحل للحادة، برقم 5338، وكتاب الطب، باب الإثمد والكحل من الرمد، برقم 5706، ومسلم، كتاب الطلاق، باب وجوب الإحداد في عدة الوفاة وتحريمه في غير ذلك، إلا ثلاثة أيام، برقم 1488، 58-(1489) بلفظه.

(4) في نسخة الزهيري: «البيت الصغير» بدون: الحقير.

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې زنانه په خپل خاوند باندې څلور مياشتې او لس ورځې غم رازي كوي.

❋❋

كتابُ اللعَان

كتاب ثابت دے په بيان د لعان کې.

❋❋❋

د لعان سبب ، بيان واواثر

329 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ ، «أَنَّ فُلانَ ابْنَ فُلانٍ ، قَالَ : يَا رَسُولَ اللهِ ، أَرَأَيْت[1] لَوْ وَجَدَ أَحَدُنَا امْرَأَتَهُ عَلَى فَاحِشَةٍ ، كَيْفَ يَصْنَعُ؟ إنْ تَكَلَّمَ تَكَلَّمَ بِأَمْرٍ عَظِيمٍ ، وَإِنْ سَكَتَ سَكَتَ عَلَى مِثْلِ ذَلِكَ. قَالَ : فَسَكَتَ النَّبِيُّ ﷺ ، فَلَمْ يُجِبْهُ ، فَلَمَّا كَانَ بَعْدَ ذَلِكَ أَتَاهُ ، فَقَالَ : إنَّ الَّذِي سَأَلْتُكَ عَنْهُ قَدِ ابْتُلِيتُ بِهِ ، فَأَنْزَلَ اللهِ ﷻ هَؤُلاءِ الآيَاتِ فِي سُورَةِ النُّورِ ﴿وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ﴾ [2] فَتَلاهُنَّ عَلَيْهِ ، وَوَعَظَهُ وَذَكَّرَهُ ، وَأَخْبَرَهُ ، أَنَّ عَذَابَ الدُّنْيَا أَهْوَنُ مِنْ عَذَابِ الآخِرَةِ ، فَقَالَ : لا ، وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ نبياً[3] ، مَا كَذَبْتُ عَلَيْهَا ، ثُمَّ دَعَاهَا ، وَوَعَظَهَا ، وَأَخْبَرَهَا[4] ، أَنَّ عَذَابَ الدُّنْيَا أَهْوَنُ مِنْ عَذَابِ الآخِرَةِ ، فَقَالَتْ[5] : لا ، وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ ، إِنَّهُ لَكَاذِبٌ ، فَبَدَأَ بِالرَّجُلِ ، فَشَهِدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ ، وَالْخَامِسَةُ ، أَنَّ لَعْنَةَ اللهِ عَلَيْهِ إِنْ كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ ، ثُمَّ ثَنَّى بِالْمَرْأَةِ، فَشَهِدَتْ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللهِ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ ،

---

(1) في نسخة الزهيري: «أرأيت أن لو وجد أحدنا» وهو لفظ مسلم، برقم 1493.

(2) سورة النور، الآيات: 6-9، والآية في نسخة الزهيري: ﴿وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلاَّ أَنْفُسُهُمْ﴾.

(3) «نبياً»: ليست في نسخة الزهيري.

(4) في نسخة الزهيري: «فوعظها، وذكرها، وأخبرها»، وهذا لفظ مسلم، برقم 1493.

(5) في نسخة الزهيري: «قالت»، وهي التي في مسلم، برقم 1493.

وَالْخَامِسَةَ، أَنَّ غَضَبَ اللهِ عَلَيْهَا إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ، ثُمَّ فَرَّقَ بَيْنَهُمَا، ثُمَّ قَالَ: «اللهُ يَعْلَمُ أَنَّ أَحَدَكُمَا كَاذِبٌ، فَهَلْ مِنْكُمَا تَائِبٌ؟ ـ ثَلاثًا ـ»[1].

ترجمه: ابن عمر ﷺ نه نقل دي چې پې شکه فلاني څوي د فلاني اوفرمائيل: اے د الله رسوله، خبر راکړه، که اوومې يو زمونږ نه خپله ښځه په زنا نو څه به کوي؟ که خبرې کوي نو خبرې کوي په يو لوي کار سره، او که چپ پاتې کيږي نو چپ کيږي په مثل د دغه (لوي کار) دا وائي: چې نبي ﷺ چپ شو جواب ئې ورنه کړو، نو هر کله چې د دې نه پس راغے نبي ﷺ ته، ورته ئې اوفرمائيل: يقيناً هغه کس چې ما تپوس کړے وو د هغه په باره کې نو په تحقيق سره زه پرې مبتلاء شوم، نو الله ﷻ دا آياتونه په سورت نور کې نازل کړل، ﴿وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ﴾ نو هغه آياتونه ئې په هغه کس باندې اولوستل، او وعظ ئې ورته اوکړو او تذکير ئې ورته اوکړو او خبر ئې ورکړو، چې يقيناً عذاب د دنيا ډير سپک دے د عذاب د آخرت نه، نو هغه کس اووئيل: داسې نه ده قسم مې دې وي په هغه ذات چې ته ئې په حق سره نبي راليږلے ئې، ما دروغ نه دي وئيلي په هغې (ښځه) باندې، بيا ئې هغه زنانه رااوغوښتله، او هغې ته ئې خبر ورکړو چې يقيناً عذاب د دنيا ډير سپک دے د عذاب د آخرت نه، نو هغه زنانه اووئيل: داسې نه ده قسم مې دې وي په هغه ذات چې ته ئې په حق سره راليږلے ئې يقيناً دا سړے دروغژن دے، نو نبي ﷺ اول شروع په سړي باندې اوکړه، نو هغه څلور شهادتونه (قسمونه) اوکړل په الله ﷻ باندې چې يقيناً دا د ريښتونو نه دے، او پنځم ځل ئې (دا اووئيل) چې د الله ﷻ لعنت دې وي په ده باندې که دا د دروغژنو نه وي، بيا نبي ﷺ زنانه ته مائيله شو، هغې هم څلور قسمونه اوکړل په الله ﷻ باندې چې دا د دروغژنو نه دے او په پنځم ځل ئې (داسې اووئيل) يقيناً غضب د الله ﷻ دې وي په هغه ښځې باندې که دا کس د ريښتونو نه وي، بيا نبي ﷺ جداوالے راوستلو د دوي په

(۱) رواه البخاري، كتاب الطلاق، باب صداق الملاعنة، برقم 5311، ورقم 5312، وبقيته برقم 5349، و5350، وأخرجه مسلم، كتاب اللعان، فاتحته، برقم 1493.

مینځ کې، بیا ئې اوفرمائیل : الله ﷺ ښه پوهه دے چې یقیناً یو کس په تاسو کې دروغژن دے، نو آیا شته دے ستاسو دواړو نه توبه ویستونکے ؟ دا خبره ئې درې ځله اوکړه.

وفي لفظٍ «لا سَبِيلَ لَكَ عَلَيْهَا» فقالَ[1] : يَا رَسُولَ اللهِ، مَالِي؟ قَالَ : «لا مَالَ لَكَ، إنْ كُنْتَ صَدَقْتَ عَلَيْهَا، فَهُوَ بِمَا اسْتَحْلَلْتَ مِنْ فَرْجِهَا، وَإِنْ كُنْتَ كَذَبْتَ عليها، فَهُوَ أَبْعَدُ لَكَ مِنْهَا»[2].

ترجمه: په بل لفظ کې داسې دي (نبي ﷺ هغه سړي ته اوفرمائیل) نشت دے ستا دپاره په دې زنانه باندې څه لاره (د ښځې توب) هغه سړي اووئیل : اے د الله رسوله ، او مال زما ؟ نبي ﷺ اوفرمائیل : ستا دپاره مال نشته ، که تا ریښتیا وئیلي وي په دې زنانه باندې نو دغه مال په عوض د هغه فرج (عورت) کې شو چې تا حلال ګڼلے دے د هغې په وجه، او که تا دروغ وئیلي وي، نو هغه ډیره لرې خبره ده ستا دپاره د هغه زنانه نه، (یعني بیا خو نقصان ستا دے نو ستا حق په هغه مال کې نه کیږي).

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم شوه چې کله یو کس په ښځه باندې د زنا تهمت اولګوو او ګواهان ورسره نه وي نو بیا به لعان کولے شي او د دې دواړو په مینځ کې به جدائي راوستلے شي.

***

احکام د لعان

330 ـ وعَنْه ، «أَنَّ رَجُلاً رَمَى امْرَأَتَهُ ، وَانْتَفَى مِنْ وَلَدِهَا فِي زَمَانِ رَسُولِ اللهِ ﷺ فَأَمَرَهُمَا رَسُولُ اللهِ ﷺ ، فَتَلاعَنَا ، كَمَا قَالَ اللهُ ﷻ ، ثُمَّ قَضَى بِالْوَلَدِ لِلْمَرْأَةِ ، وَفَرَّقَ بَيْنَ الْمُتَلاعِنَيْنِ»[3].

(1) في نسخة الزهيري: «قال» بدون فاء، وهو لفظ البخاري، برقم 5350.

(2) رواه البخاري، كتاب الطلاق، باب المتعة للتي لم يفرض لها، برقم 5350، ومسلم، كتاب اللعان، برقم 5- (1493).

(3) رواه البخاري، كتاب التفسير، باب قوله: ﴿والخامسة أنَّ غَضَبَ اللَّهِ عَلَيْهَا إنْ كانَ منَ الصَّادِقِينَ﴾، برقم 4748 بلفظه، وكتاب الطلاق، باب يلحق الولد بالملاعنة، برقم 5315، وبقيته في 5306، و5313، و5314، و6748، ومسلم، كتاب اللعان، فاتحته، برقم 1494.

ترجمه: ابن عمر ﷺ نقل کوي چې یو سړي په ښځه تهمت ولګولو، او د هغې نه چې کوم بچے وو هغه ئې نفي کړو په زمانه د نبي ﷺ کې، نو نبي ﷺ ورته امر اوکړو چې لعان اوکړئ، لکه څرنګه چې الله ﷻ فرمائيلي دي، بیا ئې فیصله اوکړه په بچي باندې د زنانه دپاره او د دې دواړو متلاعَنَينو په مينځ کې ئې جدائي راوستله.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې کله لعان اوکړے شي نو که ماشوم بچے ئې وو د دغه تهمت ته، هغه به ښځې له ورکولے شي ځکه چې هغه ئې ښه پرورش کوي.

❋ ❋ ❋

د بچي نفي کول

331ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: «جَاءَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي فَزَارَةَ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ، فَقَالَ: إِنَّ امْرَأَتِي وَلَدَتْ غُلاماً أَسْوَدَ، فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: «هَلْ لَكَ إِبِلٌ[1]؟» قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: «فَمَا أَلْوَانُهَا؟» قَالَ: حُمْرٌ. قَالَ: «فَهَلْ[2] فِيهَا مِنْ أَوْرَقَ؟» قَالَ: إِنَّ فِيهَا لَوُرْقاً، قَالَ: «فَأَنَّى أَتَاهَا ذٰلِكَ؟» قَالَ: عَسَى أَنْ يَكُونَ نَزَعَهُ عِرْقٌ، قَالَ: «وَهَذَا، عَسَى أَنْ يَكُونَ نَزَعَهُ عِرْقٌ»[3].

ترجمه: ابو هريره رضي الله عَنْه فرمائي: چې يو سړے د بني فزاره نه نبي ﷺ ته راغے ورته ئې اوفرمائيل: يقيناً زما ښځې تور بچے راوړے دے، نبي ﷺ ورته اووئيل: ايا ستا اوښان شته دے؟ هغه اووئيل: آؤ! نبي ﷺ ورته اووئيل: د هغوي څه رنګونه دي؟ هغه اووئيل: سره، نبي ﷺ ورته اووئيل: آيا په هغوي کې تور رنګے شته دے؟ هغه اووئيل: آؤ! نبي ﷺ ورته اووئيل: دا ورته د کوم

---

(1) في نسخة الزهيري: «هل لك من إبل» وهو لفظ البخاري، برقم 5305، ومسلم، برقم 1500.

(2) في نسخة الزهيري: «هل» بدون فاء، وهو لفظ البخاري، برقم 5305، ومسلم، برقم 1500.

(3) رواه البخاري، كتاب الطلاق، باب إذا عرَّض بنفي الولد، برقم 5305، وكتاب الحدود، باب ما جاء في التعريض، برقم 6847، ومسلم، كتاب اللعان، برقم 1500، بلفظه أيضاً.

ځائي نه راغې ؟ هغه اوويئيل :کيدے شي چې څه رګ ئې راښکلے وي، دا هم کيدے شي چې څه رګ ئې راښکلے وي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې کله په بچوکې يو بچے بدل وي نو په هغې باندې به دا ګمان نه شي کولے چې ګنې دا د بل چانه دے، کيدے شي چې دا په دې نسب کې کوم نيکه ته تلے وي.

***

ماشوم چې د چا په بستره اوشي د هغه نه به حسابيږي

332 ـ عَنْ عائشة قَالَت : «اخْتَصَمَ سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ ، وَعَبْدُ بْنُ زَمْعَةَ فِي غُلَامٍ ، فَقَالَ سَعْدٌ : يَا رَسُولَ اللهِ ، هَذَا ابْنُ أَخِي عُتْبَةَ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ ، عَهِدَ إِلَيَّ ، أَنَّهُ ابْنُهُ ، انْظُرْ إِلَى شَبَهِهِ ، وَقَالَ عَبْدُ بْنُ زَمْعَةَ : هَذَا أَخِي يَا رَسُولَ اللهِ ، وُلِدَ عَلَى فِرَاشِ أَبِي مِنْ وَلِيدَتِهِ ، فَنَظَرَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِلَى شَبَهِهِ ، فَرَأَى شَبَهًا بَيِّنًا بِعُتْبَةَ ، فَقَالَ : «هُوَ لَكَ يَا عَبْدُ بْنَ زَمْعَةَ ، الْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ ، وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ ، وَاحْتَجِبِي مِنْهُ يَا سَوْدَةُ ، فَلَمْ يَرَ[1] سَوْدَةَ قَطُّ» [2].

ترجمه: عائشه رضي الله عنها فرمائي : د سعد بن ابي وقاص او د عبد بن زمعه جګړه شوه په يو ماشوم کې، نو سعد اوويئيل : اے د الله رسوله، دا زما د ورور (عتبه بن ابي وقاص) ځوي دے او ما ته ئې وصيت کړے دے (په دې باندې) چې دا زما ځوي دے، او ته اوګوره د دې مشابهت ته د عتبه سره، او عبد بن زمعه اوويئيل : دا زما ورور دے اے د الله رسوله، او دا پيدا شوے دے په بستره د پلار زما کې د هغې د وينځې نه، نو نبي ﷺ اوکتل هغه مشابهت د هغه ته نو اوئې ليده ښکاره مشابهت د عتبه

(1) في نسخة الزهيري: «فلم تره سودة قط» وهذا لفظ البخاري، برقم 2218، ولفظ المتن لمسلم، برقم 1457.

(2) رواه البخاري، كتاب الحدود، باب للعاهر الحجر، برقم 6817، وانظر أطرافه، وأخرجه في الحديث رقم 2053، ولفظه في كتاب البيوع، باب شراء المملوك من الحربي، وهبته، وعتقه، برقم 2218، ومسلم، كتاب الرضاع، باب الولد للفراش، وتوقي الشبهات، برقم 1457، بلفظه أيضاً.

سره، نو اوئي فرمائيل: دا ستا شو اے عبد بن زمعه (ځکه چې) بچے د بسترې وي (يعنې بچے د هغه چا وي چې د چا په بستره پيدا شي) او د زناکار دپاره کاڼي وي، پرده کوه د دې نه اے سوده، نو هغه سوده رضي الله عنها چرته هم نه وه ليدلې.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې بچے د چا په بستر اوشو نو د هغه به حسابيږي.

***

قافيه دان خبرې لره اعتبار شته دے په شرعه کې

333 ـ عَنْ عائشة أنها قَالَت: أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ دَخَلَ عَلَيَّ مَسْرُوراً، تَبْرُقُ أَسَارِيرُ وَجْهِهِ، فَقَالَ: «أَلَمْ تَرَيْ؟ أَنَّ مُجَزِّزاً نَظَرَ آنِفاً إِلَى زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ، وَأُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، فَقَالَ: إِنَّ بَعْضَ هَذِهِ الأَقْدَامِ لَمِنْ بَعْضٍ»[1]. وفي لفظ «وَ[2] كَانَ مُجَزِّزٌ قَائِفاً»[3].

ترجمه: عائشه رضي الله عنها فرمائي: بې شکه نبي ﷺ زما خواله راغے او خوشحاله وو، پرقيدلې کرخې د مخ د هغه نو اوئي فرمائيل: آيا خبر نه ئې؟ چې مجزز (قافيادان) اوس اوکتل زيد بن حارثه او اسامه بن زيد رضي الله عَنْهما ته، اوئې وئيل: يقيناً دا بعض قدمونه د بعض نه دي. (دا ښپې د يو بل سره مشابه دي).

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د قافيادان خبرې له اعتبار شته دے په شرع کې.

***

(1) رواه البخاري، كتاب فضائل الصحابة، باب مناقب زيد بن حارثة مولى النبي ﷺ، برقم 3731، وأطرافه في الحديث رقم 3555، وأخرجه بلفظه في كتاب الفرائض، باب القائف، برقم 6770، ومسلم، كتاب الرضاع، باب العمل بإلحاق القائف الولد، برقم 1459، بنحوه.

(2) «و»: ليست في نسخة الزهيري.

(3) رواه مسلم، كتاب الرضاع، باب العمل بإلحاق القائف الولد، برقم 40-(1459).

د عزل حکم

334 ـ عَنْ أَبِي سعيد الخُدْرِي ﷺ قَالَ : ذُكِرَ الْعَزْلُ لِرَسُولِ اللهِ ﷺ ، فَقَالَ : «وَلِمَ يَفْعَلُ[1] أَحَدُكُمْ؟» وَلَمْ يَقُلْ : فَلا يَفْعَلْ ذٰلِكَ أَحَدُكُمْ «فَإِنَّهُ لَيْسَتْ نَفْسٌ مَخْلُوقَةٌ إِلاَّ اللهُ خَالِقُهَا»[2].

ترجمه: ابو سعيد ﷺ فرمائي : عزل ذکر کړے شو نبي ﷺ ته هغه اوونيل : ولې دا کار کوي يو کس ستاسو نه ، او دا ئې اونه وئيل : چې دا کار دې نه کوي يو کس ستاسو نه ، ځکه چې نه دے يو نفس چې پيدا کړے شي مګر الله ﷻ ئې پيدا کوي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې عزل کول جائز دے او دا په تقريري حديث سره ثابت دے.

* * *

عزل کول جائز دي

335 ـ عَنْ جابر بن عبد اللهِ قَالَ : «كُنَّا نَعْزِلُ وَالْقُرْآنُ يَنْزِلُ»[3]. قَالَ سُفْيَانُ[4] : «لَوْ كَانَ شَيْئاً يُنْهَى عَنْهُ، لَنَهَانَا عَنْهُ الْقُرْآنُ»[5].

ترجمه: جابر ﷺ فرمائي : مونږ به عزل کولو او قرآن به نازليدلو.

سفيان رحمه الله فرمائي : که چرته څه منع ترينه وے ، نو خامخا به مونږ قرآن کريم منع کړي وے.

---

(1) في نسخة الزهيري: «ولم يفعل ذلك أحدكم؟»، وهو لفظ مسلم، برقم 132-(1438).

(2) رواه البخاري، كتاب التوحيد، باب قول الله تعالى: ﴿هُوَ اللَّهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ﴾ [الحشر: 24]، برقم 7409، ولفظه: «عليكم أن لا تفعلوا فإن الله قد كتب من هو خالق إلى يوم القيامة»، وجميع أطراف الحديث في البخاري، برقم 2229، وأخرجه مسلم، كتاب النكاح، باب حكم العزل، برقم 1438، واللفظ له.

(3) رواه البخاري، كتاب النكاح، باب العزل، برقم 5208، واللفظ له، ومسلم، كتاب النكاح، باب حكم العزل، برقم 1440، بلفظه.

(4) «قال سفيان»: ليست في نسخة الزهيري.

(5) مسلم، برقم 1440، وتقدم تخريجه في الذي قبله.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې عزل جائز دے.

***

د خپل پلار نه سيوا بل چا ته نسبت كول حرام دي

336 ـ عَنْ أَبِي ذَرٍّ ﷺ: أنه سمع رسولَ اللهِ ﷺ يقول: «لَيْسَ مِنْ رَجُلٍ ادَّعَى لِغَيْرِ أَبِيهِ وَهُوَ يَعْلَمُهُ، إِلاَّ كَفَرَ، وَمَنِ ادَّعَى مَا لَيْسَ لَهُ فَلَيْسَ مِنَّا، وَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ، وَمَنْ دَعَا رَجُلاً بِالْكُفْرِ، أَوْ قَالَ: يا عَدُوَّ اللهِ[1]، وَلَيْسَ كَذٰلِكَ إِلاَّ حَارَ عَلَيْهِ».

كذا عَنْد مسلم، وللبخاري نحوه[2]. و«حار» بمعْنَى رجع[3].

ترجمه: ابو ذر ﷺ د نبي ﷺ نه اوريدلي دي، هغه فرمائيل: نشته دے يو سړے چې دعوى (ځان منسوب) كړي د پلار نه علاوه بل چا ته او دا ښه پوهه وي چې دا ئي پلار نه دے، مګر ده كفر اوكړو، او چا چې دعوى اوكړه د هغه څه چې د ده نه وي نو دا كس زمونږ نه نه دے، او تيار دې كړي چې د ځان دپاره ځائي د كيناستلو د اور نه، او چا چې اواز اوكړو يو كس ته په كفر سره او يا ئي ورته اووئيل: اے د الله ﷺ دشمنه، او هغه داسې نه وي مګر واپس كيږي په هغه ويونكي باندې (دا كلمات).

مفهوم د حديث

دا حديث دليل شو په دې چې د خپل پلار نه سيوا بل چا ته د ځان نسبت جائز نه دے.

(1) في نسخة الزهيري: «أو قال: عدوّ الله».

(2) رواه مسلم، عن أبي ذر ﷺ في كتاب الإيمان، باب بيان حال إيمان من رغب عن أبيه وهو يعلم، برقم 61، والبخاري، عن أبي ذر ﷺ أيضاً بلفظ: «ليس من رجل ادعى لغير أبيه وهو يعلمه إلا كفر بالله، ومن ادعى قوماً ليس له فيهم نسب، فليتبوأ مقعده من النار» في كتاب المناقب، باب، برقم 3508، وكتاب الأدب، باب ما يُنهى من السباب واللعن، برقم 6045، بلفظ: «لا يرمي رجل رجلاً بالفسوق، ولا يرميه بالكفر، إلا ارتدت عليه إن لم يكن صاحبه كذلك».

(3) «وحار: بمعنى رجع» ليس في نسخة الزهيري.

❊❊❊

كتاب الرّضاع

كتاب ثابت دے په بيان د رضاعت کې.

❊❊❊

د رضاعي وريرې سره نکاح حرامه ده

337 ـ عَنْ ابن عباس قَالَ: «قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فِي بِنْتِ حَمْزَةَ: «لاتَحِلُّ لِي، يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ، وَهِيَ ابْنَةُ أَخِي مِنَ الرَّضَاعَةِ»[1].

ترجمه: ابن عباس ﷺ فرمائي: نبي ﷺ د حمزه ﷺ د لور په باره کې فرمائيلي دي: دا زما دپاره نه ده حلاله، حراميږي د رضاعت د وجې نه ما هغه چې حراميږي د نسب د وجې نه، او دا زما د رضاعي وروړ لور ده.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې رضاعت داسې حرمت راولي لکه نسب چې ئې څنګه راولي.

❊❊❊

د رضاعت د وجې نه هغه څه حراميږي کوم چې د نسب د وجې نه حراميږي

338 ـ عَنْ عائشة قَالَت: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «إِنَّ الرَّضَاعَةَ تُحَرِّمُ مَا يَحْرُمُ مِنَ الْوِلَادَةِ»[2].

ترجمه: عائشه رضي الله عنها فرمائي: چې نبي ﷺ فرمائيلي دي: يقيناً رضاعت حراموي هغه

---

(1) رواه البخاري، كتاب الشهادات، باب الشهادة على الأنساب والرضاع المستفيض، برقم 2645، واللفظ له ومسلم، كتاب الرضاع، باب تحريم ابنة الأخ من الرضاعة، برقم 1447.

(2) رواه البخاري، كتاب الشهادات، باب الشهادة على الأنساب، برقم 2646، واللفظ له، ومسلم، كتاب الرضاع، باب يحرم من الرضاعة ما يحرم من الولادة، برقم 1444.

څه لره چې حراميري د ولادت (نسب) د وجې نه.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې په رضاعت سره حرمت راځي.

***

د رضاعت د وجې نه چې حرمت ثابتيږي نو دا هغه پيو نه چې د سړي د وجې نه په زنا نه کې راغلي وي

339 ـ وعَنْها قالَت: «إنَّ أَفْلَحَ أَخَا أَبِي الْقُعَيْسِ، اسْتَأْذَنَ عَلَيَّ بَعْدَمَا أُنْزِلَ الْحِجَابُ، فَقُلْتُ: وَاللهِ لَا آذَنُ لَهُ، حَتَّى أَسْتَأْذِنَ النَّبِيَّ ﷺ[1]، فَإِنَّ أَخَا أَبِي الْقُعَيْسِ لَيْسَ هُوَ أَرْضَعَنِي، وَلَكِنْ أَرْضَعَتْنِي امْرَأَةُ أَبِي الْقُعَيْسِ، فَدَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ ﷺ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّ الرَّجُلَ لَيْسَ هُوَ أَرْضَعَنِي، وَلَكِنْ أَرْضَعَتْنِي امْرَأَتُهُ، فَقَالَ: «ائْذَنِي لَهُ، فَإِنَّهُ عَمُّكِ، تَرِبَتْ يَمِينُكِ».

ترجمه: عائشه رضي الله عنها فرمائي: يقيناً افلح ورور د ابو قعيس اجازه اوغوښتله زما نه روسته د هغه نه چې حجاب نازل شوے وو، نو ما ورته اووئيل: قسم په الله زه به هغه ته اجازه نه ورکوم، تردې چې د نبي ﷺ نه اجازه واخلم، ځکه چې ورور د ابو قعيس ما له ئې سينه نه ده راکړې، ليکن ما له د ابو قعيس ښځې سينه راکړې ده، نو نبي ﷺ راغے، ما ورته اووئيل: اے د الله ﷺ رسوله! يقيناً دې سړي خو ما له سينه نه ده راکړې، ليکن ما له د دې ښځې سينه راکړې ده، نو نبي ﷺ اوفرمائيل: هغه ته اجازه ورکړه، ځکه چې هغه ستا تره دے ښي لاس دې په خاورو کې ککړ شه.

قَالَ عروة بن الزبير[2]: **فَبِذَلِكَ كَانَتْ عَائِشَةُ تَقُولُ: حَرِّمُوا مِنَ الرَّضَاعِ[3] مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ[4].**

---

(1) في نسخة الزهيري: «حتى استأذن رسول الله ﷺ» ولفظ المتن للبخاري، برقم 4796.

(2) في نسخة الزهيري: «قال عروة» ولم يذكر ابن الزبير.

(3) في نسخة الزهيري: «حرموا من الرضاعة» وهو لفظ البخاري، برقم 4796.

(4) رواه البخاري، كتاب التفسير، بَابُ قَوْلِهِ: ﴿إِنْ تُبْدُوا شَيْئًا أَوْ تُخْفُوهُ فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا * لاَ جُنَاحَ عَلَيْهِنَّ فِي آبَائِهِنَّ وَلاَ أَبْنَائِهِنَّ وَلاَ إِخْوَانِهِنَّ وَلاَ أَبْنَاءِ إِخْوَانِهِنَّ وَلاَ أَبْنَاءِ أَخَوَاتِهِنَّ وَلاَ نِسَائِهِنَّ وَلاَ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ وَاتَّقِينَ اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدًا﴾

ترجمه: عروه رحمه الله فرمائي : د دې وجې نه عائشه رضي الله عنها به وئيل : تاسو حرام ګڼئ د رضاعت نه هغه څه چې حراميږي د نسب د وجې نه.

وفي لفظٍ ، اسْتَأْذَنَ عَلَيَّ أَفْلَحُ ، فَلَمْ آذَنْ لَهُ ، فَقَالَ : أَتَحْتَجِبِينَ مِنِّي ، وَأَنَا عَمُّكِ؟ فَقُلْتُ : كَيْفَ[1] ذٰلِكَ؟ قَالَ : أَرْضَعَتْكِ امْرَأَةُ أَخِي بِلَبَنِ أَخِي ، قَالَتْ : فَسَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ؟ فَقَالَ : «صَدَقَ أَفْلَحُ ، ائْذَنِي لَهُ ، تَرِبَتْ[2] يَمِينُكِ»[3].[4]

ترجمه: بل لفظ کې داسې دي : اجازه اوغوښتله زما نه افلح ، ما ورله اجازه ورنه کړه ، نو اوئې فرمائيل : آيا ته زما نه پرده کوې ، (حال دا دے چې) زه ستا تره يم؟ نو ما ورته اووئيل : دا څرنګه؟ هغه اووئيل : تا له سينه درکړې ده زما د وررور ښځې په پيو د وررور زما سره (يعنى دا يئ زما د وررور د وجې نه وو) عائشه رضي الله عنها فرمائي : ما د نبي ﷺ نه تپوس او کړو (د دې په باره کې)؟ هغه اووئيل : افلح ريښتيا وئيلي دي ، هغه ته اجازه ورکوه ، ښي لاس دې په خاورو کې ککړ شه.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د رضاعي وررور ، تره وغيره نه حجاب نشته.

***

[الأحزاب: 55]، برقم 4796، بلفظه، ومسلم، كتاب الرضاع، باب تحريم الرضاعة من ماء الفحل، برقم 4- (1445)، بنحوه.

(1) في نسخة الزهيري: «وكيف ذلك» بالواو، وهو لفظ البخاري، برقم 2644.

(2) «تربت يمينك»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في صحيح البخاري، برقم 4796، ومسلم، برقم 4- (1445).

(3) رواه البخاري، كتاب الشهادات، باب الشهادة على الأنساب، برقم 2644، بلفظه، إلا أنه لم يذكر في آخره: «تربت يمينك»، وهي في البخاري، برقم 4796 وأخرجه مسلم دون الجملة الأخيرة «صدق أفلح»، كتاب الرضاع، باب تحريم الرضاعة من ماء الفحل، برقم 1445.

(4) في نسخة الزهيري زيادة: «تربت يمينك: أي افتقرت، والعربُ تدعو على الرجل، ولا تريد وقوعَ الأمر به». وأشار المحقق الزهيري بأن هذه الجملة التفسيرية فقط في نسخة ابن الملقن.

رضاعي ورور ته د زنانه پرده نشته

340 ـ وعَنْها قالَت : «دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ ﷺ[1] : وَعَنْدِي رَجُلٌ ، فَقَالَ : «يَا عَائِشَةُ ، مَنْ هَذَا»؟ قُلْت : أَخِي مِنَ الرَّضَاعَةِ ، فَقَالَ : «يَا عَائِشَةُ ، أُنْظُرْنَ مَنْ إِخْوَانُكُنَّ؟ فَإِنَّمَا الرَّضَاعَةُ مِنَ الْمَجَاعَةِ»[2].

ترجمه: عائشه رضي الله عنها فرمائي : نبي ﷺ راغے او زما سره یو سړے ناست وو ، نو اوئي فرمائیل : اے عائشه دا څوک دے ؟ ما ورته اووئیل : دا زما رضاعي ورور دے ، نو هغه اووئیل : اے عائشه کورئ چې ستاسو وررونه څوک دي ؟ ځکه چې رضاعت (ثاتیږي نو هغه) د ولږې د وجې نه (ثابتیږي) .

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې رضاعي ورور د رضاعي خور کمرې ته داخليدلے شي ځکه چې دا د محارمو نه دے .

***

د يوې زنانه ګواهي په رضاعت کې مقبوله ده

341 – عَنْ عقبة بن الحارث ﷺ ، «أَنَّهُ تَزَوَّجَ[3] أُمَّ يَحْيَى بِنْتَ أَبِي إِهَابٍ ، فَجَاءَتْ أَمَةٌ سَوْدَاءُ فَقَالَتْ : قَدْ أَرْضَعْتُكُمَا ، فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ ﷺ ، قَالَ[4] : فَأَعْرَضَ عَنِّي ، قَالَ[5] : فَتَنَحَّيْتُ ، فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهُ ،

---

(1) في نسخة الزهيري: «دخل علي النبي ﷺ».

(2) رواه البخاري، كتاب الشهادات، باب الشهادة على الأنساب، والرضاع المستفيض والموت القديم، برقم 2647، بلفظه، ومسلم، كتاب الرضاعة، باب إنما الرضاعة من المجاعة، برقم 1455، ولفظه: «دخل عليّ رسول الله وعندي رجل قاعد، فاشتد ذلك عليه، ورأيت الغضبَ في وجهه، فقلت: يا رسول الله: إنه أخي من الرضاعة...» الحديث.

(3) في نسخة الزهيري: «قال: تزوجت».

(4) «قال»: ليست في نسخة الزهيري.

(5) «قال»: ليست في نسخة الزهيري.

فقَالَ[1]: «وكَيْفَ؟ وَقَدْ زَعَمَتْ أَنْ قَدْ أَرْضَعَتْكُمَا فنهاه عَنْها[2]»[3].

ترجمه: عقبه بن الحارث ﷺ نقل کوي، چې ده د ام يحيى بن ابي اهاب سره نکاح کړې وه، نو يوه توره وينځه راغله اوئي فرمائيل: يقيناً ما تاسو دواړو ته سينه درکړې ده، نو دا خبره ما نبي ﷺ ته ذکر کړه، دا وائي ما نه هغه اعراض اوکړو، نو زه ورته په بل طرف راغلم، دا خبره مې ورته ذکر کړه، نو هغه اووئيل: دا څنګه (کيدے شي)؟ چې وئيلې دي: چې ما تاسو دواړو ته سينه درکړې ده (او تاسو لا اوس هم په نکاح کې ئي) نو نبي ﷺ منع کړو هغه لره د هغه ښځې نه.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې يوه زنانه دا دعوى اوکړي چې ما فلاني او فلانۍ له سينه ورکړې ده او وخت او عدد ورته معلوم نه وي، نو د هغې دعوى او ګواهي مقبوله ده عمل به پرې کولے شي خو چې دغه زنانه ليونۍ نه وي او نه ئې څه ذاتي ورانه وي د دغه کسانو سره.

***

د پرورشۍ احکام

342 ـ عَنْ البَرَاء بن عازِب قَالَ: «خَرَجَ رَسُولُ اللهِ ﷺ ـ يَعْنِي مِنْ مَكَّةَ ـ فَتَبِعَتْهُمُ ابْنَةُ حَمْزَةَ، تُنَادِي: يَا عَمُّ، يَا عَمُّ[4]، فَتَنَاوَلَهَا عَلِيٌّ، فَأَخَذَ بِيَدِهَا، وَقَالَ لِفَاطِمَةَ: دُونَكِ ابْنَةَ عَمِّك، فَاحْتَمَلَتْهَا[5]،

(1) في نسخة الزهيري: «قال».

(2) «فنهاه عنها»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في البخاري، برقم 2659.

(3) رواه البخاري، كتاب العلم، باب الرحلة في المسألة النازلة، وتعليم أهله، برقم 88، وفيه في آخره: «فقال رسول الله ﷺ: «كيف وقد قيل؟» ففارقها عقبة ونكحت زوجاً غيره»وأخرجه بلفظه في كتاب الشهادات، باب شهادة الإماء والعبيد، برقم 2659، والحديث لم يخرجه مسلم.

(4) «يا عم» الثانية: ليست في نسخة الزهيري، وهي في البخاري، برقم 2699.

(5) في نسخة الزهيري: «فاحتملها»، وفي البخاري، برقم 2699: «دونك ابنة عمك احمليها».

فَاخْتَصَمَ فِيهَا عَلِيٌّ ، وَزَيْدٌ ، وَجَعْفَرٌ فَقَالَ عَلِيٌّ : أَنَا أَحَقُّ بِهَا ، وَهِيَ ابْنَةُ عَمِّي ، وَقَالَ جَعْفَرٌ : ابْنَةُ عَمِّي ، وَخَالَتُهَا تَحْتِي ، وَقَالَ زَيْدٌ : بِنْتُ[1] أَخِي ، فَقَضَى بِهَا النَّبِيّ ﷺ لِخَالَتِهَا ، وَقَالَ : «الْخَالَةُ بِمَنْزِلَةِ الأُمِّ» وَقَالَ لِعَلِيٍّ : «أَنْتَ مِنِّي ، وَأَنَا مِنْكَ» وَقَالَ لِجَعْفَرٍ : «أَشْبَهْتَ خَلْقِي وَخُلُقِي» وَقَالَ لِزَيْدٍ : «أَنْتَ أَخُونَا وَمَوْلانَا»[2].

ترجمه: براء بن عازب ﷺ فرمائي : نبي ﷺ د مکې نه اووتلو ، نو هغه پسې د هغه د تره حمزه لور ورپسې شوه او اوازونه ئې کول ورته ، اے تره اے تره ، نو علي ﷺ راونيوله ، لاس ئې رله اونيولو ، او فاطمه رضي الله عنها ته ئې اوفرمائيل : دا واخله ستا د تره لور ده ، نو هغې واخستله ، نو په دې ماشومه کې علي ، زيد ، او جعفر رضي الله عنهم جګړه شروع کړه ، علي ﷺ اووئيل : زه ډير لائق يم په دې ماشومې سره چې پرورش ورله اوکړم ځکه چې) دا زما د تره لور ده ، او جعفر ﷺ اووئيل : دا زما د تره لور ده ، او د دې ترور (خاله) زما په نڪاح کې ده ، او زيد ﷺ اووئيل : زما د ورور لور ده ، نو نبي ﷺ فيصله اوکړه د ماشومې د پروش د ترور (خالې) دپاره ، او اوئې فرمائيل : خاله (د مور خور) په منزله د مور وي ، او علي ﷺ ته ئې اووئيل : ته زما نه ئې او زه ستا نه يم ، او جعفر ﷺ ته ئې اووئيل : ته زما سره مشابه ئې په شکل او اخلاقو کې ، او زيد ﷺ ته ئې اووئيل : ته زمونږ ورور او مولا ئې .

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې کله يوه ماشومه يتيمه وي او مور ئې نه وئي نو ددې په پرورشئ باندې ترور (د مور خور) ډيره لائقه ده چې پرورشي ورله اوکړي ځکه چې ترور په منزله د مور وي .

***

(1) في نسخة الزهيري: «ابنة» وهي هكذا في البخاري، برقم 2699.

(2) رواه البخاري، كتاب الصلح، باب كيف يكتب: هذا ما صالح فلان بن فلان، برقم 2699، بلفظه، وكتاب المغازي، باب غزوة زيد بن حارثة برقم 4251، وزاد في آخره: «.. وقال علي: ألا تتزوج بنت حمزة؟ قال ﷺ «إنها ابنة أخي من الرضاعة»، وليس الحديث عند مسلم.

كِتَابُ الْقِصَاصِ

کتاب ثابت دے په بیان د قصاص کې.

هغه اسباب چې د هغې په وجه د وینې تویول جائز کیږي

343 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ ﷺ قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ ﷺ[1] **: «لا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ يَشْهَدُ أَنْ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللهِ إلاَّ بِإِحْدَى ثَلاثٍ : الثَّيِّبُ الزَّانِي ، وَالنَّفْسُ بِالنَّفْسِ ، وَالتَّارِكُ لِدِينِهِ الْمُفَارِقُ لِلْجَمَاعَةِ»**[2].

ترجمه: ابن مسعود ﷺ فرمائي : چې نبي ﷺ فرمائيلي دي : نه ده حلاله (توے وول د) وينه د مسلمان سړي ، چې ګواهي کوي د دې چې نشته لائق د بندګۍ سيوا د يو الله نه ، او زه د الله ﷺ رسول يم ، مګر په يو د درې کارونو سره حلاله ده ، واده شوے زناکار ، نفس په مقابله د نفس کې ، او پرېښودونکے د دين چې جدا کېدونکے وي د جماعت نه.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د مسلمان وينه توے وول حرام کار دے ، خو په يو د درې کارونو سره حلاليږي ، زنا بعد الاحصان ، قتل ، مرتد کيدل.

❋❋❋

اوله فيصله به د قيامت په ورځ د وينو کيږي

344 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ ﷺ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «أَوَّلُ مَا يُقْضَى بَيْنَ النَّاسِ يَوْمَ

---

(1) في نسخة الزهيري: «قال: قال رسول الله ﷺ»، وهذا في البخاري، برقم 6878.

(2) رواه البخاري، كتاب الديات، بابُ قَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: ﴿أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالعَيْنَ بِالعَيْنِ وَالأَنْفَ بِالأَنْفِ وَالأُذُنَ بِالأُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ وَالجُرُوحَ قِصَاصٌ فَمَنْ تَصَدَّقَ بِهِ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَهُ وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ﴾ [المائدة: 45]، برقم 6878، ومسلم، كتاب القسامة والمحاربين والقصاص والديات، باب ما يباح به دم المسلم، برقم 1676، بلفظه.

الْقِيَامَةِ فِي الدِّمَاءِ»[1].

ترجمه: ابن مسعود ﷺ فرمائي: چې نبي ﷺ فرمائيلي دي: اول هغه شے چې فيصله به كيدے شي د هغې په باره كې د قيامت په ورځ هغه به په وينه كې وي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې په حقوق د بندګانو كې به اول حساب به د وينو توے وولو كيږي.

***

د قسامت احكام

345 ـ عَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِيْ حَثْمَةَ ﷺ قَالَ: «انْطَلَقَ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَهْلٍ، وَمُحَيِّصَةُ بْنُ مَسْعُودٍ، إِلَى خَيْبَرَ ـ وَهِيَ يَوْمَئِذٍ صُلْحٌ ـ فَتَفَرَّقَا، فَأَتَى مُحَيِّصَةُ إِلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ سَهْلٍ، وَهُوَ يَتَشَحَّطُ فِي دَمِهِ قَتِيلاً، فَدَفنه ثُمَّ قَدِمَ الْمَدِينَةَ، فَانْطَلَقَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ سَهْلٍ، وَمُحَيِّصَةُ وَحُوَيِّصَةُ ابْنَا مَسْعُودٍ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ، فَذَهَبَ عَبْدُالرَّحْمَنِ يَتَكَلَّمُ، فَقَالَ ﷺ: «كَبِّرْ، كَبِّرْ» ـ وَهُوَ أَحْدَثُ الْقَوْمِ ـ فَسَكَتَ، فَتَكَلَّمَا، فَقَالَ: «أَتَحْلِفُونَ وَتَسْتَحِقُّونَ قَاتِلَكُمْ، أَوْ صَاحِبَكُمْ؟» قَالَوا: وَكَيْفَ نَحْلِفُ، وَلَمْ نَشْهَدْ، وَلَمْ نَرَ؟ قَالَ: «فَتُبْرِئُكُمْ يَهُودُ بِأَيمان خَمْسِينَ منهم[2]». فقَالَوا: كَيْفَ نأخذ بِأَيْمَانِ قَوْمٍ كُفَّارٍ؟ فَعَقَلَهُ النَّبِيُّ ﷺ مِنْ عَنْدِهِ»[3].

---

(1) رواه البخاري، كتاب الرقاق، باب القصاص يوم القيامة، برقم 6533، ورقم 6864، بلفظ: «أول ما يقضى بين الناس في الدماء»، ومسلم، كتاب القسامة والمحاربين والقصاص والديات، باب المجازاة بالدماء في الآخرة، وأنها أول ما يقضى فيه بين الناس يوم القيامة، برقم 1678، بلفظه أيضاً.

(2) في نسخة الزهيري: «فتبرئكم يهود بخمسين يميناً» وهنا لفظ البخاري، برقم 3173، إلا قوله: «يميناً».

(3) رواه البخاري، كتاب الجزية والموادعة، باب الموادعة والمصالحة مع المشركين بالمال وغيره ...، برقم 3173، بلفظه «إلا أنه قال: «فتبرئكم يهود بخمسين»، وقد جاءت الجملة في كتاب الأدب، باب إكرام الكبير، ويبدأ الأكبر بالكلام والسؤال، برقم 6143، فقال: «فتبرئكم يهود في أيمان خمسين منهم»، ومسلم، كتاب القسامة والمحاربين والقصاص والديات، باب القسامة، برقم 1669.

ترجمه: سهل بن ابي حثمه ﷺ فرمائي : روان شول خيبر ته عبد الله بن سهل ، او محيصه بن مسعود ، په دغه وخت کې صلح هم شوې وه ، نو دوي جدا شول د يو بل نه ، محيصه عبد الله بن سهل ته راغے ، او هغه په وينو کې رنګ وو اووژلے شوے پروت وو ، نو هغه ئې دفن کړو ، بيا مدينې ته راغے ، نو روان شول نبي ﷺ ته عبد الرحمن بن سهل ، او محيصه او حويصه چې دا دواړه د مسعود ځامن وو ، نو عبد الرحمن اول شروع شو خبرې ئې کولې ، نو نبي ﷺ ورته اووئيل : مشر مشر (هغه ته خبرې پريږده) او دا (عبد الرحمن) په قوم کې کشر وو ، هغه چپ شو ، نورو دواړو (محيصه او حويصه) خبرې شروع کړې ، نو نبي ﷺ ورته اووئيل : ايا تاسو دواړه قسم کوئ چې تاسو مستحق ئې د قاتل ستاسو او يا د صاحب ستاسو ؟ دوي اووئيل : څرنګه به مونږ قسم اوکړو ، (حال دا دے چې) مونږ حاضر نه وو هلته او نه مو ليدلے دے ، نبي ﷺ ورته اووئيل : نو تاسو نه به بري شي يهود په پنځوسو قسمونو سره د دوي د طرف نه ، نو دوي اووئيل : څرنګه مونږ واخلو (اعتماد اوکړو) په قسمونو د يو قوم کافرو باندې ، ؟ نو نبي ﷺ د خپل طرف نه د هغې مقتول ديت ورکړو.

وفي حديث حماد بن زيد : فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ «يُقْسِمُ خَمْسُونَ مِنْكُمْ عَلَى رَجُلٍ مِنْهُمْ ، فَيُدْفَعُ بِرُمَّتِهِ»؟ قَالُوا : أَمْرٌ لَمْ نَشْهَدْهُ ، كَيْفَ ، نَحْلِفُ؟ قَالَ : «فَتُبْرِئُكُمْ يَهُودُ بِأَيْمَانِ خَمْسِينَ مِنْهُمْ؟» ، قَالُوا : يَا رَسُولَ اللهِ ، قَوْمٌ كُفَّارٌ فوداه رسول الله ﷺ من قبله[1]»[2].

ترجمه: په حديث د حماد بن زيد کې دي : نبي ﷺ اوفرمائيل : قسم به کوي پنځوس کسان ستاسو نه په يو کس د هغوي نه ، نو دفع کولے به شي ، په خپلو قسمونو سره ، دوي اووئيل : دا خو داسې کار دے چې مونږ هلته حاضر نه وو ، څرنګه مونږ قسم اوکړو ؟ نبي ﷺ ورته اووئيل : تاسو نه بري شول يهود په پنځوسو قسمونو سره د دوي د طرف نه ، نو دوي اووئيل : څرنګه مونږ واخلو

---

(1) «فوداه رسول الله ﷺ من قبله» ليست في نسخة الزهيري، وهي في المتن، وفي البخاري، برقم 6143، وفي مسلم، برقم 4- (1669).

(2) البخاري، برقم 6143، ومسلم، برقم 2- (1669)، وتقدم تخريجه في تخريج حديث المتن رقم 345.

(اعتماد اوکړو) په قسمونو د يو قوم کافرو باندې ، ؟ نو نبي ﷺ د خپل طرف نه د هغې مقتول ديت ورکړو.

وفي حديث سعيد بن عبيد : «فَكَرِهَ رَسُولُ اللهِ ﷺ أَنْ يُبْطِلَ دَمَهُ ، فَوَدَاهُ بِمِائَةٍ مِنْ إِبِلِ الصَّدَقَةِ»[1] .

ترجمه: په حديث د سعيد بن عبيد کې دي : دا خبره نبي ﷺ بده اوګڼله ، چې باطله دې کړي وينه د هغه مقتول ، نو په ديت کې لس اوښان د صدقې د مال نه ورکړل.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې په دې حديث کې د قسامت طريقه ذکر شوه او هغه دا دے چې کله يو کس مړ اوموندلے شو په يو ځائې کې ، او قاتل ئې معلوم نه وي ، او نه په دې باندې څه ګواهان وي ، او د مقتول اولياء دعوی اوکړي په يو کس باندې او يا په يو جماعت باندې چې دا دوي وژلے دے ، او په صدق د ولي باندې څه قرائن (علامات) هم موجوي وي ، يا خو د مړي او د مدعی عليه په مينځ کې څه دشمني وه ، او يا د هغې کور سره اوموندے شي ، او يا د مړي سامان د يو کس سر اوموندے شي ، يا داسې نور قرائن موجود شي ، نو مدعي به پنځوس قسمونه کوي ، نو دا به مستحق کرځي د خپل وژلے شوي د وينې ، که دا قسم نه کوي نو بيا به مدعی عليه پنځوس قسمونه کوي او ځان به پرې بري کوي.

***

سړے به په ښځه قتلولی شي

346ـ عَنْ أنس بن مالك ﷺ ، «أَنَّ جَارِيَةً وُجِدَ رَأْسُهَا مَرْضُوضاً بَيْنَ حَجَرَيْنِ ، فَقِيلَ : مَنْ فَعَلَ هَذَا بِك : فُلانٌ ، فُلانٌ؟ حَتَّى ذُكِرَ يَهُودِيٌّ ، فَأَوْمَأَتْ بِرَأْسِهَا ، فَأُخِذَ الْيَهُودِيُّ ، فَاعْتَرَفَ ، فَأَمَرَ رسول اللهِ ﷺ

(1) رواه البخاري، برقم 6898، ومسلم، برقم 5- (1669)، وتقدم تخريجه في تخريج حديث المتن رقم 345.

أَنْ يُرَضَّ رَأْسُهُ بَيْنَ حَجَرَيْنِ» [1].

ترجمه: انس بن مالک ﷺ نقل کوي : چې يې شکه يوه جينۍ اومندلے شوه ، چې سر ئې ټکولے (چقول) شوے وو ، په مينځ د دوه وو کاڼو کې ، نو چا اووئيل : دا کار چا کړے دے په تا باندې ، فلاني (کړے) فلاني (کړے هغې د سر په اشاره سره اووئيل : نه ؟ تردې چې د يو يهودي تذکره اوکړے شوه ، نو هغې په سر سره اشاره اوکړه (چې آؤ)، نو هغه يهودي اونيولے شو ، او اقرار ئې اوکړو ، نو نبي ﷺ امر اوکړو ، چې د ده سر دې هم د دوه وو کاڼو په مينځ کې اوټکولے شي .

347 ـ ولمسلم والنسائي عَنْ أنس ، «أَنَّ يَهُودِيًّا قَتَلَ جَارِيَةً عَلَى أَوْضَاحٍ ، فَأَقَادَهُ بها [2] رَسُولُ اللهِ ﷺ» [3].

ترجمه: په روايت د مسلم او نسائي کې دي ، د انس ﷺ په روايت ، چې يو يهودي يوه جينۍ قتل کړې وه ، د سپينو زرو په کالي نو نبي ﷺ هغه قصاص کړو په مقبله د هغه جينۍ کې .

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې که يو کس ښځه اووژله نو هغه به پرې وژلے شي او که

---

(1) رواه البخاري، كتاب الخصومات، باب ما يُذكر في الأشخاص والخصومة بين المسلم واليهود، برقم 2413، وجميع أطرافه في هذا الحديث، وأخرجه مسلم، كتاب القسامة والمحاربين والقصاص والديات، باب ثبوت القصاص في القتل بالحجر وغيره من المحددات، والمثقلات، وقتل الرجل بالمرأة، برقم 17- (1672).

(2) في نسخة الزهيري: «فأقاده رسول الله ﷺ بها».

(3) رواه البخاري، كتاب الديات، باب من أقاد بالحجر، برقم 6879، ولفظه: عَنْ أَنَسٍ ﷺ، أَنَّ يَهُودِيًّا قَتَلَ جَارِيَةً عَلَى أَوْضَاحٍ لَهَا، فَقَتَلَهَا بِحَجَرٍ، فَجِيءَ بِهَا إِلَى النَّبِيِّ ﷺ وَبِهَا رَمَقٌ، فَقَالَ: «أَقَتَلَكِ فُلاَنٌ؟» فَأَشَارَتْ بِرَأْسِهَا: أَنْ لاَ، ثُمَّ قَالَ الثَّانِيَةَ، فَأَشَارَتْ بِرَأْسِهَا: أَنْ لاَ، ثُمَّ سَأَلَهَا الثَّالِثَةَ، فَأَشَارَتْ بِرَأْسِهَا: أَنْ نَعَمْ، فَقَتَلَهُ النَّبِيُّ ﷺ بِحَجَرَيْنِ»، وقد أخرجه في عدة مواضع، برقم 2413، وفي آخره: «فأمر به النبي ﷺ فرُضَّ رأسه بين حجرين»، وبرقم 2746، و6876، و6877، 6879، و6884، و6885، وبنحوه مسلم، كتاب القسامة والمحاربين والقصاص والديات، باب ثبوت القصاص في القتل بالحجر وغيره من المحددات، والمثقلات، وقتل الرجل بالمرأة، برقم 17- (1672)، وفي آخره: «فَقَتَلَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ بَيْنَ حَجَرَيْنِ»، والنسائي، واللفظ له، 8/ 22، برقم 4740.

ښځه يې زخمي کړه دا به پرې زخمي کولے شي.

***

يا ديت يا قصاص

348ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ: «لَمَّا فَتَحَ اللهُ ﷻ عَلَى رَسُولِهِ ﷺ مَكَّةَ، قَتَلَتْ خُزَاعَةُ[1] رَجُلاً مِنْ بَنِي لَيْثٍ بِقَتِيلٍ كَانَ لَهُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، فَقَامَ النَّبِيُّ ﷺ، فَقَالَ: «إِنَّ اللهَ ﷻ قَدْ حَبَسَ عَنْ مَكَّةَ الْفِيلَ، وَسَلَّطَ عَلَيْهَا رَسُولَهُ وَالْمُؤْمِنِينَ، أَلا[2] وَإِنَّهَا لَمْ تَحِلَّ لأَحَدٍ[3] قَبْلِي، وَلا تَحِلُّ لأَحَدٍ بَعْدِي، وَإِنَّمَا أُحِلَّتْ لِي سَاعَةً مِنْ نَهَارٍ، وَإِنَّهَا سَاعَتِي هَذِهِ حَرَامٌ، لا يُعْضَدُ شَجَرُهَا، وَلا يُخْتَلَى شَوْكُهَا، وَلا تُلْتَقَطُ سَاقِطَتُهَا إِلاَّ لِمُنْشِدٍ، وَمَنْ قُتِلَ لَهُ قَتِيلٌ فَهُوَ بِخَيْرِ النَّظَرَيْنِ: إِمَّا أَنْ يُقْتَلَ، وَإِمَّا أَنْ يفدى» فَقَامَ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْيَمَنِ ـ يُقَالُ لَهُ أَبُو شَاهٍ ـ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، اُكْتُبُوا لِي، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «اُكْتُبُوا لأَبِي شَاهٍ»، ثُمَّ قَامَ الْعَبَّاسُ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِلاَّ الإِذْخِرَ، فَإِنَّا نَجْعَلُهُ فِي بُيُوتِنَا وَقُبُورِنَا، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «إِلاَّ الإِذْخِرَ»[4].

ترجمه: ابو هريره ﷺ فرمائي: هر کله چې الله ﷻ فتح اوکړه په نبي ﷺ باندې د مکې، نو خزاعه قبلې د بني ليث نه يو کس قتل کړو، او دا په دوي باندې په جاهليت کې وو، نو نبي ﷺ پاڅيدلو، اوئې فرمائيل: يقيناً الله ﷻ بند کړے دے د مکې نه فيل، او مسلط کړے دے په هغې باندې رسول خپل او مؤمنان، خبردار، (په دې) مکه (کې) نه وو حلال (کجروي) د هيڅ چا دپاره زما نه مخکې، او نه د هيڅ چا دپاره زما نه پس، او يقيناً زما دپاره حلال کړے شوے دے د يو ساعت دپاره، د ورځې نه او دا ساعت زما دے دا حرام (شو اوس نه پس) نه به د دې ونې کټ کولے شي او نه به د دې ازغي کټ

---

(1) في نسخة الزهيري: «هذيل».

(2) «ألا»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في البخاري، برقم 112، وفي مسلم، برقم 448- (1355).

(3) في نسخة الزهيري: «وأنها لم تحل لأحد كان قبلي».

(4) رواه البخاري، كتاب العلم، باب كتابة العلم، برقم 112، ومسلم، كتاب الحج، باب تحريم مكة وصيدها وخلاها وشجرها ولقطتها، إلا لمنشد، على الدوام، برقم 1355.

کولے شي، او نه به د دې پرېوتلے شے راخستلے کيدے شي مګر د اعلان کونکي دپاره (ئي راخستل جائز دي) او د چا چې يو کس اوژلے شو، نو هغې لره اختيار دے په يو د دوه نظرونو کې، يا دا چې قتل کړے شي، او يا ترينه فديه واخستلے شي، نو يو کس پاڅيدلو د يمن والاؤ نه، هغه ته ابو شاه وئيل کيدلو، هغه اووئيل: اے د الله رسوله، اوليکئ زما دپاره، نو نبي ﷺ ورته اووئيل: اوليکئ ابو شاه دپاره، بيا عباس ﷺ پاڅيدلو، اوئې وئيل: اے د الله رسوله، مګر سرګړے (اجازه اوکړه) ځکه چې دا مونږ په کورونو کې اچو او په قبرونو کې ئې اچو، نو نبي ﷺ اووئيل: (صحيح ده) مګر سرګړے (يعنی دا ترينه مستثنی شو).

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې اولياؤ د مقتول له اختيار دے که ديت اخلي او که قصاص کوي.

***

د جنين (خيټې نه غورځولی شوي ماشوم) ديت

349 ـ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ﷺ، «أَنَّهُ اسْتَشَارَ النَّاسَ فِي إِمْلَاصِ الْمَرْأَةِ، فَقَالَ الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ: «شَهِدْتُ النَّبِيَّ ﷺ قَضَى فِيهِ بِغُرَّةٍ: عَبْدٍ، أَوْ أَمَةٍ، فَقَالَ: ائْتِنِي[1] بِمَنْ يَشْهَدُ مَعَك، فَشَهِدَ مَعَهُ[2] مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ»[3]. إملاص المرأة: أن تُلقيَ جنينها ميتاً[1].

(1) في نسخة الزهيري: «لتأتين».

(2) في نسخة الزهيري: «فشهد له».

(3) رواه البخاري، كتاب الاعتصام، باب ما جاء في اجتهاد القضاء بما أنزل الله تعالى، برقم 7317، وأطرافه في البخاري، برقم 6905، و6906، و6907، و6908، ومسلم، كتاب القسامة والمحاربين والقصاص والديات، باب دية الجنين ووجوب الدية في قتل الخطأ وشبه العمد على عاقلة الجاني، برقم 1683، واللفظ له.

ترجمه: عمر ﷺ، د خلقو نه مشوره طلب کړه، په باره د هغه زنانه کې چې مړ ماشوم د زنانه نه اوغورځوي، مغیره بن شعبه ﷺ اوفرمائیل : زه نبي ﷺ ته حاضر شوے ووم او هغه په دې باره کې فیصله کړې وه په غلام یا وینځې سره (چې دا دې ورکړے شي)، نو عمر ﷺ اووئیل : راوله ماته هغه کس چې تا سره ګواهي اوکړي په دې خبره باندې، نو د ده سره ګواهي اوکړه محمد بن مسلمه ﷺ.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم شوه چې که چا د زنانه نه بچے اوغورځو نو د هغې په دیت کې به یوه وینځه یا غلام ورکوي او یا د دې قیمت.

***

د جنین دیت او دیت به عاقله ورکوي

350 ـ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ قَالَ : «اقْتَتَلَتِ امْرَأَتَانِ مِنْ هُذَيْلٍ ، فَرَمَتْ إِحْدَاهُمَا الأُخْرَى بِحَجَرٍ ، فَقَتَلَتْهَا وَمَا فِي بَطْنِهَا ، فَاخْتَصَمُوا إِلَى رسول اللهِ ﷺ ، فَقَضَى رَسُولُ اللهِ ﷺ : أَنَّ دِيَةَ جَنِينِهَا غُرَّةٌ : عَبْدٌ ، أَوْ وَلِيدَةٌ ، وَقَضَى بِدِيَةِ الْمَرْأَةِ عَلَى عَاقِلَتِهَا ، وَوَرَّثَهَا وَلَدَهَا وَمَنْ مَعَهُمْ ، فَقَامَ حَمَلُ بْنُ النَّابِغَةِ الْهُذَلِيُّ فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللهِ ، كَيْفَ أَغْرَمُ مَنْ لا شَرِبَ ، وَلا أَكَلَ ، وَلا نَطَقَ وَلا اسْتَهَلَّ ، فَمِثْلُ ذٰلِكَ يُطَلُّ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «إِنَّمَا هُوَ مِنْ إِخْوَانِ الْكُهَّانِ» مِنْ أَجْلِ سَجْعِهِ الَّذِي سَجَعَ [(2)].

ترجمه: ابو هریره ﷺ فرمائي : دوه زنانو جنګ اوکړو د هذیل قبیلې نه، نو یوې هغه بله په کاڼي ویشتله، هغه ئې مړه کړه او هغه بچے چې د هغې په خېټه کې وو هغه ئې هم مړ کړو، نو جګړه ئې نبي ﷺ ته راوړله، نو نبي ﷺ ورله فیصله اوکړه په غلام یا، وینځې سره، او فیصله ئې اوکړه په دیت د هغه زنانه په وارثانو د هغه قاتلې باندې، او هغه دیت ئې په میراث کې د هغې بچو ته ورکړو او هغه چا ته چې د

---

(1) «إملاص المرأة: أن تلقي جنينها ميتاً» ليست في نسخة الزهيري.

(2) رواه البخاري، كتاب الطب، باب الكهانة، برقم 5758، 5759، و5760، و6440، و6904، و6909، و6910، ومسلم، كتاب القسامة والمحاربين والقصاص والديات، باب دية الجنين، ووجوب الدية في قتل الخطأ، وشبه العمد على عاقلة الجاني، برقم 36- (1681).

هغوي سره په ميراث کې شريک وو، نو پاڅيدلو حمل بن نابغه الهذلي، اوئي فرمائيل : اے د الله رسوله! څنګه تاوان ورکړے شي د هغه کس چې نه ئې څکل کړي وي او نه ئې خوراک کړے وي، او نه ئې خبرې کړي وي او نه ئې اواز کړے وي نو په مثل د دې (وينې) هدر (باطل) وي نو نبي ﷺ اوفرمائيل : يقيناً دا د کاهنانو د ورونو نه دے، د وجې د سجع د دې نه هغه سجعه چې ده اوکړه.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې کله يوه زنانه بله زنانه په کاڼي وغيره ووهي او د هغې نه بچے اوغورځيږي نو د هغې ديت د ويشتونکې ښځې په عاقله وو باندې دے او هغه به په ميراث کې د هغې بچو ته ورکولے شي.

***

چا چې په يو کس باندې چک اولګولو او په هغې سره ترينه غاښونه اووتل نو هغه باندې ديت نشته

351 ـ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ ، «أَنَّ رَجُلاً عَضَّ يَدَ رَجُلٍ ، فَنَزَعَ يَدَهُ مِنْ فَمِهِ ، فَوَقَعَتْ ثَنِيَّتَاهُ ، فَاخْتَصَمَا[1] إِلَى النَّبِيِّ ﷺ ، فَقَالَ : «يَعَضُّ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ[2] كَمَا يَعَضُّ الْفَحْلُ؟ لا دِيَةَ لَكَ»[3].

ترجمه: عمران نقل کوي : چې پې شکه يو کس چک اولګوو په لاس د يو کس باندې، نو هغه ترينه د خولې نه لاس راښکلو، نو دوه غاښونه ترينه پريوتل، نو جګړه ئې نبي ﷺ ته راوړله، هغه اوفرمائيل : چک لګوي يو کس ستاسو نه په وررور خپل باندې لکه څرنګه چې چک لګوي اوښ؟ نشته دے ستا دپاره څه ديت.

مفهوم د حديث

(1) في نسخة الزهيري: «فاختصموا» وهذا لفظ البخاري، برقم 6892، ولفظ المتن: «اختصما» لفظ مسلم، برقم 1673.

(2) في نسخة الزهيري خطأ مطبعي: «أحاه» بالحاء.

(3)رواه البخاري، كتاب الديات، باب إذا عض رجلاً فوقعت ثناياه، برقم 6892، بلفظه، ومسلم، كتاب القسامة والمحاربين والقصاص والديات، باب الصائل على نفس الإنسان، أو عضوه، إذا دفعه المصول عليه، فأتلف نفسه أو عضوه، لا ضمان عليه، برقم 1673.

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې چک سره غابنونه اووتل نو په هغې ديت نشته

***

خپل ځان په خپله وژل حرام دي

352 ـ وعَنْ الحسن بن أبي الحسن البصري قَالَ: حدثنا جُنْدُبٌ ﷺ في هذا المسجد، وما نسينا منه حديثاً، وَمَا نَخْشَى أَنْ يَكُونَ جُنْدُبٌ كَذَبَ عَلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ ـ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «كَانَ فِيمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، رَجُلٌ بِهِ جُرْحٌ فَجَزِعَ، فَأَخَذَ سِكِّيناً، فَحَزَّ بِهَا يَدَهُ، فَمَا رَقَأَ الدَّمُ حَتَّى مَاتَ، قَالَ اللهُ ﷻ: (عَبْدِي بَادَرَنِي بِنَفْسِهِ، حَرَّمْتُ(1) عَلَيْهِ الْجَنَّةَ)»(2).

ترجمه: حسن بن ابي الحسن البصري رحمه الله فرمائي: ما ته حديث بيان كړے دے جندب رضي الله عنه په دې مسجد کې او ما نه دے هير کړے د دې نه يو حديث هم، او زه نه يريږم په دې چې جندب رضي الله عنه به دروغ اووائي په نبي ﷺ باندې دا فرمائي: چې نبي ﷺ فرمائيلي دي: وو يو سړے په هغه خلقو کې چې مخکې ستاسو نه وو، په هغه باندې زخم وو، نو صبر ئې اونه کړو نو چاړه ئې راواخستله، او لاس ئې پرې پريکړو، وينه ئې بنده نه شوه تردې چې مړ شو، الله ﷻ اووفرمائيل: زما بنده جلتي اوکړه په خپل نفس، ما په ده باندې جنت حرام کړو.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې چا خپل ځان په خپله اووژلو نو ده حرام كار اوكړو الله ﷻ به پرې جنت حرام کړي.

***

(1) في نسخة الزهيري: «فحرمت»، والمتن هو لفظ البخاري، برقم 1364، ورقم 3463.

(2) رواه البخاري، أحاديث الأنبياء، باب ما ذكر عن بني إسرائيل، برقم 3463، بلفظه، ومسلم، كتاب الإيمان، باب بيان غلظ تحريم قتل الإنسان نفسه، وإن من قتل نفسه بشيء عُذب به في النار، وأنه لا يدخل الجنة إلا نفس مسلمة، برقم 113.

كتاب الحدود

كتاب ثابت دے په بيان د حدودو كې.

د محاربينو حد (سزا)

353 ـ عَنْ أنس بن مالك ﷺ قَالَ : «قَدِمَ نَاسٌ مِنْ عُكْلٍ ـ أَوْ عُرَيْنَةَ ـ فَاجْتَوَوُا الْمَدِينَةَ ، فَأَمَرَ لَهُمُ النَّبِيُّ ﷺ بِلِقَاحٍ ، وَأَمَرَهُمْ : أَنْ يَشْرَبُوا مِنْ أَبْوَالِهَا وَأَلْبَانِهَا ، فَانْطَلَقُوا ، فَلَمَّا صَحُّوا ، قَتَلُوا رَاعِيَ النَّبِيِّ ﷺ ، وَاسْتَاقُوا النَّعَمَ ، فَجَاءَ الْخَبَرُ فِي أَوَّلِ النَّهَارِ ، فَبَعَثَ فِي آثَارِهِمْ ، فَلَمَّا ارْتَفَعَ النَّهَارُ جِيءَ بِهِمْ ، فَأَمَرَ[1] فَقَطَعَ[2] أَيْدِيَهِمْ وَأَرْجُلَهُمْ ، وَسُمِرَتْ أَعْيُنُهُمْ ، وَتُرِكُوا فِي الْحَرَّةِ يَسْتَسْقُونَ ، فَلَا يُسْقَوْنَ.

ترجمه: انس بن مالك ﷺ فرمائي : د عكل او عرينه قبلو نه څه كسان مدينې ته راغلل ، خيټې ئې خرابې شوې ، نو نبي ﷺ امر اوكړو د دوي دپاره په لنګو اوښو او امر ئې ورته اوكړو چې د هغوي متيازې او پئ اوڅكي ، نو روان شول (هلته د څارو ځائې ته ورسيدل او هغه اوښانو متيازې او پئ ئې اوڅكل) نو هر كله چې روغ شول ، د نبي ﷺ شپونكے ئې قتل كړو ، او څاروي ئې روان كړل (ځان سره) نو نبي ﷺ ته په اول د ورځې كې خبر راورسيدلو ، نبي ﷺ په هغې پسې صحابه وليږل ، هر كله چې نمر اوچت شو ، نو هغوي راوستلے شو ، نبي ﷺ امر اوكړو ، نو لاسونه او پښې ئې ورله پرې كړې ، او په سترګو كې ورله ګرم سيخان وركړل ، او په ګرمو شګو كې پريښودلے شول ، د اوبو غوښتنه ئې كوله ورنه كړے شوې.

قَالَ أبو قلابة : «**فَهَؤُلَاءِ سَرَقُوا ، وَقَتَلُوا ، وَكَفَرُوا بَعْدَ إِيمَانِهِمْ ، وَحَارَبُوا اللهَ وَرَسُولَهُ**»[3].

---

(1) في نسخة الزهيري: «فأمر بهم»، والذي في المتن لفظ البخاري، برقم 233.

(2) في نسخة الزهيري: «فقطّعت»، والذي في المتن لفظ البخاري، برقم 233، ومسلم برقم 1671.

(3) رواه البخاري، كتاب الوضوء، باب أبوال الإبل والدواب والغنم ومرابضها، برقم 233، بلفظه، ومسلم، كتاب القسامة والمحاربين والقصاص والديات، باب حكم المحاربين والمرتدين، برقم 1671.

أخرجه الجماعة[1].

ترجمه: ابو قلابه رحمه الله فرمائي: دې خلقو غلا هم کړې وه، او قتل ئې هم کړے وو، او کافر شوي هم وو روسته د ايمان نه، او د الله ﷻ او د هغه د رسول سره ئې جنګ هم کړے وو.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې چا دا مذکوره کارونه اوکړل نو د هغې به هغه سزا وي کومه چې په دې حديث کې ذکر شوه.

***

په خپل ځان باندې د زنا د اقرار کولو حد

354 ـ عَنْ عبيد اللهِ بن عبد اللهِ بن عُتْبة بن مسعود، عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ، وزيد بن خالد الْجُهَني، أنهما قَالَا: «إِنَّ رَجُلاً مِنَ الأَعْرَابِ أَتَى النَّبِيَّ ﷺ[2]، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَنْشُدُكَ اللهَ إِلاَّ قَضَيْتَ بَيْنَنَا بِكِتَابِ اللهِ، فَقَالَ الْخَصْمُ الآخَرُ، وَهُوَ أَفْقَهُ مِنْهُ: نَعَمْ، فَاقْضِ بَيْنَنَا بِكِتَابِ اللهِ، وَأْذَنْ لِي، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «قُلْ» قَالَ: إِنَّ ابْنِي كَانَ عَسِيفاً عَلَى هَذَا، فَزَنَى بِامْرَأَتِهِ، وَإِنِّي أُخْبِرْت: أَنَّ عَلَى ابْنِي الرَّجْمَ، فَافْتَدَيْت مِنْهُ بِمِائَةِ شَاةٍ وَوَلِيدَةٍ، فَسَأَلْتُ أَهْلَ الْعِلْمِ؟ فَأَخْبَرُونِي: أَنَّمَا عَلَى ابْنِي جَلْدُ مِائَةٍ وَتَغْرِيبُ عَامٍ وَأَنَّ عَلَى امْرَأَةِ هَذَا: الرَّجْمَ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لأَقْضِيَنَّ بَيْنَكُمَا بِكِتَابِ اللهِ، الْوَلِيدَةُ وَالْغَنَمُ، رَدٌّ، وَعَلَى ابْنِك: جَلْدُ مِائَةٍ، وَتَغْرِيبُ عَامٍ، وَاغْدُ يَا أُنَيْس ـ لِرَجُلٍ مِنْ أَسْلَمَ ـ إلى امْرَأَةِ هَذَا، فَإِنِ اعْتَرَفَتْ فَارْجُمْهَا» فَغَدَا[3] عَلَيْهَا فَاعْتَرَفَتْ، فَأَمَرَ بِهَا رَسُولُ اللهِ ﷺ فَرُجِمَتْ»[4]. العَسِيف: الأجير.

---

(1) لعل المصنف أراد بالجماعة: أصحاب الكتب الستة، انظر ما قاله ابن الملقن في الإعلام، 4/ 28، وقد رواه أيضاً: أبو داود، برقم 4364، والنسائي، 7/ 94، والترمذي، برقم 72، وابن ماجه، برقم 2578.

(2) في نسخة الزهيري: «أتى رسول الله ﷺ».

(3) في نسخة الزهيري: «قال: فغدا» وهو لفظ البخاري، برقم 2724، 2725، ومسلم، برقم 1697.

(4) رواه البخاري، كتاب الصلح، باب إذا اصطلحوا على صلح جور فالصلح مردود، برقم 2695، واللفظ له، ومسلم، كتاب الحدود،

ترجمه: عبيد الله بن عتبه بن مسعود، نقل كوي د ابو هريره، زيد بن خالد رضي الله عَنْهما نه دوي فرمائي: يقيناً يو سړے د اعرابو نه نبي ﷺ ته راغے، ورته ئې اوفرمائيل: اے د الله رسوله، زه تا له قسم دركوم په الله ﷻ باندې، مګر ته به فيصله كوې زمونږ په مينځ كې د الله ﷻ په كتاب باندې، بل خصم اووئيل: چې هغه د اولني نه ډير پوهه وو، آؤ! ته فيصله اوكړه زمونږ په مينځ كې د الله ﷻ په كتاب باندې او ما ته اجازه راكړه، نو نبي ﷺ ورته اووئيل: وايه! هغه اووئيل: يقيناً زما ځوي د دې كس مزدور وو، نو د ده د ښځې سره ئې زنا اوكړه، او زه خبر شوم چې زما په ځوي باندې رجم دے، نو ما د دې په فديه (بدل) كې سل ګډې او يوه وينځه وركړه، نو ما د اهل علمو نه تپوس اوكړو، (د دې په باره كې) هغوي ما ته خبر راكړو، چې يقيناً زما په ځوي باندې سل دورې او يو كال جلا وطن كول دي، او په ښځه د دې كس باندې رجم دے، نو نبي ﷺ اوفرمائيل: قسم مې دے وي په هغه ذات باندې چې زما نفس د هغه په لاس كې دے، زه به خامخا فيصله كوم د الله ﷻ په كتاب باندې، وينځه او ګډې دې واپس دي، او ستا په ځوي باندې سل دورې او يو كال جلاوطن كول دي، او سحر وختي لاړ شه اے انيس (دا يو سړے وو د اسلم قبيلې نه) د دغه ښځې ته، كه اقرار ئې اوكړو، نو رجم كړئ هغې لره، نو سحر وختي ورغے هغې اقرار اوكړو، نو نبي ﷺ پرې امر اوكړو، هغه رجم كړے شوه.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې چا په خپل ځان باندې اقرار اوكړو د زنا، نو هغې له به حد وركولے شي، ځكه چې اصل اقرار دے.

❋ ❋ ❋

د زناكار غلام دپاره حد او خرڅول

355 ـ وعَنْه، عَنْهما قَالَا: «سُئِلَ رسولُ اللهِ ﷺ[1] عَنْ الأَمَةِ إِذَا زَنَتْ، وَلَمْ تُحْصَنْ؟ قَالَ: «إِنْ[1]

باب من اعترف على نفسه بالزنى، برقم 1697، بلفظه أيضاً.

(1) في نسخة الزهيري: «سئل النبي ﷺ»، وهو لفظ البخاري، برقم 2153.

زَنَتْ فَاجْلِدُوهَا ، ثُمَّ إِنْ زَنَتْ فَاجْلِدُوهَا ، ثُمَّ إِنْ زَنَتْ فَاجْلِدُوهَا ، ثُمَّ بِيعُوهَا ، وَلَوْ بِضَفِيرٍ». قَالَ ابن شِهاب : ولا[2] أدري : أبعد الثالثة، أو الرابعة؟[3] . والضفير : الحبل.

ترجمه: مخکې دوه صحابو رضي الله عَنْهما فرمائي : د نبي ﷺ نه تپوس اوکړے شو، د وينځې په باره کې چې کله زنا اوکړي ، او واده شوي نه وي ؟ نبي ﷺ اوفرمائيل : که دا زنا اوکړي نو په دورو باندې ئې اووهئ ، بيا ئې که زنا اوکړه نو په دورو باندې ئې اووهئ ، بيا ئې خرڅه کړئ اګر که په يوه رسۍ باندې وي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې کله وينځه زنا اوکړي او غير شادي شده وي، نو هغه به په دورو سره وهلے شي او که بيا ئې اوکړه نو بيا به خرڅولے شي اګر که د وېښتانو په رسۍ باندې وي

❋❋❋

ليونی او ليونۍ له به حد نشي ورکولی

356 ـ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ ﷺ أنه[4] قَالَ : «أَتَى رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ رَسُولَ اللهِ ﷺ ـ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ ـ فَنَادَاهُ ، فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللهِ ، إِنِّي زَنَيْتُ ، فَأَعْرَضَ عَنْهُ ، فَتَنَحَّى تِلْقَاءَ وَجْهِهِ فَقَالَ[5] : يَا رَسُولَ اللهِ ، إِنِّي زَنَيْت ، فَأَعْرَضَ عَنْهُ ، حَتَّى ثَنَّى ذٰلِكَ عَلَيْهِ أَرْبَعَ مَرَّاتٍ ، فَلَمَّا شَهِدَ عَلَى نَفْسِهِ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ ، دَعَاهُ رَسُولُ اللهِ ، فَقَالَ : «أَبِكَ جُنُونٌ؟» قَالَ : لا. قَالَ : «فَهَلْ أُحْصِنْتَ»؟ قَالَ : نَعَمْ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : «اذْهَبُوا بِهِ

---

(1) في نسخة الزهيري: «إذا»، ولفظ المتن في البخاري، برقم 2153.

(2) في نسخة الزهيري: «لا أدري» بدون واو، وهو لفظ البخاري، برقم 2135، ورقم 3837.

(3) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب بيع العبد الزاني، برقم 2152، 2153، وكتاب الحدود، باب إذا زنت الأمة، برقم 6827، و6838، بلفظه، ومسلم، كتاب الحدود، باب رجم اليهود أهل الذمة في الزنى، برقم 1703، و1704.

(4) «أنه» ليست في نسخة الزهيري، وهي في صحيح مسلم، برقم 16- (1691).

(5) في نسخة الزهيري: «فقال له»، وهي في صحيح مسلم، برقم 16- (1691).

فَارْجُمُوهُ».

ترجمه: ابو هريره ﷺ فرمائي: يو سړے د مسلمانانو نه نبي ﷺ ته راغے، او نبي ﷺ په مسجد کې وو، اواز ئې اوکړو، وې فرمائيل: اے د الله رسوله! يقيناً ما زنا کړې ده، نو نبي ﷺ ترينه اعراض اوکړو (مخ ئې ترينه واړولو)، نو مخامخ ورته راغے اوئې فرمائيل: اے د الله رسوله! يقيناً ما زنا کړې ده، نو نبي ﷺ ترينه اعراض اوکړو (مخ ئې ترينه واړولو)، تردې چې راتاؤ شو دغه کس نبي ﷺ ته څلور ځله، نو هر کله چې هغه په خپل ځان باندې څلور شهادتونه (ګواهيانې) اوکړل، نو نبي ﷺ راوغښتلو، ورته ئې اوفرمائيل: آيا ته ليونے ئې؟ هغه اووئيل: نه! نبي ﷺ ورته اووئيل: آيا تا واده کړے دے؟ هغه اووئيل: آؤ! نو نبي ﷺ اوفرمائيل: دا کس بوځئ او رجم ئې کړئ.

په کورکې د سپي ساتل سبب د کموالي د اجر دے

395 ـ عَنْ سالم بن عبد اللهِ بن عمر، عَنْ أبيه ﷺ قَالَ: سمعتُ رسولَ اللهِ ﷺ يقول: «مَنِ اقْتَنَى كَلْباً- إلاَّ كَلْبَ صَيْدٍ، أَوْ مَاشِيَةٍ- فَإِنَّهُ يَنْقُصُ مِنْ أَجْرِهِ كُلَّ يَوْمٍ قِيرَاطَانِ»[1].

ترجمه: سالم بن عبد الله د خپل پلار نه نقل کوي دا فرمائي: ما د نبي ﷺ نه اوریدلي دي: هغه فرمائیلي دي: چا چې اوساتلو سپے سیوا د ښکاري سپي نه او سیوا د څاروو د څوکیدارئ د سپي نه، دا کموي د دې کس د اجر نه هره ورځ دوه قیراطه اجر.

قَالَ سالم: وكان أبو هريرة يقول «أَوْ كَلْبَ حَرْثٍ، وَكَانَ صَاحِبَ حَرْثٍ»[2].

ترجمه: سالم رحمه الله فرمائي: ابو هريره ﷺ به وئیل: سیوا د فصل د سپي نه او دا صاحب د فصل وو.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د سپي ساتل په کورکې حرام دي.

***

په نوکاو هدوکي باندې ذبح حرامه ده

396 ـ عَنْ رافع بن خَدِيج ﷺ قَالَ: «كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ[3] بِذِي الْحُلَيْفَةِ مِنْ تِهَامَةَ[1]، فَأَصَابَ

---

(1) رواه البخاري، كتاب الذبائح والصيد، باب من اقتنى كلباً ليس بكلب صيد أو ماشية، برقم 5480، و5481، ومسلم، كتاب المساقاة والمزارعة، باب الأمر بقتل الكلاب، وبيان نسخه، وبيان تحريم اقتنائها، إلا لصيد أو زرع، أو ماشية ونحو ذلك، برقم 51- (1574)، واللفظ له.

(2) رواه مسلم، كتاب المساقاة والمزارعة، باب الأمر بقتل الكلاب، وبيان نسخه، وبيان تحريم اقتنائها، إلا لصيد أو زرع، أو ماشية ونحو ذلك، برقم 54- (1574).

(3) في نسخة الزهيري: «مع النبي ﷺ»، وهو لفظ البخاري، برقم 2488.

النَّاسَ جُوعٌ ، فَأَصَابُوا إِبِلاً وَغَنَماً ، وَكَانَ النَّبِيُّ ﷺ فِي أُخْرَيَاتِ الْقَوْمِ ، فَعَجِلُوا وَذَبَحُوا ، وَنَصَبُوا الْقُدُورَ ، فَأَمَرَ النَّبِيُّ ﷺ بِالْقُدُورِ فَأُكْفِئَتْ ، ثُمَّ قَسَمَ ، فَعَدَلَ عَشَرَةً مِنَ الْغَنَمِ بِبَعِيرٍ ، فَنَدَّ مِنْهَا بَعِيرٌ ، فَطَلَبُوهُ ، فَأَعْيَاهُمْ ، وَكَانَ فِي الْقَوْمِ خَيْلٌ يَسِيرَةٌ ، فَأَهْوَى رَجُلٌ مِنْهُمْ بِسَهْمٍ ، فَحَبَسَهُ اللهُ ، فَقَالَ : «إِنَّ لِهَذِهِ الْبَهَائِمِ أَوَابِدَ كَأَوَابِدِ الْوَحْشِ ، فَمَا نَدَّ عَلَيْكُمْ[2] مِنْهَا فَاصْنَعُوا بِهِ هَكَذَا» قَالَ : قُلْتُ : يَا رَسُولَ اللهِ ، إِنَّا نلقى[3] الْعَدُوَّ غَداً ، وَلَيْسَ[4] مَعَنَا مُدىً ، أَفَنَذْبَحُ بِالْقَصَبِ؟ قَالَ : «مَا أَنْهَرَ الدَّمَ ، وَذُكِرَ اسْمُ اللهِ عَلَيْهِ ، فَكُلُوهُ ، لَيْسَ السِّنَّ وَالظُّفُرَ ، وَسَأُحَدِّثُكُمْ عَنْ ذَلِكَ. أَمَّا السِّنُّ فَعَظْمٌ ، وَأَمَّا الظُّفُرُ فَمُدَى الْحَبَشَةِ»[5] .[6]

ترجمه: رافع بن خديج ﷺ فرمائي : مونږ د نبي ﷺ سره په ذوالحليفه د تهامه کې وو ، نو خلقو ته ولږه ورسيدله ، نو دوي اوښان او ګډو ته ورسيدل ، او نبي ﷺ په آخر د قوم کې وو ، دوي تلوار اوکړو او هغه ئي ذبح کړل ، او کټوئ ئي ودرولې ، نو نبي ﷺ امر اوکړو ، په کټويو سره ، نو هغه نسکورې کړے شوې ، بيا نبي ﷺ تقسيم اوکړو ، نو برابر ئي کړو لس د ګډو نه د يو اوښ سره ، نو ورک شو د دوي نه يو اوښ ، دوي هغه طلب کړو ، خو د پيدا کولو نه ئي ستړي شول ، او په دې قوم کې يو اس وو تيز مزل والا ، نو د دوي نه يو سړي هغې ته قصد اوکړو په حصې سره (چې په حصه کې ئي واخلي)، نو هغه الله ﷻ بند کړو ، نبي ﷺ اووئيل : يقيناً دې څارو دپاره نفرت وي په شان د نفرت د وحشي حيواناتو نو کوم چې اوتختيدلو ستاسو نه نو د هغې سره داسې کار اوکړئ (يعنى په غشي باندې ولئ ،) راوي وائي ما

---

(1) هو موضع بين حاذة وذات عرق من أرض تهامة. معجم البلدان، 2/ 296.

(2) في نسخة الزهيري: «فما غلبكم»، ولفظ المتن في صحيح البخاري، برقم 3075، ولفظ: «فما غلبكم» في صحيح البخاري، برقم 2488.

(3) في نسخة الزهيري: «إنا لاقوا»، و«نلقى» عند البخاري، برقم 3075.

(4) في نسخة الزهيري: «وليست»، ولفظ المتن في صحيح البخاري، برقم 3075.

(5) رواه البخاري، كتاب الشركة، باب قسم الغنائم، برقم 488، وكتاب الجهاد والسير، باب ما يكره من ذبح الإبل والغنم في المغانم، برقم 3075، ومجموع ألفاظ هذا المتن من هذين الحديثين، ومسلم، كتاب الأضاحي، باب جواز الذبح بكل ما أنهر الدم إلا السن، والظفر، وسائر العظام، برقم 1968 بنحوه.

(6) في نسخة الزهيري بعد هذا الحديث: «الأوابد: التي قد توحشت، ونفرت من الإنس. يقال: أبدت تأبد أبوداً».

اووئیل : اے د الله رسوله، یقیناً مونږ مخامخ کیږو د دشمن سره صبا له، او نشته دے زمونږ سره چاړه، آیا مونږ په دورمه باندې ذبح کولے شو، نبي ﷺ اوفرمائیل : هغه شے چې وینه تویے ووي او د الله ﷻ نوم پرې یاد کړے شي، نو هغه خورئ، سیوا د غاښ، او نوک نه، او زر دے چې زه به تاسو ته د دې په باره کې خبر درکړم، هر چې غاښ دے نو دا هډوکے دے، او هر چې نوک دے نو دا د حبشو چاړه ده.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم شوه چې ذبح په هر هغه شي باندې جائز ده چې وینه تویے کوي سیوا د هډوکي او نوک نه.

❋❋❋

بَابُ الْأَضَاحِيِّ

باب دے په بیان د قربانیانو کې.

د قربانۍ مشروعیت

397 ـ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ ﷺ قَالَ: «ضَحَّى النَّبِيُّ ﷺ بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ، ذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ، وَسَمَّى وَكَبَّرَ، وَوَضَعَ رِجْلَهُ عَلَى صِفَاحِهِمَا»[1]. الأملح: الأغبر، وهو الذي فيه سواد وبياض.

ترجمه: انس ﷺ فرمائي: چي نبي ﷺ قرباني اوکړه، په دوه ګډانو ښکرانو او ښکرانو والا باندې، ذبحه ئې کړل هغه دواړه په خپل لاس باندې او بسم الله ئې اوونیله او الله اکبر ئې اوونیلو، او ښپه ئې کیښودله په مخ د هغوي باندې.

املح: هغه څاروي ته وائي چي تور او سپین وي.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم شوه چي عمده قرباني په مذکوره ګډانو باندې وي، او دا به په خپل لاس ذبح کوي، بسم الله اکبر به وائي، او ښپه به د هغې د څټ په یو طرف باندې ږدي.

***

(1) رواه البخاري، كتاب الأضاحي، باب التكبير عند الذبح، برقم 5565، بلفظه، ومسلم، كتاب الأضاحي، باب استحباب الضحية وذبحها مباشرة بلا توكيل، والتسمية والتكبير، برقم 1966.

كتاب الأشربة

كتاب ثابت دے په بيان د څكلو اشياؤ كې.

***

د شرابواو دهغې دانواعوتحريم

398 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، «أَنَّ عُمَرَ قَالَ ـ عَلَى مِنْبَرِ رَسُولِ اللهِ ﷺ ـ: أَمَّا بَعْدُ، أَيُّهَا النَّاسُ، فإِنَّهُ[1] نَزَلَ تَحْرِيمُ الْخَمْرِ، وَهِيَ مِنْ خَمْسَةٍ: مِنَ الْعِنَبِ، وَالتَّمْرِ، وَالْعَسَلِ، وَالْحِنْطَةِ، وَالشَّعِيرِ. وَالْخَمْرُ: مَا خَامَرَ الْعَقْلَ، و[2] ثَلاثٌ وَدِدْتُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ كَانَ عَهِدَ إِلَيْنَا فِيهِنَّ عَهْداً نَنْتَهِي إِلَيْهِ: الْجَدُّ، وَالْكَلالَةُ، وَأَبْوَابٌ مِنْ أَبْوَابِ الرِّبَا»[3].

ترجمه: ابن عمر ﷺ فرمائي: ېي شكه عمر ﷺ په منبر د نبي ﷺ باندې اووئيل: اما بعد اے خلقو يقيناً نازل شوے دے تحريم د شرابو، او دا د پنځه اشياؤ نه جوړيږي، انګور، كجورې، شهد، غنم، او وربشې، او شراب هغه څه ته وائي چې عقل بې هوشه كوي، او درې شيان داسې دي چې زما دا خوښه وه چې نبي ﷺ مونږ ته مضبوط وصيت كړے وے چې مونږ ترينه منع شوي وے، (د) نيكه (په باره كې) د كلاله په باره كې، د سود د دروازو په باره كې.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د سود ټول اقسام حرام دي او هغه اشياء چې نشه راولي

(1) في نسخة الزهيري: «إنه»، وهذه من صحيح البخاري، برقم 5588، ولفظ المتن من مسلم، برقم 33- (3032).

(2) «و»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في صحيح البخاري، برقم 5588.

(3) رواه البخاري، كتاب التفسير، باب قوله: ﴿إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ﴾ [المائدة: 90]، برقم 4616، وكتاب الأشربة، باب ما جاء في الخمر ما خامر العقل من الشراب، ومسلم، كتاب التفسير، باب في نزول تحريم الخمر، برقم 33- (3032) بلفظه.

هغه هم حرام دي د شرابو تعریف ورته شامل دے.

❊❊❊

هر نشه ئيز شے حرام دے

399 ـ عَنْ عائشة، «عَنْ النَّبِيِّ ﷺ سُئِلَ عَنْ الْبِتْعِ؟ فَقَالَ: «كُلُّ شَرَابٍ أَسْكَرَ فَهُوَ حَرَامٌ»[1].

ترجمه: عائشه رضي الله عنها نقل کوي چې پې شکه نبي ﷺ، نه تپوس اوکړے شو د بتع (د شهدو شربت) په باره کې؟ هغه اوفرمائيل: هر څکلو والا شے چې نشه پیدا کوي، هغه حرام دے.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې هر هغه شے چې نشه راولي هغه حرام دے لږ وي او که ډير وي.

❊❊❊

د حرامو اشياؤ خرڅول حرام دي

400 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «بَلَغَ عُمَرَ ﷺ أَنَّ فُلاناً بَاعَ خَمْراً، فَقَالَ: قَاتَلَ اللهِ فُلاناً، أَلَمْ يَعْلَمْ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: «لَعَنَ اللهُ[2] الْيَهُودَ، حُرِّمَتْ عَلَيْهِمُ الشُّحُومُ، فَجَمَلُوهَا فَبَاعُوهَا»[3]»[4].

ترجمه: ابن عباس ﷺ فرمائي: عمر ﷺ ته ورسيدل چې يقيناً فلاني شراب خرڅ کړل، هغه اووئيل: الله ﷻ فلانے قتل کړي، ايا هغه ته پته نشته چې نبي ﷺ لعنت وئيلے دے په يهودو، باندې،

---

(1) رواه البخاري، كتاب الوضوء، باب لا يجوز الوضوء بالنبيذ ولا المسكر، برقم 242، بلفظه، ومسلم، كتاب الأشربة، باب بيان أن كل مسكر خمر، وأن كل خمر حرام، برقم 2001، بلفظه أيضاً.

(2) في نسخة الزهيري: «قاتل الله»، وهو لفظ البخاري، برقم 2223، ولفظ: «لعن الله اليهود» في البخاري، برقم 3460.

(3) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب لا يذاب شحم الميتة، ولا يباع ودكه، برقم 2223، وفي أحاديث الأنبياء، برقم 3460، ومسلم، كتاب المساقاة والمزارعة، باب تحريم بيع الخمر والميتة والخنزير والأصنام، برقم 1582، بلفظه إلا أنه صرح باسم سمرة.

(4) في نسخة الزهيري زيادة: «جملوها: أذابوها».

په هغوي باندې حرام کړے شوې وه وازده، نو هغوي ولي کوله او هغه به ئې خرڅوله.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د حرامو اشياؤ خرڅول حرام دي او سبب د هلاکت دے.

***

كتابُ اللِّبَاسِ

کتاب ثابت دے په بيان د لباس کې.

چا چې په دنيا کې د ريښمو لباس واچولو نو په اخرت کې به ورله نه وي

401ـ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «لا تَلْبَسُوا الْحَرِيرَ، فَإِنَّهُ مَنْ لَبِسَهُ فِي الدُّنْيَا، لَمْ يَلْبَسْهُ فِي الآخِرَةِ»[1].

ترجمه: عمر ﷺ فرمائي: چې نبي ﷺ فرمائيلي دي: تاسو د ريښمو لباس مه اچوئ، ځکه چې دا لباس چا په دنيا کې واچولو، نو په آخرت کې به ئې نه اچوي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې په دنيا کې د سړو دپاره د ريښمو لباس استعمالول حرام دي.

***

د ريښمو لباس او د سرو او سپينو زرو د لوخو استعمال جائز نه دے

402ـ عَنْ حُذَيفة بن اليَمان قَالَ: سمعتُ رسولَ اللهِ ﷺ يقول: «لا تَلْبَسُوا الْحَرِيرَ، وَلا الدِّيبَاجَ، وَلا تَشْرَبُوا فِي آنِيَةِ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ، وَلا تَأْكُلُوا فِي صِحَافِهَا، فَإِنَّهَا لَهُمْ فِي الدُّنْيَا، وَلَكُمْ فِي الآخِرَةِ»[2].

ترجمه: حذيفه ﷺ فرمائي: ما د نبي ﷺ نه اوريدلي دي: هغه فرمائيل: تاسو د ريښمو لباس مه اچوئ، او نه ډبل ريښم او تاسو د سرو زرو او سپينو زرو په لوښو کې څکل مه کوئ، او تاسو په هغې

---

(1) رواه البخاري، كتاب اللباس، باب لبس الحرير وافتراشه للرجال، وقدر ما يجوز منه، برقم 5834، ومسلم، كتاب اللباس والزينة، باب تحريم استعمال إناء الذهب والفضة على الرجال والنساء، وخاتم الذهب والحرير على الرجال، وإباحته للنساء، وإباحة العلم ونحوه للرجل ما لم يزد على أربع أصابع، برقم 11- (2069)، واللفظ له.

(2) رواه البخاري، كتاب الأطعمة، باب الأكل في إناء مفضض، برقم 5426، واللفظ له، إلا أنه قال في آخره: «ولنا» بدل: «ولكم»، ومسلم، كتاب اللباس والزينة، باب تحريم استعمال إناء الذهب والفضة على الرجال والنساء، وخاتم الذهب والحرير على الرجال، وإباحته للنساء، وإباحة العلم ونحوه للرجل ما لم يزد على أربع أصابع، برقم 5- (2067).

کاسو کې خوراک مه کوئ، ځکه چې دا د دوي (کفارو) دپاره دي په دنيا کې او ستاسو دپاره په آخرت کې دي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د ريښمو لباس اچول د سړو دپاره په دنيا کې حرام دے او د سرو او سپينو زرو لوښي استعمالول حرام دي.

❋❋❋

د سور لباس حکم

403ـ عَنْ البراء بن عازب قَالَ: «مَا رَأَيْتُ مِنْ ذِي لِمَّةٍ فِي حُلَّةٍ حَمْرَاءَ أَحْسَنَ مِنْ رَسُولِ اللهِ ﷺ، لَهُ شَعَرٌ يَضْرِبُ إِلَى[1] مَنْكِبَيْهِ، بَعِيدُ مَا بَيْنَ الْمَنْكِبَيْنِ، لَيْسَ بِالْقَصِيرِ وَلا بِالطَّوِيلِ»[2].

ترجمه: براء بن عازب رضي الله عنه فرمائي: ما نه دے ليدلے په سره جوړه کې، د اوږدو ويښتانو والا (چې په اوګو باندې ئې پراته وي) چې ډېر ښائسته هم وي د نبي ﷺ نه، د هغه ويښتان وو په اوګو باندې به ئې پراته وو، د اوګو په مينځ کې ئې لرې والے وو، نه ډېر لنډ وو او نه ډېر اوږد وو.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د سور لباس (په کوم کې چې سپينې کرښې وي) استعمال جائز دے او د ويښتانو پرېښودل جائز عمل دے.

❋❋❋

(1) «إلى»: ليست في نسخة الزهيري.

(2) رواه البخاري، كتاب اللباس، باب الجعد، برقم 5901، ومسلم، كتاب الفضائل، باب في صفة النبي ﷺ، وانه كان أحسن الناس وجهاً، برقم 92- (2337)، واللفظ له.

اووه شيان واجب دي او اووه شيان حرام دي

404 ـ عَنْ البراء بن عازب[1] قَالَ : «أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ ﷺ بِسَبْعٍ ، وَنَهَانَا عَنْ سَبْعٍ ، أَمَرَنَا : بِعِيَادَةِ الْمَرِيضِ ، وَاتِّبَاعِ الْجَنَائِزِ[2] ، وَتَشْمِيتِ الْعَاطِسِ ، وَإِبْرَارِ الْقَسَمِ ـ أَوِ الْمُقْسِمِ ـ وَنَصْرِ الْمَظْلُومِ ، وَإِجَابَةِ الدَّاعِي ، وَإِفْشَاءِ السَّلامِ ، وَنَهَانَا عَنْ خَوَاتِمَ[3] ـ أَوْ عَنْ[4] تَخَتُّمٍ ـ بِالذَّهَبِ[5] ، وَعَنْ شُرْبٍ بِالْفِضَّةِ ، وَعَنْ الْمَيَاثِرِ ، وَعَنْ الْقَسِّيِّ ، وَعَنْ لُبْسِ الْحَرِيرِ ، وَالإِسْتَبْرَقِ ، وَالدِّيبَاجِ»[6] .

ترجمه: براء بن عازب ﷺ فرمائي : مونږ ته نبي ﷺ امر کړے دے په اووه اشياؤ سره او منع کړي ئې يو د اووه اشياؤ نه ، امر ئې راته کړے دے په بيمار پرسئ کولو د مريض ، په جنازې پسې ورپسې کيدل ، يرحمک الله وئيل : پرنجې کونکي ته ، د قسم کونکي بري کول ، د مظلوم سره مدد کول ، د داعي دعوت قبلول ، او د سلام په خورولو باندې (ئې راته امر کړے دے) ، او منع کړي ئې يو د سرو زرو ګوتمې اچولو نه ، او د شين منګي نه ، په سرو زرو او د څکلو نه د په سپينو لوښي کې ، او د هغه پالنګونو نه چې د ريښمو نه جوړ شوي او د قسي لباس اچولو نه (چې ريښم ورسره مکس وي) ، او د ريښمو د لباس اچولو نه ، او د ډبل ريښمو نه ، او د سينګل ريښمو نه.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې مذکوره اووه اشياؤ باندې عمل کول واجب دے او د اووه

---

(1) في نسخة الزهيري: «أيضاً».

(2) في نسخة الزهيري: «الجنازة»، والذي في المتن لفظ البخاري، برقم 1239، والجنازة لفظ مسلم، برقم 2066.

(3) في نسخة الزهيري: «خواتيم»، وهي لفظ مسلم، برقم 2066.

(4) «عن»: ليست في نسخة الزهيري، ولفظ المتن في مسلم، برقم 2066.

(5) في نسخة الزهيري: «الذهب» بدون الباء، ولفظ المتن لمسلم، برقم 2066.

(6) رواه البخاري، كتاب الجنائز، باب الأمر باتباع الجنائز، برقم 1239، ومسلم، كتاب اللباس والزينة، باب تحريم استعمال إناء الذهب والفضة على الرجال والنساء، وخاتم الذهب والحرير على الرجل، وإباحته للنساء، وإباحة العلم ونحوه للرجل، ما لم يزد على أربع أصابع، برقم 2066، واللفظ له.

وو نه ځان ساتل واجب دي.

***

د سرو دپاره د سرو زرو ګوتمه اچول حرام ده

405 ـ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ: اصْطَنَعَ خَاتَماً مِنْ ذَهَبٍ، فَكَانَ يَجْعَلُ فَصَّهُ فِي بَاطِنِ كَفِّهِ إِذَا لَبِسَهُ، فَصَنَعَ النَّاسُ مثل ذٰلِكَ[1]، ثُمَّ إِنَّهُ جَلَسَ عَلَى الْمِنْبَرِ[2]، فَنَزَعَهُ، وَقَالَ: «إِنِّي كُنْتُ أَلْبَسُ هَذَا الْخَاتَمَ، وَأَجْعَلُ فَصَّهُ مِنْ دَاخِلٍ» فَرَمَى بِهِ، ثُمَّ قَالَ: «وَاللهِ لا أَلْبَسُهُ أَبَداً»، فَنَبَذَ النَّاسُ خَوَاتِيمَهُمْ[3]. وفي لفظ: «جَعَلَهُ فِي يَدِهِ الْيُمْنَى»[4].

ترجمه: ابن عمر رضي الله نه نقل كوي چې بې شكه نبي ﷺ يوه ګوتمه د سرو زرو جوړه كړه او غمے ئې په باطن طرف د ورغوي كې كرځولو، چې كله به ئې اچوله، نو خلقو هم هغه شان ګوتمې جوړې كړې، بيا نبي عليه اسلام په منبر باندې كيناستلو او هغه ئې وېستله، او وې فرمائيل: يقيناً ما دا ګوتمه اچولې وه، او ما ورله غمے داخل طرف ته كرځولے وو، نو هغه ئې وېستله، بيا ئې اووئيل: قسم په الله دا زه (نوره) هميشه نه اچوم، نو خلقو هم هغه ګوتمې اوغورځولې.

په بل روايت كې دي، هغه ګوتمه ئې په ښي لاس كې اچولې وه.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې سرو زرو ګوتمه د سړو دپاره حرامه ده، او د سپينو زرو

---

(1) «مثل ذلك»: ليست في نسخة الزهيري.

(2) «على المنبر»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في مسلم، برقم 2091.

(3) رواه البخاري، كتاب اللباس، باب خواتيم الذهب، برقم 5865، ومسلم، كتاب اللباس والزينة، باب تحريم التبختر في المشي مع إعجابه بثيابه، برقم 2091، بلفظه.

(4) رواه البخاري، كتاب اللباس، باب من جعل فص الخاتم في بطن كفه، برقم 5876، ومسلم، كتاب اللباس والزينة، باب تحريم التبختر في المشي مع إعجابه بثيابه، برقم 53- (2091).

ورله جائز ده،.

***

د سرو دپاره د ريښمو لباس اچول جائز نه دي

406ـ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ﷺ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ «نَهَى عَنْ لُبْسِ[1] الْحَرِيرِ، إِلاَّ هَكَذَا، ـ وَرَفَعَ لَنَا رَسُولُ اللهِ ﷺ أُصْبُعَيْهِ: السَّبَّابَةَ، وَالْوُسْطَى»[2].

ترجمه: عمر ﷺ نقل كوي چې پې شكه نبي ﷺ منع كړې ده د اچولو د (لباس د) ريښمو نه، مگر دومره مقدار، نبي ﷺ مونږ ته دوه گوتې اوچتې كړې شهادت والا گوته او مينځنۍ گوته.

ولمسلم، «نَهَى رَسُولُ اللهِ ﷺ[3] عَنْ لُبْسِ الْحَرِيرِ، إِلاَّ مَوْضِعَ أُصْبُعَيْنِ، أَوْ ثَلاثٍ، أَوْ أَرْبَعٍ»[4].

ترجمه: په روايت د مسلم كې دي: نبي ﷺ منع كړې ده د اچولو د لباس د ريښمو نه، مگر په اندازه د دوه گوتو ځائې يا درې يا څلورو گوتو.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د سړو دپاره د ريښمو اچول حرام دي.

***

(1) في نسخة الزهيري: «لبوس»، وهو لفظ مسلم، برقم 12- (2069).

(2) رواه البخاري، كتاب اللباس، باب لبس الحرير وافتراشه للرجال وقدر ما يجوز منه، برقم 5829، ومسلم، كتاب اللباس والزينة، باب تحريم استعمال إناء الذهب والفضة على الرجال والنساء، وخاتم الذهب والحرير على الرجل، وإباحته للنساء، وإباحة العلم ونحوه للرجل، ما لم يزد على أربع أصابع، برقم 12- (2069)، واللفظ له.

(3) في نسخة الزهيري: «نهى النبي ﷺ».

(4) رواه مسلم، كتاب اللباس والزينة، باب تحريم استعمال إناء الذهب والفضة على الرجال والنساء، وخاتم الذهب والحرير على الرجل، وإباحته للنساء، وإباحة العلم ونحوه للرجل، ما لم يزد على أربع أصابع، برقم 15- (2069).

كِتَابُ الْجِهَاد

كتاب ثابت دے په بيان د جهاد کې.

دشمن سره د مخامخ کيدلو تمنی کول جائز نه ده

407 ـ عَنْ عبد اللهِ بن أبي أوفَى ﷺ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ ـ فِي بَعْضِ أَيَّامِهِ الَّتِي لَقِيَ فِيهَا الْعَدُوَّ ـ انْتَظَرَ، حَتَّى إِذَا مَالَتِ الشَّمْسُ قَامَ فِيهِمْ، فَقَالَ: «يا أَيُّهَا النَّاسُ، لا تَتَمَنَّوْا لِقَاءَ الْعَدُوِّ، وَاسْأَلُوا اللهَ الْعَافِيَةَ، فَإِذَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاصْبِرُوا، وَاعْلَمُوا أَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلالِ السُّيُوفِ»، ثُمَّ قَالَ النَّبِيُّ ﷺ: «اللَّهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ، وَمُجْرِيَ السَّحَابِ، وَهَازِمَ الأَحْزَابِ، اهْزِمْهُمْ، وَانْصُرْنَا عَلَيْهِمْ»[1].

ترجمه: عبد الله بن ابي اوفى ﷺ نقل کوي، چې بې شکه نبي ﷺ په بعض هغه ورځو کې چې مخامخ شو د دشمن سره، انتظار به ئې کولو (د جنګ)، تردې چې نمر به مائله شو، نبي ﷺ پاڅيدلو په صحابو کې اوئې فرمائيل: اے خلقو تاسو تمنى مه کوئ د دشمن سره د مخامخ کيدلو، د الله ﷻ نه عافيت غواړئ، کله چې تاسو د دشمن سره مخامخ شوئ نو صبر کوئ، او پوهه شئ يقيناً جنت لاندې د سوري د تورو نه دے، بيا نبي ﷺ اوفرمائيل: اے الله نازلونکے د کتاب، روانونکے وريځو لره، شيکست ورکونکے ډلو لره، شيکست ورکړه دوي لره او مدد اوکړه زمونږ سره په دوي (دشمن) باندې.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې کله مجاهدين د کفارو سره مخامخ کيږي نو د نمر مائله کيدلو نه روسته وخت کې دې مخامخ شي، او د الله ﷻ نه دې د ثبات دعا اوغواړي.

(1) رواه البخاري، كتاب الجهاد والسير، باب الدعاء على المشركين بالهزيمة والزلزلة، برقم 2933، وكتاب الجهاد والسير، باب كان النبي ﷺ إذا لم يقاتل أول النهار أخر القتال حتى تزول الشمس، برقم 2965، و2966، وباب لا تمنّوا لقاء العدو، برقم 3024، و 3025، ومسلم، كتاب الجهاد والسير، باب كراهة تمني لقاء العدو والأمر بالصبر عند اللقاء، برقم 1742، واللفظ له

د الله تعالی په لاره کې د وخت تیرولو ثواب

408 ـ عَنْ سَهْلِ بن سعد الساعِدِيِّ ﷺ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: «رِبَاطُ يَوْمٍ فِي سَبِيلِ اللهِ، خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا، وَمَوْضِعُ سَوْطِ أَحَدِكُمْ من الْجَنَّةِ: خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا عَلَيْهَا، وَالرَّوْحَةُ يَرُوحُهَا الْعَبْدُ فِي سَبِيلِ اللهِ، أَوِ الْغَدْوَةُ: خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا عليها[1]»[2].

ترجمه: سهل بن سعد ﷺ نقل کوي چې پې شکه نبي ﷺ فرمائيلي دي: يوه ورځ تيرول د الله ﷻ په لاره کې غوره ده د دنيا او د هغه څه نه چې په دنيا کې دي، او د چابک په مقدار ځائې د يو کس ستاسو په جنت کې غوره دے د دنيا او د هغه څه نه چې په دې کې دي، او بيګا چې تيروي يې لره بنده په لاره د الله ﷻ کې، يا سحر دا غوره دے د دنيا او د هغه څه نه چې په دې کې دي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د الله ﷻ په لاره کې وخت تيرول د دنيا او د ما فيها نه غوره دے او دا سبب د جنت دے.

***

د الله تعالی په لاره کې د وتلو ثواب

409 ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «انْتَدَبَ اللهُ ـ وَلِمُسْلِمٍ: تَضَمَّنَ اللهُ ـ لِمَنْ خَرَجَ فِي سَبِيلِهِ، لا يُخْرِجُهُ إِلاَّ جِهَادٌ فِي سَبِيلِي، وَإِيمَانٌ بِي، وَتَصْدِيقٌ بِرُسُلِي، فَهُوَ عَلَيَّ ضَامِنٌ: أَنْ أُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ، أَوْ أُرْجِعَهُ إِلَى مَسْكَنِهِ الَّذِي خَرَجَ مِنْهُ، نَائِلاً مَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ أَوْ غَنِيمَةٍ»[3].

---

(1) في نسخة الزهيري: «وما فيها».

(2) رواه البخاري، كتاب الجهاد والسير، باب فضل رباط يوم في سبيل الله، برقم 2892، وباب الغدوة والروحة في سبيل الله، وقاب قوس أحدكم من الجنة، برقم 2792، ومسلم [آخره فقط]، كتاب الجهاد والسير، باب فضل الغدوة والروحة في سبيل الله، برقم 1881، واللفظ للبخاري.

(3) رواه البخاري، كتاب الإيمان، باب الجهاد من الإيمان، برقم 36، ولفظه بتمامه عند البخاري: عن أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ:

ترجمه: ابو هريره ﷺ نقل كوي د نبي ﷺ نه، هغه فرمائي: ضمانت الله ﷻ اخستے دے د هغه چا دپاره چې اوځي د الله ﷻ په لاره کې، او دا نه اوباسي مګر جهاد في سبيل الله، او ايمان په ما باندې او تصديق زما په رسولانو باندې نو دا په ما باندې ضامن دے چې زه به ئې جنت ته داخلوم، او يا به چې خپل كور ته واپس كوم هغه كور چې دا ترينه وتلے دے، حاصله ونكے به وي هغه اجر لره چې دا ئې حاصله وي او يا به غنيمت وي. (يا به دواړه وي)

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د مجاهد في سبيل الله دپاره د الله ﷻ ضمانت دے چې دا به جنت ته داخلوي او كه كور ته ژوندے راواپس شي نو سره د اجر او غنيمت نه به واپس شي.

***

د مجاهد في سبيل الله اجر

410 ـ وَلِمُسْلِمٍ: «مَثَلُ الْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللهِ ـ وَاللهُ أَعْلَمُ بِمَنْ يُجَاهِدُ فِي سَبِيلِهِ[1] ـ كَمَثَلِ الصَّائِمِ الْقَائِمِ، وَتَوَكَّلَ اللهُ لِلْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِهِ، إِنْ تَوَفَّاهُ: أَنْ يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ، أَوْ يُرْجِعَهُ سَالِماً، مَعَ أَجْرٍ أَوْ غَنِيمَةٍ»[2].

«انْتَدَبَ اللهُ لِمَنْ خَرَجَ فِي سَبِيلِهِ لاَ يُخْرِجُهُ إِلَّا إِيمَانٌ بِي وَتَصْدِيقٌ بِرُسُلِي، أَنْ أُرْجِعَهُ بِمَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ أَوْ غَنِيمَةٍ، أَوْ أُدْخِلَهُ الجَنَّةَ، وَلَوْلاَ أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي مَا قَعَدْتُ خَلْفَ سَرِيَّةٍ، وَلَوَدِدْتُ أَنِّي أُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللهِ ثُمَّ أُحْيَا، ثُمَّ أُقْتَلُ ثُمَّ أُحْيَا، ثُمَّ أُقْتَلُ» ومسلم، كتاب الإمارة، باب فضل الجهاد والخروج في سبيل الله، برقم 1876، ولفظه بتمامه عند مسلم، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ «تَضَمَّنَ اللهُ لِمَنْ خَرَجَ فِي سَبِيلِهِ لَا يُخْرِجُهُ إِلَّا جِهَادًا فِي سَبِيلِي، وَإِيمَانًا بِي، وَتَصْدِيقًا بِرُسُلِي، فَهُوَ عَلَيَّ ضَامِنٌ أَنْ أُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ، أَوْ أَرْجِعَهُ إِلَى مَسْكَنِهِ الَّذِي خَرَجَ مِنْهُ، نَائِلًا مَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ أَوْ غَنِيمَةٍ، وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ مَا مِنْ كَلْمٍ يُكْلَمُ فِي سَبِيلِ اللهِ، إِلَّا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَهَيْئَتِهِ حِينَ كُلِمَ، لَوْنُهُ لَوْنُ دَمٍ، وَرِيحُهُ مِسْكٌ، وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَوْلَا أَنْ يَشُقَّ عَلَى الْمُسْلِمِينَ مَا قَعَدْتُ خِلَافَ سَرِيَّةٍ تَغْزُو فِي سَبِيلِ اللهِ أَبَدًا، وَلَكِنْ لَا أَجِدُ سَعَةً فَأَحْمِلَهُمْ، وَلَا يَجِدُونَ سَعَةً، وَيَشُقُّ عَلَيْهِمْ أَنْ يَتَخَلَّفُوا عَنِّي، وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَوَدِدْتُ أَنِّي أَغْزُو فِي سَبِيلِ اللهِ فَأُقْتَلُ، ثُمَّ أَغْزُو فَأُقْتَلُ، ثُمَّ أَغْزُو فَأُقْتَلُ».

(1) في نسخة الزهيري: «في سبيل الله» والذي في المتن لفظ البخاري، برقم 2787.

(2) رواه البخاري، كتاب الجهاد والسير، باب أفضل الناس مؤمن مجاهد بنفسه وماله في سبيل الله، برقم 2787، واللفظ له، ومسلم، كتاب الإمارة، باب فضل الشهادة في سبيل الله تعالى، برقم 1878، ولفظه عنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قِيلَ لِلنَّبِيِّ ﷺ: مَا يَعْدِلُ الْجِهَادَ فِي سَبِيلِ اللهِ

ترجمه: په روايت د مسلم کې دي : مثال د مجاهد في سبيل الله (الله ﷻ ښه پوهيږي په هغه چا چې د الله ﷻ په لاره کې جهاد کوي) ښان د روژه دار او تهجد کونکي دے، او کفالت کړے دے الله ﷻ د مجاهد في سبيل الله دپاره، که وفات ئې کړو جنت ته به ئې داخل کړي او يا به ئې واپس کړي روغ سره د اجر او غنيمت نه.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې الله ﷻ د مجاهد ذمواري اخستې ده چې دا به جنت ته داخلوي که شهيد شو او که ژوندے راواپس شو نو اجر او غنيمت به ورکړي.

❁❁❁

دالله تعالى په لاره کې د زخمي او شهيد کيدلو فضيلت

411 ـ وعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «مَا مِنْ مَكْلُومٍ يُكْلَمُ فِي سَبِيلِ الله، إِلاَّ جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَكَلْمُهُ يَدْمَى[1]، اللَّوْنُ: لَوْنُ الدَّمِ[2]، وَالرِّيحُ: رِيحُ الْمِسْكِ»[3].

ترجمه: ابو هريره رضي الله عنه فرمائي: چې نبي ﷺ فرمائيلي دي: نشته دے يو زخمي چې هغه زخمي شي د الله ﷻ په لاره کې، مګر رابه شي د قيامت په ورځ، او د ده د زخم نه به وينه روانه وي، رنګ د دې

ﷺ؟ قَالَ: «لَا تَسْتَطِيعُونَهُ» قَالَ: فَأَعَادُوا عَلَيْهِ مَرَّتَيْنِ، أَوْ ثَلَاثًا كُلُّ ذَلِكَ يَقُولُ: «لَا تَسْتَطِيعُونَهُ»، وَقَالَ فِي الثَّالِثَةِ: «مَثَلُ الْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللهِ كَمَثَلِ الصَّائِمِ الْقَائِمِ الْقَانِتِ بِآيَاتِ اللهِ، لَا يَفْتُرُ مِنْ صِيَامٍ، وَلَا صَلَاةٍ، حَتَّى يَرْجِعَ الْمُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللهِ تَعَالَى».

(1) في نسخة الزهيري: «يدمي» بالياء، وبدون الياء كالمتن للبخاري، برقم 5533.

(2) في نسخة الزهيري: «لون دم» وهو لفظ البخاري، برقم 5533.

(3) رواه البخاري، كتاب الوضوء، باب ما يقع من النجاسات في السمن والماء، برقم 237، ولفظه: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «كُلُّ كَلْمٍ يُكْلَمُهُ الْمُسْلِمُ فِي سَبِيلِ اللهِ، يَكُونُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَهَيْئَتِهَا، إِذْ طُعِنَتْ، تَفَجَّرُ دَمًا، اللَّوْنُ لَوْنُ الدَّمِ، وَالْعَرْفُ عَرْفُ الْمِسْكِ» وكتاب الذبائح والصيد، باب المسك، برقم 5533، بلفظ المتن إلا أنه قال: «اللون لون دم، والريح ريح مسك»، وأخرجه مسلم، كتاب الإمارة، باب فضل الجهاد والخروج في سبيل الله، برقم 1876 بلفظ: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ، قَالَ: «لَا يُكْلَمُ أَحَدٌ فِي سَبِيلِ اللهِ، وَاللهُ أَعْلَمُ بِمَنْ يُكْلَمُ فِي سَبِيلِهِ، إِلَّا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَجُرْحُهُ يَثْعَبُ، اللَّوْنُ لَوْنُ دَمٍ، وَالرِّيحُ رِيحُ مِسْكٍ».

به رنګ د وينې وي او خوشبوئي به ئي د مشکو وي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د شهيد فضيلت په آخرت کې به دا هم وي چې د وينې نه به ئې د مشکو خوشبوئي روانه وي.

فضيلت د سَحر او مابنام وتلو د الله ﷻ په لاره کې

412 ـ عَنْ أَبِي أيوب الأنصاري ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «غَدْوَةٌ فِي سَبِيلِ اللهِ، أَوْ رَوْحَةٌ: خَيْرٌ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ وَغَرَبَتْ»، أخرجه مسلم(1).

ترجمه: ابو ايوب ﷺ فرمائيل: چې نبي ﷺ فرمائيلي دي: سحر وختي وتل د الله ﷻ په لاره کې او بيګا کې وتل، غوره دي د هغه څه نه چې نمر په هغې باندې راخيژي او پريوځي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د الله ﷻ په لاره کې وتل د هر څه نه غوره عمل دے يعنی کوم څه چې په دنيا کې دي.

***

د الله تعالى په لاره کې د وتلو اجر

413 ـ عَنْ أنس بن مالك ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: «غَدْوَةٌ فِي سَبِيلِ اللهِ، أَوْ رَوْحَةٌ، خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا»، أخرجه[2] البخاري[3].

---

(1) رواه مسلم، كتاب الإمارة، باب فضل الغدوة والروحة في سبيل الله، برقم 1883.

(2) في نسخة الزهيري: «وأخرجه البخاري» بزيادة الواو قبل أخرجه.

(3) رواه البخاري، كتاب الجهاد والسير، باب الغدوة والروحة في سبيل الله، وقاب قوس أحدكم من الجنة، برقم 2792، وفي كتاب الرقاق، باب صفة الجنة والنار، برقم 6568، واللفظ للبخاري من هذا الطرف، وأخرجه أيضاً: مسلم، كتاب الإمارة، باب فضل الغدوة والروحة في سبيل الله، برقم 1880 بنحوه.

ترجمه: انس ﷺ فرمائيل : چې نبي ﷺ فرمائيلي دي : سحر وختي وتل د الله ﷻ په لاره کې او بيګا کې وتل، غوره دي، د دنيا او د هغه څه نه چې په دنيا کې دي.

مفهوم د حديث

د دې حديث او د مخکې حديث مفهوم يو دے.

***

(مجاهد) قاتل له د (كافر) مقتول مال ورکول

414 ـ عَنْ أَبِي قتادة الأنصاري ﷺ قَالَ : خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ إِلَى حُنَيْنٍ ـ وَذَكَرَ قِصَّةً ـ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : «مَنْ قَتَلَ قَتِيلاً ـ لَهُ عَلَيْهِ بَيِّنَةٌ ـ فَلَهُ سَلَبُهُ، قَالَهَا ثَلَاثاً»[1].

ترجمه: ابو قتاده ﷺ فرمائي : مونږ د نبي ﷺ سره حنين ته اووتلو، (ابو قتاده دا قصه ئې ذکر کړه)، نو نبي ﷺ اوفرمائيل : چا چې مړ کړو يو وژلے شوے، او د هغه سره پرې ګواهان وي، نو غنيمت ئې د هغه دے، دا خبره نبي ﷺ درې ځله اوکړه.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې چا په جهاد کې يو معين کافر قتل کړو نو غنيمت ئې د هغه دے.

***

د حربي کافر قتل کول په دار الاسلام کې

415 ـ عَنْ سَلَمَةَ بن الأَكْوَعِ ﷺ قَالَ : أَتَى النَّبِيَّ ﷺ عَيْنٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ـ وَهُوَ فِي سَفَرٍ ـ فَجَلَسَ عِنْدَ أَصْحَابِهِ يَتَحَدَّثُ، ثُمَّ انْفَتَلَ، فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ : «اُطْلُبُوهُ وَاقْتُلُوهُ فَقَتَلْتُهُ، فَنَفَّلَنِي سَلَبَهُ»[2].

---

(1) رواه البخاري، كتاب فرض الخمس، باب من لم يخمّس الأسلاب، برقم 3142، واللفظ له، ومسلم، كتاب الجهاد والسير، باب استحقاق القاتل سلب القتيل، برقم 41- (1751).

(2) رواه البخاري، كتاب الجهاد والسير، باب الحربي إذا دخل دار الإسلام بغير أمان، برقم 3051، واللفظ له، ومسلم، كتاب الجهاد

ترجمه: سلمه بن اکوع رضی الله عنه فرمائي : نبي ﷺ ته يو جاسوس د مشرکانو نه راغے او دا په سفر کې وو ، نو نبي ﷺ د ملګرو سره کيناستلو خبرې ئې کولې ، بيا (هغه مشرک) واپس شو ، نو نبي ﷺ اوفرمائيل : اولټوئ مشرک لره او مړئې کړئ ، نو هغه مې مړ کړو او د هغه مال ئې ماله راکړو.

وفي رواية ، فَقَالَ : «مَنْ قَتَلَ الرَّجُلَ؟» فَقَالُوا : ابْنُ الأَكْوَعِ ، فَقَالَ[1] : «لَهُ سَلَبُهُ أَجْمَعُ»[2].

ترجمه: په بل روايت کې دي : نبي ﷺ اوفرمائيل : مشرک چا قتل کړو ؟ صحابو اووئيل : ابن الاکوع ، نبي ﷺ اووئيل : د ده دپاره د هغه ټول مال دے.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې حربي کافر کله د مسلمانانو ملک ته راشي نو د هغه وژل پکار دي ځکه هغه جاسوس وي او د مسلمانانو حال کفارو ته وړي.

مجاهد ته د خپلې حصې نه زيات مال ورکول

416 ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ : «بَعَثَ رَسُولُ اللهِ ﷺ سَرِيَّةً إِلَى نَجْدٍ ، فَخَرَجْتُ فِيهَا ، فَأَصَبْنَا إِبِلاً وَغَنَماً ، فَبَلَغَتْ سُهْمَانُنَا : اثْنَيْ عَشَرَ بَعِيراً ، وَنَفَّلَنَا رَسُولُ اللهِ ﷺ بَعِيراً[3]»[4].

ترجمه: ابن عمر رضی الله عنه فرمائي : نبي ﷺ يوه سريه (دسته د فوج) وليږله په طرف د نجد ، نو زه هم په

والسير، باب استحقاق القاتل سلب القتيل، برقم 1754 مطولاً.

(1) في نسخة الزهيري: «قال»، ولفظ المتن لمسلم، برقم 1754.

(2) رواه مسلم، كتاب الجهاد والسير، باب استحقاق القاتل سلب القتيل، برقم 1754.

(3) في نسخة الزهيري: «بعيراً بعيراً» وهو لفظ البخاري، برقم 4338، ومسلم، برقم 36- (1749).

(4) رواه البخاري، كتاب المغازي، باب السرية التي قبل نجد، برقم 4338، ولفظه: «عَنِ ابْنِ عُمَرَ، ب، قَالَ: بَعَثَ النَّبِيُّ ﷺ سَرِيَّةً قِبَلَ نَجْدٍ فَكُنْتُ فِيهَا، فَبَلَغَتْ سِهَامُنَا اثْنَيْ عَشَرَ بَعِيرًا، وَنُفِّلْنَا بَعِيرًا بَعِيرًا، فَرَجَعْنَا بِثَلاَثَةَ عَشَرَ بَعِيرًا» ومسلم، كتاب الجهاد والسير، باب الأنفال، برقم 36- (1749)، ولفظه: عَنِ ابْنِ عُمَرَ ب، قَالَ: «بَعَثَ رَسُولُ اللهِ ﷺ سَرِيَّةً إِلَى نَجْدٍ، فَخَرَجْتُ فِيهَا، فَأَصَبْنَا إِبِلاً وَغَنَمًا، فَبَلَغَتْ سُهْمَانُنَا اثْنَيْ عَشَرَ بَعِيرًا، اثْنَيْ عَشَرَ بَعِيرًا، وَنَفَّلَنَا رَسُولُ اللهِ ﷺ بَعِيرًا بَعِيرًا».

هغې کې اووتلم، نو مونږ اوښان په غنیمت کې حاصل کړل، نو زمونږ حصې دولسو اوښانو ته اورسیدلې، او مونږ ته نبي ﷺ یو یو اوښ زیات راکړو.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم شوه چې د سریو والا غازیانو له به د هغوي د حصو نه اضافه حصې ورکولے شي، او دا دپاره چې د دوي نور شوق هم پیدا شي جهاد سره.

***

د غدار جزاء د قیامت په ورځ

417 ـ وعَنْه، عَنْ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ :«إِذَا جَمَعَ اللهُ الْأَوَّلِينَ وَالآخَرِينَ، يُرْفَعُ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ، فَيُقَالَ : هَذِهِ غَدْرَةُ فُلَانٍ[1]»[2].

ترجمه: ابن عمر رضي الله عنه د نبي ﷺ نه نقل کوي هغه فرمائي : کله چې الله ﷻ راجمع کړي اولین او اخرین، اوچته به کړے شي د هر غادر دپاره جنډه، اوبه وئیل : شي دا غداري د فلاني ده.

مفهوم د حدیث

د دې حدیث نه دا مسئله فهم شوه چې په غنیمت کې غلا کول سبب د شرم دے په قیامت کې.

***

د زنانوو او ماشوما نو قتل کول په جهاد کې جائز نه دي

418 ـ وعَنْه، «أَنَّ امْرَأَةً وُجِدَتْ فِي بَعْضِ مَغَازِي النَّبِيِّ ﷺ مَقْتُولَةً، فَأَنْكَرَ النَّبِيُّ ﷺ[3] قَتْلَ النِّسَاءِ

---

(1) في نسخة الزهيري: «غدرة فلان بن فلان» وهو لفظ البخاري، برقم 6177، ومسلم، برقم 10- (1735).

(2) رواه البخاري، كتاب الأدب، باب ما يُدعى الناس بآبائهم، برقم 6177، ولفظه: «إِنَّ الْغَادِرَ يُرفعُ لَهُ لِوَاءٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، يُقَالُ: هَذِهِ غَدْرَةُ فُلَانِ بن فلان»، ومسلم، كتاب الجهاد والسير، باب تحريم الغدر، برقم 9- (1735)، ولفظه في 10- (1735) : «إِذَا جَمَعَ اللَّهُ الأَوَّلِينَ وَالآخِرِينَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، يُرْفَعُ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ، فَقِيلَ : هَذِهِ غَدْرَةُ فُلَانِ بْنِ فُلَانٍ»، وهنا لفظ المتن.

(3) في نسخة الزهيري: «فأنكر رسول الله ﷺ قتل النساء والصبيان» وهو لفظ البخاري، برقم 3014.

وَالصِّبْيَانِ»[1].

ترجمه: ابن عمر ﷺ فرمائي : پې شکه يوه زنانه مړه اوموندلے شوه په بعض غزاګانو د نبي ﷺ کې، نو نبي ﷺ بد اوګڼل قتل د زنانو او ماشومانو.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د زنانو او ماشومانو قتل حرام دے، په يو حديث کې ورسره بوډاګان هم ذکر دي، خو ليکن هغه زنانه چې جنګ کې حصه اخلي د کافرو سره نو د هغې قتل روا دے.

***

د سرې دپاره د علاج په طور ريښم جائز دي

419 ـ عَنْ أنس بن مالك ﷺ ، «أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَوْفٍ ، وَالزُّبَيْرَ ابْنَ الْعَوَّامِ ، شَكَيَا الْقَمْلَ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ فِي غَزْوَةٍ[2] لَهُمَا ، فَرَخَّصَ لَهُمَا فِي قَمِيصِ الْحَرِيرِ ، فَرَأَيْتُه[3] عَلَيْهِمَا»[4][5].

ترجمه: انس ﷺ نقل کوي چې پې شکه عبد الرحمن بن عوف ﷺ او زبير بن عوام ﷺ شکايت اوکړو د سپږو نه نبي ﷺ ته، په يوه غزا کې نو دې دواړو ته نبي ﷺ رخصت ورکړو په قميص د ريښمو کې (چې هغه واچوي)، نو ما وليده هغه ريښم په دوي باندې.

(1) رواه البخاري، كتاب الجهاد والسير، باب قتل الصبيان والحرب، برقم 3014، واللفظ له، ومسلم، كتاب الجهاد والسير، باب تحريم قتل النساء والصبيان في الحرب، برقم 1744.

(2) في نسخة الزهيري: «في غزاة»، وهذا لفظ البخاري، برقم 2920، ومسلم، برقم 26- (2706).

(3) في نسخة الزهيري: «ورأيته» الواو بدل الفاء، والذي في المتن لفظ البخاري، برقم 2920. كذا بأصول العمدة، وفي البخاري، ومسلم: «خاصة».

(4) رواه البخاري، كتاب الجهاد والسير، باب الحرير في الحرب، برقم 2920، والسياق له، ومسلم، كتاب اللباس والزينة، باب إباحة لبس الحرير للرجل، إذا كان به حكة أو نحوها، برقم 2076 بنحوه.

(5) ما بين المعقوفين سقط من التسجيل فأثبته من أصل البخاري، ومسلم، وعمدة الأحكام.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې که په چا باندې څه خارښ وغيره وي نو د هغې دپاره د ريښمو لباس اچول جائز دي.

***

د مال فئ حکم

420ـ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ﷺ قَالَ: «كَانَتْ أَمْوَالُ بَنِي النَّضِيرِ: مِمَّا أَفَاءَ اللهُ عَلَى رَسُولِهِ ﷺ، مِمَّا لَمْ يُوجِفْ الْمُسْلِمُونَ عَلَيْهِ بِخَيْلٍ وَلَا رِكَابٍ، وَكَانَتْ لِرَسُولِ اللهِ ﷺ خَالِصاً[1]، فَكَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَعْزِلُ نَفَقَةَ أَهْلِهِ سَنَةً، ثُمَّ يَجْعَلُ مَا بَقِيَ فِي الْكُرَاعِ وَالسِّلَاحِ، عُدَّةً فِي سَبِيلِ اللهِ ﷻ»[2].

ترجمه: عمر ﷺ فرمائي: وو اموال د بني نضير د هغه مال نه چې الله ﷻ رسول الله ﷺ ته ورکړي وو، او د هغه مالونو نه وو چې مسلمانانو پرې اسونه اوښان نه وو زغلولي، او د نبي ﷺ دپاره خالص وو، نو نبي ﷺ به د يو کال نفقه د خپل اهل دپاره جدا کوله، بيا به ئې باقي په اسونو او سلاح کانوکې مصرف کوله، دپاره د تيارې د الله ﷻ په لاره کې.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې کوم مال د کافرانو نه مؤمنانو ته بغير د جنګ نه پاتې شي نو د هغې نه به څه حصه د جهاد په آلاتوکې استعمالولے شي.

***

د اسونو په مينځ کې مسابقه مقررول

421ـ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: «أَجْرَى النَّبِيُّ ﷺ مَا ضُمِّرَ مِنَ الْخَيْلِ مِنَ الْحَفْيَاءِ، إِلَى ثَنِيَّةِ الْوَدَاعِ

---

(1) كذا بأصول العمدة، وفي البخاري، برقم 2904، ومسلم، برقم 1757، بلفظ: «خاصة».

(2) رواه البخاري، كتاب الجهاد والسير، باب المجن ومن يترس بترس، برقم 2904، بلفظه، إلا قلوه: «يعزل نفقة أهله سنة»، بدل منها في الصحيحين: «ينفق على أهله نفقة سنة»، ورقم 4885، ومسلم، كتاب الجهاد والسير، باب حكم الفيء، برقم 1757 مثل لفظ البخاري.

، وَأَجْرَى مَا لَمْ يُضَمَّرْ: مِنَ الثَّنِيَّةِ إِلَى مَسْجِدِ بَنِي زُرَيْقٍ، قَالَ ابْنُ عُمَرَ: وَكُنْتُ فِيمَنْ أَجْرَى».

ترجمه: ابن عمر ﷺ فرمائي: روان کړل (يعنې وزغلول) نبي ﷺ هغه اسونه چې مضبوط (چنګ) به وو د حفياء نه تر د ثنية الوداع پورې او روان ئې کړل هغه اسونه چې چنګ به نه وو، د ثنيه نه تر مسجد بني زريق پورې، ابن عمر ﷺ فرمائي: زه هم په هغه چاکې ووم چې اسونه ئې زغلول.

قَالَ سفيان: «مِنَ الْحَفْيَاءِ إِلَى ثَنِيَّةِ الْوَدَاعِ: خَمْسَةُ أَمْيَالٍ أَوْ سِتَّةٌ، وَمِنْ ثَنِيَّةِ الْوَدَاعِ إِلَى مَسْجِدِ بَنِي زُرَيْقٍ: مِيلٌ»[1].

ترجمه: سفيان رحمه الله فرمائي: د حفياء نه تر د ثنية الوداع پورې پنځه يا شپږ ميله فاصله ده، او د ثنية الوداع نه تر د حفياء پورې يو ميله فاصله ده.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې مجاهدين به مسابقې مقرروي په اسونو باندې، او دا د دې دپاره چې جهاد دپاره ترينګ او تيارے اوشي مسلمان به هميشه تيار اوسيږي.

***

پنځلس کالو نه کم ماشوم باندې غزا نشته

422 ـ وَعَنْهُ قَالَ: «عُرِضْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ[2] يَوْمَ أُحُدٍ، وَأَنَا ابْنُ أَرْبَعَ عَشْرَةَ سَنَةً[3]، فَلَمْ يُجِزْنِي فِي الْمُقَاتَلَةِ[4]، وَعُرِضْتُ عَلَيْهِ يَوْمَ الْخَنْدَقِ، وَأَنَا ابْنُ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً[5]، فَأَجَازَنِي»[1].

---

(1) رواه البخاري، كتاب الصلاة، باب هل يقال مسجد بني فلان، برقم 420، وكتاب الجهاد والسير، باب السبق بين الخيل، برقم 2868، واللفظ له، ومسلم، كتاب الجهاد والسير، باب المسابقة بين الخيل وتضميرها، برقم 1870، ولم يذكر قول سفيان.

(2) في نسخة الزهيري: «عرضت على النبي ﷺ».

(3) «سنة»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في البخاري، برقم 4097، ومسلم، برقم 1868.

(4) «في المقاتلة»: ليست في نسخة الزهيري، ولم أجدها في الصحيحين.

(5) «سنة»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في البخاري، برقم 4079، ومسلم، برقم 1868.

ترجمه: ابن عمر ﷺ فرمائي : زه پيش کړے شوم نبي ﷺ ته په ورځ د احد او زه د څوارلسو کالو ووم، نو ما ته ئې اجازه رانه کړه، په جنګ کولو کې، او زه پيش کړے شوم نبي ﷺ ته په ورځ د خندق او زه د پنځلسو کالو ووم نو ماله ئې اجازه راکړه.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې ماشومان به غزا نه کوي، تر بلوغه پورې، امير له پکار دي چې د څوارلسو کالو والا ماشوم په جهاد کې وانه چوي.

❋ ❋ ❋

په مال فئ کې د اس دوه حصې او د سړي يوه حصه

423 ـ وعَنْه، «أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَسَمَ فِي النَّفلِ، لِلْفَرَسِ سَهْمَيْنِ، وَلِلرَّجلِ سَهْماً»[2].

ترجمه: ابن عمر ﷺ نقل کوي چې بې شکه نبي ﷺ تقسيم کړو په مال فئ کې د اس دپاره دوه حصې او د سړي دپاره يوه حصه،.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې په مال فيئ کې به د اس دپاره دوه حصې وي او د سړي دپاره

---

(1) رواه البخاري، كتاب الشهادات، باب بلوغ الصبيان وشهادتهم، برقم 2664، ولفظه: «عن ابن عُمَرَ ب أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ عَرَضَهُ يَوْمَ أُحُدٍ، وَهُوَ ابْنُ أَرْبَعَ عَشْرَةَ سَنَةً، فَلَمْ يُجِزْنِي، ثُمَّ عَرَضَنِي يَوْمَ الخَنْدَقِ وَأَنَا ابْنُ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً، فَأَجَازَنِي» ورقم 4097، ولفظه: «عَنِ ابْنِ عُمَرَ ب أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ عَرَضَهُ يَوْمَ أُحُدٍ وَهُوَ ابْنُ أَرْبَعَ عَشْرَةَ سَنَةً، فَلَمْ يُجِزْهُ، وَعَرَضَهُ يَوْمَ الخَنْدَقِ وَهُوَ ابْنُ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً فَأَجَازَهُ» ومسلم، كتاب الجهاد والسير، باب بيان سن البلوغ، برقم 1868 بلفظ: عن ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: «عَرَضَنِي رَسُولُ اللهِ ﷺ يَوْمَ أُحُدٍ فِي الْقِتَالِ، وَأَنَا ابْنُ أَرْبَعَ عَشْرَةَ سَنَةً، فَلَمْ يُجِزْنِي، وَعَرَضَنِي يَوْمَ الخَنْدَقِ، وَأَنَا ابْنُ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً، فَأَجَازَنِي».

(2) رواه البخاري، كتاب الجهاد والسير، باب سهام الفرس، برقم 2863، ولفظه: «أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ جَعَلَ لِلْفَرَسِ سَهْمَيْنِ وَلِصَاحِبِهِ سَهْمًا»، وفي كتاب المغازي، باب غزوة خيبر، برقم 4228، ولفظه: «قَسَمَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَوْمَ خَيْبَرَ لِلْفَرَسِ سَهْمَيْنِ، وَلِلرَّاجِلِ سَهْمًا» قَالَ: فَسَّرَهُ نَافِعٌ، فَقَالَ: «إِذَا كَانَ مَعَ الرَّجُلِ فَرَسٌ فَلَهُ ثَلَاثَةُ أَسْهُمٍ، فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ فَرَسٌ فَلَهُ سَهْمٌ» ومسلم، كتاب الجهاد والسير، باب كيفية قسمة الغنيمة بين الحاضرين، برقم 1762، واللفظ له.

به يوه حصه وي.

***

سريه ته اضافه مال د غنيمت ورکول

424 ـ وعَنْه[1] «أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ كَانَ يُنَفِّلُ بَعْضَ مَنْ يَبْعَثُ فِي[2] السَّرَايَا لأَنْفُسِهِمْ خَاصَّةً، سِوَى قَسْمِ عَامَّةِ الْجَيْشِ»[3].

ترجمه: ابن عمر ﵄ نقل کوي چې پې شکه نبي ﷺ زياتي ورکړل بعض هغه کسانو له چې په سرايا (دستو) کې وو د هغوي دپاره خاص سيوا د عام لښکر د حصو نه.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د امير دپاره دا اختيار شته دے چې څه کسانو د سريه له حصې زياتې ورکړي.

***

په امت مسلمه باندې توره اوچتول حرام دي

425 ـ عَنْ أَبِي مُوسَى عبد اللهِ بن قيس الأَشْعَرِي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ[4] عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «مَنْ حَمَلَ عَلَيْنَا السِّلَاحَ فَلَيْسَ مِنَّا»[5].

---

(1) في نسخة الزهيري: «وعنه أيضاً».

(2) في نسخة الزهيري: «من»، وهو هكذا في البخاري، برقم 3135.

(3) رواه البخاري، كتاب فرض الخمس، باب ومن الدليل على أن الخمس لنوائب المسلمين، برقم 3135، بلفظه، ومسلم، كتاب الجهاد والسير، باب الأنفال، برقم 1750 بنحوه.

(4) «الأشعري» ليست في نسخة الزهيري.

(5) رواه البخاري، كتاب الفتن، باب قول النبي ﷺ «من حمل علينا السلاح فليس منا» برقم 7071، بلفظه، ومسلم، كتاب الإيمان، باب قول النبي ﷺ «من حمل علينا السلاح فليس منا» برقم 100 بلفظه أيضاً.

ترجمه: ابو موسى ﷺ نقل کوي د نبي ﷺ نه هغه فرمائي : چا چې اوچته کړه اسلحه په مونږ باندې (په اراده د قتل زمونږ)، نو هغه زمونږ نه نه دے.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې په امت مسلمه باندې توره اوچتول حرام دي، په دې سره بنده د نبي ﷺ اطاعت نه وځي.

❋ ❋ ❋

جهاد د الله تعالى دپاره کول

426 ـ وَعَنْ أَبِي موسى ﷺ قَالَ : «سُئِلَ رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنْ الرَّجُلِ : يُقَاتِلُ شَجَاعَةً ، وَيُقَاتِلُ حَمِيَّةً ، وَيُقَاتِلُ رِيَاءً ، أَيُّ ذَلِكَ فِي سَبِيلِ اللهِ ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ : «مَنْ قَاتَلَ لِتَكُونَ كَلِمَةُ اللهِ هِيَ الْعُلْيَا ، فَهُوَ فِي سَبِيلِ اللهِ»[1].

ترجمه: ابو موسى ﷺ فرمائي : د نبي ﷺ نه تپوس اوکړے شو، د يو کس په باره کې، چې جنګ کوي د وجې د شجاعت نه، او د وجې د غيرت نه، او د وجې د رياء نه، کوم يو د الله ﷻ په لاره کې دے ؟، نبي ﷺ اوفرمائيل : څوک چې جنګ کوي د دې دپاره چې کلمه د الله ﷻ اوچته شي نو هغه د الله ﷻ په لاره کې دے.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې جهاد صرف د الله ﷻ د رضا دپاره کول، او د اعلاء کلمة الله دپاره، يعنې په جهاد کې اخلاص لازم دے، که چا په بل نيت اوکړو نو هغه به مقبول نه وي.

❋ ❋ ❋

(1) رواه البخاري، كتاب العلم، باب من سأل وهو قائم عالماً جالساً، برقم 123، وكتاب التوحيد، باب قوله تعالى: ﴿وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا﴾، برقم 7458 بلفظه، ومسلم، كتاب الإمارة، باب من قاتل لتكون كلمة الله هي العليا فهو في سبيل الله، برقم 1904 بلفظه أيضاً.

كتاب العتق

كتاب ثابت دے په بيان د ازادولو د مريانو كې.

***

د شركاؤ په مينځ كې د عدل قيمت لږ ول

427 ـ عَنْ ابن عمر، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ: «مَنْ أَعْتَقَ شِرْكًا لَهُ فِي عَبْدٍ، فَكَانَ لَهُ مَالٌ يَبْلُغُ ثَمَنَ الْعَبْدِ، قُوِّمَ عَلَيْهِ قِيمَةَ عَدْلٍ، فَأَعْطَى شُرَكَاءَهُ حِصَصَهُمْ، وَعَتَقَ عَلَيْهِ الْعَبْدُ، وَإِلاَّ فَقَدْ عَتَقَ مِنْهُ مَا عَتَقَ»[1].

ترجمه: ابن عمر ﷺ نقل كوي چې بې شكه نبي ﷺ فرمائيلي دي: چا چې ازاده كړه خپله حصه په غلام كې، او د هغه دپاره مال وو چې رسيدلو پيسو د غلام ته، نو قيمت به پرې اچولے شي د عدل، او وربه كړي خپل شركاؤ ته د هغوي حصې او ازاد به شي په هغه باندې غلام، او كه نه وو نو په تحقيق سره ازاد شو د ده د طرف نه هغه حصه چې ده ازاده كړه.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې كله ډير كسان يو شي كې شريك وي او يو كس خپله حصه خرڅول غواړي نو قيمت به پرې د عدل لږولے شي.

***

(1) رواه البخاري، كتاب العتق، باب إذا أعتق عبداً بين اثنين، أو أمة بين الشركاء، برقم 2522، ولفظه: «مَنْ أَعْتَقَ شِرْكًا لَهُ فِي عَبْدٍ، فَكَانَ لَهُ مَالٌ يَبْلُغُ ثَمَنَ العَبْدِ قُوِّمَ العَبْدُ عَلَيْهِ قِيمَةَ عَدْلٍ، فَأَعْطَى شُرَكَاءَهُ حِصَصَهُمْ، وَعَتَقَ عَلَيْهِ العَبْدُ، وَإِلَّا فَقَدْ عَتَقَ مِنْهُ مَا عَتَقَ»، ورقم 2523 ولفظه: «مَنْ أَعْتَقَ شِرْكًا لَهُ فِي مَمْلُوكٍ فَعَلَيْهِ عِتْقُهُ كُلُّهُ إِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ يَبْلُغُ ثَمَنَهُ، فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ يُقَوَّمُ عَلَيْهِ قِيمَةَ عَدْلٍ، فَأُعْتِقَ مِنْهُ مَا أَعْتَقَ» ومسلم، كتاب العتق، باب من أعتق شركاً له في عبد، برقم 1501، ولفظه: «مَنْ أَعْتَقَ شِرْكًا لَهُ فِي عَبْدٍ، فَكَانَ لَهُ مَالٌ يَبْلُغُ ثَمَنَ الْعَبْدِ، قُوِّمَ عَلَيْهِ قِيمَةَ الْعَدْلِ، فَأَعْطَى شُرَكَاءَهُ حِصَصَهُمْ، وَعَتَقَ عَلَيْهِ الْعَبْدُ، وَإِلَّا فَقَدْ عَتَقَ مِنْهُ مَا عَتَقَ».

په شريک غلام کې خپله حصه ازادول

428ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، عَنْ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: «مَنْ أَعْتَقَ شِقْصاً[1] له[2] مِنْ مَمْلُوكٍ، فَعَلَيْهِ خَلاصُهُ فِي مَالِهِ، فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ، قُوِّمَ الْمَمْلُوكُ قِيمَةَ عَدْلٍ، ثُمَّ اُسْتُسْعِيَ الْعَبْدُ[3]، غَيْرَ مَشْقُوقٍ عَلَيْهِ»[4].

ترجمه: ابو هريره رضي الله عنه نقل کوي د نبي ﷺ نه هغه فرمائي: چا چې ازاده کړه خپله حصه د غلام نه، نو په ده باندې لازم دي خلاصول د غلام په مال د هغه، که د هغه مال نه وو، نو مقرر به کړے شي په غلام باندې د عدل قيمت، بيا به په کسب باندې اولړولے شي په داسې کار باندې چې په هغه باندې ګران نه وي.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې په يو غلام کې ډېر کسان شريک وي او يو کس د ازادولو اراده اوکړي نو يا خو دې ټول ازاد کړي (که وس ئې کيدلو) او شريکوالو ته دې د هغوي د حصو پيسې ورکړي او يا دې خپله حصه ازاده کړي.

***

---

(1) في نسخة الزهيري: «شقيصاً» هذا لفظ البخاري، برقم 2492.

(2) «له»: ليست في نسخة الزهيري، وهي في البخاري، برقم 2504.

(3) «العبد»: ليست في نسخة الزهيري، ولفظ «العبد» في مسلم، برقم 1503.

(4) رواه البخاري، كتاب الشركة، باب تقويم الأشياء بين الشركاء بقيمة عدل، برقم 2492، وباب الشركة في الرقيق، برقم 2504، ورقم 2506، ولفظه: «مَنْ أَعْتَقَ شِقْصًا لَهُ فِي عَبْدٍ أُعْتِقَ كُلُّهُ إِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ وَإِلَّا يُسْتَسْعَ غَيْرَ مَشْقُوقٍ عَلَيْهِ» ومسلم، كتاب العتق، باب ذكر سعاية العبد، برقم 1503، ولفظه: «مَنْ أَعْتَقَ شِقْصًا لَهُ فِي عَبْدٍ، فَخَلَاصُهُ فِي مَالِهِ إِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ، فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ، اسْتُسْعِيَ الْعَبْدُ غَيْرَ مَشْقُوقٍ عَلَيْهِ».

باب بيع المدبّر[1]

باب دے په بیان د مدبر کې.

د مرګ نه پس غلام ازاده ول

429 - وعَنْ جابر بن عبد اللهِ قَالَ: «دَبَّرَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ غُلاماً لَهُ»[2].

ترجمه: جابر ﷺ فرمائي: مدبر کړو يو سړي د انصارو نه غلام ې د هغه وو.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې د مرګ نه پس غلام ازادول جائز دي، داسې اووائي زما د مرګ نه پس دا غلام ازاد دے.

430 - وفي لفظ، «بَلَغَ النَّبِيَّ ﷺ، أَنَّ رَجُلاً مِنْ أَصْحَابِهِ أَعْتَقَ غُلاماً [لَهُ] عَنْ دُبُرٍ، لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ غَيْرُهُ، فَبَاعَهُ بِثَمَانِمِائَةِ دِرْهَمٍ، ثُمَّ أَرْسَلَ بِثَمَنِهِ[3] إِلَيْهِ»[4].

---

(1) «باب بيع المدبّر»: ليست في نسخة الزهيري، ولفظ العبد في مسلم، برقم 1503.

(2) رواه البخاري، كتاب البيوع، باب بيع المزايدة، برقم 2141، ولفظه: «أَنَّ رَجُلًا أَعْتَقَ غُلَامًا لَهُ عَنْ دُبُرٍ فَاحْتَاجَ فَأَخَذَهُ النَّبِيُّ ﷺ فَقَالَ مَنْ يَشْتَرِيهِ مِنِّي فَاشْتَرَاهُ نُعَيْمُ بْنُ عَبْدِ اللهِ بِكَذَا وَكَذَا فَدَفَعَهُ إِلَيْهِ»، ومسلم، كتاب الزكاة، باب الابتداء في النفقة بالنفس ثم أهله ثم القرابة، برقم 997، ولفظه: «أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ - يُقَالُ لَهُ أَبُو مَذْكُورٍ - أَعْتَقَ غُلَامًا لَهُ عَنْ دُبُرٍ».

(3) في نسخة الزهيري: «ثم أرسل ثمنه إليه».

(4) رواه البخاري، كتاب الإكراه، باب إذا أكره حتى وهب عبداً أو باعه لم يجز، برقم 6947، بلفظ: «مَنْ يَشْتَرِيهِ مِنِّي فَاشْتَرَاهُ نُعَيْمُ بْنُ النَّحَّامِ بِثَمَانِ مِائَةِ دِرْهَمٍ قَالَ فَسَمِعْتُ جَابِرًا يَقُولُ عَبْدًا قِبْطِيًّا مَاتَ عَامَ أَوَّلَ»، ومسلم، كتاب العتق، باب الابتداء في النفقة بالنفس ثم أهله ثم القرابة، برقم 41- (997)، ولفظه: «أَعْتَقَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي عُذْرَةَ عَبْدًا لَهُ عَنْ دُبُرٍ، فَبَلَغَ ذَلِكَ رَسُولَ اللهِ ﷺ فَقَالَ: «أَلَكَ مَالٌ غَيْرُهُ؟» فَقَالَ: لَا، فَقَالَ: «مَنْ يَشْتَرِيهِ مِنِّي؟» فَاشْتَرَاهُ نُعَيْمُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْعَدَوِيُّ بِثَمَانِ مِائَةِ دِرْهَمٍ، فَجَاءَ بِهَا رَسُولَ اللهِ ﷺ فَدَفَعَهَا إِلَيْهِ ثُمَّ قَالَ: «ابْدَأْ بِنَفْسِكَ فَتَصَدَّقْ عَلَيْهَا، فَإِنْ فَضَلَ شَيْءٌ فَلِأَهْلِكَ، فَإِنْ فَضَلَ عَنْ أَهْلِكَ شَيْءٌ فَلِذِي قَرَابَتِكَ، فَإِنْ فَضَلَ عَنْ ذِي قَرَابَتِكَ شَيْءٌ فَهَكَذَا وَهَكَذَا» يَقُولُ: فَبَيْنَ يَدَيْكَ وَعَنْ يَمِينِكَ وَعَنْ شِمَالِكَ».

ترجمه: په بل روايت کې دي، اورسيده نبي ﷺ ته خبر چې د ملګرو نه يو کس غلام ازاد کړے دے روسته د خپل مرګ نه، او د هغه مال نه وو سيوا د دغه غلام نه، نو نبي ﷺ دغه غلام خرخ کړو په اته سوه درهم باندې، بيا ئې هغه پيسې هغه کس ته ورولېږلې.

مفهوم د حديث

د دې حديث نه دا مسئله فهم شوه چې چا غلام مدبر (ازاد کړو د مرګ نه پس) او هغه کس غريب وو، نو حاکم وقت به د غلام خرخوي او پيسې به هغه کس له ورکوي، او که حاکم وقت نه وي نو بيا ئې خپله هم خرخولے شي.

❊ ❊ ❊

تَعْرِيفَاتٌ فِي مُصْطَلَحِ الحَدِيث

د عِلْمُ مُصْطَلَحِ الحَدِيث تعريف

هُوَ عِلْمٌ: يُعْرَفُ بِهِ حَالُ الرَّاوِي وَالمَرْوِيِّ مِنْ حَيْثُ القَبُولِ وَالرَّدِّ.

ترجمه: دا يو علم دے چې معلوموليے شي په دې سره حال د راوي او مروي، د حيثه د قبول او رد نه.[1]

د حديث تعريف

مَا أُضِيفَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ قَوْلٍ، أَوْ فِعْلٍ، أَوْ تَقْرِيرٍ، أَوْ وَصْفٍ.

ترجمه: حديث هغه قول، فعل، تقرير او وصف ته وائي: چې نسبت ئې نبي ﷺ ته کيږي.

خبر په معنى د حديث سره دے.[2]

د اثر تعريف

مَا أُضِيفَ إِلَى الصَّحَابِيِّ أَوِ التَّابِعِيِّ.

ترجمه: اثر هغه ته وائي چې نسبت ئې صحابي يا تابعي ته کيږي (برابره خبره که هغه قول وي او که فعل او تقرير وي).

د حديث قُدسي تعريف

مَا رَوَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ رَبِّهِ ﷻ.

ترجمه: حديث قدسي هغه حديث دے چې نبي ﷺ ئې د الله تعالى نه روايت کړي.

تقسيم د خبر په اعتبار د نقل سره

خبر چې مونږ ته په کومو سندونو سره رارسيدلے وي په هغه اعتبار سره دوه قسمه دے، متواتر،

---

(1) الرَّاوِي: نقل کونکي ته وائي. المَرْوِيِّ: حديث ته وائي. القَبُولُ: قبولولي ته وائي، الرَّدُّ: رد کولو ته وائي.

(2) په دې کې اختلاف دے چې آيا حديث او خبر په يو معنى سره دي او که جدا جدا؟ د جمهور علماؤ مذهب دا دے چې دا دواړه په يو معنى سره دي.

آحاد.

دحدیث متواتر تعریف

مَا رَوَاهُ جَمَاعَةٌ يَسْتَحِيلُ فِي العَادَةِ أَنْ يَتَوَاطَؤُوا عَلَى الكَذِبِ وَأَسْنَدُوهُ إِلَى شَيْءٍ مَحْسُوسٍ.

ترجمه: دا هغه حدیث دے چې يو جماعت د راويانو نقل کړے وي، چې په عادت کې د هغوي اتفاق کول په دروغو باندې محال وي، او دې راويانو د دې روايت اسناد محسوس شي ته کړے وي.

دمتواتر اقسام

1ـ **قسم**: متواتر لفظي او معنوي.

2ـ **قسم**: متواتر معنوي فقط.

دمتواتر لفظي او معنوي تعريف

مَا اتَّفَقَ الرُّوَاةُ فِيهِ عَلَى لَفْظِهِ وَمَعْنَاهُ [1]

ترجمه: دا هغه روايت دے چې د دې په لفظ او معنى دواړو باندې راويانو اتفاق کړے وي.

دمتواتر معنوي تعريف

مَا اتَّفَقَ فِيهِ الرُّوَاةُ عَلَى مَعْنًى كُلِّيٍّ وَانْفَرَدَ كُلُّ حَدِيثٍ بِلَفْظِهِ الخَاصِّ.

ترجمه: دا هغه روايت دے چې د دې په معنى کلي باندې راويانو اتفاق کړے وي، او هر حديث په يو خاص لفظ سره يوائې نقل وي.[2]

حکم دمتواتر حدیث

يُفِيدُ: العِلْمَ، وَالعَمَلَ.

---

(1)**مثال**: «مَنْ كَذَبَ عَلَيَّ فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ» البخاري (1291) دا رايت د شپيتو صحابو نه زياتو کسانو نقل کړے دے عشره مبشره په کې هم دي.

(2)حاصل دا دے چې يوه معنى په ډيرو احاديثو کې نقل وي، اګر چې د هر حديث دپاره خانله متن وي او هغه په تواتر سره نه وي نقل.

مثال: أحاديث الشفاعة، والمسح على الخفين. وَمَنْ بَنَى لِلّٰهِ بيتاً.

ترجمه: متواتر حديث علم يقيني [1] او عمل فائده کوي. [2]

دخبرواحدتعريف

هُوَ مَا سِوَى الْمُتَوَاتِرِ.

ترجمه: خبر واحد د متواتر روايت نه سيوا وي. [3]

داخباراحادوتقسيم

اخبار احاد په اعتبار د سندونو سره درې قسمه دي، مشهور، عزيز، غريب.

دحديث‌مشهورتعريف

مَا رَوَاهُ ثَلَاثَةٌ فَأَكْثَرُ، وَلَمْ يَبْلُغْ حَدَّ التَّوَاتُرِ.

ترجمه: مشهور هغه حديث دے چې درې يا د درې وو نه زياتو کسانو نقل کړے وي، او حد د تواتر ته نه وي رسيدلے. [4]

دحديث‌عزيزتعريف

مَا رَوَاهُ اثْنَانِ فَقَطْ.

ترجمه: عزيز حديث هغه دے چې صرف دوه راويانو نقل کړے وي. [5]

دحديث‌غريب‌تعريف

مَا رَوَاهُ وَاحِدٌ فَقَطْ.

(1) علم په صحت د نسبت د دې حديث هغه چا ته چې د هغه نه دا نقل شوے وي.

(2) يعنې که خبر وي د هغې تصديق کول، او که طلب وي نو په هغې باندې عمل کول.

(3) يعنې دا به دومره راويانو نقل کړے وي چې د هغوی اتفاق په دروغ باندې محال وي.

(4) مثال: «الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ» رواه البخاري (10) عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو مرفوعاً.

(5) «لاَ يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ» رواه البخاري 15.

ترجمه: غريب حديث هغه دے چې صرف يو راوي نقل کړے وي. [1]

دخبرواحدتقسيم په اعتبار د مراتبو سره

خبر واحد په اعتبار د مراتبو سره په پنځه قسمه دے.

١ـ **قسم**: صحيح لذاته.

٢ـ **قسم**: صحيح لغيره.

٣ـ **قسم**: حسن لذاته.

٤ـ **قسم**: حسن لغيره.

٥ـ **قسم**: ضعيف.

دصحيح لذاته تعريف

مَا رَوَاهُ عَدْلٌ تَامُّ الضَّبْطِ بِسَنَدٍ مُتَّصِلٍ وَسَلِمَ مِنَ الشُّذُوذِ وَالعِلَّةِ القَادِحَةِ.

ترجمه: دا هغه حديث دے چې عادل او پوره حفظ والا نقل کړے وي په متصل سند سره، او د شذوذ او عيب لګونکي علت نه محفوظ وي. [2]

دصحيح لغيره تعريف

الحَسَنُ لِذَاتِهِ إِذَا تَعَدَّدَتْ طُرُقُهُ.

ترجمه: دا حسن لذاته وي کله چې د دې طرق (سندونه) زيات شي، (صحيح لغيره ترينه جوړ شي). [3]

(1) «إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ» رواه البخاري (1)

(2) «مَنْ يُرِدِ اللهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ» رواه البخاري (71)

(3) «ابْتَعْ عَلَيْنَا إِبِلًا بِقَلَائِصَ مِنْ إِبِلِ الصَّدَقَةِ إِلَى مَحِلِّهَا، حَتَّى نُنَفِّذَ هَذَا الْبَعْثَ»، قَالَ: فَكُنْتُ أَبْتَاعُ الْبَعِيرَ بِالْقَلُوصَيْنِ وَالثَّلَاثِ مِنْ إِبِلِ الصَّدَقَةِ إِلَى مَحِلِّهَا، حَتَّى نَفَّذْتُ ذَلِكَ الْبَعْثَ، قَالَ: فَلَمَّا حَلَّتِ الصَّدَقَةُ أَدَّاهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رواه أحمد 6593

د حسن لذاته تعریف

مَا رَوَاهُ عَدْلٌ خَفِيفُ الضَّبْطِ بِسَنَدٍ مُتَّصِلٍ وَسَلِمَ مِنَ الشُّذُوذِ وَالعِلَّةِ القَادِحَةِ.

ترجمه: دا هغه حدیث دے چې عادل او ناقص حفظ والا نقل کړے وي په متصل سند سره، او د شذوذ او عیب لګونکي علت نه محفوظ وي. [1]

د حسن لغیره تعریف

